

واده

[د واده په اړه ځوانانو ته لارښووني]

# واده



Ketabton.com

ليکوال:
دوکتور تاج الدين ملت مل
ننگرهار- افغانستان

۱۳۹۳ل
کابل،افغانستان

ليکوال:
دوکتور تاج الدين ملت مل

۱۳۹۳ل
کابل،افغانستان



(Essent

رعي احکامو په رڼا
ي؛ نو دغه مجموعه
و ته وړاندې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# واده

*[د واده په اړه ځوانانو ته لارښوونې]*

لیکوال: دوکتور تاج الدین ملت مل
۱۳۹۳هـ ش کال
کابل- افغانستان

## د کتاب ځانګړني:


د کتاب نوم: **واده**(د واده په اړه ځوانانو ته لارښوونې)
لیکوال: دوکتور تاج الدین ملت مل
برېښنالیک: tajmim@aol.com
کمپوز چارې: استاد دولت خان (امین)، شمس الدین (الفت)، مشرف خان (حیران).
ژبنیز سمون: پوهندوی محمد ابراهیم همکار او محب الله (الله یار)
چاپشمېر: ۱۰۰۰(یو زر)
چاپ کال: ۱۳۹۳ل
چاپ وار: لومړی


ددې کتاب د کاپي، چاپ او تکثیر ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي، سرغړونکي به یې له سختو قانوني مجازاتو سره مخ شي، د اجازې لپاره د لیکوال سره اړیکې ونیسئ.

**د ترلاسه کولو درک:**

استاد دولت خان (امین)
۰۷۷۷۳۸۲۱۰۰
dawlatkhanamin@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ

دا کتاب خپلې ګرانې لور (هڅانده ملت مل) او هغو هیوادوالو او د هغوي اولادونو ته ډالۍ کوم، چې د خپلو له جنجاله ډکو ودونو او یا هم د خپلو میندو او پلرونو د جنجاله ډکو ودونو په وجه ځوریدلي او لا ځوریږي.

*[ملت مل]*

(c) ketabton.com: The Digital Library

## و عاشروهن بالمعروف

النساء/۱۹

ژباړه: "تاسو په غوره طریقه له خپلو مېرمنو سره خوښي، عیش او عشرت وکړئ."

واده یوه داسې ټولنیزه پروسه ده چې د هغې د اړونده پرنسیپونو په عملي کولو سره په یوه ټولنه کې په دیني لحاظ ناروا او په کلتوري لحاظ نا منل شوې ناستې ولاړې او یو شمیر نور خصوصي کړه وړه په روا او ټولنې ته د قبول وړ ګرځي.

*[ملت مل]*

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله جل جلاله دا دنیا له رنګارنګ نعمتونو ډکه او د ټولو مخلوقاتو د استفادې لپاره پیدا کړېده. د خداي پاک نیک بنده ګان هغه دي چې له دې نعمتونو څخه د کتلو، اورېدلو، لمسولو، خوړلو، سکلو او څښلو له لارو سالمې او نېکې ګټې واخلي؛ او پدې لاره کې رواوالي، حیا، اعتدال، پاکوالي او روغتیا مراعات کړي او له هر نوعه ناخوښۍ، ظلم، تیري او ځورونې څخه مخنیوی وکړي. غوره هغوي دي چې له دغو نعمتونو نه په کار اخستنه کې له یو بل سره د مینې، پوره خوښي، خړوب او قانع کوونکي زمینې برابرې کړي، د هغوي د خالق ستاینه وکړي او د دې نعمتونو شکرانه یې ادا کړي.

*[ملت مل]*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننـه

دا کتاب چې تاسو ته د څه لارښوونو او له تاسو سره د ژوند په یوه مهم پړاو (واده) کې د څه مرستې په امید اوس ستاسو لاسونو ته در رسول شوی دی، دا نه یوازې زما لپاره یو لوی افتخار دی، بلکې دا د یوه ګڼ شمیر توانمندو ځوانانو دوامداره هڅې وې چې دا کتاب یې د یوه نظر نه په یوه جسمي محصول او ځوانانو ته د خدمت په یوه وسیله بدل کړ.

یو شمیر ځوانانو ته دا معلومه ده چې د یوې اوږدې مودې راهیسې ما خپله توجه ځوانانو ته په یو لړ عملي علمي خدمتونو ته را اړولې ده. پدې اړوند زما د یو بل کتاب (ځوانان او شخصیت جوړېدنه) دوه ځلې چاپېدل او په ټولنه کې ځوانانو ته د هغه رسول او د هغه د محتوا په اړوند د مختلفو رسنیو له لارې د تعلیمي پروګرامونو جوړول او ځوانانو ته د شخصیت جوړېدنې په اړوند ژوندي وړیا سیمینارونه ورکول زما د دغه عملي خدمتونو څو ښکاره مثالونه دي.

زه د ځوانانو له هغه تود هرکلي څخه مننه کوم چې د دغو خدمتونو په اړه یې خپل ګرم غبرګون وښود. دا ستاسو ګرم غبرګون و چې د پوهنې وزارت هم د دغه کتاب د ارزولو په منظور یو کمیسیون ته دنده وسپارله چې کتاب تر کره کتنې لاندې ونیسي او په دې اړوند خپل نظر او وړاندیزونه د پوهنې وزارت ته وړاندې کړي. دا د ټولو افغانانو لپاره په ځانګړې ډول ما، زما کورنۍ او تاسو ځوانانو لپاره د ډېر ویاړ ځای دی چې نوموړي کمیسون کتاب د ځوانانو لپاره ډېر ګټور او ضروري وګاڼه او د پوهنې وزارت ته یې له کتاب څخه د پراخه ګټې اخستنې وړاندیز وکړ. په پایله کې د پوهنې وزارت هم د کتاب پوره قدرداني وکړ او دا یې په رسمي ډول و منله چې دغه کتاب به د



هیواد ټولو مکتبونو ته د یو متمم درسي کتاب په توګه وېشي (ـ مخ ضمیمه وګوری). البته دا د افغانستان د پوهنې وزارت په تاریخ کې لومړی کتاب دی چې د تعلیمي نصاب نه بهر د یوه درسي متمم کتاب په توګه منل کیږي.

زه پدې اړه د پوهنې وزارت، په ځانګړې ډول د محترم تدریسي معین ښاغلي محمد صدیق (پټمن) صاحب نه د زړه له کومې مننه کوم چې پدې اړوند یې خپله هڅ راز همکاري نده سپمولې. دا زما، زما د کورنۍ او ستاسو ټولو ځوانانو لپاره واقعآ یو ښه زیري او د لوی افتخار ځای دی.

له پورتني کتاب نه ستاسو ځوانانو او د ټولنې دغه تود هرکلي زه دې ته و هڅولم چې ستاسو ځوانانو په اړوند په یوې بلې ګرمې اما له جنجالونو سره ملګرې موضوع (واده) ته چې تر او سه ورته پدې ټولنه کې هیڅ توجه نده شوې خپله توجه ور واړوم، تر څو د واده په اړوند هم ځوانانو ته څه لارښوونې وړاندې کړم. پدغه کتاب کې د راټولو شویو موادو زیاته برخه زما د خپل ناکام واده نه لاس ته راغلې زده کړې دي او یا هم د یو شمیر هغو نېږدې دوستانو چې علمي شخصیتونه دي او د دې موضوع په اهمیت پوهیدل او هغوی را سره خپلې تجربې شریکې کړې دي، چې زه له هغوی نه مننه کوم.

همدا راز د موادو د نشتوالي له امله زه مجبور شوم چې د لومړي ځل لپاره د واده په اړه په دې ټولنه کې یو ریسرچ وکړم. تاسو ته معلومه ده چې په افغاني ټولنه کې پداسې موضوعاتو تحقیقات کول څومره ستونزمن کار دی. زه پدې اړوند د تحقیق د ټولو ګډون کوونکو نه او خاصتآ د اغلو خاطره جان (سهیل) او نیلوفر (خوګیانۍ) د دوامداره همکاریو نه د زړه له کومې مننه کوم.

تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د دغه کتاب د راټولونې، کمپوز، ډیزاین او نشر په برخه کې د محترم استاد دولت خان (امین) نه سترې کیدونکې هلې ځلې، د ښاغلو عبدالقدیر (امین)، شمس الدین (امین)، مشرف خان (شیرزاد) او اشرف خان (شیرزاد) هلې ځلې د قدر وړ بولم؛ البته د پښتو ژبې د ګرامري اصلاحاتو په اړوند د محترم استاد محمد ابراهیم همکار صیب هلې ځلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د مېرمنې ونډه د کتاب د ښکلا اصلي عامل بللې شو. د کتاب د ډېزاين په برخه کې د ښاغلي محب الله - الله يار صيب همکارۍ د ستاينې وړ بولم.

ليکوالو ته معلومه ده چې د يوه کتاب ليکنه څومره حوصله او وخت غواړي نو دا را ته بېخي لازمي ښکاري چې د خپلې ميرمنې فريده جان (اتمر) او ګرانې کوچنۍ لور هڅانده (ملت مل) د همکاريو او دا چې د ډېرو ورځو لپاره به يې د خپل ژوند خوږې لحظې زما په انتظار کې تېرولې، د زړه له کومې مننه کوم. په کتاب د دوو ځوانو او ټولنپوهو عالمانو محترم څېړندوي عبدالغفور لېوال صيب او استاد عبدالبصير سباوون سريزې او په هغې کې د دوي له خوا د کتاب د ابتکار او محتوا ستاينه او د دوي سپارښتنې د کتاب د لا ښکلا اساسي عامل او د دوي دغه لورېينې د ډېر قدر وړ بولم.

اې توانمندو او په هيواد مينو ځوانانو !

زه غواړم چې تاسې هر يو د يوه توانمند افغان او سپېڅلي مسلمان په توګه لومړي د لوړو او ښو شخصيتونو لرونکي واوسئ او بيا د يوه په زړه پورې او بريالي واده او خوشحاله کورنيو په لرلو سره د دې جوګه شئ چې د خپل ځان، خپلې کورنۍ، خپل هيواد او هيوادوالو ته د ښو او صادقانه خدمتونو مصدر وګرځئ. نو په همدې اميد تاسې نه يوازې د دغه کتاب په غور لوستلو ته هڅوم؛ بلکې ستاسو د ښه شخصيت د جوړېدو په غرض تاسو د (ځوانان او شخصيت جوړېدنه) کتاب لوستلو ته هم رابولم. هيله ده چې نه يوازې دا کتابونه به په غور سره ولولئ؛ بلکې لوستل يې خپل ژوند کې عملي کړئ چې پايلې يې مثبتې او خوښې زېږوونکې وي. که د دغو کتابونو لوستل مو ګټور و مونډل نو دا بيا ستاسو يو ايماني او اخلاقي مسووليت دی چې خپله کورنۍ، ملګري او هم مسلکي هم د دغو کتابونو لوستلو ته و هڅوئ.

ستاسو د کامياب او خوشحاله ژوند په هيله
ډاکتر تاج الدين ملت مل
ننګرهار، افغانستان



## د ليکوال لنډه پېژندنه

د دغه کتاب ليکوال ډاکتر تاج الدين (ملت مل) دی چې دی په اکثره ځايونو کې ځان ملت مل او د ځوانانو خدمتګار معرفي کوي. ملت مل په (**۱۳۳۳**) هـ ش کال کې د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ د شولاني په کلي کې په يوه متدينه، علم پروره او ميلمه پاله کورني (د امين کورني) کې زېږېدلی دی. دی له ماشومتوب نه يو هوښيار او بيدار ماشوم وه چې تل به يې د لويو عالمانو په مجلسونو کې د ديني موضوعاتو په اړوند خبرو کولو ته زړه کېده. ده لومړنۍ زده کړې د چپرهار په ابتدايي ښوونځي کې، منځنۍ يې د کونړ ولايت د عمراخان لېسې او د لېسې دوره يې د ننګرهار ولايت مرکزي"د ننګرهار عالي ليسه" کې ترسره کړي دي. ده خپل لومړني او عالي تحصيلات په اعلي درجه او ترټاکلي وخت دوه کاله کمه موده کې تکميل کړي دي. عالي تحصيلات يې د ننګرهار په طب پوهنځي کې بشپړې کړې او بيا د تخصص دوره يې د کابل په وزير محمد اکبرخان روغتون کې د داخلې په ديپارتمنت کې سر ته رسولې ده.

ملت مل د هغې سياسي بيدارۍ په وجه چې يې لرله، په افغانستان کې د کمونستانو د فعاليتونو او د روس په حيلو ښه پوهېده؛ نو په شعوري او اګاهانه ډول يې د هغوي په وړاندې فعاله سياسي مبارزه لومړي د افغان ملت ګوند په چوکاټ کې او بيا يې د (ملت ولسي سازمان) په چوکاټ کې پرمخ بيوله چې په همدې وجه په **۱۳۵۸** کال کې د کمونيستي نظام له خوا د پلځرخي زندان تورو تمبو ته د يو کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره وغورځول شو چې بالاخره بیا د ۱۳۵۸کال د حوت په میاشت کې د عمومي عفوي په جریان کې له بنده آزاد شو. ترهغې لږه موده وروسته یې په کابل کې خپل کور او وظیفه پرېښوده او په خپل کلي کې له مجاهدینو سره یوځای شو، تر څو د کمونستانو او روسانو په وړاندې مبارزې او جهاد ته ادامه ورکړي، د جهاد په لیکو کې د ځینو عمده ستونزو د درک او پروړاندې یې د جدي نیوکو له امله په ۱۳۵۹کال کې پاکستان ته کډه شو.

په پاکستان کې ده د افغاني مهاجرینو او مجاهدینو په خدمت کې د ۸ کلونو لپاره په پوره اخلاص او صداقتمندۍ خپل ایماني او انساني مسوولیتونه ترسره کړل. هلته یې څو کاله د افغاني ډاکترانو په اتحادیه کې او بیا د دري ګوني اتحاد د صحي چارو د مسوول په توګه او بیا یې له ملګرو ملتونو سره د کرمې او کوهاټ په سیمو کې د افغاني مهاجرو په کمپونو کې د ډاکتر په حیث وظیفې تر سره کړي دي. د ۱۳۶۴-۱۳۶۷ کلونو ترمنځ یې له ډاکتر صیب محمد نسیم (لودین) سره یو ځای د خپل مستقل طبي مرکز (د افغانانو لپاره د صحي او اجتماعي مرستو اداره) پرانستله او هلته یې د افغاني مهاجرینو او مجاهدینو لپاره بې ساري خدمتونه تر سره کړل چې بالاخره د سیاسي فشارونو له وجهې او د امریکا په متحده ایالاتو کې د لوړو تحصیلاتو لپاره په یوه امتحان کې بریالي او په یوه برس کې امریکا ته ولاړ. په امریکا کې د ده د اوسیدو پر مهال ډاکترصیب لودین په پېښور کې په یوه مرموزه توظه کې شهید شو او ملت مل ته هم د یو شمیر په حالاتو پوهو ملګرو له خوا په کلکه لاربښونه وشوه چې همهلته امریکا کې سیاسي پناه واخلي نو په همدغه دلیل دي په امریکا کې پاته شو.

ښاغلي ملت مل امریکا کې له پاتې کېدو څخه پوره ګټه پورته کړه او د ماسټرۍ ۲ شهادتنامې یې تر لاسه کړې، دغه راز یې ورسره د یوه طبي



پوهنتون په شفاخانه کې د ریسرچ د یوه متخصص په توګه دنده هم پرمخ بیوله. دی د ۱۳۸۷کال راهیسې افغانستان ته د خپلې کورنۍ سره راستون شوی او دلته د خپلو هیوادوالو په ځانګړې توګه د ځوانانو په خدمت کولو او د دغه ملک لپاره د یوه سالم سیاسي زعامت په تربیه کولو مصروف دی.

ډاکتر ملت مل یو مخترع دی چې څلور اختراعګانې یې په پاکستان او امریکا کې منظورې شوي او د کانګرس په کتابخانه کې چې د نړۍ تر ټولو معتبره او ستره کتابخانه ده، د ده په نوم ثبت دي. پر دې سربېره ښاغلي ملت مل ۱۳ مختلف طبي، اجتماعي او سیاسي کتابونه لیکلي او د طبي ریسرچ په برخه کې یې هم په امریکا کې تر ۳۰ زیات اثار د نړۍ په خورا مهمو نشریو کې چاپ شوي دي. د ده طبي پلټنې (ریسرچونه) هم په نړیواله سطحه د غوره ریسرچونو جایزې تر لاسه کړي دي. د ده وروستي کتاب چې (ځوانان او شخصیت جوړېدنه) نومېږي، په هیواد کې ډېرو ځوانانو خوښ کړي او د هغوي په ژوند کې یې بې ساري مثبت بدلونونو راوستي دي. یاد اثر د پوهنې وزارت له خوا هم ارزیابي شوي او د یوه درسي متمم کتاب په توګه د افغانستان ټولو مکتبونو ته د هغه لیږل د پوهنې وزارت له خوا منظور شوي دي چې دا په خپله برخه کې د ګران افغانستان لپاره په ښوونیز ډګر کې یو ستر او لومړي ویاړ دي.

ملت مل د خپل ملت ملتیا او د هیواد ځوانان نسل سره خپله بې ساري مینه دوي ته د عملي خدمت په ډګر کې ثابته کړې، چې دا دي دا کتاب (واده) او نور اثار یې هم د همدغو خدمتونو یوه ښه نمونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ غوښتنې

زموږ ارمان او هدف د اسلام د مقدس دین سره برابر اسان او مؤفق ودونه، خوشحالي کورنۍ او د یوې خوشبخته سالمې ملي اسلامي افغاني ټولنې جوړول دي

د کاهلو انسانانو د عمر زیاته برخه تر واده وروسته له ښځې او بچیو سره یو ځای تېرېږي. د واده نه پس هر نارینه هره ورځ د کور نه د باندې کارونه کوي او د ورځې په ختم کې ستړي ستومانه د یوه ارام ماښام او د شپې د یو څو ساعته خواږه خوب په تمه له ډېرو امیدونو سره د کور په لوري په منډه وي. ښځې هم ډېرې یې یا په کور کې د کور په کارونو اخته، ستړې او ستومانه شوې وي او یا هم چیرته د یو ځوروونکي آمر په دفتر کې ستړې ستومانه د کار نه را رخصت د خپل کور، بچو او میړه له طرفه د میني او څو خوږو خبرو د اورېدو په تمه د کور په لورې لکه د هوسۍ په څېر په منډه وي. د دغو دواړو هریوه امید او سترګې د هغه بل کس په لوري وي چې اوس به کله راته هر کلي و وایي او په کومه خوږه خبره به ما و نازوي.

نن خو خوشبخته هغوي دي چې پدې ستړې او ستومانه نړۍ کې د هغوي دغه ارزو پوره شوې او پوره کیږي او یا خو اقلاً د هرکلي په عوض له تاو تریخوالي او جنجالونو سره سر نه وي. متاسفانه نن زموږ د ټولنې ډېره برخه له خپل کور او کورنۍ نه هم داسې مرور او پرېشان دي چې زړونه یې حتا کور ته تلل نه غواړي. د دې خبرې اصلي علت دا دي چې موږ د موضوع اصلي علت چې هغه د ناقصو او نا انډوله ودونو کول دي نه دي درک کړي. اکثراً خو خپلو اولادونو ته د دوي د واده



کولو په مسئله کې هیڅ حق هم نه ورکوو او نه دوي ته دا موقع ورکوو چې اقلاً پخپلو کې خو حتي یو ځل سره وګوري هم؛ نو موجوده د اولادونو ودونه نه د مور او پلار د زړه ارمان پوره کوي نه د هغو دوو ځوانانو.

پدغه کتاب کې راټولې شوې او لیکل شوې لارښووني که څه هم ځوانانو ته مخاطبې دي، ولې زیاته برخه یې د زیږنوالو (میندو او پلرونو) لپاره او همدا راز ځنې برخي یې بیا د مربینو او ښوونکو لپاره او همدارنګه په ټولنه کې د علماوو او پوهانو لپاره او د مدني ټولنو د فعالینو لپاره خورا مهم او ګټورې دي؛ تر څو هغوي هم د دغو معلوماتو په رڼا کې خپل مسوولیتونه درک او په سمه بڼه یې ادا کړي.

که څه هم موږ دا اټکل کوو چې زموږ هر څه له اسلام سره برابر دي خو متاسفانه اکثراً زموږ ودونه اکثراً نه هم اسلامي دي او نه هم انساني. زموږ د ټولنې په ځوانانو کې بې باوري ډېرې ژورې ریښې لري چې یو علت یې هم په ټولنه کې د ځوانانو محرومیت دي. دلته هلکان او نجونې له یو بل څخه لکه د پسه او لیوه په څېر لرې ساتل کیږي، د ورو کتوب نه هغوي یو له بل نه ډارول کیږي، دا بې اعتباري محرومیتونه منځ ته راوړي او محرومیتونه بیا د تجاوزونو سبب کیږي.

زه فکر کوم چې نن د دې وخت راغلي چې له یوې خوا دې میندې او پلرونه د خپلو اولادونو په اړوند خپل وظایف، مسوولیتونه او لارې چارې له سره و ارزوي او او پدې برخه کې دې له واقعي علماوو نه مرسته او لارښوونه وغواړي او بیا دې د هغوي له لارښوونو سره سم په خپلو کړو وړو کې لازم او ضروري تغییرات راولي. دغه راز زه د خپلې ټولنې په ځوانانو غږ کوم چې تر دې وروسته دې د ناسم دود او دستور قربانیو ته غاړه نه ږدي. د اسلام د مقدس دین او شرعي احکامو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطابق کې دې یو شمېر هغه ازادۍ چې هغه د ځوانانو انساني او اسلامي حقوق دي هغه تر لاسه او د هغه په رڼا کې دې د خپلو ودونو او کوژدو او ودونو په مراسمو غور وکړي تر څو له نیکمرغۍ او هوسا بیني ډک ژوند ولري. که پدې اړه د دوي پلرونه او میندې د دوي په حقوقو تېري کوي؛ نو دوي دې لومړي له هغو سره مخامخ غوښې ولي ډیري مؤدبانه خبرې وکړي او که بیا هم هغوي په خپل دغه غیر اسلامي دریځ ټینګار کاوه؛ نو بیا دې د یوه پوه او دیني عالم له لارې د خپلو دغو حقوقو غوښتنه وکړي او که دې ته یې هم مثبت ځواب ور نه کړ؛ نو بیا دې خپل دغه حقوق د شرعي او قانوني مراجعو له لارې تر لاسه کړي.

همدا راز د دې تر خوا زموږ په کورنیو کې د ډېرو وړو موضوعاتو له امله د ښځو او مېړونو ترمنځ د تاو تریخوالي را پیدا کیدل او په نا درسته طریقه یې پرمخ وړل د ټولنې بله لویه ستونزه ده. د دغو ستونزو د حل لپاره لاندې څو لارې چارې موجودې دي:

۱— پدې برخه کې د دیني علماوو او نورو پوهانو وظایف باید اصلاح او تکمیل شي. دیني علما دې د مسجد او محراب او ممبر له لارې او نور علما دې د قلم، کتاب او ژبې له لارې پدې اړوند پراخه معلومات د خلکو د خدمت لپاره ټولنې ته وړاندې کړي چې دا دي د همدغه کتاب لیکنه د دې یوه بیلګه کیدای شي.

۲. زموږ خلک خصوصاً ځوانان باید د دې مهمې اجتماعي پدیدې په اړوند خپل مسوولیتونه درک او هغه دې په با مسوولیته توګه تر سره کړي، یعني د دې موضوعاتو په اړوند باید مطالعې، څېړنې او پوښتنې وکړي چې په دې برخه کې خپل حقوق او مسوولیتونه په سمه توګه درک او پر مخ یوسي. دغه راز دې د خپل مقابل لوري د لیدو او هغه سره د خبرو او ګډ کار کولو په موقع خپل ثبات او حوصله مندي د



لاسه ور نه کړي او باید ډېر په اسانۍ وارخطا نه شي او د جنسي غرایضو تر اثر لاندې را نشي.

۳-- زه پدې پوره باور لرم چې د صحیحو اسلامي او سالمو کلتوري لارو پیروي به زموږ د ډېري ځوانانو د ودونو ستونزې حل او دوي به د خوشحاله کورنیو خاوندان شي. البته د دې تر څنګ د یو شمیر ټولنیزو اصولو پیروي او د ودونو او کورني ژوند په اړوند د اړوندو معلوماتو راټولول او عملي کول به یې هم زموږ له ځوانانو سره ډېرې مرستې وکړای شي.

۴- پلرونه او میندې باید خپلو بچیو ته یو لړ روا او سالمې آزادۍ ورکړي او ځوانان دې هم دغه آزادي د بامسوولیته انسانانو په څېر په ښه توګه استعمال کړي، چې د بې باورۍ فضا په یوه باوري فضا بدله او دراتلونکو ځوانانو لپاره د ډېرو ښو شرایطو د برابرولو زمینې منځته راوړي.

۵- د دې ترڅنګ باید د مدني ټولنو فعالین هم په ټولنه کې د ناسمو دودونو او رواجونو په وړاندې خپل مسوولیتونه درک او په درسته توګه ادا کړي، چې زموږ د ټولنې وګړي د دغو بې شمېره غلطو رواجونو نه خبر او د ناوړه اثراتو څخه یې وژغورل شي.

ما ځکه وغوښتل چې دغه کتاب ولیکم چې پر ما د واده تودې سړې تېرې شوي لکه یو متل دی چې وایي (ښه ډاکټر هغه دی چې پرې تېر شوي وي)؛ نو د یو با مسوولیته او روڼ افغان په حیث چې د خپلې ټولنې له ځوانانو سره بې کچې مینه لرم، غواړم چې د دوی ژوند خوشحاله او ټول د مؤفقو ودونو خاوندان و اوسي. نو دا مې خپل مسوولیت وګاڼه چې پدې هکله یو څه تحقیق وکړم او پدې وسیله خپلې خوږې او ترخې تجربې او د نورو مشورې تاسې ځوانانو سره شریکې کړم، ګوندې له دې لارې په خپله ټولنه کې سالم اصلاحات را

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځته کړو، چې تاسې ځوانان د کامیابه ودونو لرونکي او له خوشحاله او اسلامي اصولو سره د برابر ښه ژوند خاوندان شئ.
په خپل هیواد او نړۍ کې د ودونو په انتخاب کې د یو مثبت بدلون او د خپل ځوان نسل لپاره د کامیابه او خوشحاله ودونو او خوشحاله کورنیو د لرلو او د یوې خوشحاله او بې شخړې ټولنې د جوړښت په ارزو.



# د دغه کتاب د لیکلو انګیزې

ستاسې او نورو زرګونو ځوانانو په څېر زه هم یو وخت مجرد وم، په شپو شپو به په دې خیالونو کې ډوب وم چې چا سره به واده کوم؟ زما ښځه باید څنګه وي؟ زه به څنګه یوه کورنۍ جوړوم؟ زما ښځه باید زما د مور او پلار ښه خدمت وکړي، باید زما ډېر قدر وکړي، باید زما بچې داسې وروزي چې جوړه یې نه وي او ...
بالاخره کلونه راباندې د سترګو په رپ کې تېر شول، زما دا ارمان هم پوره شو او واده مې وکړ. د لومړۍ ورځې په مازیګر میلمانه هم زیاتره رخصت شول. د پښتنو له ولسي دستور سره سم، مجبوراً ماهم د ماښام ډوډۍ له پاتې شویو میلمنو سره او میرمنې مې د خپلې ترور سره- چې د وریځې په توګه ورسره راغلې وه، تر څو زما ښځه په نوي کور کې تسل کړي- وخوړه. په دغه عجیب دود او دستور کې خو ماته د دې اجازه هم نه وه چې د ماسختن نه مخکې دې یا ناوې وګورم او یا دې دومره بد سترګې شم چې ورسره دې خبرې وکړم، پاتې خو لا ورسره ډوډۍ خوړل شو. د ماسختن لمانځه ته هم له معمول سره سم نیغ د پلار تر شا روان او په قطار کې هم د هغه تر شا لږ شان ښې خوا ته ودرېدم چې هغه باید ما وګوري. نه پوهېږم چې ملا صاحب قصداً په هر رکعت کې داسې لوې سورت تلاوت کاوه چې د یوې رکوع نه به کم نه و او یا خو په ما د وارخطایۍ نه هره ثانیه لکه پوره یوه ګړۍ تېربده، د ماسختن تر لمانځه وروسته ملاصاحب په دعا کې هم بیا یو داسې لوی سورت راونیوه او بیا یې ترجمه او تفسیر هم شروع کړ. لکه د دې ظالم په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې ما سره د ډېرو کلونو داسې کينه وه چې خلاصېدل يې نه لرل، خداي دې انور ماما ته خير ورکړي چې په ملا صاحب يې غږ وکړ چې مولوي صاحب که دا دعا لنډه کړئ چې موږ او تاسو يو بل کار (د شاو د نکاح تړل) هم لرو.

دا پښتانه مسلمانان خو څه داسې عجيبه خلک دي. يوه نکاح يې زما په کوژدن کې تړلې وه، يوه يې د ناوې د راوستلو په وخت کې او دا دريمه يې بيا په دې ماسختن کې او هغه هم د ماسختن د لمانځه نه پس. په کور کې يو څه چوپه چوپتيا وه، دا دي چې پلار مې مخکې، ملا صاحب، ماما ګان او کاکا ګان مې ټول ورپسې زموږ کور ته سيخ ورغلو، لومړي خو چاي او ميوه راغله او ګپ او شپ شروع شو او بيا هماغه د نکاح د تړلو زړه لوبه پيل شوه. رښتيا دا لوبې کله دومره اوږدې شي چې د غوث الدين په شان خلک خو نور داسې بې حوصلې کړي، چې هر څه ورګډ وډ کړي- غوث الدين زما يو ملګري و چې د هغه د واده په شپه هم نکاح لږ څه اوږده شوه؛ نو چې ملا د هغه له پلار نه پوښتنه وکړه، چې دا نجلۍ دې د خپل ځوي غوث الدين لپاره قبوله کړې ده؛ نو د غوث الدين زړه دومره را پړسيدلی و چې بې له دې چې پلار ته وخت ورکړي نو يې فوراً پخپله غږ کړي و (هو ما قبوله کړې ده خبره مو نوره را لنډه کړئ) او پلار ته يې چې د ده وکيل ټاکل شوی و هيڅ د خبرو وخت هم ورنکړ- بالاخره زما نکاح د دريم ځل لپاره هم وتړل شوه د دريم ملاصاحب شيريني هم ورکړل شوه او هر څوک په خپله مخه شول. زه هم لکه د غله غوندې خپلې خونې ته ور روان شوم.

اوس نو حيران وم چې څه وکړم؟! باور وکړئ چې ښځه مې له ما او زه له هغې ډارېدم او هره لحظه را سره د دې سودا وه چې هسې نه چې ما نه داسې يوه خبره ونشي او يا داسې کوم کار و نکړم چې هغه به د هغې د خفګان او غسې سبب وګرځي. زه حيران يم چې زه نارينه په خپل کور



کې دومره وارخطا وم نو زما په ښځه چې د يوه نابلد سړي په منګلو کې لوېدلې وه او هيڅوک يې هم نه لرل، د هغې په زړه کې به څه حال وه.

دا هغه سوال و چې بايد ما کلونه پخوا له ځان سره دا تصوير جوړ کړي واي او دا سوال مې له ځان څخه پوښتلی وای او د پوښتنې د ځواب په پيدا کولو پسې مې د سلګونو خلکو سره چې يې ودونه کړي وو، خبرې اترې کړې واي، دغه راز نورې ګڼې پوښتنې هم نا ځوابه راپاتې وې، افسوس چې اوس ناوخته شوي و.

په مجردۍ کې نه چيرته دا فکر ماته راپيدا شو او نه هم چيرته هغه چاته چې زما د واده په برخه کې يې ارزوګانې او مسووليتونه درلودل، چې اخر دا زموږ اولاد خو هم د واده په اړه په څه پوهول غواړي او که نه. د دوي له نظره د لمبا (لامبو) زده کولو صرف يوه لار وه او هغه دا چې سړي په ډنډ کې ور وغورځوه، يا به لامبو زده کړي او ډنډ نه به کامياب راووځي او يا خو به يې اوبه ډوب کړي او سا به يې ووځي. دا څومره ناسمه نظريه وه او دا ځکه چې د لامبو زده کولو نورې طريقې شته او دا اړينه نه ده چې هر څوک دې لامبو د مرګ په قيمت زده کړي. اولادونو ته د واده په اړه د معلومات نه ورکول هماغه مثال لري لکه چې څوک خپل اولاد د لامبو زده کولو لپاره بې له دې چې لامبو ور زده کړي، دغه لوي ډنډ ته ور وغورځوي. هر څوک فکر کوي، چې اولادونه يې په هر څه پوهيږي، اما دا هماغه غلط فکر دی چې د زرګونو ځوانانو او پيغلو ودونه يې له مشکلاتو، ستونزو، جنجالونو او مصيبتونو سره مخ کړي دي.

ښه که ما غوښتلي هم واي چې له نورو واده لرونکو سره سلا مشورې وکړم او پوښتنې مي ترې کړې واى، فکر نه کوم چې کومه داسې مؤثره لارښوونه به مې ترلاسه شوې وای، دا ځکه چې زموږ ټولنه يوه داسې کلتوري ټولنه ده چې په کې د واده ټول رازونه بايد پټ وساتل شي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه هم واده د زرګونو ستونزو سره مخ وي، ولې د کور نه بهر بیا هر یو بریتونه تاووي او داسې ښکاره کوي چې ګوندې هر څه ټیک ټاک او پوره د ده په کنترول او اختیار کې دي؛ نو فکر نه کوم چې کومه داسې مشوره به مې ترلاسه کړای وای، چې زما او زما په څېر نورو درد پرې دوا شوي وای.

هغه څوک چې تر بل هر چا یې زما د واده په باره کې زیاتې هیلې او ارزوګانې درلودلې هغه زما خپل پلار، مور، ورور، خور او نور نېږدې خپلوان وو چې باید ما ته یې مشورې او لارښوونې کړې وای، ولې متاسفانه دوی بیا هم د هماغه ناسمو دودونو له کبله ما سره هېڅ مسایل نه شریکول او زه پدې متیقین یم چې تاسې به هم همدا اوس له همداسې شرایطو سره مخ یاست. که مو باور نه راځي؛ نو ولاړ شئ او له خپلو نېږدې خپلوانو او دوستانو همدا اوس یو څو پوښتنې وکړئ، بیا وګورئ چې غبرګون به یې څه وي؟ او تر کومه ځایه ډنډورې به درپسې غږول کېږي او د شرم لوخي درپسې تولول کېږي؟ ایا ستاسو پلار او یا نورو واده شویو خپلوانو دومره هم کله درته ویلي دي چې د واده په شپه څه کول پکار دي او څه ندي پکار؟ فکر نه کوم

لنډه دا چې ما واده وکړ، زما واده هم د سلګونو نورو ځوانانو په څېر لوړو او ژورو سره مخ او هره ورځ به له بېلابېلو ستونزو سره لاس په ګریوان وم. زما او زما د مېرمنې دواړو کورنیو د دې په ځای چې زموږ هر یو ته لازمي لارښوونې وکړي او موږ هر یوه ته دا وواییي چې واده د یو نوي ژوند پیل او د یو بل چا سره خپل ژوند شریکول او بالاخره د څه نه تېربدل او څه لاس ته راوړل دي؛ برعکس په غبر ارادي او ارادي توګه هغوي هر یو موږ یو د بل په ضد هڅولو او پدې توګه یې زموږ تر منځ دغه اور ته لاپسې د ګرمولو ببوزې واهه. د کوژدن او واده لپاره لومړني قدمونه داسې بېلګه لري لکه د یوې مانۍ د بنسټ د لومړیو



خښتو ایښودل، که مو لومړۍ خښته لږه هم کږه کیښوده؛ نو څومره چې دا دیوال لوړیږي په هماغه اندازه دا کوږوالي زیاتیږي او اغېز یې هم جدي کیږي. هو همدې څو وړو تېروتنو زما واده او کورنۍ هم راونړوله. څه به مو سر خوږوم، بالاخره زه دې ته مجبور شوم چې د خپلو ارمانونو او خوږ ژوند ۲۰ کلنه جونګړه ویجاړه کړم او بیا له سره د نوي ژوند لپاره ځان اماده کړم.

دا د تعجب خبره ده چې پدې مغلق او عجیب کلتور کې موږ هیڅوک هم په خپله خوښه هیڅ هم نشو کولای. ټول په یو لړ داسې بې معناوو ټولنیزو قراردادونو تړل شوي یوو چې تصور یې هم نشي کیدای. دلته هر څوک د نورو خلکو په کارونو کې کار لري. کار لرل خو لا څه چې خلک د نورو خلکو په کارونو کې ځانونو ته دومره لایتناهي صلاحیتونه ورکوي چې ځان به درنه په کې ورک شي. دا خو لا پرېږده چې د دې ټولنې دا بیکاره خلک خو خپلې ټولې بیکاره ورځې په پیتاوو کې ما او تا پسې په غیبتونو او منفي خبرو کولو تېروي. په دوی کې بیا نر او تکړه هغه دي چې د نورو خلکو نوي او دلچسپه رازونه کشف او د تبصرو میدان ته یې راوغورځوي. کاشکې خو دوی بیا د یوه مسلمان په توګه هغه خبره سمه او په رښتیا هم وواییي. خو یوه یې اوربدلې وي او درې نورې ورسره له ځانه هم داسې ورغوټه کړي چې ته به وایې دا د همدې ډرامې اصلي لیکوونکي دي. دوی خبره دې ته جوړوي چې تا پرې څومره سپکولی شي هماغومره دې سپک کړي. که ته د ځان لپاره تصمیم نیسي نو باید د هر چا سوالونو ته ځواب وواییې ولو که هغه کومه ډېره ناقصه پوښتنه هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تر ټولو سخت کار خو ما وکړ چې بالا اخره له خپلې لومړۍ مېرمنې څخه د شرعي اصولو مطابق بېل شوم.

ولې زیاتو ځوانانو ته دا هم ممکن کار نه دی؛ ځکه د ژوند په اوږدو کې دومره دردوونکې پرېکړه کول او له مخې یې د خپل ژوند (۲۰) کلنه اباده کړل شوې جونګړه په خپل لاس ورانول لوی زړه او بلا اخلاقي جرآت ته اړتیا لري. زه همدا اوس په سلګونو داسې کورنۍ (خپلوان، ملګري او نور) پیژنم چې د دوي هر یوه مېړه او ښځې لپاره هر ساعت ګډه ژوند تېرول د ځمکې پر مخ دوزخ دي، دوي د خپل ژوند ټولې خوښۍ او خوشحالۍ د دې قرباني کړې دي؛ (چې خلک به څه وایي).

دوي د نورو خلکو د خبرو له ویرې ټول مصیبتونه په ځان منې او دا ټول حالات داسې پټ ساتي چې څومره یې کولای شي. ځکه چې ټولنیز شرم یې زړونه زوروي. دوي فکر کوي چې د دوي د کورنۍ په ستونزو خلک ناخبره دي، ولې دا هسې د دروغو هغه خیالات دي چې دوي صرف ځانونه پرې غولوي. دوي دا خپل عیبونه او ستونزې لکه د هغې مړې مرغۍ په ډول په بده وهلې چې بوي یې دنیا نیولې وي اما دوي وایي څه څوک یې نه ګوري.

ما باید بیا د بل ځل لپاره نوي ژوند پیل او خپلې ټولې تېروتنې مې جبران کړې واي، ولې دا بیا هم څه اسانه کار نه و. زه اوس هغه ځلمی نه وم چې (۳۰) کاله پخوا وم. د داسې چا پیدا کول چې اوس زما له موجوده شرایطو سره پېښې وغځوي د ژوند یو نوی چیلنج و.

هغه څه چې د دې ټولو مصیبتونو په منځ کې زه ورته د یو مثبت او ګټور ټکي په نظر ګورم هغه دا دی چې که زه وکولای شم د خپلې دغې لیکنې په ذریعه د خپلې ټولنې راتلونکي نسل ته څه خدمت وکړم او پدې توګه د دوی د ژوند د دغو هیلو او ارمانونو په پوره کولو کې مرسته وکړای شم، نو دا به زما لوی بري او افتخار وي.



ما کوښښ کړي چې د دغه کتاب په لیکلو کې رښتیني او تر ممکن حده واقعیت لیدونکي اوسم. زه به دلته د خپلو اندوښتو او تجربو نه علاوه د یو شمیر نورو عالمانو او پوهانو مشورې او نظریات هم له تاسې ځوانانو سره شریکې کړم.

یو مشهور متل دی چې وایي: (بهترین ډاکتر هغه دی چې پرې تېر شوي وي)؛ نو د دې متل په اساس زه خپل ځان د دې وړ بولم چې تاسې سره خپلې اندوښتې شریکې کړم.

پدې پوهیږم چې د واده خبرې د پردې ترشا (خصوصي) دي او د دې خبرو خصوصي ساتل د دې سبب شوی چې هیڅوک په دې هکله له هیچا سره هم حتي لږ شانتې بحث نه کوي. دا بحث نه کول، بیا د دې سبب شوي چې په هر چا چې څرنګه راغله هغسې دې ګالي، بل چا ته دې حال نه وایي او یا دې ورته دروغ ووایي، اوس د دې وخت راغلي چې موږ په ګډه د دې ستونزو د حل لپاره کار وکړو، او سره رښتیا ووایو؛

د دغه کتاب د لیکلو په تکل کې د موادو د راټولو په اوږدو کې راته (دفاع از حقوق زن در قران و احادیث) په نوم یو کتاب چې د الحافظ مولوي شایق احمد (همیم صیب) لیکنه ده پلاس راغي. دا یو ډیر ښه غني او اغېزمن کتاب دي او پدغه کتاب (واده) کې هم ترې کار اخستل شوي دي. زه محترم همیم صاحب ته د داسې یوه غښتلي اثر د لیکلو مبارکي وایم او د هلو ځلو ستاینه یې کوم. غواړم تاسې ځوانان (ښځې او نارینه) د دغه کتاب لوستلو ته دعوت کړم. لکه دغه کتاب چې له ما سره ډېره مرسته کړېده، هیله ده تاسو ته به هم ډېر ګټور وي.

زموږ هیله ده چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ځوانان دې خپل مسوولیتونه په جدي توګه درک او د خپل ژوند په اړوند دې لازمه او مناسبه آزادي تر لاسه کړي او هغه دې د امانت په توګه په سالمه توګه تر سره کړي.

۲- زیږنوال دې پدې اړوند خپل اسلامي او کورني مسوولیتونه درک او خپلو اولادونو ته دې یو لړ سالمې ازادۍ، چې د دوي اسلامي او ټولنیز حقوق دي ورته وسپاري او پدې اړوند دې دوي ته سالمې لارښوونې هم وکړي.

۳- عالمان، پوهان او استادان باید د تبلیغ، خبرو، چاپ او نورو تبلیغاتي لارو د ځوانانو او ټولنې د اذهانو په روښانه کولو کې فعاله ونډه واخلي.

۴- د مدني ټولنو فعالین هم باید پدې اړوند د تبلیغاتو او عامه پوهاوي له لارې د زیږنوالو، ځوانانو او عامو وګړو په پوهاوي او لارښوونو کې فعاله ونډه واخلي.

یو ټکی چې ذکر کول یې ضروري بولم دا دی چې د دغه کتاب له لیکو څخه په هیڅ صورت زما دا مطلب نه دی چې د خپلې ټولنې ځوانان ( هلکان او نجونې) له واده څخه وبیروم او دوی ته واده د خدای (ج) یو لوی مصیبت ښکاره کړم؛ بلکې زما هدف دا دی چې د دغو ترخو تجربو په شریکولو سره دوی د ژوند دغه لوی، سخت، اوږد او پیچلي سفر ته لا ښه اماده کړم، چې پدې وسیله د دوی ودونه کامیاب او له ستونزو څخه خالي وي. زه نه غواړم زموږ نور ځوانان په هغه سرنوشت اخته شي لکه چې زه او زما په څیر په زرګونو نور پرې اخته او ورسره لاس په ګریوان وو او یا دي. زموږ هیله دا ده چې ځوانان او مشران به دواړه دې کتاب ته د واده په اړه ځوانانو ته د یوه ښه او اړین لارښود په توګه د داسې یوه دستور العمل په نظر وګوري چې ممکن د ده او د ده د اولادونو په ګټه به تمام شي. په دې کې شک نشته چې هره واده شوې



جوړه خپل ځانته ډېرې خوږې او ترخې کیسې لري چې له نورو ځوانانو سره به یې شریکول د عبرت په بڼه ډېرې مرستې وکړي. موږ له تاسو پلرونو او میندو څخه هیله کوو چې خپلو اولادونو او نورو ځوانان سره د کومک او لارښوونې په غرض به موږ ته دغه شان د پند او عبرت نه ډکې کیسې راولیږي چې په راتلونکې کې یو د پنده ډک کتاب په څیر خپرې شي. موږ پدې اړه له تاسو سره تعهد کوو چې ستاسو له اجازې پرته به ستاسې نوم او پېژندګلوي په هغه کتاب کې نه خپریږي، لکه چې تاسې به پدې کتاب کې هم ولولئ چې موږ د ډېرو خلکو داسې خصوصي کیسې نشر کړي اما د هغوي پېژندګلوي مو پټه ساتلې او یا مو په مستعارو نومونو او پتو خپرې کړې دي. همدا راز که د دغه کتاب په اوږدو کې ځینې موضوعات نشر شوي وي چې هغه ستاسو له نظره مناسب نه وي؛ نو موږ یې مخکې له مخکې په اړوند دا ویل غواړو چې دا په هیڅ صورت قصدي عمل نه؛ بلکې یوه تېروتنه او اشتباه به وي؛ نو موږ د دې تر خوا چې له تاسو بخښنه غواړو، هیله مند یوو چې هغه ټکي به موږ ته په نښه کړئ ترڅو بیا د بل ځل چاپ په صورت کې له هغو څخه مخنیوی وکړو. هیله ده د خپل واده د رنګینو تجربو په اړه له خپلو ښایسته او معنا لرونکو تجربو څخه موږ او دغه ځوانان محروم نه کړئ او موږ ته به خپلې ارزښتناکه لارښوونې او نظریات راواستوئ چې راتلونکو نسلونو ته د لا ښه پوهاوي او بریالیو ودونو په رامنځته کولو کې ترې د بیا چاپولو په صورت کې کار واخستل شي.

دلته د یوې ډېرې مهمې خبرې زیرې درکول لازمي او ضروري بولم، هغه دا چې ما د دوو ځوانانو په اړه چې غواړي یو له بل سره واده وکړي داسې یو لوړ علمي کمپیوټري پوښتن لیک اختراع کړي دي چې دا امتحان تر واده وروسته د دغې جوړې تر منځ د روحي او فکري تطابق

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه په ډېره دقیقه توګه (**۹۵٪** صحیح) تخمینوي؛ نو ځوانان کولای شي چې د دغې ازموینې په اخستلو سره مخکې تر دې چې یو له بل سره واده وکړي دا ازموینه واخلي او په خپل منځ کې د تطابق او اختلافاتو اندازه همدا اوس وټاکي او که د دوي تر منځ اختلافات ډېر زیات وي؛ نو د خپل واده په هکله دې بیا له سره غور وکړي. ښه خبره یې لا دا ده چې دا ضرور نه ده چې هلک او نجلۍ دې زموږ مرکز ته راشي چې دا امتحان ترې واخیستل شي، دوي کولای شي چې دا امتحان دواړه جدا- جدا او په خپلو کورونو کې واخلي او موږ ته یې د کمپیوتري تحلیل او تجزیې لپاره مرکز ته راولیږي. دا امتحان تاسو ته ستاسو د اختلافاتو اندازه او ستاسې د ژوند هغه اړخونه چې تاسو پکې ډېر اختلافات لرئ یو په یو در په ګوته کوي او موږ یې بیا تاسو ته د حل په اړوند لازمې علمي مشورې درکوو.

دا امتحان له ځوانانو پرته هغو میړونو او ښځو سره هم ډېره مرسته کولای شي چې خپل منځي ستونزو یې د ژوند خواږه ور تریخ کړي او هره ورځ یې په ناندریو او خپرو تېرېږي. دوي هم کولای شي چې له دغې ازموینې څخه په ګټې اخیستنې او زموږ په لارښوونو او کومک سره له میني ډک ژوند وموندلي شي. تاسو کولای شئ چې د دغې ازموینې لپاره له موږ سره د ایمیل له لارې په دغې پته tajmim@aol.com اړیکه ونیسئ او یا په **۴۰۵-۴۴۹-۷۷۵** شمیرې سره اړیکې ونیسئ.

هیله ده چې لوستونکي پلرونه، میندې، ورونه، خوېندې، عالمان، استادان، د مدني ټولنو کارکوونکي په ځانګړې ډول تاسې ځوانان دا کتاب په پوره غور او دقت سره تر واده وړاندې او بیا د واده په وخت کې او حتا تر واده وروسته څو څو ځله په پوره مینه او دقت سره ولولئ او له هرې برخې څخه یې د خپل ژوند په سرنوشت ټاکلو کې لازمه او مناسبه ګټه واخلئ. هیله مند یوو په دې لاره کې په ګډه د ونډې



اخستلو له لارې په ټولنه کې سالم او مثبت بدلونونه رامنځته کړو او خپله ټولنه له ستونزو د خلاصې په لور پر مخ بوځو.

**یادونه**:

د دغه کتاب په اوږدو کې د کار د اسانتیا په خاطر د ښځې یا خاوند د کلمې پر ځای د شریکباڼ کلمه چې هغه په دواړو یعني ښځې او خاوند دلالت کوي او همدا راز د (مور او پلار) د کلمې په عوض د (زیږنوال) کلمې استعمال شویدي، هیله دا چې دا به هم ستاسو سره د کتاب په لوستلو کې مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب په اړوند د کره کتونکو تبصرې

## د ځوانانو اساسي ستونځو ته پاملرنه

یوه پوښتنه تل زموږ د نسل په ذهن کې راګرځي، چې ولې په افغانستان کې له لوست (مطالعې) سره مینه کمه ده؟ لاملونه یې ډېر دي؛ دلیک لوست کمزوري حالت، بېوزلي، رواني او ټولنیزې ستونزې... خو یو بنسټیز لامل یې دادي، چې موږ لاهم داسې کتابونه ډېر کم لرو، چې د خلکو له ورځني ژوند او د دوي له لومړنیو اړتیاوو سره اړیکه ولري.
د بېلګې په توګه خلک نه شي کړای د خپلو ورځنیو ستونزو حل په هغو کتابونو کې ومومي، چې د دوي په ژبه لیکل شوي او د دوي لاس وررسیدلای شي. زموږ کتابونه یا یوازې ادبي دي یا تاریخي – یا هم سیاسي، چې ټول خلک ورسره مینه نه شي درلودلای، تاسو دیوې ګڼې ذوقه ټولنې لپاره ښایي دبیلابیلو منځپانګو خاوند اثار ولرئ.
په وروستیو کلونو کې زموږ د ځیرکو او سترګورو لیکوالو پام وروړ دې تشې ته را اوښتي دي، چې یوه بېلګه یې د ښاغلي ډاکترصاحب ملت مل همدغه اثردي.
کتاب یو جامع سرلیک لري؛ (واده) چې همدا یوه کلمه ګڼ اړخیز مفاهیم او د مطالعې خورا مهم بنیادونه درلودلای شي.
واده د یوه عاطفي پیوند په توګه رواني اړخ لري. همدا واده دي، چې د دوو کسانو اروایي پیوند ټاکي او که سم وي د تاوتریخوالي، بیلتون او کاږه برخلیک مخه نیولای شي، ځکه خو واده حقوقي او رواني اهمیت لري. همدا اوس هره ورځ د کورنیو ترمنځ د زورزیاتي او بدو



پیښو او پرښځو د تاوتریخوالي ستونزه دهمداسې یوې مهمې مسئلې په پام کې د نه ساتلو له امله رامنځته کیږي.
واده د کورنۍ بنسټ دي او کورنۍ په افغانستان کې ټولنیز واحد دي، ځکه خو واده یو ټولنیز بحث هم دي.
واده یوه کلتوري ښکارنده (پدیده) ده ځکه خو په فرهنګي چاپیریال، فولکلور، شفاهي ادبیاتو او دود دستور کې د ځېړلو وړده.
واده دکورنۍ اقتصادي بنسټ ټاکي، د کورنۍ اقتصاد د ټولیز - ملي اقتصاد برخلیک ټاکي، ځکه خو واده ان اقتصادي - سیاسي ارزښت درلودلای شي.
واده د راروانو نسلونو دایجاد لومړي تمځای دي، ځکه خو که غواړئ، راروان نسل مو سالم وي باید دا بنسټ یې سم وي، څه ډول باید سم وي؟ دا نو یو علمي هراړخیز تحقیق ته اړتیا لري، چې زموږ په هیواد کې یې لاهم ځای تش و. لنډه یې دا چې واده ته ښایي دلاندنیو پوهنو له زاویې څخه یوه نوې کتنه وشي: اروا پوهنه، ټولنپوهنه، فرهنګپوهنه، سکسولوژي، اقتصاد او سیاست.
ښاغلي ملت مل تر ډېره بریده همدې ته ملاتړلې ده او په ظاهره له ټولو څخه هیره، خو خورا مهمه مسئله یې یوځل بیا موږ ته راپه یاد کړې ده.
ښاغلي لیکوال د (واده) په اړه هغه ځانګړنې شنلي دي، چې په افغاني ټولنه کې شته، بیا یې ځای ځای له ګاونډیو ټولنو سره هم پرتله کړي دي، ناوړه دودونه یې شمیرلي دي، ځای ځای یې حل لارې وړاندیز کړي او د یوې هراړخیزې څیړنې په دود یې د خپل تیزس ټول اړخونه شنلي دي.
زموږ د دغه ښاغلي لیکوال دا هڅه یوه په زړه پورې پیلامه ده، چې هم دخلکو د اړتیا وړ مسایل کتابي کړي او په دې توګه د مطالعې مینه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاذبه رامنځته کړاي شو ، له بلې خوا به د ټولنيزو ستونزو له منځه وړلو لپاره علمي نسخې رامنځته کول تجربه کړو.

زه د دغه کتاب لوستل ټولو هغو کسانو ته ګټور ګڼم چې غواړي ټولنيز ريفورم او اصلاح ته کار وکړي، ځوانان هم تر دې وړاندې چې ګډ ژوند پيل کړي، کړاي شي د دې کتاب تر لوستلو وروسته ښه ترا پريکړه وکړي، هغه هم د دې منطق پر بنسټ، چې هره بريالۍ پريکړه يوازې د بشپړو معلوماتو په رڼاکې شونې وي.

کورنۍ هم د خپلو نازوليو اولادونو د ښې راتلونکې لپاره دا کتاب لوستلاي شي، د پلار او مور يوه وسوسه دا وي، چې اولادونه يې له تيارې او ناوړه راتلونکې سره مخامخ نه شي. ښايي دا کتاب به له دې وسوسې څخه د خلاصون څه لارې چارې وروښوولاي شي.

د دغه کتاب درانه ليکوال ته د ورته نورو ټولنيزو ليکنو او بحثونو دغځولو په هيله او تمه خپلې څرګندونې پای ته رسوم.

**خوشاله ژوند ولرئ**

**څېړندوی عبدالغفور لېوال**

۱۳۹۲ **څيله** ۱۶

**د علومو اکاډمي**



## ځوانانو ته تر ټولو ښکلې او ګټوره نسخه

د افغانستان اساسي قانون څلور پنځوسه ماده وايي: (کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده ...) [۲] د دې جملې ساده مانا او مفهوم دا دی چې د افغاني ټولنې اساس او بنسټ پر کورنۍ ولاړ دی. ټول پوهېږو چې زموږ په ټولنه کې کورنۍ پرته له واده څخه نه شي رامنځته کېدای، واده (د نارينه او ښځينه د ګډ ژوند تړون) د کورنۍ لازمي شرط دی. د اسلام مبارک دين او زموږ د هېواد مدني قانون د واده کولو او کورنيو لپاره تر ټولو مهم، پرمختللي او غوره اصول وضعه کړي دي خو له بده مرغه چې موږ نه پر هغو اصولو روان يوو او نه يې هم پر ځان عملي کولو ته تيار يوو.

د واده کولو لپاره په قوانينو کې درج اصول او د اسلامي فقې د کورني ژوند او کورنۍ حقوقو بابونه لوستل او ځان پرې پوهول، د هر لوستي او کم لوستي افغان د وس خبره نه ده. تر واده مخکې، د واده پر مهال او تر واده وروسته معمولاً انسان له ځينو داسې انفرادي او جمعي ستونزو سره لاس او ګرېوان کېږي چې په قوانينو او نورو کتابونو کې يې روښانه حل لارې نه ترسترګو کېږي. زموږ په دوديزه ټولنه کې د واده او د کورني ژوند زياتره واقعيتونه پټ ساتل کېږي، ډېری ځوانان د خپل ناوړه کورني ژوند پر لمبو سوځېدلي او سوځي خو له کوره بهر پر شونډو دروا غجنې موسکاوې ګرځوي، له خپلو ملګرو او دوستانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خاندي، ټوکې کوي، چکرې وهي خو واقعيت دا وي چې کورنۍ او خپله کوټه ورته د زندان په څېر وي، د دې هر څه لامل د اولادونو د ودونو په اړه د والدينو پر کولتوري او سيمه ييزو باورونو ولاړې ناسمې پرېکړې دي، چې دا ناسمي پريکړې نه يوازې دوه انسانان (مېرمنه او مېړه) بلکې ټول انسانان (دوي او د دوي اولادونه) او يو پوره نسل ته د ځور او درد لامل شي.

دمخه موږ ياده کړه چې کورنۍ زموږ د ټولنې اساس او بنسټ دی، که موږ وتوانېږو چې يوه ښه او د خپلې خوښې پر بنياد کورنۍ رامنځته کړو نو په حقيقت کې به مو د ټولنې اساس او بنسټ سم ايښی وي او راتلونکی نسل به يو خوشحاله او سوکاله نسل وي. ويل کېږي چې د ژوند کتاب يوازې يو ځل ليکل کېدای شي، واده هم همدې جملې ته مترادفه مانا لري او د ژوند په کتاب کې د يو مهم څپرکي ليکل دي، دا څپرکی په حقيقت کې د ژوندانه د کتاب تر ټولو مهمه او اصلي موضوع ده، که څه هم اسلامي شريعت د ناخوښۍ پر مهال د ژوندانه د دغه مهم څپرکي د رنګولو (طلاق) لاره هم پرېښې ده خو تر څنګ يې دا هم ويل شوي دي چې د الله (تعالی) پر وړاندې تر ټولو ناخوښ روا عمل (طلاق) دی. د دې خبرې مفهوم دا دی چې الله (جل جلاله) هم نه غواړي چې کورنۍ ژوند دې د طلاق په واسطه ګډوډ شي بلکې غواړي چې له پيله دې د کورني ژوند بنسټ په ښه او خوشحاله توګه کېښودل شي، که چېرې د چا پښه خويېږي او کورنۍ ژوند يې نه شي تېرېدای، نو بيا اړتيا نه شته چې هره ورځ ودردېږي، هره شپه وځورېږي او هر ساعت زړه وخوري، طلاق بيا له دغسې عذاب څخه د خلاصون غوره لار ده.

د ودني ژوند لپاره نه ډېره پوهه په کار ده، نه ډېره شتمني، نه هم ډېر جايدادونه، نه ډېر زور او قوت، نه ډېره مينه او نه هم ډېر نفرت، ودنی ژوند چې يوازيني شي ته اړتيا لري، هغه اعتبار او باور دی. اعتبار او



باور چېرته په کوم مارکېټ کې نه شي رانيول کېدای، اعتبار او باور په زړونو کې وي او يو د بل په منلو او يو بل ته د غاړې ايښودلو پر مهال خپله په زړونو کې پيدا کېږي. يو بل منل او يو بل ته غاړه ايښودل، هم څه دومره اسانه کار نه دي، که اسانه وای، نو ممکن ډېرو جوړو (مېړه او مېرمنې) به دې حالت ته ځانونه رسولي وای. خو لکه په دې کتاب کې به يې چې ولولئ، زياتره جوړې له خپل ودني ژونده ځورېږي او لامل يې د خپلمنځي باور نه شتون دی.

د خپلمنځي باور د پياوړتيا او په رواني لحاظ د ودني ژوند لپاره ځان برابرول ځينو اروا پوهنيزو او د عملي ژوند د تجربو پر اساس ليکل شويو کتابونو لوستلو ته اړتيا لري، چې ستاسې په لاس کې دا کتاب (واده) يې زما په اند تر ټولو غوره نمونه ده. دا کتاب د يو داسې عالم انسان په واسطه ليکل شوی دی، چې هره شېبه يوازې او يوازې د وطن د ځوانانو په اړه فکر کوي او کله هم چې له خپل ډېر فکر څخه کوچ راوباسي، نو هغې ته بيا د عمل جامه ور اغوندي. ډاکټر تاج الدين ملت مل پر ځوانانو دومره مين انسان دی، چې تر دې دمخه يې د (ځوانان او شخصيت جوړېدنه) په نوم يو کتاب وليکه او په خپل لګښت يې چاپ کړ او د هېواد ګوټ ګوټ ته يې تر ځوانانو ورساوه. دا کتاب ليکنه هم له ځوانانو سره د ښاغلي ډاکټر ملت مل د ډېرې زياتې مينې ثبوت دی.

په دغه کتاب کې تاسې تر واده دمخه ژوند او د واده لپاره د تيارۍ نيولو مهمې لارښوونې او مشورې لوستلای شئ. ورپسې د واده د انتخاب او د واده کولو پر مهال بايد څه وشي، له واده وروسته څنګه خوشحاله ژوند وکړو؟ او څنګه د خپلې کورنۍ ستونزې مديريت کړو؟ دا او دې ته ورته نور ډېر مهم مسايل هغه څه دي چې په ورځني ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هر ځلمي او پېغله ورته ضرورت لري او په دغه کتاب کې دا ټول موضوعات په ډېره ښه او تفصيلي بڼه ځاي پر ځاي شوي دي.

زه نه غواړم چې د کتاب موضوع دلته يو په يو تشريح کړم، د تشريح امکان يې هم نه شته دی خو د ارزښت په باره کې يې دومره ويلې شم، چې کاشکې دا کتاب ډير کلونه پخوا زما تر ګوتو شوي واي. ځکه کتاب په دومره دلچسپۍ، په دومره روانۍ او پراخ زحمت تيرولو ليکل شوی دی چې د ودني ژوند لپاره ټول مهم مسايل په کې رانغاړل شوي او د هرې مسئلې تشريح ممکن د يو جدا کتاب اړتيا پيښه کړي.

زموږ په ټولنه کې ځوانان ډېرو دغو نوعه اثارو ته چې هغه د همدغه ملک له دود او دستور سره اړخ لګوي او په ډېرو ارزښتمنو موضوعاتو او هغه هم د هغه چا له خوا ليکل شوي وي، چې پخپله د موضوع يو ژوندي مثال وي، ډېر سخت ضرورت لري. دې قربانۍ ته ډير کم خلک حاضريږي، چې خپل کورني رازونه د نورو د عبرت او لارښوونې په غرض د خلکو په وړاندې کيږدي. دا چې ملت مل د خپل ژوند ترخې تجربې، د خپل نړيوال ټولپوهنې په رڼا کې د خپل ولس په ځانګړې توګه د ځوانانو اساسي موضوعاتو ته توجه کوي او هغه په ډېره ساده او روانه ژبه ولس ته د لارښوونو په غرض وړاندې کوي، دا يو فوق العاده ځانګړې عظمت او قرباني ده، چې له ځوان نسل سره د ده له بې کچې مينې نه سرچينه اخلي. دغسې مشران واقعاً زموږ د ټولنې او په ځانګړې توګه د ځوانانو اصلي او بنيادي خدمتګاران دي.

په پای کې زه د هيواد په ټولو ځوانانو، د کورنيو په مشرانو، په علمي شخصيتونو او تعليمي ادارو غږ کوم، چې دا کتاب تر خپله وسه پورې خپور کړي، په دې اړه علمي سمينارونه او غونډې جوړې کړي، تر څو د دغه کتاب له محتوياتو او د ښاغلي ملت مل له علم، پوهې او تجربو څخه د هيواد اکثريت ځوانان استفاده وکړي. پداسې حال کې چې ډېر



محترم ډاکتر تاج الدين ملت مل ته د دغه کتاب د چاپ مبارکي وايم، د کتاب لوستنه د ټولنې ځوانانو (هلکانو او نجونو) ته په کلکه د دغه علمي، ګټور او فوق العاده ضروري اثر بيا بيا لوستلو او پرې عمل کولو ته رابولم. دا کتاب ولولئ او تر ممکنه حده يې له نورو ملګرو سره يې هم شريک کړئ.

**په خورا درنښت**

**عبدالبصير سباوون**

**الفلاح د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## عمومیات

## دوا ده خیالونه

ښه ده نو اوس ته ځوان شوی یې او د راتلونکي عمر په باره کې خوبونه ګورې او خیالونه ترسیموې؟ دا هم له ځانه سره وایې: زه به تعلیم کوم- ښه وظیفه به اخلم- بیا به واده کوم- داسې ښځه به کوم چې هم ښایسته وي هم زما د مور او پلار عزت وکړي- ځانته به کور او موټر اخلم- بیا به مې بچیان پیدا شي هغوی سره به لوبې کوم او زما ښځه به زما ماشومان داسې روزي، چې نمونه به یې نه وي. زما ملګري به ډله ډله زما کور ته د میلمستیا و لپاره راځي او زما مېرمن به یې داسې عزت کوي چې زما سترګې همیش ورته لوړې وي او داسې نور او نور.

هو، دا خیالونه او خوبونه ټول ریښتیا دي او شته. ما هم ستاسې په څیر د خپل راتلونکي په باره کې خوبونه او خیالونه لیدل او په سلو کې سل هر ځوان د دې امید او ارزو لري چې ښه دنده، کامیابه او خوشحاله کورنۍ ولري خو کله چې د عمل میدان ته راووځي نو د زیاتو ځوانانو خوبونه د زمانې په څپو کې لاهو شي او بیا نو خپل پاتې عمر په کشمکشونو او ویش ویش کې تیروي. د دې بې شمیره او هر اړخیزه ناکامیو او نا هیلیو وجهې زیاتې خو یو څو مهمې او اړونده یې دا دي:



۱- ډېري ځوانان له خپل چاپیریال څخه ناخبره او خیالونه یې ډیر او چت پروازونه کوي او ځانته داسې خیالي مانۍ جوړوي چې عملي کیدل یې بیا له توانه وتلي او له ټولنیزو شرایطو سره هېڅ اړخ لګوونکي نه وي.

۲- که بل هیڅ علت هم نه وي نو بیا خو یې د اکثرو په ژوند کې داسې یو تغییر را پیښ شي چې د ده اراده او خیالونه او د ده د بېړۍ منزل او جریان ته داسې بدلون ورکړي، چې نه یې هغه منزل پاتې شي او نه یې هغه چټکوالي.

۳- په خپل زړه او خیال کې صرف د خپل ځان ګټې، احترام او غوښتنې تصویروي او ځان داسې امیدوار وي چې د ده شریکبانو به د ده د ارمانونو په پوره کولو کې د یوه نوکر په څیر لاس په نامه ولاړ وند ه اخلي، کله هم پدې فکر کې نه وي چې د ده پشان د ده شریکبانو هم همدغه ډول ارمانونه لري او داسې تصور کوي چې شریکبانو یې باید د هغې ارمانونه ورپوره کړي. نو تر ټولو غټه اشتباه دا ده چې موږ هر یو په واده کې د راکړې په طمعه یوو خو چیرته مو ځان د ورکړې لپاره نه وي اماده کړی چې دا همدا یو طرفه قضاوت او غوښتنه ده چې د اکثرآ ودونو د ناکامیو او د دوو ځوانانو د هیلو د رژیدلو سبب ګرځي. دا تر ټولو اړینه ده چې د واده نه دمخه د واده په اړه یو لړ ستونزمنو واقیعیتونو باندې ځانونه پوه کړو او پدې اړه یو لړ ترخه واقیعیتونه او ستونزې هم مخکې له مخکې قبولي کړو، هغه ومنو او تر ممکنه حده یې د مخنیوي په اړه جدي او مصمم و اوسو.

د واده په اړوند یوه مهمه مسئله ځان ښه پوهول او د واده د مختلفو پړاونو لپاره پرلازمو او ضروري کارونو باندې ځان پوهونه او د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې مرحلې لپاره لازم تیاري نیول دي. که همدا اوس موږ د سلګونو
ځوانانو نه دا درې پوښتنې وکړو چې:
۱- واده څه شي دي؟
**۲.** ته څه ډول شریکباڼ غواړې؟
**۳**- تاسو د خپل واده په اړوند کومه اندازه مسوولیتونه تر سره کړي که
څنګه؟
نو زه په یقین در ته ویلي شم چې تر **۹۵**٪ زیات به یې د دې پوښتنو په
اړوند داسې په سوچونو کې شي چې تصور یې نشو کولای. دوي هر یوه
ته به دا سوال یوه معما وي، پاتې خو لا د هغه ځواب ویل شول؛ مګر دا
کومه نابېره خبره نه ده ځکه چې زموږ ټولنه په کتلوري توګه د واده په
اړوند غیر ارادي (Passive) برخورد کوي نو پدې اړه هیڅ سوچ هم نه
کوي او نه پدې اړوند د کومو مسوولیتونو لرلو احساس کوي. کله چې
مو د دغه کتاب په لیکلو کار کاوه، نو ځینو دوستانو او ملګرو به پر
ما ملنډې وهلې او دا به یې راته ویل چې دا ته څه بیکاره شوي یې او زه
به یې لیوني ګڼلم چې خلک په څه لګیا دي او دي په څه لیونتوب سر
دي. ما به ورته د سترګو لاندې کتل او په سره سینه به مې د دوي دا
مسخرې کتلې، ځان به مې داسې نا خبره اچاوه لکه زه چې له هیڅ خبرې
خبر هم نه یم. هو زموږ په وطن کې دا تېر پنځه دېرش کلن جنګونه بې
اغېزه نه دي. دې جنګونو نه یوازې دا چې زمونږ د ټولني اجتماعي
جوړښت را بدل کړ، عزتمندي او ابرومندي کورني یې پټیدو ته
مجبوري کړي، او زمونږ په ټولنه کې یې نوي کم ارزښته کورني د
قوماندانانو په نومونو حاکمې کړي. دغه قوماندانانو زمونږ د ټولني
ټول ارزښتونه لوټ کړل، دوي نه یوازې دا چې ډول ډول ناسم
قضاوتونه په فکرونو ورو تپل؛ بلکې ځینو خو بیا پکې درې ځلور



ودونه هم وکړل. د جنګ او جګړو له امله خو لا صبري او یو د بل په
وړاندې زغم او تحمل لا نور هم را کم کړل او پدې ډول یې کورنۍ
لانجې لا نورې هم زیاتې او لا ستونزمنې کړې. له بلې خوا په دې **۳۵**
کلن جنګ کې د چور او چپاول او یا هم د پردیو د جاسوسۍ له لارو د
اسانه پیسو پیدا کولو خو ډېرو ته په ودونو کې د یو شمیر نویو نخرو
او سیالیو زمینې هم برابرې کړې چې د دوي دغه کارونو بیا د هیواد
عادي ځوانانو په زړونو کې د واده کولو هغه امیدونه هم له خاورو سره
برابر کړل چې سینو کې یې ورته د خوښۍ هیلې کرلې وې. موږ مجبور
یوو چې د ځوانانو دغو پوښتنو ته علمي ځوابونه پیدا کړو، څو ځوان
نسل ته لازمې لارښوونې سره را ټولې کړو خو ښه خبره لا دا وه چې د دې
کار په اوږدو کې مو د ځوانانو ترمنځ د خویونو د تطابق امتحان هم
تولید او ځوانانو ته وړاندې کړې. دا کتاب به نه یوازې ځوانانو ته
ګټور وي بلکې د هغو واده شوي غټانو لپاره چې په کورونو کې
ستونزې ولري هم ډېره مرسته وکړي.
لکه څومره چې واده مختلف ټولنیز، اقتصادي، رواني، عاطفي او
بنسټیز اړخونه لري، چې دې هر اړخ ته یې پام کول تر هغې زیاتې
پاملرنې ته اړتیا لري چې اوس یې موږ، پلرونه، مېندې، استادان او
ځوانان ورته ورکوو.
زموږ په ورځني ژوند کې یو ځوان ته په واده کې ممکن ښکلا ډېر
بنسټیز شرط وي، ولې سره له دې چې موږ نشو کولای د ښکلا بنسټیز
رول له منځه یو سو؛ خو له بل اړخه به دا هم ګټوره نه وي چې د واده هغه
نور بنسټیز مسایل دې یوازې د ښکلا قرباني نشي کړای، لکه چې یو
شمېر هغو ځوانانو چې دا کار کړی، اوس تر ډېره بریده لاسونه مروړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر وخت تري تېر دی او دوی اوس له همغې ښکلې ټاکنې سره د مجبورۍ ستومانه او نا ارامه شپې، ورځې تېروي.

همدا راز اکثره مېندې او پلرونه د اولادونو په ودونو کې خپلې هیلې او ارزوګانې د بنسټیز معیار په توګه په نظر کې نیسي؛ خو له بده مرغه د هلک او نجلۍ نه رضایت او اغلباً په خپلو کې د کوژدن کېدو نه ناخبره، بیا د دې دواړو ځوانانو هغه ټول ارمانونه او غوښتنې د خاورو سره خاورې شي او دوی د پلار او یا مور د غوښتنو قرباني پاتې کېږي.

د واده خیالونه ښه دي، خو دا خیالونه باید رښتیني، عملي او د پلي کېدو وړ شرایط ولري او ترڅنګ یې باید ځوانان خپل ځانونه چمتو او حتی پدې لاره کې که اړتیا شي نو یو اصولي او قانوني بغاوت ته هم حاظر شي، کنه نو د دوی ودونه به د تل لپاره د نورو د ارزوګانو قرباني کېږي.

زه پدې اړوند د ګرانې لیلا جانې چې زما یوه دوسته ده، هغه قربانۍ تقدیروم چې پلار او مور یې د دې له مشورې پرته هغه د کاکا ځوی ته ورکړې وه، ولې دې په ډېر ښه سکلوک او دوامداره مبارزې بلاخره هغه کوژدن چې ماتول یې ډېرو توانمندو خلکو ته هم ناشونې برېښېده، شونې کړه او په خپله ټوله هوښیارۍ یې بلاخره خپل پلار، مور او نور د کورنۍ غړي دې ته وهڅول چې خپله غلطي و مني او لیلا ته د خپلې ټاکنې آزادي ورکړي. زه د لیلا دغې قربانۍ، هوښیارۍ او سالم مقاومت ته د تعظیم سر ښکته کوم.



## د واده تعریف:

واده د مختلفو منابعو په حواله مختلف تعریفونه لري، چې ځینې یې دا دي:

۱. د افغانستان د اساسي قانون ۲۰ ماده واده داسې تعریفوي: "واده یو عقد دی چې پکې یو نر او ښځه د کورنۍ د جوړښت لپاره یو نوي او ګډ ژوند جوړوي او دواړو خواو ته د یو بل په وړاندې حقوق او وجایب ور په غاړه کوي." ۱۰

۲. ځینې پوهان بیا واده داسې تعریفوي: "واده یوه حقوقي رابطه ده چې سړي او ښځې د دغې رابطې په اساس یو له بل نه جنسي خوندونه اخلي"۱۱

۳. د Cambridge Dictionary واده داسې تعریفوي:

(a legally accepted relationship between a woman and a man in which they live as husband and wife, or the official ceremony which results in this.

" په قانوني بڼه منل شوې اړیکې د یوې ښځې او نارینه تر منځ چې له مخې یې دوی د ښځې او مېړه په توګه سره یوځای اوسېږي او همدا راز هغه مراسمو ته ویل کېږي چې په پایله کې یې پورته حالت منځ ته راشي." ۱۲

۴. خو د هیواد یو ځوان او تکړه حقوق پوه محمد سعید سعیدي، په خپل اثر (بشري حقوق، پراخه لومړنۍ ټولګه) کې بیا د ډاکتر ملت مل د همدغه اثر په حواله واده داسې تعریفوي:۱۳

"واده یو داسې ټولنیز لیکلي او یا لفظي تعهد او ژمنه ده چې د یوه نارینه او ښځې تر منځ د هغوی د دیني احکامو او ټولنیزو منل شویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرنسيپونو پر اساس او د يو شمير تعهداتو په ورکولو سره د دغو دوو ځوانانو يو ځای اوسيدنه او جنسي اړيکي په هغه ټولنه کې په شرعي لحاظ ناروا او په کلتوري لحاظ نا منل شوي سطحي څخه يوې روا او منل شوي سطحي ته لوړوي چې هغې ته د کورنۍ تشکيل وايي. د واده اصلي هدف د کورنيو جوړول او د انساني نسل ادامه ده او په دې توګه واده له دوي څخه هر يو ته لومړي د يو بل په وړاندې او بيا د دوي د کورنيو په وړاندې او بالاخره د دوي د اولادونو په وړاندې، يو شمير مسووليتونه او صلاحيتونه ور په غاړه او هر يو ته ځانګړي حقوق ور په برخه کوي چې دوي دواړه او په دوي پورې اړوند خپلوان د همدغه قرارداد په اساس د دغو ټولو تعهداتو د منلو ژمنه کوي او په نتيجه کې يې دوه پردې کورنۍ سره اړوند او خپليږي." ۳

که ښه ځير شو دغه تعريف په نړۍ کې تر ټولو نورو تعريفونو مکمل او هر اړخيز دي؛ ځکه دا د واده ټول اړخونه او اساسات احتوا کوي.

نو د دغو تعريفونو په بنياد، واده يو داسې اجتماعي قرارداد دي چې هغه په راکړه ورکړه ولاړ دي نو په همدې اساس د واده په برخه کې بايد هر ځوان او پيغله واده د لاندې خصوصياتو له مخې مطالعه او ارزيابي کړي:

۱- واده د دوو متفاوتو جنسونو يعني نر او ښځې ترمنځ د يو اوږد او ډېر ستونزمن سفر اغاز دي، چې هغه ته په ذهني او هم په بدني لحاظ د يو شمير زياتو تغييراتو روا وړلو ځان اماده کول غواړي. لکه څرنګه چې نر او ښځه په خپل ظاهري جوړښت کې يو تر بله فرق لري همدا شان د دوی په فکري جوړښت او توانمندۍ کې هم فرق وجود لري. يوه واحده مسئله ممکن نر د يوې زاويې له مخې مطالعه کړي او ښځه يې ممکن هغه له بلې زاويې مطالعه کړي چې پدې صورت کې دا د يوه ګناه هم نه



ده ولې دواړه هغه څيز د مختلفو زاويو له لارې ګوري. د بېلګې په ډول: که تاسې يو موټر مخامخ وګورئ نو ممکن هغه تاسې ته داسې په نظر درشي، چې دا دوه ټايرونه لري، پوز (شو) يې نري دي او په منځ کې يې ښيښه ده او د شيشې شا ته يو څوک ناست دي او يوه ګرده کړۍ (اشترنګ) يې په لاس کې نيولې ده خو که همدغه موټر له اړخ څخه وګورئ نو ممکن داسې يې تعريف کړئ چې: دا يو کوټه غوندې شي دي چې دوه دروازې لري او هره دروازه يې د ښيښې يوه ډېره وړه کړکۍ لري او په دوو ګردو حلقيي ټايرونو ولاړ دي او غاړې ته يې يوه وړه غوټه ده. او که بيا همدا موټر له کوم بل اړخه څخه وګورئ نو ممکن چې هغه در ته بالکل بل شي ښکاره شي، پداسې حال کې چې دا هماغه يو جسم دي.

۲- د واده په پيمان سره دوه مختلف کسان، دوه متفاوتې کورنۍ، دوه ولسونه يا قومونه په خپلو کې ژور، کلک او نوي روابط تامينوي. څرنګه چې دغه دواړه اړخونه د بيلو بيلو خصوصياتو او کرکترونو لرونکي دي نو پدې صورت کې هر اړخ غواړي چې د دې اړيکو په اوږدو کې بايد د هغې معيارات او خصوصيات خوندي وساتلې شي. اکثراً دغه خصوصيات سره مشابه وي چې دا د کار د اسانتيا سبب کيږي. اما کله کله ځينې داسې خصوصيات وي چې هغه د دواړو اړخونو ترمنځ تفاوت لري. دا د همدغو متفاوتو خصوصياتو درک کول او صحيح پرمخ وړل دي چې د يوه واده سرنوشت ټاکي.

خو متاسفانه کله نا کله بيا په دې برخه کې غلط فکرونه او غلط قياسونه او د ښځې خيالاتو او غوښتنو ته نه متوجه کيدل او هغې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناسب ارزښت نه ورکول، د ښځې او خاوند او بالاخره د دواړو کورنیو او ولسونو ترمنځ د اختلافاتو او جنجالونو سبب کیږي.

۳- واده د مسوولیتونو اخیستل دي نه د مسوولیتونو ورکول. له بده مرغه دا هغه اړخ دی چې زموږ ځوانان ورته هیڅ ډول اماده ګي نه لري؛ بلکې زموږ ځوانان هر یو واده د خپل عیش او نوش او خپلې خوښې هنداره بولي. نه هلک او نه هم نجلۍ چیرې پدې فکر کړی وي او نه ورته چا دا ویلي وي چې په واده کې د مسوولیتونو اخیستل خورا ټاکونکی رول لري نسبت د مسوولیتونو ورکولو ته. په واده کې به ۵۰٪ څه له لاسه ورکوې او ۵۰٪ څه نوي به لاسته راوړې.

۴- واده یوه راکړه ورکړه ده چې هغه باید هر وخت په نظر کې ونیول شي. متاسفانه ځوانان هر یو واده ته صرف د راکړې په فکر ځانونه اماده کوي او هیڅکله هم پدې برخه کې چې خپل شریکباڼ ته څه ورکړي کومه اماده ګي نه لري. نو دا تر ټولو مهمه خبره ده چې زموږ ځوانان باید ځانونه دې ته اماده کړي چې واده یو دوه اړخیزه بانډ دی څه به اخلې او څه به ورکوې.

۵- واده زموږ په ټولنو کې یو طرفه جاده ده چې پرشا ترې ستنیدل نه مشوره ده او نه په ټولنه کې قبولیت لري. نو زموږ د ټولنې دغه یو اړخیز دریځ د واده په برخه کې زموږ مسوولیتونه لا زیات جدي کوي او باید چې د واده او خپل شریکباڼ په برخه کې ژور فکر وکړو او پر نورو ټکو سربیره باید په خپل ځان کې د یو څه تغییراتو راوړلو او د خپل شریکباڼ د یو لړ غوښتنو منلو ته اماده کړو.



۶- په ودونو کې د نورو دخالتونه زموږ د ټولنې یوه بله عمده ستونزه تشکیلوي. هر څوک ستا په واده کې خپلې ګټې او خوښې لټوي. نور خلک، خصوصاً نږدې خپلوان ځانونو ته دا حق ورکوي چې د خلکو اولادونو په ودونو کې هر اړخیزه لاس وهنې وکړي او پدې اړوند بشپړ کنترول ولري. که څه هم چې تر یو حده دا د خپلو خپلوانو حق دی چې د خپل اولاد او د هغه د ژوند له شریکباڼ څخه چې نوی د دوی خپل شوی دی یو څه معقول توقعات ولري؛ ولې متاسفانه کله کله بیا دغه غوښتنې او توقعات له خپل سرحد څخه زیات او د هغه بل ځوان له توانمندۍ او غوښتنو څخه لرې وي چې پدې برخه کې موږ یو ځل بیا له ځوانانو نه غوښتنه کوو چې د خپلوانو یو څه معقولو ارزوګانو او هیلو ته باید احترام وکړل شي او ځانونه د هغې منلو ته اماده کړي، ولې له بل اړخه د دې ځوانانو د خپل خپلوانو نه هم دا غوښتنه کیږي چې خپلې غوښتنې او ارزوګانې تر ممکن حده کنترول او محدودې کړي او دې دواړو ځوانانو ته وخت ورکړي چې له یو بل سره بلد شي او ورو، ورو یو د بل په خوي باندې پوه شي او په ډېره بیړه د هغې په مقابل کې دریځ ونه نیسي. خو تر دې لا هم مهمه خبره دا ده، چې ځوانان هم باید د خپلو کورنیو د غړو نا مناسبه غوښتنې او حیله ګري درک کړي او په فوري او قاطعانه توګه د هغوي دغه راز غوښتنې پخپله رد کړي او پرې نږدي چې د دوي دا ناروا او غیر لازمې غوښتنې د دوي د شریکباڼ د نا راحتۍ سبب وګرځي.

۷- زموږ په ټولنه کې د واده په برخه کې یوه بله ستونزه دا ده چې اکثراً هلک او نجلۍ خو یو او بل سره حتی هیڅ لیدلي هم نه وي آن تر دې چې کله یې واده وشي. د سایکالوژۍ له نظره په لومړي ځل د هرو دوو او حتي زیاتو نویو کسانو لومړۍ لیدنه کتنه د یو څه روحي فشار او نا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارامۍ سبب کيږي خو په واده کې بيا دا نا راحتي د داسې يوې نجلۍ لپاره چې پخوا تر دې يې د يوه نابلده (بيګانه) سړي سره دوه خبرې هم نه وي کړي او دفعتاً له خپلې کورنۍ او بلد محيط څخه را جدا شوې وی او په يوه نوي محيط او نوې خونه کې له يو نابلده نارينه ځوان سره مخامخ کېږي نو دا حالت ډېر ډارونکي او له يو لړ زياتو جدي روحي نا ارامیو سره ملګري وي نو دوی ته يو څه وخت ورکول پکار دي تر څو يو د بل په خوی او خاصيت بلد شي خو له بده مرغه زموږ زيات شمير خلک دغه ټکي ته هيڅ پام نه کوي او ډېر ژر له نوې راغلې کورنۍ غړې په باره کې عجيب و غريب دريځونه غوره کوي.

۸- په ټولنه کې د کوژدن او واده تر منځ د وقفې ورکولو اصلي معنا همدا ده چې تر څو دغه دوه ځوانان د مناسبو نسبي ازاديو په لرلو سره يو له بل سره راشه درشه وکړي او يو بل سره په سمه بڼه درک او وپېژني متاسفانه زموږ په ټولنه کې له کوژدن سره سره هم دهلک او نجلۍ حتي ليدنه کتنه د قبول وړ نه ده. دا هغه ناسم او محرومونکي دود دي چې اصلاح او تغيير ته ضرورت لري.

۹- د ښځې، خاوند ، مور ، پلار او د خواښې او خسر او نورو خپلوانو د حقوقو او سرحدونو نه زياتي يو بل مشکل دی چې زموږ د ټولنې د ودونو د ستونزو سبب کيږي. پدې برخه کې اکثراً هلک د هغې مينې او احترام له کبله چې يې خپل مور او پلار ته لري د خپلې ميرمنې حقوق او آزادي تر پښو لاندې کوي او له هغې څخه همداسې توقعات کوي چې هغه دې د ده د کورنۍ د ټولو غړو غوښتنې بې له کوم قيد و شرطه ومني او که نه نو بيا دغه مور او پلار او نور خپلوان هلک ته د تحريک ورکولو په وجه د دوي کورنۍ روابط خرابوي. د واده دواړو شريکانو ته دا ضروري ده چې پدې پوه شي چې د ده شريکانې د هغې د خپلوانو



په وړاندې يو څه مناسب مسوولیتونه لري لاکن دا بايد د خپل شريکانې د حقوقو او ارزوګانو د پښو لاندې کولو سبب نه شي او هر يو بايد دې ته اماده وي چې د واده په صورت کې اوس د هغوي مينه نيمګړې کيږي او بايد زيات توجه يې خپل شريکانې ته وي. مه پرېږدئ چې ستاسو د خپلوانو غير معقول او بې ځايه توقعات ستاسو د واده او کورنې ژوند د خرابيدو سبب شي. البته دغه موضوع په عين شکل د ښځې د خپلوانو په باره کې هم صدق کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واده څه شی دی او څه شي نه دي؟

۱- واده یوه راکړه ورکړه ده، چې دواړه هلک او نجلۍ پکې څه نوي ځیزونه ترلاسه کوي او څه خپل پخواني صلاحیتونه ترلاسه ورکوي. نجلۍ خپل مور او پلار او نور خپلوان پریږدي او د هلک د کورنۍ غړي باید د هغوي پرځای ځایناستي کړي.

۲- واده د ښځې او میړه لپاره د یو بل منل او د خود خواهۍ کنترول دي.

۳- واده یو نوي ژوند دی، دوي چې پخوا سره دوه نا بلده انسانان وو اوس په دوو داسې خلکو بدل شوي چې د هر یوه ژوند په بل پورې تړلی دي.

۴- واده په ژوند کې یوه مغلقه او پیچیلې مسئله ده. د دغه ژوند لومړی ستونزه د ملګري ټاکل او تر ټولو لوی مشکل کار یې بیا خپل ځان له هغی سره برابرول دي (ملت مل)

۵- لکه د ژوند په نورو ټولو اړخونو کې د واده په اړه هم عوامل په دوو برخو وېشلي شو: یو شمیرهغه عوامل دي چې موږ او تاسو پرې کنترول نه لرو نو هغه ښتن تعالي او زمانې ته وسپارئ، ولې یو شمیر نورعوامل دي چې موږ او تاسو پرې کنترول موندلای شو نو باید دغو شیانو ته زیاته توجه وکړو.

۶- واده د موضوعاتو په برخه کې روښانه نظر ورکول او سره شریکول دي نه دا چې موضوعات یو له بل نه پټ ساتل او کینه کولو باندې وخرخي.

۷- د کور لپاره د یو قاطع مشر انتخاب دی.



۸- واده د مسوولیتونو شریکول دي، ځیني مسوولیتونه یو او ځیني بل ته سپارل دي.

۹- اولادونو ته د منظم پلان لرل او هغوي ته رښتیا ویل، نیک عملونه ورښول دي.

۱۰- - د ځینو عمده او مهمو مسایلو په اړوند د پخوا نه توافق لرل دي.

۱۱- یو بل ته احترام او د محترمو احترام لرل دي.

۱۲- واده د خپل ژوند د لومړیتوبونه ټاکل او هغه په غوڅه او قاطعیت سره خپل شریکباڼ ته انتقالول او پرې پوره پوهول یې دي.

۱۳- د واده نه مخکې د هر یوه هلک او نجلۍ ژوند د هغه د شخصیت ۵۰٪ تشکیلوي. دا واده دي چې بیا د هغه دغه ۵۰٪ شخصیت یا پورته کوي او یا یې د ۵۰٪ نه نور هم راکموي. ښه او کامیاب واده سره د هر انسان شخصیت ۵۰٪ نه ۱۰۰٪ ته پورته کوي او که د ژوند ملګری یې ښه نه وي نو دهغه دغه خپل ۵۰٪ شخصیت لا نور هم متضرر کیږي او تر دې هم راټیټیږي.

۱۴- واده د هر انسان په ژوند کې ترټولو نورو شیانو زیات ټاکوونکی نقش لري.

۱۵- واده په ژوند کې یو ځل کیږي چې سرنوشت مو ټاکي؛ که څه هم دوهم او دریېم ودونه هم کیدلای شي خو په اوسني وخت کې زموږ د ایماني کمزورۍ له امله دغه هر یو بیا د انسان په ژوند کې له یو څه ګټو سره یو څه زیاتې اجتماعي او رواني صدمې هم منځته راوړي.

۱۶- زموږ په ټولنه کې د واده په کولو کې عمده ستونزه دا ده چې زموږ ځوانانو ته د واده په اړوند نه د څه زده کولو اجازه شته، نه د څه زده کولو لپاره لازم او ضروري مواد او نه هم هیڅ نوعه لارښوونه ورته کیږي چې ایا دوي د خپل ژوند شریک په انتخابولو کې کوم اساسات

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې باید سره مقایسه او وڅېړي تر نظر لرې پاتې کیږي او دا د دې سبب شي او کیږي چې بیا ژر سره طلاق اخلي او بیلیږي چې په ځینې حالاتو کې د دې طلاق اثرات نه یوازې په هغه هلک او نجلۍ باندې منفي اغېز پرېږدي؛ بلکې که اولادونه ولري نو دهغوی ژوند هم له یو عالم پریشانیو سره مخامخ کوي.

> د واده په هکله یو متل دی چې وایي: چې مجرد وم ټول خلک ګونګیان وو چې اوس واده شوم ټول خلک کاڼه دي. د دې مطلب دا دی چې دغه شخص ګیله کوي او وايي چې کاشکې ما ته له واده مخکې هغوی چې ودونه یې کړي وو ځینې مشورې راکړې وای. ولې هاغه وخت دغه واده والا ټول ګونګیان وو او ما ته یې هیڅ لارښوونه ونکړه، اوس چې ما واده وکړ او د هغې په ټولو اړخونو او باریکیو پوه شوم او غواړم چې نورو ته مناسبې مشورې ورکړم نو ټول خلک کاڼه دي او هیڅوک حاضر ندي چې را ته غوږ کیږدي.

دا زموږ د ټولنې یو لوی مشکل دي، مور او پلار فکر کوي چې د دوی اولادونه د واده خصوصیات او رمزونه له چاپیریال څخه زده کوي ولې دا یوه غلطه اټکل او بیځایه تصور دی.



په نظر کې ونیسي او بیا د واده نه پس یو له بل سره د سلوک په اړوند څه وکړي او څه باید و نه کړي؟

په دواړو ټولنو یعني وروسته پاتې او هم په پرمخ تللو ټولنو کې د واده په اړوند ځینې داسې نیمګړتیاوې شته چې هغه نه یوازې د شریک په انتخاب باندې منفي اغیزې لري، بلکې تر واده نه پس د ژوند ورځنې سلوک هم د واده په بریا او ناکامیو مستقیم اثرات لري.

د مثال په ډول: په وروسته پاتې هیوادونو کې لکه افغانستان چې یوه کلتوري او مذهبي ټولنه ده اکثراً هلک او نجلۍ ته د ژوند د شریک د انتخاب حق بالکل نه ورکول کیږي. څه چې یې مور او پلار یا نور خپلوان وغواړي هغه کوي؛ همدا ده چې د هلک او نجلۍ دواړو ګډ ژوند د دې پر ځای چې په مینه او محبت سره شروع شي په مجبوریتونو استوار پاتې کیږي نو ځکه ډېر کم شمېر یې له خپل ژوند او کورنۍ څخه لذت وړي.

همدا راز په غربي او متمدنو ټولنو کې چون اکثراً هلکان او نجونې دا اجازه لري چې د خپل ژوند ملګری پخپله خوښه او زیاتره هم د مور او پلار له مشورې څخه بغیر او حتی د دوی د مشورې خلاف غوره کړي نو پدې توګه متاسفانه دوی د خپل مور او پلار له تجربو څخه نه مستفید کیږي.

د دې لپاره چې د دواړو په منځ کې د توافق مسئله شتون ولري هلک او نجلۍ حتی د ډېر کوچنیوالي (۸) کلنۍ نه روابط شروع کوي، چې د ځوانۍ په وخت کې بیا دغه روابط په جنسي غرایضو باندې بدل او د دواړو مینه د دوی د ورځنیو جنسي خواهشاتو قرباني کیږي. څرنګه چې ځوانان په ځوانۍ کې اکثراً جنسي غرایضو او نورو سطحي مسایلو ته زیاته توجه کوي نو د دوی ترمنځ ځینې بنیادي موافقې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د واده ارزښت:

ښځه د الله پاک يو داسې ځانګړې نعمت دي چې خلقت يې له نارينه وو څخه په ځانګړې بڼې سره تر ټولو زيات په زړه پوري او عاطفي دي؛ ځکه خو د نارينه وو ارزو، عيش او عشرت په ډېره ښه توګه ورپوره کوي خو پدې شرط چې دا مجامعت په روا او ښه طريقه تر سره او په هغې کې د ښځې اقناع او ارضا هم حاصله شي. لکه پدې برخه کي چې الله پاک (ج) فرمايلي دي:

(و عاشروهن بالمعروف) سورت النسا ، ۱۹ ايات.

ترجمه:(د خپلو ښځو سره عيش او عشرت وکړئ په ښه طريقې سره).

همدا راز الله پاک ښځه د نارينه لپاره او نارينه د ښځې لپاره متمم او ضروري پيدا کړي او ښځه يې بيا د نارينه لپاره يو تسکين ګرځولي دي. لکه چې پدې اړه الله پاک فرمايي:

(و من اياته ان خلق لکم من انفسکم ازواجآ لتسکنو اليها و جعل بينکم مودت و رحمه) سورت الروم، ۲۱ ايات.

ترجمه:(او د الله پاک (ج) د قدرتونو يوه نمونه هم د ښځو پيدا کول دي تاسو لره ستاسو له جنس څخه، تر څو د دوي په خوا کې ارام وکړئ او ستاسو په منځ کې مې پيدا کړه مينه او محبت). ښځه د انسانانو په ژوند کې د اجتماعي اړيکو د جوړښت وسيله ده. پدې اړه الله پاک (ج) فرمايي:

(و هو الذي خلق من المآ بشرآ فجعله نسآ و جهرا ) سورت الفرقان، **۵۴** ايات.

ترجمه:(او خداي پاک هغه ذات دي چې له اوبو يې انسان پيدا کړ او بيا يې هغه د خپلوي او زومتوب سبب او وسيله وګرځوله). واده يوه



اجتماعي پروسه ده چې په ټولو ټولنو او اديانو کې قبول شوي اصل دي؛ حتا په غربي ټولنو کې هم چې د تمدن او ازادۍ لوړترينو پړاوونو ته رسيدلي دي بيا هم واده د يو اجتماعي اصل په توګه مطرح او د قبول وړ يوه پروسه ده.

د واده اصلي فلسفه په ټولنو کې دا ده چې پدې طريقه د ټولنو او کورنيو حقوقو او ابرومندۍ ته په احترام د يوه هلک او نجلۍ ترمنځ ناروا او د ټولنيز اصولو خلاف جنسي اړيکي په ټولنيز سطحه په يوه قبول شوي او روا جنسي اړيکو بدليږي. د واده يوه بله فلسفه د انسانانو ترمنځ د اجتماعي اړيکو ښه والي او پراخوالي دي. لکه چې د پورت ايت شريف نه معلوميږي ښځه د دوو جلا کورنيو ترمنځ د ارتباطاو وسيله ده. دا ښځه ده چې د نارينه د زومتوب باعث کيږي او پدې وسيله دوه پردۍ کورنۍ سره خپلې او د انسانانو ترمنځ اړيکې لا پراختيا مومي. يعني د دې پروسې نه بغير که يو هلک او نجلۍ سره ناسته ولاړه او يا جنسي اړيکي ولري هغه د ټولنې خلکو ته په ديني او کلتوري لحاظ د منلو وړ نه وي؛ اما کله چې د واده پروسه ترسره شئ نو بيا د دوي ترمنځ ګډه استوګنه نه يوازې دا چې د منلو وړ ده؛ بلکې هغې ته ترجيح ورکول کيږي او خلک ورته د قدر په سترګو ګوري.

که څه هم اوس په غربي نړۍ کې هلکان له هلکانو سره او نجونې له نجونو سره د جنسي اړيکو لپاره د واده په نوم يو لړ مراسم تر سره کوي؛ ولې دا مسائل په تمامه معنا يو افراطي عمل دي چې حتي په هماغه غربي نړۍ کې هم په عامه سطحه قبوليت نه لري؛ ځکه د اولادونو پيدا کيدل چې د انسانانو د نسل د بقا يو مهم اصل او د واده لپاره يو عمده دليل دي پدغه نوعه ودونو کې بيا نه اولادونه زيږوي او نه انساني نسل دوام مومي؛ ځکه خو ويلي شوو چې دا په اصل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده نه بلکې یو نوعه غیر اخلاقي او افراطي جنسي اړیکو ته یو نوعه تظاهر ورکول دي او یا هم که متوجه شو په غرب کې اکثره هلکان او نجونې د پیغلتوب نه پس دا آزادي لري چې سره ناسته ولاړه ولري او حتي یو زیات شمیري یې ممکن جنسي اړیکې هم ترسره کوي خو له دې سره بیا هم د واده لپاره خاص مراسم نیسي او نکاح تړي. نکاح د مسلمانانو نه علاوه په نور ادیانو کې لکه په عیسویت، مسیحیت، هندوایزم، بودایانو او نورو ټولو ادیانو کې هم یو منل شوي او قبول شوي اصل دي.

د واده اصلي فلسفه یوازې په جنسي غرایضو نده ولاړه، بلکې په واده کې د نسل ادامه او پاکوالي دوه مهم اصلونه دي. که پام وکړو نو په واده کې ښځه او نر سره یو ځای کېږي، یو له بل نه شهواني لذت اخلي او د دوي اولادونه زېږي او کورنۍ جوړوي چې په همدې ترتیب د انسان نسل ادامه پیدا کوي.

د ښځینه ماشومانو (نجونو) راوړل یو بل نا حق تهمت دي چې زموږ په ټولنو کې په ښځو تړل کیږي. یعنې د هغه چا چې زامن نه کیږي نو دا تهمت په ښځه کوي او په همدې وجهه دویمه یا هم دریمه ښځه کوي. ساینس دا ثابته کړیده چې ښځه د اولاد د نوعیت په ټاکلو کې کوم خاص رول نه لري، یعنې دا د پلار کروموزوم دي چې د اولاد نوعیت (هلک یا نجلیتوب) ټاکي. یو شمیر علما پدې عقیده دي چې د واده نه بعد ارثیت هم په پلار پورې تعلق نیسي او همدا وجه ده چې له پلار او مور څخه پیدا شوي ماشومان د پلار تخلص اخلي، او دا هم تاکید شوي چې ښځه دې هم خپل تخلص د میړه په تخلص د واده نه پس بدل کړي. نو د اولادنو پیدا ایښت او د انسان د نسل تسلسل د واده اصل جوهر تشکیلوي. د واده یو بل اصل د انسانی نسل سوچهوالي دی، په



اسلام او نورو ادیانو کې هم پدې تاکید شوي دي چې نسل باید سوچه وساتل شي. نو یو له هغه علتونو څخه چې یو نارینه په یو وخت کې څو ښځې کولاي شي لاکن یوه ښځه په یوه وخت کې له یوه نه زیات میړونه نشي کولاي، هم د همدې نسل سوچه والي دي. دا یوه موضوع ده چې اکثراً غربیان پدې اړه په اسلام اعتراض کوي. زه چې کله په امریکا کې وم، پدې اړوند د عیسویانو او مسیحیانو له خوا له زیاتو سوالونو سره مخ کیدم خو بالاخره ما د دوي دغې پوښتنې او اعتراض ته په ځواب کې داسې یو منطقي دلیل پیدا کړ چې تر هغې وروسته به بیا دوي په اسانه قناعت کاوه. زه غواړم چې هغه دلیل دلته له تاسو سره هم شریک کړم ترڅو په مناسب وخت کې ترې ګټه واخلئ:

ښځه په جنسي مجامعت کې د یوه لوښي مثال لري چې نارینه پکې انزالېږي. که موږ په دوه یا درې لوښو کې شیدې او د مالټې شربت سره یوځای او ګډ کړو، نو نه یوازې دا چې د دې محلول رنګ بدلیږي؛ بلکې خوند یې هم بدل او بیا دغه محلول ته چې په همدغو لوښو کې دي نه شیدي ویلې شو او نه د مالټې شربت، که موږ شیدې په دوه، درې او یا زیاتو لوښو یا ګیلاسونو کې هم واچوو، هغه بیا هم خالص شیدې وي. د هغې په رنګ او اصل کې کوم فرق نه راځي؛ نو که یو نارینه په عین وخت کې دوه یا درې ښځې هم ولري نو له هغوي سره د جماع په صورت کې یې بیا هم نسل پاک او سوچه وي خو که برعکس له یوې ښځې سره څو تنه نارینه مجامعت جنسي وکړي نو د هغې نسل به داسې ګډوډ او نا معلوم شي لکه د هغه لوښي په څیر چې په هغه کې د شیدو او مالټې جوس ګډ کړل شوي وي؛ د همدې نسل د پاکوالي په بنا په اسلام کې یو نارینه ته په یوه وخت کې د څو ښځو جواز شته اما یوې ښځې ته په یوه وخت کې د څو میړونو جواز نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د سړي تر مرګ وروسته لږ تر لږه تر درې میاشتو پورې ښځې ته بل میړه سره د واده کولو اجازه نشته د دې علت هم همدا دی تر څو پدې درې میاشتو کې د هغې ښځې د حمل معلومات وشي که یې حمل درلود نو دا ماشوم معلوم دار چې د هغه اول میړه څخه دی او که د میړه تر مرګ وروسته یې تر ۳ میاشتو لا هم جامې "زنانیي ناروغي" راتللې نو بیا ښکاره ده چې له لومړي میړه نه حمل نه لري او بیا ښځه کولی شي له بل خاوند سره نکاح وکړي.

دا چې د نسل تسلسل د واده یو اساسي اصل دی؛ د دوو نارینو او یا دوو ښځو ترمنځ د جنسي اړیکو تعهد ته واده ویل له یوه سره ناسمه او بېځایه خبره ده. له بلې خوا د واده یوه مهمه فلسفه چې اجتماع کې د انسانانو ترمنځ د ښو اړیکو پراختیا ده که متوجه شوو نو د ودونو په ذریعه دوه پردی کورنۍ سره خپلې او یو د بل لپاره د ښه اجتماعي حمایت او پلوي سبب کېږي او پدې توګه د انسانانو ترمنځ اجتماعي اړیکي پراختیا مومي، د همدې دوو اصلونو په نظر کې نیولو سره چې له یوې خوا واده د انساني نسل تسلسل او ادامه ده او بل دا چې واده په ټولنه کې د مختلفو انسانانو او قومونو د وګړو ترمنځ اجتماعي اړیکي جوړوي، واده یو اجتماعي پروسه ده نه دا چې یوازې د جنسي غرایضو تابعداري.

جنسي غرایز د انسانانو په څیر په حیوانانو کې هم وجود لري خو هغوي که د یوې د یو خوا خپل جنسي غرایز پوره کوي او له بلې خوا خپل نسل ته ادامه ورکوي، لاکن د انسانانو او حیواناتو ترمنځ تفاوت همدا دی چې انسانان همدغه جنسي پروسه د واده او نکاح له لارې په یوه اجتماعي منل شوې دوامداره پروسه بدلوي او د بلې خوا د انسانانو ودونه د نسل د تسلسل نه علاوه د دوو مختلفو کورنیو او



قومونو ترمنځ د نېږدېوالي او خپلوۍ سبب کېږي چې دا ټولنیزه پروسه بیا په خبرو نه کوونکو حیواناتو کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د واده په اړه څوک هم رښتيا نه وايي!

د واده په اړوند هيڅوک هم ځوان نسل ته رېښتينې حال نه وايي او دا مختلف عوامل لري چې ځينې يې دا دي:

۱ـ يو شمېر خلک يې په دې وجه نه وايي چې دوی نه غواړي خپل کورني رازونه له نورو سره شريک کړي او د خپل واده ناکام اړخونه له نورو سره لا څه چې د خپلې کورنۍ له ځوانانو سره هم شريکول نه غواړي.

۲- ځينې نور يې دا کار ځکه نه کوي چې د هغوی له نظره د واده مؤفقيت او ناکامي د دواړو لوبغاړو په ځانګړې مهارت پورې اړه لري او داسې فکر کوي چې د نورو ودونو تجربې نشي کولای د بل چا په واده کې څه اثر وکړي او يا ترې څه ګټه واخيستي شي.

۳- دريمه ډله يې بيا د واده په مسائلو خبرې کول (بې حيايي او بد سترګي؟) بولي او داسې فکر کوي چې ځوانانو سره دا ډول خبرې ممکن د دوی د سپين سترګيتوب سبب شي او پدې وجه ممکن دوی د مشرانو په مقابل کې بې احترامي او بې حيايۍ ته وهڅول شي.

۴- يو شمير بيا واده د قضا او تقدير ټاکنه بولي او هرڅه د له پيل څخه ټاکل شوي بولي. دوي داسې استدلال کوي چې ښځه او خاوند بايد هر څه د ازلي فيصلو په توګه قبول کړي. د واده په کاميابيدو او ناکاميو کې د ښځې او ميړه ونډې او هڅې بې اثره دي.

۵- ځني نور بيا د واده کاميابي د نارينتوب يوه برخه بولي او د واده ناکامي بيا د هلک د نارينتوب ضعف ګڼي، او پټول يې بهتر بولي، چې د هغوي نارينتوب ته پرې صدمه ونه رسيږي.

په هر حال دا ټولې هغه نيمګړتياوې دي چې په عيني توګه زموږ په ټولنه کې وجود لري او دا د دې سبب شوي چې په همدې يوه سوړه کې



بيلا بيل خلک همدا يو مار چيچې خو د دوي يو هم بل ته حال نه وايي، دا ځکه چې دا نور له ځان سره برابرول غواړي.

له پورته دلائلو څخه د هر دليل په وجه چې وو، زه د دې مشرانو له لارښوونو څخه محروم پاتې شوم، او داسې راغله چې هر څه بايد پخپله پيدا او زده کړم چې دا يو بلکل غير علمي او غير عملي کار وو.

زه دغه کار ډېر و ځورولم ځکه مو وغوښتل چې د دغه کتاب په وړاندې کولو سره نه يوازې ځوانانو ته د واده دغه اوږدې او تپې تياري جادې ټولې لوړې او ژورې ور په ګوته کړم او پدې توګه دوی تر وخت وړاندې پدې لاره کې خپلو مهمو مسوولیتونو ته متوجه کړم؛ بلکې موږ أميدوار يو چې د دغه کتاب لوستل به له يو شمير پلرونو او ميندو سره هم پدې برخه کې مرسته وکړي چې دوی د خپلو اولادونو د ودونو په برخه کې فعاله او با مسووليته ونډه واخلي او د خپلو تجربو له لارې د خپلو اولادونو د سالمې لارښوونې باعث وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واده یا په ژوند کې تر ټولو مهم تصمیم:

د علماوو نظریه ده چې د درې شیانو په انتخاب کښې ژور فکر او زیاتې لارښوونې او ځانګړې توجه ته اړتیا ده. لومړې د مسلک انتخاب، دویم د کور ابادول او دریېم یې واده کول دي. هو ! دا رښتیا ده ځکه چې دا درې واړه هغه تصمیمونه دي چې د انسان په ټول راتلونکې ژوند پورې سرنوشت ټاکوونکي تړاو لري او چې یو ځل مو دغه انتخاب وکړ بیا یې بدلول نه یوازې دا چې څه اسان کار نه دی، بلکې په هیڅ توګه د انسان په پاتې ژوند کې له منفي اثراتو څخه خالي نه وي خو د دې درې واړو له جملې څخه واده فوق العاده مهم، حساس او د ډېرې ژورې توجه وړ دی. که مسلک مو غلط کړ، بیا به د نوي مسلک لپاره نوي مکتب ولولئ، که مو کور خراب جوړ کړ، خرڅ به یې کړئ او بل کور به واخلئ یا به یې وران او له سره اباد کړئ چې دا هر یو یې د مالي تاوان په واسطه جبرانېدلي شي او کومه بدنامي هم نه لري، نه مو په شخصیت کوم منفي اثر غورځوي، خو که مو په واده کې غلطي او اشتباه وکړه، د دې جبران تر ډېره حده نا ممکن دي، که یې ممکن هم وبولو له ډېرو اجتماعي ستونزو او دردونو سره به تړلي وي او بې له شکه به دا کار د افغانستان غوندې یوه ټولنه کې ستاسو او ستاسو په کورني شخصیت ډېر منفي اثر وغورځوي ځکه چې دلته د هر چا د واده په اړه خبرې او منفي تبصرې کول د بل هر چا یو منلي حق ګڼل کېږي او هغه خپل روا حق بولي. که څه هم دا ناروا دي خو خلک یې خپل روا حق بولي او په خپلو ټولې توانمندۍ در پسې خبرې کوي.

واده د هر انسان په ژوند کې تر نورو ټولو شیانو زیات ټاکونکی نقش لري. د هر انسان په ژوند کښې د هغه د شخصیت ۵۰٪ د هغه پر خپل خان پورې اړه لري او نور پاتې ۵۰٪ یې د هغه د ژوند د ملګري (شریکباڼ)



پورې اړه لري چې که د چا د ژوند ملګری ښه وي، بیا د هغه شخصیت هم ورسره د ۵۰٪ نه تر ۱۰۰٪ پورې پورته او تکمیلیږي او که د ژوند ملګری یې ښه نه وي نو بیا د ده د دغه ۵۰٪ ځاني شخصیت لا نور هم متضرر ېږي او ښکته راځي چې دا موضوع بیا په شرقي ټولنو کې چیرته چې معنویات تر مادیاتو زیات ارزښت لري لا زیات اثر غورځوونکي دي.

واده د انسان په ژوند کې یو ځل کیږي چې هغه د هغه شخص سرنوشت ټاکي. که څه هم دوهم او دریېم ودونه هم کیدای شي خو دغه هر یو بیا له ګڼو سره سره یو شمیر زیاتې صدمې هم لري.

زموږ په ټولنه کې د واده په برخه کې تر ټولو عمده ستونزه دا ده چې د ژوند د داسې یوې مهمې او با ارزښته فیصلې په باره کې زموږ ځوانانو ته هیڅ ډول لارښوود وجود نه لري، تر څو هغه له دوی سره د دې مهم انتخاب او تصمیم نیولو په برخه کې مرسته وکړي او نه پدې برخه کې زموږ په ژبو لیکل شوي داسې کتابونه شته چې په لوستلو سره یې ځوانان خپله ورکه ومومي او نه هم څوک حاضر دي چې حتی د خپلې کورنۍ ځوانانو ته هم مناسبې لارښوونې وکړي او کم تر کمه هغه خپلې تجربې ورسره شریکې کړي.

د واده په برخه کې زموږ د ټولنې د ځوانانو ترمنځ ډیرې نیمګړتیاوې وجود لري. زموږ ګڼ ځوانان واده د کورنۍ جوړښت او په ټولنه کې په منلې طریقې سره د جنسي خواهشاتو رفع کول بولي او په هغه کې د خپل شریکباڼ د حقوقو منلو ته لا څه چې اوریدلو ته یې لا هم اماده نه دي. د واقعیتونو پر خلاف، دوي د خپل واده شریکباڼ خپل اخیستل شوي حق او ملکیت ګڼي، چې متاسفانه دا هماغه یو اړخیزه او غلط خیالات او فکرونه دي چې زموږ ځوانان واده ته په ښه توګه نشي اماده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای او برخلاف د دوي ودونه د ستونزو، ناکامیو او نا امیدیو خوا ته وړي.



## د واده په اړه ناسم توجیحات او هیله مندي

### د واده په اړه ناسم توجیحات:

متاسفانه تردې وخته زموږ په هېواد کې د ناپوهۍ، ناوړه دودونو او په ټولنه کې د وروسته پاتېوالي مغرضو لاسونو په وجه لاترا وسه هم زموږ ګڼې کلتوري ستونزې دومره زیاتې او سختې دي چې حتی د دې هېواد د ډېرو وګړو شخصي ژوند یې هم ور خراب کړی دی.
ډېر پلرونه لا تراوسه د خپلو اولادونو او حتی خپلې ښځې هیڅ ډول حقوق نه پیژني او یا هم هغې ته په هېڅ ارزښت قایل نه دي، نن هم اکثرا اولادونه (انسانان) خپل غلامان بولي او په اړه یې داسې ناسمې پرېکړې کوي چې تصور یې نشي کېدلای.
۱. لاتراوسه زموږ اکثرا خلک د واده په معانا او مفهوم پوي نه دي. دوي چې کله واده کوي نو فکر کوي چې د یوې بلې کورنۍ نجلۍ د غلامې په توګه خپل کورته راولي چې د ده او د ده د ټولې کورنۍ خدمت به کوي. دا هغه ناسمه توجیح ده چې د واده له اصل مفهوم سره په سلو کې سل سلنه مغایرت لري.
۲. اکثره خلک واده د خپلو جنسي غرایزو د خړوبولو او اقناع یوه وسیله بولي. دی خلکو ته د ښځې ښایست او ځواني تر بل هر څه ارزښتمندوی. نو چې کله یوه ښځه لږه زړه، او په ښایست کې یې کموالی راشي، نو دوي بیا دوهمه او دریمه ښځه هم بی لدی چې د هغې حقوق خوندي وساتي په نکاح کوي، او پدې توګه فکر کوي چې واده کول یوازې د جنسي غرایضو د سرته رسولو لپاره په ټولنه کې یو منل شوې طریقه ده چې پدې توګه دوي حتی په هماغه جنسي مقاربتونو کې هم د ښځو حقوقو او اشتها ته هیڅ ارزښت نه ورکوي. حتی ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ولو که ښځه یې کومه نسایي ناروغي هم ولري دې ترې خپلې جنسي غوښتنې ترسره کوي، خو د هغې د تداوی په اړه کوم مسوولیت هم نه احساسوي.

۳. ښځې ته د یوه انسان په نظر قانع نه وي مینه او محبت له خپلې ښځې سره هم ځانته کسر شان بولي چې دا د ټولو انساني او اخلاقي معیاراتو خلاف عمل دی.

۴. ښځه له خپلو ډېرو لومړنیو حقوقو څخه محرومه ساتي، د بېلګې په ډول: ښه خواړه باید نارینه او د هغه میلمانه وخوري که ښځې ته څه پاتې وو، وي به کنه پاتې شوني دې وخوري. پداسې حال کې چې د مختلفو طبي او اجتماعي دلایلو په وجه- لکه ښځه ماشوم په ګېډه کې را لویوي- چې هغه جلا او جدا غذا ته ضرورت لري، ماشوم ته شیدې ورکوي چې هغه جدا اضافي غذا ته ضرورت لري، میاشتنۍ ښځینه ناروغي (حیض) او د ماشوم د تولد نه پس د نفاس دوره لري چې په دې موده کې زیاته وینه ضایع کوي، دغه ټول عوامل په ګډه د دې ایجاب کوي چې ښځې ته باید د نارینه په نسبت ښه او غښتلي غذایي رژیم ورکړل شي. مګر زموږ په ټولنه کې برعکس د ښځې غذا ته هیڅ توجه نه ورکول کېږي چې دا ډول برخورد هم له انساني اخلاقو او معیارونو سره په ټکر کې عمل دی.

۵. ښځه حق لري چې په مناسب وخت د خپلې پلار ګنۍ کورنۍ د لیدو لپاره هغوي کره ولاړه شي، متاسفانه اکثرا نارینه لا تراوسه دا د ښځې حق نه بولي او هغې ته د پلار کور ته د تللو اجازه یا نه ورکوي او یا هم پرې ډېر محدودیتونه لګوي.



۶. د نارینه په څېر تعلیم د ښځې یو ثابت حق دی، مګر موږ نه خپلو ښځو او نه هم خپلو لوڼو ته د تعلیم شرایط او زمینه برابرو چې دا بیا د ښځو ژوند نور هم ورتریخوي.

۷. هغه ښځې چې تعلیم یې کړي وي که وغواړي چې کار وکړي نو کار کول د دوي یو روا بشري حق دی؛ متاسفانه اول زموږ په ټولنو کې ډېرو لږو ښځو ته د تعلیم او تحصیل شرایط برابرېږي او چې بیا تحصیل وکړي اکثره میړونه د دوي د کار مخالفت کوي چې تر واده وروسته د ښځې د کار کولو حق په ښځې پورې اړه لري او باید چې خاوند د هغې ممانعت ونه کړي.

۸. دغه راز د اسلام مقدس دین د ښځې او اولادونو نفقه په خاوند فرض کړې ده مګر اکثره میړونه له خپل دغه مکلفیت نه ناخبره دي. میړونه دا مکلفیت لري چې ښځې ته ښه خوراک، ښه لباس او نقدې پیسې د ځینو خاصو مصارفو لپاره ورکړي.

۹. د کور په کارونو کې اکثرا نارینه هیڅ برخه نه اخلي پداسې حال کې چې دا د نارینه مکلفیت دی چې د کور په یو شمیر کارونو کې ښځې سره مرسته وکړئ. خپله رسول اکرم( صلي الله علیه وسلم ) به هم له خپلو مېرمنو سره د کور په چارو کې مرسته کوله چې دا د انساني اخلاقو یو لوړ صفت ګڼل کېږي.

۱۰. په کور کې د ځینو داخلي آزادیو لرل لکه د خپلې خوښې رادیو- تلویزون پروګرامونو لیدل هم د ښځې یو بل حق دی چې اکثراً نارینه پدې برخه کې ناغیرې کوي او ښځو ته د دې اجازه نه ورکوي چې د خپل خوښې پروګرامونه وګوري او یا له نورې نړۍ خبرې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. ښځو سره په احترام او درنښت خبرې کول يو بل مهم اړخ دي چې متاسفانه اکثراُ ميړونه ښځو ته په ډېر ټيټ نظر ګوري او اکثره ورته بد الفاظ استعمالوي چې بايد مخنيوي يې وشي.



## واده په اړوند زموږ د څېړنو پايلې:

علمي اصول دا حکم کوي چې د يوې موضوع په اړوند د نظر ورکولو دمخه بايد د هغې موضوع په برخه کې يو لړ څېړنې او تحقيقات تر سره شي، ترڅو د هغې پديدې په اړه د منفي او يا مثبت نظر ورکولو په اړه يو څه علمي اساسات او بنسټونه شتون ولري.

دا چې زموږ ټولنه له غربي ټولنو او حتي زياتو شرقي ټولنو سره ډېر توپيرونه لري، موږ د دغه اثر له ليکلو څخه دمخه يو لړ څو اړخيزه څېړنې همدلته په افغانستان کې تر سره کړي او بيا مو د دې څېړنو په رڼا کې دا سلا مشورې ستاسو لپاره تهيه کړي. دا دي غواړو د دې څېړنو ځينې برخې له تاسو سره شريکې کړو.

لومړي موږ د دې څېړنو لپاره يوه مفصله پوښتپاڼه ترتيب کړه او هغه مو لومړي يو شمير محدودو اړونده اشخاصو سره د ځواب او نظر ورکولو لپاره شريکه کړه. بيا مو د دوي نظريات او خپل مشاهدات پکې شامل کړل او د هغې په رڼا کې مو په پوښتپاڼه کې لازم تغييرات راوستل.

په دوهمه مرحله کې مو دا پوښتپاڼه د ټولنې(۴۰) تنو عادي وګړو ته چې په هغې کې د هرې ژبې او مذهب نارينه او ښځې شاملې وې وويشلې چې دا دي تر ازماښت وروسته يې لاس ته راغلې پايله له تاسو سره شريکوو:

۱- پدغه ريسرچ کې د (۳۲) تنو ونډه اخستونکو پاڼې مکملې او د تحليل وړ وې. چې د عمر له مخې اوسط عمر يې شاوخوا (۳۱) کلن وو او د واده د وخت منځنۍ موده يې ۹ کاله وه.

**۲.** له دې جملې نه صرف د اتو تنو (**۲۵٪**) ودونه مؤفق او د نورو **۷۵٪** يې له ستونزو سره مل ژوند درلود. د ودونو په اړوند دا ارقام موږ دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته متوجه کوي چې زموږ ټولنه کې ډېر زيات شمير ودونه له ډېرو ستونزو سره مخ او پدې اړه ډېر عامه پوهاوي او ډېر کار ته ضرورت دي.

۳- د دغه سوال په اړوند چې تر واده مخکې مو څومره معلومات د واده په اړه درلوده؟ ۸ تنو (۲۶٪) هيڅ معلومات نه لرل، ۹ تنو (۲۸٪) کسانو افاقي معلومات له ملګرو څخه، ۷ تنو (۲۲٪) افاقي معلومات له خپلوانو څخه، ۴ تنو (۱۳٪)، له عمومي له منابعو څخه، ۳ تنو (۹٪) له ځانګړو کتابونو څخه او يو تن (۳٪) معلومات په دې برخې کې له عمومي داکترانو څخه لرل. له دې څخه معلوميږي چې د واده په اړوند زموږ د خلکو لپاره معلوماتي برخې هم ډيرې محدودې دي او که موجودې هم وي نو د استعمال کچه يې ډيره کمه ده.

۴- کله مو چې له دوي څخه وپوښتل چې په ودونو کې يې انتخاب څومره د دوي په خوښه وو؟ (۱۲٪) يې اختيار په سلو کې سل د دوي په خوښه، (۱۲٪) خلکو اختيار په سلو کې (۷۵٪) د دوي په خوښه، (۲۲٪) خلکو اختيار په سلو کې (۵۰٪) د دوي په خوښه او (۱۴٪) خلکو اختيار په سلو کې (۲۵٪) د دوي په خوښه او د (۳۶٪) خلکو اختيار په سلو کې صفر د دوي په خوښه وو. يعنی تقريباً د ۷۵٪ خلکو ودونه تر ۵۰٪ زيات په دوی اجباری او تحميلی وه. نو له دې څخه دا ښه معلوميږي چې زموږ په ټولنه کې څومره زيات ودونه اوس هم اجباري او د هلک او نجلۍ له خوښې بغير دي.

۵- کله مو چې د دوي د ودونو د رضايت په اړه وپوښتل، له خپلو ودونو د خوښۍ منځنۍ سلنه يې (۳۸٪) وه. يعنی په سلو کی ۳۸ کسان له خپل واده زاضی نه ول. له دې معلوميږي چې تقريباً دوه نيم چنده ودونه هره ورځ له ستونزو سره مل وي.



۶. کله چې له دوي (انترويو کيدونکو) څخه پوښتنه وشوه چې د دې نا راضيتو نو مسووليت چا پورې اړوند بولي نو (۴۰٪) يې خپلو ځانونو پورې تړلې وګڼله او (۶۰٪) يې دا د خپل شريکبانږ پورې اړوند بوله. له دې څخه معلوميږي چې زموږ په ټولنه کې زيات خلک د خپلو غلطياو پړه هم په ځان نه مني او هغه هم مقابل لوري ته ور منسوبوي.

۷. کله چې ترې پوښتنه وشوه چې هغه پنځه شيان چې تاسې ته ډېر مهم دي او بايد ستاسو شريکبانږ هغه هميش په نظر کي ولري هغه څه وو؟ (۸۰٪) هيڅ نه پوهيدل چې هغه څه دي او (۱۰٪) صرف يو ځواب ويلي، (۴٪) صرف دوه ځوابونه ويلي، (۶٪) صرف درې ځوابونه ويلي وو. چې د دغو له جملی نه دا ټکې په ترتيب له شمير سره عبارت وه له: احترام او محبت (۸۰٪)، زما د کورنۍ احترام (۷۰٪)، اولادونو ته توجه (۷۵٪)، مسووليت درک کول، غوږ نيونه، متعهد او اعتماد لرل ورپسې عمده غوښتنې وې.

۸. کله چې ترې پوښتنه وشوه چې ايا تاسو دغه ټکي کله هم خپل شريکبانږ سره شريک کړي وو، (۷۰٪) يې کله هم نه و شريک کړي او (۱۴٪) ورسره د جنګ او جګړي په محال شريک کړي وو، (۱۰٪) هغو ورسره د اول ځل جنګ او اختلاف د واقع کيدو نه پس شريک کړي وو، (۸٪) ورسره په ارام حالت کې شريک کړي وو او (۶٪) هغو ورسره د واده نه مخکې شريک کړي وو. د دی معنی دا ده چې زمونږ د ټولنی ډيره کمه فيصدی د واده د د راتلونکي په اړه يو د بل سره خپری کوی، او زيات خلک لا پدی هم نه پوهيږی چې دوی د خپلی ميرمنی او يا خاوند نه څه ارزوګانی لري.

۹. د دې پوښتنې په ځواب کې چې هغه پنځه شيان چي تاسې ته ډير مهم دي چې بايد ستاسو شريکبانږ هغه هميش په نظر کې ولري او وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نکړي هغه څه وو؟ (٪۲۵) هيڅ نه پوهيدل چې هغه څه دي، (٪۱۵) صرف يو ځواب ويلي و، (٪۱۲)صرف دوه ځوابونه ويلي او(٪۸) صرف درې ځوابونه ويلي وو.

۱۰. چې ترې پوښتنه وشوه چې ايا تاسو دغه ټکي کله هم د خپل ښريکباڼ سره شريک کړي وه؟ (٪۶۰) يې کله هم نه وو شريک کړي، (٪۱۵) هغو ورسره د جنګ او جګړې په محال شريک کړي وو، ٪۱۰ ورسره د اول ځل واقع کيدو نه پس شريک کړي وو، (٪۹) هغو سره ارام حالت کې شريک کړي وه او (٪۶) ورسره له واده نه مخکې شريک کړي ول. او د اهميت له مخې دا ټکي عبارت وو له: جنګ او غالمغال نه کول (۲۲) تنه، بې تعهدي نه کول (۲۵) تنه، د مور او کورنۍ سپکاوي نه کول (۲۴) تنه، رټل او وهلنه کول (۱۲) تنه، نا مشروع اړيکې نلرل (۱۰) تنه. نو له دې څخه معلوميږي چې موږ د واده په اړه څومره په تيارو کې ژوند کوو.

لومړي خو موږ له خپل شريکباڼ څخه د خپلو غوښتنو په چل نه پوهيږو او که پوهيږو نو بيا يې ور سره شريکوو نه، چې هغوي په دې پوه شي چې موږ ترې څه غواړو او که بيا هغه ورته وايو هم نو د جنګ او جګړې په حال کې يې ورته وايو چې پداسې وخت کې اصلاً د هيچا ماغزه هم د هيڅ شي قبلولو ته تيار نه وي چې دا د ځوانانو تر منځ د تفاهم د غټې ستونزې يوه عمده نمونه ګڼل کيداې شي.

۱۱. کله چې د دوي څخه پوښتنه وشوه چې د دغو ناخوښيو (ناراضيتيو) مسووليت په چا پورې اړوند بولي؟ (٪۳۵) يې خپل ځانونه پړه ګڼل او (٪۲۵) يې خپل شريکباڼ. نو وګورئ چې مونږ بيا پړې منولو ته هم تيار نه يو.



**۱۲.** کله چې ترې پوښتنه وشوه چې دوي ځوانانو ته څه مشورې او پيغام لري، ځوابونه يې د تعداد د زياتوالي له مخې په تدريجي توګه په لاندې ډول وو:

۱. ځوانان بايد له يو بل سره د کافې او يوې اوږدې مودې لپاره وپيژني.
۲. په کوژدو او ودونو کې زياد مصارف ونکړي.
۳. د واده په انتخاب کې پوره دقت وکړي او عجله ونکړي.
۴. تر واده پس د کورنيو د مداخلې مخنيوي وکړي.
۵. د تمامو موضوعاتو په اړه تر واده مخکې پوره تفاهم وکړي.

**۱۳.** کله چې دوي څخه پوښتنه وشوه چې په لاندې کومو برخو کې يې غلطۍ کړي او د هرې يوې علت يې څه و، ځوابونه يې په لاندې ډول وو:

| برخه | د اشتباه نوعه | دليل يې |
|---|---|---|
| د کوژدن او واده لپاره مناسب وخت | شپږ تنو په کم عمر کې واده کړي و | د کورني فشار او غربت له کبله |
| د شريکباڼ په انتخاب کې | ۲۰ کسانو ويل چې اشتباه يې کړې وه | د بې تجربه ګۍ او د مور او پلار د احترام له امله |
| په کوژدن کې | ۳۲ کسانو کوژده کړې وه او ۱۴ کسانو ډيره مصرفناکه کوژده کړې وه | د رواج او سيالۍ په خاطر، خاصتاً له تربورانو سره د مقابلې لپاره |
| د نامزادۍ په وخت کې | د **۱۵** تنو دا دوره ډيره ښه او د ۱۷ تنو ښه نه وه، لاکن **۱۵** تنانو يې بيا هم واده وکړ. | لس تنو په خپلو ميړونو او يا ښځو له بل چا سره د اړيکو شک کاوه، لاکن دا يې هيڅکله هم هغه ته نه وه ويلې. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| د واده په مراسمو کې | **۲۵** تنو ډېر لکس واده کړی و | عمده دلیل یې دا و چې (دا زما ډیر ارمان و) |
| د واده په اولو شپو کې | د ۲۲ تنو شپې او ورځې ښې وې. | موږ راضي او مداخلې کمې وې. |
| د واده نه څو موده بعد | د ۲۰ تنو شپې او ورځې ښې وې. | مداخلې ورو مخ په زیاتیدو وې او موږ هم بې تجربې وو |
| د پلرونو او میندو د مداخلو له امله | په ۲۰ پیښنو کی کورنی مداخلی موجودی وي چې ۳۸٪ ودونو کې د هلک کورنۍ او په ۲۲٪ پیښنو کې د نجلۍ کورنۍ بیځایه مداخلې کولې. | موږ د خپلو والدینو په مداخلو نه پوهیدو. موږ فکر کاوه چې دوي مونږ ته سمه لارښوونه کوله، اما ډیره موده پس پوه شو چې دا مداخلې وې. |

۱۴- که تاسو ته بیا چانس درکړل شي په کومو برخو کې به څه ډول بدلونونه راولئ؟ د دوي ځوابونه دا وه چې:

| برخه | د بدلون ډول | دلیل یې |
|---|---|---|
| د کوژدن او واده لپاره مناسب وخت | ۱۲ تنو ویلي وو چې په پاخه سن کې به واده وکړم | ځکه له ژوند نه به مو پوره تجربه تر لاسه کړې وي. |
| د شریکباڼ په انتخاب کې | د نامزدۍ موده زیاتول | ۱۴ تنو ویلي وو چې زه به ډیر دقت وکړم، او اقلاً به یو کال نامزد پاتې شم. |
| په کوژدن کې | ۲۰ تنو ویلي وو چې مصارف به کم کړم | لوړ مصارف د واده نه وروسته ستونزې |



| | | |
|---|---|---|
| | | پیدا کوي |
| د نامزادۍ په وخت کې | ۲۴ تنو ویلي وو چې د خپل نامزد سره به زیات وخت تېر کړم | تر څو هغه ښه وپېژنم او په ټولو موضوعاتو به ورسره خبرې وکړم. |
| د واده په مراسمو کې | ۲۳ تنو ویلي وو چې د واده مصارف به کم کړم. | لوړ مصارف تر واده وروسته ستونزې پیدا کوي |
| د واده په اولو شپو کې | ۱۰ کسانو ویلي وو چې ما به زیات وخت رخصت اخستي واي. **۵** تنو ویلي وو چې کاشکې ما یو بل چیرته سفر کړي واي. | ځکه د خپلې میرمنې/خاوند سره به مې ښه وخت تېر کړي وو او یو بل سره به مو ښه تفاهم کړي وو. |
| د واده نه څو موده وروسته | ۱۲ تنو ویلي وو کاشکې چې مو په واده کې قرض نه واي اخستي. | تر واده پس د قرضدارانو له لاسه ډېر په عذاب وو. د ۸ تنو میرونه د کور او وطن په پرېښودو مجبور شوي وه. |
| د پلرونو او میندو د مداخلو له امله | ۲۳ تنو ویلي وو چې موږ باید د میندو او پلرونو او خسرخیلو مداخلې درک او بندې کړې واي. | موږ اول د دوي په مداخلو نه پوهیدو او چې کله پوه شوو، نو بیا دا اختلافات دومره زیات شوي وه چې ترمیم یې ګران کار و. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناسم دودونه او مخنيوي يې:

۱- *ناسم دودونه:*

د واده په اړوند د واده نه مخکې ناسم دودونه: دا ناسم دودونه ډېر زيات دي، د دې لپاره چې هغه ښه تنظيم کړاي شو دا ناسم دودونه موږ په درې برخو ويشو:

*الف- د واده په اړوند عمومي ناسم دودونه:*

دا هغه دودونه دي چې په عمومي توګه د ودونو په اړوند زموږ په ټولنه کې وجود لري او اکثراً يې اوس حتي د منل شويو قوانينو په څېر ځاي نيولي دي چې يو شميريې دا دي:

۱ـ د ماشومانو ودول په کوچني والي کې: دا هغه ناسم دود دي چې زيات شمير نجونې او هلکان په ډيرو خامو عمرونو کې يو بل ته او يا هم کله يوه ځوانه نجلۍ زوړ سړي ته واده کېږي.

۲- په وړوکوالي کې ماشومان د نورو خپلو خپلوانو سره نامزادول هم يو بل غټ مشکل دي چې ځيني ماشوماني نجونې د هغوي خپلوانو هلکانو ته په وړوکوالي کې په نوم کېږي او وروسته بيا که د دوي خوښه وي او که نه، بايد يو له بل سره واده وکړي؟ دا يو ډېر دردوونکي ناسم دود دي چې ډيرې ناسمې پايلې لري.

دا به بيځايه نه وي چې دلته له تاسې سره د مرغلرې کيسه چې يو ډېره ښه بېلګه ده شريک کړم.

مرغلره زما د يوه دوست لور ده. د نومورې پلرنۍ کورنۍ داسې ځانګړې رواجونه لري چې په پښتنو کې تر نورو ځايونو څه زيات سخت او درانده دي. مرغلره ډېره هوښياره او د خداى ښکلا نه برخورداره نجلۍ وه. د هغې پلار او مور نسبتاً ښاري ژوند را خپل کړی



و او په زامنو او لورګانو يې سبقونه ولوستل. مرغلره هم د کالج نه فارغه شوه او اوس نسبتاً پښه پېغله وه. د شاوخوا مرکې هم پرې زياتې وې؛ خو مور او پلار يې د دې په خاطر چې مرغلره د خپلې کورنۍ نه لرې نه شي، هغه يې د کاکا زوی ته په نامه کړه؛ خو پدې کوژدن کې د مرغلرې موافقه نه وه. هغې دوه دلايل درلودل، يو دا چې د ده د تره زوی شاهباز د دوی سره د وړوکوالي نه په يو کور کې را لوی شوی و او مرغلرې هغه د خپلو ورونو په څېر ګڼه؛ نو هغې ته د شهباز سره مينه کول څه عجيبه او نا مناسب ښکارېدل. دوهم دا چې شاهباز د مرغلرې نه ډېر کشر و، نو دا هغې ته ګرانه وه چې د شاهباز سره واده وکړي. د کوژدن په شپه چې مرغلرې هر څومره وژړل، داد و فرياد يې وکړ؛ مګر پرېکړه يې د نيکه او ابۍ وه هغه يې غاړه اېښودو ته اړه ګڼله. د مرغلرې کورنۍ دا فکر کاوه چې د وخت په تېرېدو سره به مرغلره دا پرېکړه ومني او د شهباز سره به واده وکړي، مګر د مرغلرې پرېکړه هم قاطع وه، ظاهراً يې غبرګون نسبتاً نرم خو په اصل کې پوخ و. د څو کلونو په اوږدو کې بلاخره مرغلرې په خپل مؤدبانه مقاومت، د پلار او مور د هر اړخيز احترام سره سره دا په هغو و منله چې د دې کوژدن نه ډډه (صرف النظر) وکړي، خو دا موضوع هغو ته په کور، کلي او ولس کې ډېره ګرانه وه. مرغلرې به وخت نا وخت زما څخه هم مشوره غوښتله او زه پدې خوښ وم چې هغه ما ته د يو کاکا په سترګه کتل او ټول موضوعات يې را سره په رښتيا او هر اړخيز ډول شريکول. زما او د هغې داسې خوږه ملګرتيا وه چې بېلګې به يې ډېر کمې پيدا شي. زه خوښ پدې وم چې ما هم هغې ته په زغم او استقامت، مګر مؤدبانه مبارزه ټينګار کاوه. زه پدې ډارېدم چې که هغه موضوعات زما نه پټ کړي، هسې نه چې بله ورځ يا زهر وخوري او يا په کومه بله بڼه ځان وژنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و نه کړي چې دا ډول ځان وژنه په دا سې حالاتو کې په ځوانانو کې ډېرې عامې وي؛ خو زه په دې ډېر خوښ یم چې ما وشو کولای چې مرغلرې سره پدې ستونزمنه دوره کې ډېره مرسته وکړم او هغې ته د یوه ښه مشوره ورکوونکي، ملاتړ کوونکي او د اډمن ملګري رول ادا کړم. سره له دې چې مرغلره او شهباز لا تر اوسه دواړه مجردان دي. مرغلرې پدې مبارزه کې درې لاسته راوړنې درلودې:

۱- خپل ناخوښي واده ته تسلیم نه شوه، هیله ده چې یوه ورځ به د خپلې خوښې واده وکړي چې بیا خپل ټول عمر ورسره خوښ او خوشاله وي.

۲. په خپله کورنۍ کې دا ریکارډ مات کړ او نور به څوک په دې کورنۍ کې په بل چا تحمیلي واده نه کوي.

۳- دې په خپل قوم او قبیله کې هم دا وښوده چې څوک باید د خپلو بچیانو سره په زوره د واده سلوک تر سره نه کړي. زه فکر کوم د مرغلرۍ دغه اصولي مسالمت امېزه؛ مګر اخلاقي جرآت یو لوی انقلاب راوستی دی. هیله ده مرغلره به یو ورځ خپل دغه داستان د نورو سره په تفصیل شریک کړي.

خو د مرغلرې دغې پنځه کلنې مبارزې، ښه سلوک او بلاخره معجزه امېزه بریا د ډېر ستایلو وړ ده، زه خو ورته په ځانګړي ډول د تعظیم سر ښکته کوم.

۳- بدل کول یعني خپله لور یا خور د یو چا زوي ته ورکول او په مقابل کې یې د بل چا خور یا لور خپل زوي او حتی کله کله خپل ځان ته ودول؛ دا یو ازمایل شوي ناسم دود دي. حتي کله چې په یوه کورنۍ کې اختلاف او منازعه یا کړکېچ پیښ شي بیا مقابله کورنۍ هم په عین شان اعمالو لاس پورې کوي او پدې توګه دواړو خواو ته ناستې نجونې یا مېرمنې تر تاو تریخوالي لاندې راځي.



۴- د ښځو لېږل بیرته د خپل پلار یا ورور کورته: اکثره مېړونه چې یې له ښځې نه زړه خفه شي او نه غواړي چې ورسره په خپلو کورنیو ستونزو حتي خبرې هم وکړي او دي غواړي چې بله ښځه وکړي، خپله لومړۍ ښځه په وهلو ټکولو مجبوروي چې د خپل پلار یا ورور او مور کورته بیرته ولاړه شي او خپل پاتې عمر هلته د یوه مجرم انسان په توګه کړي. دغه رنګ وګړي اکثره هڅه کوي بله ځوانه نجلۍ واده کړي او نوي ژوند شروع کړي چې په دا رنګ حالاتو کې هغې اولی ښځې ته حتي طلاق هم نه ورکوي، چې هغه هم د خپل ځان د راتلونکې لپاره کوم بل شخص سره واده وکړي، دا یو له هغو غیر اخلاقي اعمالو څخه دي چې د ښځې ژوند بربادوي.

زه د دې یو ښه بېلګه په خپله کورنۍ کې درکوم. زما یو کاکا و چې هغه عسکري صاحب منصب و او په کابل کې اوسېده. ده ته یې پلار خپله وریره چې زموږ د پلار د تره کور کې ده واده کړه. نه پوهېږم چې څه وجه به وه خو د دوی (مېړه او ښځې) ګذاره سره ډېره خرابه وه. کاکا به مې هره ورځ خپله ښځه وهله او راکشوله، ولې علت یې هیچا ته هم معلوم نه وه. سره له دې چې زما د کاکا دغه ښځه ډېره ارامه او دروند خویه وه، خو د خاوند او د دې سره لکه د پیشو او پړانګ نه لګېده. بلاخره مې تره دا ښځّه له کابل نه بېرته د پلار کور ته راواستوله او تر یوه ډېر وخته زموږ دا کاني زموږ د نیکه په کور کې لکه د یوې بندۍ په توګه اوسېدله، مېړه یې په کابل کې بل واده وکړ او بیا بلکل کلي ته رانغی. دوهم واده نه یې بچیان وشول، مګر د خپلې ټولې کورنۍ سره یې هم اړیکي پرې کړي. په دغه ټوله لویه ۱۰۰ کسیزه کورنۍ کې یوازې زما سره د ده تعلقات ښه وه او زه یې خپل کور ته (د دوهم واده نه پس) پرېخودم او بس. خو وروسته بیا په کورنۍ کې د ودونو یوه بله دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغله او زما نیکه په یوه شپه **۲۲** هلکان او نجونې په کورنۍ کې پرته له دې چې هغه هلکان او یا هغه نجونې خو لا څه چې د هغوی پلرونه او مېندې هم خبرې نه وې، یو بل ته په نکاح کړل. په دوی کې یې زما یوه خور هم د همغې کاني یو کشر ورور ته په نکاح کړه او د هغې تره یوه ځوانه لور یې زما پلار ته په عوض کې د دویمې ښځې په توګه په نکاح کړه. سره له دې چې زما پلار **۴۵** کلن و او په خپل واده او کور کې ښه خوشحاله و او هېڅ یې بله ښځه نه غوښته؛ خو د پلار له وېرې یې هېڅ هم نه نشو ویلای. زما ورور ته یې هم زما د بل تره لور په نکاح کړه.

بابا ډېر تریخ سړی و، هېچا د هغه پرېکړه نشوه ماتولی او نه یې ترې پوښتنه کولای شوه. یوازې زما یو یاغي کاکا و چې هغه ته به یې په کورنۍ کې مارشال وایه (دا بېسواده ولې زورور او جنګي سړی و). دا ښه و چې زه وړوکی وم او له دغه جنجال نه خلاص شوم، خو چې کله مې د بابا نه د دې پوښتنه وکړه چې دی ولې دا کار کوي، زه یې یو دوه بېنته (ډانګې) وو هلم خو را ته یې ازادي راکړه او وې ویل چې ځه ورک شه او ته دې بیا ښځه په خپله خوښه وکړه) البته دا به د همغې خبرې اغېز و چې زه کله هم مور او پلار ښځې کولو ته اړ نه وېستم او نه یې زما د خوښې پرته ما ته واده وکړ. په هر حال زما خور چې هغه بل تره زوی ته چې زما د هغې کاني ورور و-زما کاکا ته واده شوې وه او هغه پرېښې وه- نو زما د خور مېړه هم د خپلې ښځې سره بدې ورځې را واخیستې او پرته له دې چې زموږ د خور کومه ګناه وي هغه به یې برناحقه وهله او بلاخره یې هغه پرېښوده او دوه کوچني ماشومان یې ترې ستانه کړل او زما خور (خپله ښځه یې) د خپلې خور د قصد په ځواب کې زما د پلار کور ته راواستوله. دا خور هم لکه زما د کاني په څېر بې له کومې ګناه د یوې بندۍ په څېر شپې تېرولې تر هغې چې یې



زوی زلمی شو او واده یې وکړ او بیا د کور او ولس د پېغور او شرم په وجه راغی او خپله مور یې خپل کور ته بوتله.

نو وګورئ چې څنګه ۲۰ کاله پس هم زما خور، زما د هغه تره د بدو او ظلمونو ښکار شوه او پدې ډول د دواړو ژوند تباه شو.

**۵**- د یو نارینه له خوا په یو وخت کې د دوو، درې حتې څلور ښځو نکاح کول: دا عمل چې اسلام ورته پوره جواز ورکړی خو په دې شرط چې خاوند وکړی شي د مېرمنو ترمنځ د هغوي د حقونو انډول وساتلي شي نه داسې چې لکه زموږ د ټولنې او سني حالت چې ډېری دا رنګ زیات ودونو والا په کې نه عدالت تامینولي شي او نه یې د ناګرانې مېرمنې په حقونو پایمالېدو خوا بد ېږي؛ د داسې ودونو کول؛ بلکل پرځای پرېکړه نه ده او نه اسلامي شریعت د داسې اشخاصو لپاره د زیاتو ودونو کولو اجازه ورکوي.

**۶**- په ښځو د ولور اخستل: دا یو بل هغه ناروا کار دی چې زموږ په ټولنه کې نه یوازې دا چې په ډېر شدت رواج لري بلکې ورځ په ورځ زیاتوالي مومي. دلته دا مهمه ده چې د مهر او ولور فرق واضح کړو.

مهر هغه پیسې دي چې خاوند یې ښځې ته د نفس د اختیار ورکولو په مقابل کې ورکوي چې دا پیسې د همغې ښځې حق دی نه د هغې د پلار، ورور یا بل چا او باید همغې ښځې ته ورکړل شي، پداسې حال کې چې ولور معمولاً د ښځې پلار، یا ورور اخلي او ښځې ته پکې څه نه ورکوي. دا نوع ولور ناروا او غلط کار دی.

**۷**- جهیز: جهیز له هغه سامان الاتو څخه عبارت دی چې د نجلۍ د کورنۍ لخوا نجلۍ ته په دې نیت ورکول کېږي چې له خپل ځان سره یې د خاوند کور ته یوسي. سره له دې چې د جهیز مسله په افغانستان کې دومره خاص رواج او اهمیت نه لري او اکثراً د هلک کورنۍ د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه هم نه کوي، په ځينو نورو هيوادونو کې لکه پاکستان، بنګله ديش او هندوستان کې يو لوي مشکل دي چې د هلک د کورنۍ له خوا د نجلۍ په کورنۍ ايښودل کېږي. دغه ډول دروند بار متاسفانه د ګڼو نجونو د کورنيو ملا ور ماتوي او نه شي کولاي چې په لوڼي په خپل وخت واده کړي، مګر په افغانسان کې بيا برعکس د زيات ولور له کبله خلک واده نشي کولاي.

۸- طويانه يا د واده مصارف: دا هغه مصارف دي چې اکثراً د نجلۍ د کورنۍ له خوا په هلک ايښودل کېږي چې پدې کې د هوټل پيسې، د ډوډۍ نوعيت او د ميلمنو تعداد ډير اثر لري. دغه د طوياني پيسې هم د واده هغه لوي مصارف تشکيلوي چې اکثراً ځوانان يې له توانه نه شي وتلاي او پدې وجه له ودونو پاتې وي.



## دو هم : دد واده په وخت کې ناسم دودونه:

دا هغه ناسم دودونه دي چې اکثراً له خواستګاري (مرکې) څخه نيولې بيا د واده ترشپې پورې ترسره کېږي چې پدې کې ځينې داسې ناسم او کړاو پېښوونکي دودونه شامل دي چې هغه خصوصاً د هلک شخصيت ته زيات صدمه رسوي.

۱ مرکه:

دا هغه دود ديزه کړنه ده چې د نجلۍ تر غوره کولو وروسته د هلک د کورنۍ له خوا څو کسه د نجلۍ کورته د هغې غوښتلو لپاره ليږل کېږي. د مرکو مشکل دا دي چې ډېر کله حتي که موافق هم وي د هلک کورنۍ ته هاغه دغه بهانې کوي او په څوڅو ځله ور تللو يې مجبوروي. دوهم مشکل دا دي چې په کلتوري لحاظ د نجلۍ د کورنۍ له خوا هلک ته مرکه نشي ليږل کيداي چې دا د نجونو د انتخاب په برخه کې غټه ستونزه جوړوي، يعني يو شمير زياتې جنکۍ د هلکانو د انتخاب نه محروموي.

۲. د نکريزو شپه:

دا هغه رواج دي چې هلک د لومړي ځل لپاره د نجلۍ کور ته ځي او دوي دواړو ته نکريزې لګول کېږي. دا يو نوي دود دي چې يوازې تر ښارونو محدود دي او کليوالو سيمو ته يې لا لمن نه ده غزېدلې.

پدغه ډول محفلونو کې او يا پرته له دې کله چې هلک په جلا ښه لومړي ځل د نجلۍ کور ته د ورتګ په وخت کې د هلک نه بوټان پټوي او بيا هلک مجبوروي چې هغې جلۍ ته چې معمولاً د هلک کومه خينه (د ښځې خور) يا کومه بله نږدې خپلوانه وي بايد يو څه پيسې ورکړي تر څو ترې بوټان بيرته ترلاسه کړي.

۳. په ځینو ځایونو کې دود وي چې هلک په کټ یا شوکۍ کې کینوي او هغه بیا د خپلو همزولو له خوا پورته، پورته اچول کېږي دا یو بل ناوړه دود دي چې ډېر کله د هغه ځلمي لپاره ناارامه کوونکي وي.

۴. د ښځې بوټان یا څپلۍ نه ویستل: دا هم یو کلیوالي رواج دي چې کله ناوې خپل نوي کورته راشي نو بیا په خپل تخت کې خپلو بوټانو سره ناسته وي او داسې توقع کوي چې میړه یې باید له پښو بوټان وباسي. د دې ولسي معانا دا ده چې ښځه په خاوند ور زوره وره شوه، دا یو منفي دود و چې اوس یې لمن مخ په ټولېدو ده.



## د اولادونو د ودونو په برخه کې د دوی د مور او پلار نقشونه او حدودات:

پدې کې هیڅ شک نشته چې که پلار او مور د اولادونو په ودونو کې لوړ صلاحیتونه لري نو درانده مسوولیتونه هم لري چې له خپلو اولادونو سره د دوی د واده د شریکباڼ د انتخاب په برخه کې خورا زیاته مرسته او مؤثر کومک وکړي. هر مور او پلار غواړي چې زوی یا لور دې د ښه واده او ارام ژوند خاوندان اوسي، کله نا کله بیا د زوی او لور د خوشحالۍ او راتلونکي په نسبت یې پلرونه او میندې د خپل ځان ګڼې مهمې او ضروري ګڼي او د دوی د پرېکړو اساسي معیار پدې ولاړ وي چې څرنګه به د ده د زوی او لور د شریکباڼ غوره کول د دوی لپاره راتلونکي کې د ښو روابطو او عزت زمینه برابره کړي. همدا وجه ده چې ډېر کله مور غواړي چې خپلې لور یا زوی ته په خپلو خپلوانو کې واده وکړي او پلار غواړي چې برعکس بیا په خپلو خپلوانو کې ورته واده وکړي، ځکه خو دلته د یو ټکر رامنځته کېدو وېره لري او دا وېره بیا د لور په نهیلۍ تمامېږي چې د وخت په تېرېدو دا نهیلي په کینه او کورنیو ستونزو اوړي او دا یو ډېر ناقص او غلط کار ځکه دي چې د هغوي زوي، لور یا ښځه یا خاوند یو بل نشي درک کولای.

غواړم پدې برخه کې ستاسو جدي توجه راواړوم، چې په دغسې حالاتو کې دغه ډو منفي او ناسمو غبرګونونو ته په کلکه متوجه اوسئ او یا هم کله کله داسې کیږي چې دوي دغه ناهیلیتوب د دې باعث کیږي چې له خپلې نښور یا زوم څخه تر اندازې زیات توقعات کوي او د دې پرځای چې د هغوي په منځ کې د واده د مؤفقیت او خوښۍ لپاره خپله مرسته وړاندې کړي هغوي په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځان په لور د تمایل او ځان ته په تابع کولو مجبوروي او چې کله بیا پدې مؤفق نشي نو بیا خپل اولاد د هغه د شریکباڼ په ضد تحریکوي او راز راز پلمې ورته جوړوي. له بده مرغه دا رنګ وضع بیا د ښځې او خاوند په منځ کې د اختلافاتو او جنجالونو زمینې برابروي، چې کله ناکله خواښې او خسر حتا د خپل زوم او نږور د ګټو او ارزوګانو په خلاف دوي له خپل ځان سره په ګډه او سیدو (استوګنې) او له دوي څخه په هر اړخیز مطابعت کولو مجبوروي، چې دا هم عموماً ښه کار نه دي. همدا راز کله نا کله نور خپلوان او یا همسایه ګان د نوو واده شویو وګړو د سادګۍ نه استفاده کوي او دوي د خواښې، خسر او نورو په وړاندې تحریکوي، چې ځوانان باید دې موضوعاتو ته هم جدي پاملرنه وکړي، چې د نورو په شیطانت په خپله کورنۍ کې د جنجالونو د پیدا کیدو سبب نه شي.

غواړم چې د دغه ډول بې ځایه مداخلو منفي او خرابو نتایجو ته د ځوانانو او پیغلو پام راواړم.

خپل خاوند یا میرمن څخه د خپلو غوښتنو په باره کې احساساتي برخورد مه کوئ او صرف پدې خاطر چې خپل مور او پلار خوشحاله کړئ او یا خو هغوي ته داسې ښکاره کړئ چې تاسې په خپله ښځه یا خپل خاوند زورور یاست خپل شریکباڼ د یو لړ غیر ضروري او غیر عملي شیانو په منلو او سرته رسولو مجبوروي. دا یو فوق العاده غلط او خطرناک عمل دي. هره ښځه او خاوند د دې په خوا کې چې د خپل مور او پلار سره خپله مینه او احترام په کافي اندازه وساتي، مګر دي نه باید چې یوازې او یوازې خپل پلار، مور او کورنۍ ته متوجه وي، بلکې د خپلې مینې یوه برخه باید د خپل شریکباڼ او د هغه د کورنۍ خواته هم بېله کړي. کله چې ستاسو مور او یا هم پلار تاسې د خپل



شریکباڼ په ضد هڅوي، تاسې باید د دې مسایلو اصلي عوامل وڅیړئ او په نا اګاهانه توګه ځان د هغوي د هرې خبرې په منلو مجبور نه کړئ.

د مثال په ډول: تاسې تازه واده کړی د هلک مور او پلار غواړي چې تاسې دواړه د اختر ورځې له دوی سره تیرې کړئ لاکن ستاسې د شریکباڼ (ښځې) خپلوان غواړي چې تاسې دواړه د غه خوږې ورځې د هغوي تر څنګ تېرې کړئ. متاسفانه اکثراً خلک دغه موضوع یو طرفه حل کول غواړي او توقع کوي چې صرف د ده د خپلوانو غوښتنې ته دې توجه وشي. اما د هغه بل جانب نظر او توقع تر پښو لاندې کوي چې دا سم کار نه دي او زما په نظر د حل ښه لاره به یې دغه لاندې درې پیشنهادونه وي:

۱- کوښښ وکړئ چې دواړه په ګډه د اختر یوه موده له یوې کورنۍ سره او پاتې موده له بلې کورنۍ سره تېره کړي. البته د حساس وخت په نظر کې نیولو سره که یو ځای سره خاص او مهم وخت (لکه د اختر لومړۍ ورځ) تېروي بیا د بل ځای سره زیات وخت تیر کړي. مثلاً د اختر لومړۍ ورځ به د اختر د دوهمې او دریېمې ورځې سره یو شان برابره نه وي نو لومړۍ ورځ چې اکثراً مهمه وي په یو کور کې تیره کړي بیا دوهمه او دریېمه ورځ په بل کور کې تېره کړي.

۲- د دغو ورځو تبادله په نظر کې ونیسئ. مثلاً که د کوچني اختر لومړۍ ورځ د خاوند له خپلوانو سره تېره کړئ، د لوي اختر لومړۍ ورځ بیا د ښځې له خپلوانو سره تېره کړئ او یا هم کال ته د دغه تقسیم اوقات سر چپه عمل وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- که پدې اړه سره موافقې ته ونه رسيدئ بيا خپله دغه ورځې ځانته سره ګډې تېرې کړئ او د دواړو کورونو ته له تللو څخه صرف النظر وکړئ چې دلته دا د مشکل د حل ښه لاره نه بلکې اخري لاره به وي.
همدا راز ميندو او پلرونو ته توصيه کيږي چې دغه اساسات په نظر کې ونيسي او خپل اولادونه پدې توګه په داسې شرايطو کې وا نه چوي چې د دوي خوښي د هغوي په منځ کې د اختلافاتو سبب شي.
په مختلفو مراسمو کې د دواړو خواوو ترمنځ تعادل ساتل اړين دي. که تاسې خپل مور او پلار سره د ځينو مراسمو په ګډون کې برخه اخلئ نو کوښښ وکړئ چې همغه ډول ګډون د خپل شريکباڼ د خپلوانو په مراسمو کې هم تر سره کړئ، هسې نه چې خپل شريکباڼ د خپلو خپلوانو مراسمو ته په ورتللو مجبوروئ مګر خپل ځان په کې مکلف نه بولئ.
ددغه ډول جنجالونو د مخنيوي لپاره به غوره وي چې د يو اړخه له خپلوانو سره د برخورد طريقې يادداشت او کوښښ وکړئ چې له هغه بل اړخ سره هم معادل سلوک وکړئ، که د کوم شخصي معذرت له کبله مو په ټاکلي وخت کوم مراسم تر سره نه شو کړاي، کوښښ وکړئ چې معاوضه يې ژر او په اصولي توګه وکړئ.
راځئ چې لومړي دا موضوع د ښځې په انتخاب کې اولادونو ته د نظر ورکولو يا له دوي څخه د نظر اخستلو په اړوند اجراتو کې وګورو. موږ اکثره ميندې او پلرونه د خپلو لورګانو په ورکولو يا زامنو ته په ښځه کولو کې اولادونو څخه يا هيڅ پوښتنه نه کوو او يا له دوي نه پوښتنه کول ډېره سرسري وي. حتي ځينې خو خپل اولادونه لا په صغارت کې نامزادوي، چې بيا دوي په غټوالي کې مجبوراً هماغه چا سره واده



وکړي او پدې ترتيب د اولادونو نظر د هغوي د ژوند د شريکباڼ د انتخاب په برخه کې بالکل لرې پاتې کېږي.
پدې کې هيڅ شک نشته چې پلرونه او ميندې د اولادونو ودونه د خپل ژوند د يو شمېر تجاربو په رڼا کې ترسره کوي او د دوي له نظره هغه څوک چې دوي يې مناسب ګوري فکر کوي چې هغه به ښه او مناسب انتخاب وي. اما د شريکباڼ په انتخاب کې دوه اساسي اړخونه مهم دي، يو دا چې د شريکباڼ کورنۍ او خوي او اخلاق يې د هغې کورنۍ لپاره د قبول او قناعت وړوي، چې دا موضوع واضحاً پلرونه او ميندې ممکن د ځوانانو په تناسب ښه درک کړاي شي. نو دا به بهتره وي چې د هلک او نجلۍ لپاره د شريکباڼ د کورنيو په انتخاب کې د مور او پلار ونډه جدي او اساسي وګڼل شي.
دوهم اړخ د هلک او نجلۍ په قد او قوارې پورې اړه لري. د دوو ځوانانو ترمنځ په واده کولو کې د دوي له يو بل سره مينه او علاقه لرل او يو بل ته جذابيت او د زړه کششوالي فوق العاده مهم او با ارزښته مسله ده. پدې اړه ښايست او ښکلا يو اساسي اصل دي. ښايست او ښکلا کوم ټاکل شوي معيار نه لري، ممکن يو څوک د يو چا له نظره ډېر ښکلي اما د بل چا له نظره ډېر بدرنګه وي، هرڅوک د يو ځانګړي کيفيت له مخې د يو چا په ليدو هغه ښه درک کولي شي او د يو چا خوښه د بل لپاره ډېره د قناعت وړ هم نه شي اټکل کېدي. د انګلسي ژبې يو متل دي چې وايي: The beauty is in the eyes of beholder (ښايست په شخص کې نه بلکې د کتونکي په سترګو کې دي) نو د واده د دې اړخ صلاحيت او امتياز بايد هميش ځوانانو ته پرېښودل شي.
ځکه خو يو شاعر هم وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ معيار توپير د مينې دود کې نشته
هسې روح مې ستا په روح باندې مين دې

په شريعت کې هم په همدغه ټکي ډېر تاکيد شوي چې هلک او نجلۍ بايد يو له بل سره وګورئ چې يو بل ته په زړه پوري او د مينې وړ وي.

نو زموږ له نظره به ښه دا وي چې د اولادونو شريکبانۍ په پرېکړه کې زېږنوال او ځوانان په ګډه دا انتخاب وکړي او ځوانان دې ته وهڅول شي چې په جرآت سره خپلو والدينو سره د خپل انتخاب په اړه خبرې وکړاي شي. زمونږ مشوره به دا وي چې والدين خپلو اولادونو ته له ټاکلي شخص سره د مخامخ ليدو کتو لپاره ابرومنده او مناسبې زمينې برابرې کړي.

بله مهمه موضوع دا ده چې خپل اولادونه د واده په اړوند په يو شمير نورو موضوعاتو او فيصلو کې هم دخيل کړئ، دا ځکه چې دا د هغوي واده دي نه د هغو د زېږنوالو. دوي بايد دا واده د خپل ژوند د ارمانونو هينداره کړي نو دوئ ته اجازه ورکړئ چې د واده د يو شمير نعمتونو په برخه کې لاسرسي ولري، مثلاً د واده مراسم چيرته نيسي څومره ميلمانه دعوت کوي، کوم هنرمند راغواړي او داسې نور. تاسې کولاي شئ چې بيا د دوي د دغو واړاندېزونو په اړه خپل نظر هم ورته ووايئ او د دوي په نظرياتو کې چې کومې ستونزې تاسې ګورئ نو هغه ورسره په ارامه بحث کړئ.

يوه بله مهمه موضوع دا ده چې تاسې بايد تر هرڅه دمخه خپل اولادونه دې ته اماده کړې وي چې دوي د خپل واده يوه برخه مصارف پخپله تهيه کړي. د دې موضوع لپاره به ښه خبره دا وي چې تاسې هم د واده په اړه تياري برخه چې پدغه کتاب کې ليکل شوې لوستې وي او ځوانانو ته هم خاصتاً هغه څوک چې د واده په نوبت ولاړ وي مخکې له



مخکې توصيه کړې وي چې هغه هم دا برخه ولولي. ولې که تاسې ډېر شتمن خلک هم ياست په خپلو اولادونو د واده د مصارفو يوه برخه کېږدئ، دا کار دوه ګټې لري:

لومړي دا چې دوي با مسووليته تربيه کېږي او په خپل ژوند کې د پيسو د ګټلو ترڅنګ د پيسو د ساتلو هنر هم زده کوي. تاسې باور وکړئ چې د پيسو د پيدا کولو څخه د پيسو ساتل مشکل کار دي.

دوهم دا چې دوي لدې کبله چې په واده کې مستقيماً ونډه اخلي ممکن تر يوه حده خپل ځان راحت محسوس کړي. دا چې د واده نه پس بيا هم پلار هغه ځوان پلار او مور ته د پيسو لپاره لاس غزوي دا د يو ځوان په روحيه او کورني ژوند په مؤثريت ډېر تاثير اچوي. د واده د مصارفو په اړوند خپل اولاد ته داسې څرګنده کړئ چې ستاسې ټوان ټولو مصارفو ته نه رسيږي؛ نو هغه دې ته وهڅوئ چې له خپلو ځينو ملګرو څخه قرض وغواړي. دا موضوع هم دوه ګټې لري، اول دا چې ځوانانو ته د دې ښه پته لګيږي چې ممکن ډېر لږ ملګري ورسره مرسته وکړئ؛ نو هغوي د پيسو په ارزښت پوهوي.

دوهم دا چې په ملګرو او دوستانو کې حقيقي او لافو ملګري ورته معلوميږي، چې دا امتحان سړي هر وخت نشي تر سره کولاي.

په وداه کې يو څه نقدي پيسې د خپل اولاد په اختيار کې ورکړئ چې هغه په ځينو مراسمو کې په درسته توګه مصرف کړي، ښه به دا وي چې د واده د مراسمو په اوږدو کې ټول هغه موضوعات چې د نقدو پيسو د مصرف ځايونه دي بايد دوي ته وواياست او په هر ځاي کې د مناسبې اندازې مصرف حدود هم ورته وواياست.

ځوانان پدې پوهه کړئ چې خپلې پيسې وړې کړي او هميشه له ځان سره څه وړې (ماتې) پيسې ولري ترڅو مجبور نشي چې د لږو پيسو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځاي کې غټې لوټ(نوټ) استعمال کړي. حتي دا به ښه وي چې خپلې پیسې په دوه یا درې برخو وویشي او د هر پروګرام لپاره محدودې ټاکلې شوې اندازه پیسې په یو ټاکلي جیب کې ولري او صرف هماغه استعمال کړي.

واده د پیسو سیلاب دي، که مو لږ لاس سست کړ ډېرې زیاتې پیسې به درنه مصرف شي او که مو په هر ځاي کې لږې لږې ذخیره کړې؛ نو ډېرې پیسې به سپما کړاي شئ چې دا به مو بیا په ډېرو مهمو ځایونو کې په کار راشي. ځوانان پدې وپوهوئ چې د پیسو لرل حتماً پدې معنا نه دي چې هغه دې ټولې مصرف کړئ؛ بلکه دا پدې معنا دي چې د هغه عزت او قدر وساتل شي.

د واده نه پس د خپلو بچو سره خپلې مالي مرستې دفعتاً مه بندوئ، ښه به دا وي چې اقلاً په اونۍ کې یو ځل د هغوي سره مالي محاسبه وکړئ. البته دا محاسبه باید ډېر په احتیاط سره وشي چې هغوي د کموالي احساس ونکړي، دغه راز به له بلې خوا د حساب ورکولو تراثر لاندې هم وي. که ضرورت و ؛ نو اقلاً د واده نه پس تر درې میاشتو ورسره یو څه مالي مرسته وکړئ، لاکن هغوي باید دا اطمینان ونه لري چې دا پیسې به حتماً ورکول کېږي او په هرځل چې پیسې ورکوئ داسې ورته وانمود کړئ چې دا اخري پیسې دي.

بله هغه موضوع چې والدین پکې د اولادونو د ودونو په بریا کې ښه رول ادا کولاي شي هغه د دوي د یو شمیر غیرعملي توقعاتو لرل دي. زیږنوال باید پوه شي چې دوي واده خپل اولاد لپاره کړي دي نه دا چې د خپل ځان لپاره؛ نو دوي باید خپل اولاد ته اجازه ورکړي او مناسب چاپیریال ورته برابرکړي چې د خپل شریکبانۍ سره ورو- ورو عادت



واخلي او د دوي والدین باید د ده په شریکبانۍ خپل یو لږصلاحتیونه او امتیازات ورونه تپې.

اکثراه میندې او پلرونه خپل زوي یا لور ته داسې تدریس کوي چې خپل شریکبانۍ باید د زور او فشار له لارې تر کنترول لاندې راولي او حتي هغه دې د خپل مور او پلار هر ډول غوښتنو منلو ته اماده کړي چې دا یو لږ اضافي او غیرې ضروري تحمیلي شیان دي چې دا د دوو واده شویو ځوانانو ترمنځ د مینې د کموالي سبب کېږي. نو والدینو ته په کلکه سپارښتنه کوو چې د داسې ډول مداخلو څخه په کلکه ډډه وکړي.

***

*[واده د ژوند داسې یو تصمیم دي چې په هغه کې اشتباه کول له خپل ژوند سره لوبې دي نو راځئ چې په ګډه د ناسالمو ودونو مخنیوي وکړو.]*

## دویم څپرکی
## تر واده وړاندې موضوعات او مسؤلیتونه

### د واده مراحل، چارې، رواجونه، ستونزې او مشورې:

واده یوه اوږده پروسه ده چې له مرکې کولو نه شروع او تر واده وروسته په یو شمیر دودونو او دستورونو پورې دوام کوي.
ډېر ځل ځوانان( هلکان او نجونې) د واده په مراسمو کې په ناخبرۍ سره د داسې کړو وړو سره مخامخ کېږي چې هغوی ترې هیڅ خبرتیا نه لري او نه یې ورته کومه اماده ګی نیولې وي. چې دا بیا په هغه ځانګړي موقع کې د هلک یا جلۍ د حیرانتیا او کله کله هم د خجالت سبب کېږي.
نو پخوا تر دې چې د دې موضوع په اړه مشورو او بحث ته داخل شو راځئ د څو کسانو د ودونو په اوږدو کې حیرانونکي پیښې ولولو:
۱-زه چې کله شل کلن وم زما پلار په لغمان کې ټوکر پلورنه (د رخت خرڅلاوې کاوه) هره جمعه به د نوي رخت د خرڅ او د زړو پیسو د راټول لپاره هلته ته. پلار مې د کار و بار په بهانه یو ځل زه د لغمان مرکز (مهترلام) ته واستولم چې د هغه ځای له هټیوالو څخه پیسې راټولې کړم او کورته یې راوړم، دا یې هم راته وویل چې د شپې زما د دوست (احمد) کورته لاړ شه شپه به هلته وکړې او سهار به راشې. ما همداسې



وکړل، زه هیڅ پوه نه وم چې زما پلار غوښتل چې ما هغه دوست او ممکن د هغه لور ته وښیي چې بیا دي زما لپاره پرې مرکه وکړي. پدې راز ډېر کلونه پس زه پوه شوم چې کله مې مور راته د هغې کورنۍ د نجلۍ د کوژده کولو په اړه وویل او زما نظر یې وغوښت خو ما موافقه ونه کړه.
۲- پنځوس کلن خان محمد وایي: ما په پاکستان کې واده وکړ، زه هیڅ نه پوهیدم چې واده کې څه ډول کړه وړه شامل وي، د واده په شپه له داسې کارونو سره مخ شوم چې حق حیران وم څه وکړم او چیرته وتښتم. خبره به را لنډه کړو.
په ما هم د متوسطې او لیسې د دورې راهیسې مرکې او جرګې را روانې وې. اکثره زموږ په خپلوانو کې داسې ښکلې نجونې وې چې د هغوی کورنۍ هم غوښتل چې لونې یې ما سره واده وکړي. ځینې کورنۍ به چې زما د پلار او مور خوښې شوې، بیا به یې ماته د مور په خوله وویل چې درته ښځه کوو. یو څو نجونې خو پکې داسې هم وې چې زما هم ډېرې خوښیدې چې واده ورسره وکړم، نه پوهیږم په څه وجه به ما تعلیم او بیا تحصیل ته ترجیح ورکوله، دې چارې به بیا هغوی ته دا معانا لرله چې زه واده کول نه غواړم، زما توجه تعلیم ته وه ما نه غوښتل په مکتب کې خپله اعلي درجه دلاسه ورکړم، مورته به مې ویل: زما د واده په اړه فکر هم مه کوئ ما پرېږدئ چې درس ولولم. پدې ډول مې تر دولسم ټولګي پورې ډېر ښه چانسونه له لاسه ورکړل. بیا چې کله فاکولته کې داخل شوم، دا مرکې او غوښتنې لا زیاتې او څه نورې هم خوږې شوې، مګر زما بیا هم هروخت مور ته همدا بهانه وه چې زه فاکولته لولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوړي په رخصتۍ کې وه چې یوه ورځ ښار ته ولاړم د پوهنتون د لیلې امر چې زما یو دوست و راته وویل چې (تا ته یو لیک راغلی دی). هغه راته لیک راکړ، حیران وم چې دا لیک به د چا وي؟ کله چې مې لیک پرانیست و مې لید چې په طلایي کاغذ د ډېرو ښکلو ګلونو سره په ډېره مینه او ښکلې خط لیکل شوی و. پوه شوم چې د اخو د کومې نجلۍ لیک دی، فوراً رستورانت ته ننوتم، پداسې حال کې چې لاسونه مې رېږدېدل د لیک په لوستلو مې پیل وکړ. حق حیران شوم چې زه او نجلۍ؟ زه او دا دومره صفتونه؟ زه او په ما د داسې یوې نجلۍ مینېدل چې زه نه پوهېږم هغه څوک ده او څنګه ښکاري؟ په فکرونو کې ډوب او د حیرانتیا سره لړزیدم کورته روان شوم، په بازار کې مې یو بل ملګري راباندې غږ کړ: ډاکتره! ستړي مشي مو سره وکړه، رانه یې و پوښتل کلي ته ځې؟ ورته ومې ویل هو. هغه چې زما د کلي و او زما ښه ملګري و راته یې وویل: زه هم ځم خو راځه زما در سره یو څه کار دی. یوه رستورانت ته یې وردننه کړم او چاي یې راوغوښت، بیا یې راته وویل: یو پټ سوال او ځواب درته لرم، زما په دفتر کې یوه نجلۍ ده هره ورځ له ما نه ستا او ستاسې د کورنۍ په اړه ډېرې پوښتنې کوي، اوس یې رانه وغوښتل چې ډاکتر ملت مل ته ووایه چې یو ځل دفتر ته راشي. د دې خبرې په اوریدو سره زه لا حیران شوم چې په یوه ورځ له دوو مختلفو لارو د یوې نجلۍ پیغام راته راځي او قسم چې زه نه پوهیدم چې هغه څوک وه، څنګه ښکاري او څنګه ما پیژني؟ نو باور وکړئ چې تبې ونیولم، په لیک کې یې راته لیکلي وو چې زه یې د نارنج ګل په مشاعره کې لیدلی وم او له همغې ورځې یې خوښ شوی وم. دانو یو بل ازمېښت او سره لرې وه چې په زړه مې راننوته، نه پوهېږم چې ما هغه ته په ځواب کې څه وویل.



له یوې خوا شرمیدم او له بلې خوا حق حیران وم، ځکه زه لا تر دې وخته پدې نه پوهیدم چې مینه څه ته وایي؟ او تر ټولو دا راته عجیبه وه چې د هغه وخت معمول خبره داوه چې هلک به نجلۍ ته وړاندیز کاوه، مګر دا چې یوه نجلۍ یو هلک ته لیکي چې زه په تا مئینه یم او بیا را ته د نارنج ګل مجلس ښیي چې زه یې هلته لیدلی وم. هو دا زما په یاد وه چې زه د خپې یوه ملګرې سره دغې مشاعرې ته تللی وه، چې د هدې په فارم کې جوړه شوې وه، هوم هلته ډېرې جنکۍ هم راغلې وې او په مخکې قطارو کې ناستې وې، خو په هغه ټول مجلس کې زما دا په یاد هم نه راځي چې ما دې کومه نجلۍ سره مخ په مخ لیدلې هم وي.
اصلاً دا نجلۍ زما د یو ملګري خور وه او زه به کله کله د هغوي کورته تلم، خو په هغې کور کې دومره جنکۍ وې چې د یوې او بلې فرق کول هم ګران ول. ما چیرته هم د هغې کورنۍ نجونو ته داسې په ځیر او یا مطلبې سترګو کتلي هم نه وو. په هر حال ریښتا درته وایم له هغې نجلۍ سره مې ملګرتیا شوه، وخت نا وخت به مو سره پټ لیدل کتل کول. بالاخره د یو دوه کلو ملګرتیا وروسته راته هغې نجلۍ د واده کولو وړاندیز وکړ، تاسې پوهېږئ چې سره لدې چې د **۱۳۵۱-۵۲۱۳** هجري کلونو په اوږدو کې په افغانستان کې نسبتاً ډېره ازادي وه، د دې امکانات وو چې هلکان او نجونې په آزاده توګه سره وګوري را وګوري او یا ځینو رستورانتونو ته د ډوډۍ خوړلو او یا هم ځینو پارکونو کې سره په ګډه چکر ووهي چې مونږ به هم کله کله د جلالاباد دی ښکلو باغونو او پارکونو ته سره یو ځای خو د بلدو خلکو نه په پټه تللو او خوندونه او مزي به مو تری اخیستي. دا ټول شیان به تر ډېره حده زما او د هغې د خپلوانو او ملګرو نه پټ تیریدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ویره د دې نه وه چې د دې نجلۍ ورونه او یا هم زما سیاسي ملګري پدې خبر نشي چې ممکن د هغې او زما دواړو د بد حالت سبب به شي او رسوایئ به منځته راوړي، خو زه د هغې نجلۍ زړه ورتوب ته حق حیران وم. د بلې خوا به هلک په هغه وخت کې د دې له وېرې چې که چیرته یې نجلۍ سره ملګرتوب رسوا شي؛ نو بیا به دې ډېر و شرمیږي او ممکن د مجبوریت له مخې هم هغې نجلۍ سره په واده کولو مجبور شي. نو اکثره هلکانو به خپلو ناستو ولاړو کې د ډېر احتیاط نه کار اخست چې زه دغه ټکي ته متوجه وم او لا تراوسه دې ته نه وم تیار چې واده دې وکړم، نو ځکه باید زما او د دې نستی ولاړي باید پټې پاتې شوی وي. نو په طریقه به مو کله کله د هري سنګ په دوکان کې چې زما یو سک ملګری وه د سودا په بهانه سره کتل او د بل ځل لیدو لپاره به مو وخت او ځای سره ټاکه.

له بلې خوا، زه پدې هم پوهیدم چې زما کورنۍ یو کلیواله کورنۍ او د هغې نجلۍ کورنۍ یوه ښاري او متمدنه کورنۍ وه، زموږ د کورنیو ترمنځ توافق هم یو جدي سوال و. زموږ پدغه ملګرتوب بالاخره زما مشر ورور خبر شو. د دې لپاره چې هغه له ما سره ډېر ملګرتوب درلود، په لومړي وخت کې نه دا چې هغه د دې موضوع مخالفت ونه کړ؛ بلکې زما او د هغې نجلۍ ترمنځ به یې اړیکي هم تامینولي. مشر ورور مې ډېر هوښیار وو او پدې کې یې ځانګړي هدف درلود. هغه پدې پوهیده چې که نیغ په نیغه زما مخالفت وکړي، ممکن زه یې خبرو ته کوم ارزښت ور نه کړم. نو ده هم لومړي زه په خپل اعتماد کې واخستم او بیا یې ورو ورو د هغې نجلۍ په اړوند راته منفي خبرې شروع کړې. بالاخره چې زه یې په دې قانع کړم چې د هغې نجلۍ ملګرتوب نه صرف النظر وکړم؛ نو چې کله هم راته هغې نجلۍ د واده کولو وړاندیز وکړ،



ما ترې ځان په اخوا دېخوا خلاص کړ او هېڅ چانس مې ورنه کړ، ځکه ما د هغې سره خپل واده یو نا انډوله او ناکام واده ارزاوه، چې خرا زیاتې خرابې پایلې ممکن ولری.

د دې واقعې شریکول د دې لپاره ګټور بولم چې ځوانان پدې ټولنه کې له اړوندو چلنحونو نه څخه خبر شي او باید احتیاط وکړي چې بې وخته او ناروا اړیکو کې شامل نشي؛ ځکه دغه ډول اړیکي بیا ستاسې د آزادۍ د محدودیت او کله کله هم د جبري ودونو لامل ګرځي چې معمولاً پایلې یې خطرناکې او دردونکې وي.

لیکوال وایي:

دغو موضوعاتو زما د واده موضوع لاهم وځنډوله د پوهنځي په وخت کې د تحصیل پوره کول او وروسته مو بیا د وظیفې ستونزې زما د واده د ځنډیدو سبب کیدې. له فاکولتې نه تر فارغېدو سمدواره په سمنګانو کې د ډاکتر په توګه په دنده بوخت شوم. هلته مې هم د پلار ښه دوستان وو او هم ما یو څه ډیر ښه دوستان پیدا کړل چې هم یې ښې ښکلې لوڼې درلودې او هم ښې درنې کورنۍ وې. خو د دې امله چې سمنګان له ننګرهار څخه ډېر لرې و ما نه غوښتل هلته واده وکړم. په هر حال د اموضوعات یو په بل پسې زما د واده د ځنډ سبب شوو. بیا د کمونستانو کودتاه وشوه او زه په هرات او بیا په کابل کې د ډاکتر په توګه مقرر شوم. پدې وخت کې بیا هم کورنۍ مرکې رازیاتې شوې او هم د کار او اوسیدو په ځایونو کې ډېرو نجونو سره بلدیت د هغوی له دوامداره غوښتنو سره مخ کولم، د کمونستي نظام د ګډوډیو او په حالاتو نه باورتیا ماته د اچانس راکاوه چې له مور او پلاره ځان په هاغې او دغې خلاص کړم. بیا د کمونستانو له خوا د پلچرخي زندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د یو کال لپاره سیاسي بندي شوم چې کیسې یې ډېرې دردوونکې دي.

بالاخره له زندان نه تر راخلاصید وروسته مې په کابل کې کور او کار دواړه پرېښودل او خپل کلي ته لاړم چې د روسانو او کمونستانو په ضد او له وطن نه په دفاع کې له مجاهدینو سره ملګري شوم، ډېر ژر د جهاد په لیکو کې د ناروا او په ضد ودرېدم او دا موضوع د دې سبب شوه چې د افراطي مسلمانو لخوا زما د ترور پلان جوړ شو، اما زه پرې خبر شوم او دې موضوع زه دې ته مجبور کړم چې پاکستان ته مهاجر شم.

په پاکستان کې هم د څو کالونو اوسیدلو په اوږدو کې د یوې خوا د خپل خپلوانو او ملګرو له خوا د مرکو نه په تنګ وم او له بلې خوا هم د مور او پلار له دوامداره غوښتنو نه چې باید ژرترژره واده وکړم. پلار او مور مې چې د افغانستان نه پاکستان ته د څو ځل تللو راتلو سره سره چې خورا مشکل کار و، ولې دوي ونه توانیدل چې ما واده ته چمتو کړي او بالاخره یې پر مرورتیا سربېره راته وویل چې تر دې وروسته به راسره بیخي اړیکې قطع کړي. دغه کار زه دې ته مجبور کړم چې هرو مرو او ژر تر ژره واده وکړم. خپل نږدې ملګري مې راټول او ورته مې د مېرمنې کولو او ګډ ژوند جوړولو په اړه خپل شرایط وویل. په هغه وخط کې زما له خوا ټاکل شوي او روښانه شرایط دا ول:

۱– نجلۍ باید افغانه وي، زه له پاکستانیانو سره واده نه کوم.

۲– نجلۍ باید تعلیم کړې وي، اقلاً (۹) صنف یې لوستي وي، زه بې تعلیمه ښځه نه کوم.

۳– نجلۍ باید ښکلې وي.



۴– زه باید نجلۍ پخپله وګورم او د امکان په صورت کې ورسره خبرې هم وکړم.

۵– نجلۍ باید له یوې درنې او میلمه پاله کورنۍ څخه وي.

د مهاجرت په هغو سختو شپو کې دا څه عجیبه شرایط وو. د ښو خلکو د لوڼو د لیدو شرایط نه وو او هغوي چې یې لیدل اسان و بیا نه دوي او نه ما ورسره ځان مناسب لیده؛ نو دغو شرایطو زما کار نور هم ستونزمن کړی و.

دا چې واده د قسمت او تقدیر کار دي، ما هیڅ نه منله، راځئ چې وګورو چې زما په واده څه وشول. او بیا تاسې د خپل ځان سره دا فیصله وکړئ چې واده د تقدیر کار دی او که د تربیر.

بالاخره مې یو ملګري راته وویل چې زه غواړم چې تا له ځان سره یوه ورځ د یو ملګري کورته یوسم او ته د هغه لور وګورې، که دې خوښه شوه، بیا به سره نورې خبرې وروسته وکړو. هغې نجلۍ په یوه دفتر کې کار کاوه او پرده یې نه کوله او مهمانخانه یې هم داسې وه چې د هغې کور ته د راتتلو لار په همدی وه نو کتل یې اسان ول. موږ یې کورته ولاړو، ډېر انتظار مو وکړ، پدې ورځ دا نجلۍ کورته وختې راغلې وه او موږ یې ناحقه د راتلو په انتظار ناست وو.

د هغې نجلۍ لیدل خو ونه شوو، په بله ورځ د هغې نجلۍ پلار زما ملګري ته زما په اړه د یوې بلې پاکستانۍ نجلۍ مشوره ورکړې وه، چې ملګري مې ما ته را یاده کړه، ما فوراً مخالفت پدې وکړ چې زه نه غواړم له پیښوریانو سره خپلوي وکړم. له دې ټولو سره سره بې هم هغه سړي زما ملګري ته ویلي وو چې دا خلک اصلاً د کابل دي خو د تقدیر له مخې څه موده پخوا پیښور ته راغلي او دلته ښه کار و بار لري، ما بیا هم په خپلو پورتنیو شرایطو ټینګار کاوه او ددوست په لیدو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول ورسره مطرح کړل، هغه راته وویل چې دا ټول شرایط د منلو وړ دي. ته به نجلۍ هم د هغوي په کور کې وګورې.

مرکو پیشرفت وکړ، خو باور وکړئ چې ما مي دا ښځه د واده له شپې نه مخکې هیڅ ونه شواي لیداي. هر څه په بیړه پرمخ لاړل، آن تر دې حده چې د کوژدې د دستمال تیاري ونیول شو. پدې اړه چې ایا پلار مې د کوژدې لپاره له افغانستان نه را وغواړو او که نه، داسې فیصله مو د څو ملګرو او خپلوانو په شمول وکړه چې ددې په خاطر چې پلار مې راڅخه خفه افغانستان ته تللي دي ممکن هغه زما کوژدې ته هم رانه شي او دا به بیا زموږ په خپل منځي اړیکو ډیر بد اثر وکړي، دا چې ماما او د کاکا زامن مې هملته وو او ډیر ښه ملګري مې هم وو، موږ فیصله وکړه چې د ستمال به مې پلار ته ورولیږو. دا چې زموږ دا فیصله څومره ناسمه او خرابه وه، پدې بیا موږ وروسته پوه شو. کله مو چې د ستمال پلار ته ولیږه هغه دومره خفه او په قهر شوي وو چې تصور نه لرې خبره وه. سره لدې چې زه پدې وخت کې تقریباً(۳۰) کلن وم ملګري مې هم پوه او د (**۳۵-۴۰** ) کلنۍ په عمرو کې وو خو موږ د غه موضوع ښه درک نشوه کړاي.

بل کوم څه چې زما د واده په اړه پیښ شول هغه زما د خسرګنۍ د کورنۍ سخت دریځي وه، چې د هماغه شپې تولي طلا او په پیښور کې د کور په نیولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه یې کوله، زه او زما ملګري ورسره له څو ځلي خبرو کولو سره سره نتیجې ته ونه رسېدو. حق حېران وم چې څنګه دا مشکل حل کړم، کله چې مې پلار موضوع ته داخل شو، په داسې یو مهارت یې دا ټول جنجالونه حل کړل چې زه او زما ټول ملګري ورته حیران پاتې وو.



زما خواښې زما پلار ته وویل چې( ښه ده چې طلا او نور شرایط مو پوره نه دي، اوس واده مه غواړئ او چې کله مو دا شرایط پوره کړل نو بیا واده پسې راشئ). پلار مې ورته په ځواب کې وویل: ( ښه ده دا ښه خبره ده، چې تاسې حتماً دا شرایط پوره کول غواړئ، زموږ خو دا اوس په وس نه دي پوره، زه به مې زوي ته بله ښځه د خپلو امکاناتو سره برابره وکړم او چې کله مو ستاسې شرایط پوره کړاي شوو، بیا به ستا د لور د واده لپاره راشو ). خواښې مې چې کله دا خبره وا وریده، لاره ترې خطا شوه نو مجبوراً یې زموږ شرایط ومنل.

واده د تیاریدو په حال کې و، د پاکستانیانو خپل رواجونه وي او د افغانانو خپل، کله کله دغه رواجونه هم سره ټکر کې راتلل. لکه د نورو پاکستانیانو په څیر زما خسرګنۍ هم ډیر زیات جهیز (د واده سامان) اخستي وه، او لا یې ورته نور هم اخیسته. ما ورته و ویل: له دې سامان نه صرف نظر وکړئ، زما ټوله کورنۍ ورته حقه حیرانه وه، چې زه ولې دغه دوه لارۍ سامان نه اخلم، زما دلیل ور ته دا وه چې زه یو مهاجر سړي یم، خپل کور نه لرم او په کرایي کور کې د دې سامانونو سنبالول مشکل دي. خو دوي هم د خپلو رواجونو نه مجبور ول، بالاخره. تر ډېر جار او جنجال وروسته یې په شنه زور دا سامان را اوچت کړ او زما کور ته یې راوړ. زه پدې پوهېدم چې له یوې خوا د دې سامان ساتل ګران دي او له بلې خوا ورسره نورې خبرې هم شته چې هغه به بیا ما ته ګرانې وي.

زه په رښتیا وم، د واده په درېمه ورځ مې میرمن غوښتل د ځینو سامانونو په استعمالولو قیودات شروع کړي، نو ما هم تلویزون ورته په لغته وواهه او مات مې کړ چې دا موضوع زما او د هغې تر منځ د جنجالونو شروع وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واده په دوهمه ورځ چې خلکو ولېده چې لوی واده و او ډېر جهيز ورته راغلی، د شپې کورته غله راغلل، خو ښه وه چې موږ ورته متوجه او بېدار وو، غله مو وځغلول، خو موږ هم د هغې کور په پرېښودو مجبور شو. ما ته دا ضرور وه چې په يو امن ځای کې اپارتمان ونيسم، چې بيا د دې سامان هلته وړل، پورته کول او ځايول يې په هغه وړوکي کور کې د خدای لوی غضب و، ځکه خو مې ترې يو څه اندازه په قصدي ډول مات او يو څه مې بېرته خسر کره ولېږل.

پدې مې هم له مېرمنې سره ژوند لا تريخ شوو. سره لدې چې تر واده وروسته زه د دې واده په زياتو اړخونو خوشحاله وم، لاکن دغه ناولي سامان زما او زما د مېرمنې ترمنځ وخت نا وخت د جنګ او جګړو سبب کېده.

ښه که زما خسرګنی د دغه سامان پرځای نغدې پيسې خپلې لورته ورکړې وای او يا يې پرې موږ ته يو کور اخيستی و او يا يو موټر، اخستی وای، څومره به ښه وای.

او که بل هېڅ نه وای چې زما خسرګنی زما خبره منلې وای او دا سامان يې ماته نه وای راکړی، هم به ښه وای، نو زموږ ترمنځ خو به دا تاو تريخوالي او جنګونه نه پېښېدل.

که ور ته ځير شوو څنګه وړې وړې خبرې چې د هغو مخکې تر مخکې حل نه وي رامنځته شوي، په واده کې د جنجالونو سبب کېږي. زه ځکه په دې زور اچوم چې ځوانان بايد دغو ټکو باندې پوه وي. دوی بايد يو د بل له کورنيو سره د ټولو شيانو او رواجونو په اړوند سپيني او واضح خبرې وکړي، يو له بل نه توضيحات وغواړي او ځان په ټولو تفصيلاتو پوه کړي. هلک او نجلی بايد د واده له دغو موضوعاتو نه خبر وي. اکثراً د هلک او نجلی د کورنيو سره خبرې کېږي؛ مګر د دوی



له خبرو نه واده کوونکي (هلک او نجلی) چې د واده مرکز جوړوي نه خبرېږي، چې بيا په پوره ناخبری کې د نورو د پټو فيصلو قرباني کېږي.

***

*[که تر واده نه وروسته يوه مېرمن غواړي چې د خپل خاوند توجه له مور، خور او ملګرو څخه د ځان په لور راوګرځوي نو بايد دا پخپله هم د مور، هم د خور، هم د ملګرو او هم د مېرمن ځای ونيسي.] (م م)*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کوژدې، واده او نکاح پېژندنه او توپیر:

زموږ ټولنه داسې یوه عنعنوي ټولنه ده چې هغه اکثراً په رواجونو چلیږي. کله کله دغه رواجونه له اسلام سره، چې زموږ د خلکو له هرڅه نه یو لوړ ارزښت دي، هم مخالف وي، بیا هم خلک له دې سره سره هغه عملي کوي.
لومړي راځئ چې د کوژدې او واده په فرق خبرې وکړو:
- کوژده د دوو کورنیو ترمنځ (او په حقیقت کې د اسلام له نظره دا باید د هغو دوو کسانو ترمنځ چې سره واده کوي) لومړنۍ موافقه وي چې دوي او د دوي کورنۍ غواړي چې د ښو او نیکو اړیکو په ټینګولو سره د موافقې په صورت کې واده وکړي. د کوژدې اصلي هدف د دواړو ځوانانو ترمنځ د لا ښه تفاهم لپاره زمینه برابرول وي، چې دوي د واده کولو او یا نه کولو لپاره یو له بل سره ښه تفاهم وکولای شي.
زموږ ټولنه یو وروسته پاتې او عنعنوي ټولنه ده، چې په دې کې ځوانان هغه شرایط او آزادي نه لري چې هلکان او نجونې سره یوځای درس ولولي، کار وکړي، ترڅو دوي له یو بل سره ښه و پېژني او هغوي ته د یو بل له خوي خصلت نه د خبریدو لپاره زمینه برابره شي. نو دا موضوع د دې سبب شوېده چې اکثراً ټاکنه او کوژدنې د ځوانانو نه په پټه د دوي په نمایندګۍ د دوي د مور او پلار له خوا ترسره کېږي. دا چې دا ښه کار دي او که بد ، د دې ځای د بحث موضوع نه ده او په بل ځای کې به پرې خبرې وشي، دلته همدومره ویل غواړم چې کوژدن د دوو کورنیو ترمنځ هغه تفاهم دي چې ټولنې ته څرګندوي چې د دوي د کورنۍ ځوانان په راتلونکي کې له کلتور او دین سره سم د یوې ښې جوړې موندلو تصمیم لري چې اصلاً دغه ټولنیز تعهد او خلکو ته د دې ښکاره کول د همدې لپاره دي چې دغه دوو ځوانانو ته په ټولنه کې دغه



حق حاصل شي چې یو له بل سره وګوري او یو د بل له خویونو او عادتونو سره بلد شي، یو د بل خویونه وپېژني او خپل ټاکلي معیارونه په اسانۍ درک کړي شي (یعنی ایا د دوي ترمنځ د خویونو یوشان والي موجود دي که نه، چې معلومه شي دوي سره واده وکړي او یا نه؟)
شریعت هم پدې ټینګار کوي چې ځوانان باید یوله بل سره لا زیات او ښه وپېژني، له همدې کبله د کوژدې او واده ترمنځ یوه موده منل شوېده چې پدې موده کې هلک او نجلۍ دواړه وکولای شي چې د واده تصمیم ونیسې او یا کوژدن ماته کړي، له دې کبله چې زموږ په ټولنه کې د ناستې او ولاړې شرایط محدود دي. په کلو کې خو له کوژدې سره سره بیا هم هلک او نجلۍ ته له یو بل سره د لیدو او خبرو کولو اجازه هم نه لري چې دا ډیر غلط او منفي رواج دي او په ضد یې مبارزه کول او د خلکو پوهول ضرور دي. مګر ځیني خلک خصوصاً چې په ښارونو کې ژوند کوي، د دې لپاره چې له هلک او نجلۍ سره د لېدلو او ناستې ولاړې جواز پېدا کړي، د کوژدې په وخت کې نکاح هم تړي چې دا یو ښه کار دي. اما زه ځوانانو ته په دې اړه جدي توصیه کوم چې له دغه اعتماد نه چې د نجلۍ کورنۍ یې په هلک باندې کوي، هلک باید ډېره مثبته فایده واخلي او د دې په عوض چې د دوي په ناستو کې یوازې د جنسي غرایزو اغېز موجود وي باید د نجلۍ او هم د خپلې ازادۍ احترام او درناوي په پوره دقت سره وکړي. پدې وسیله لومړي خپل ځان خپل شریکباڼ ته داسې ښکاره کړي چې دي ډېره توانمندي او اوچت شخصیت لري او کولای شي چې خپل جنسي هیلې تر کنترول لاندې وساتي. همدا راز ده ته د نجلۍ شخصیت او ابرو تر هر څه ډېر اهمیت لري، پدې وسیله به دي له یوې خوا هغه اعتماد چې د نجلۍ کورنۍ په ده کړي دي وساتي او له بلې خوا پدې وسیله خپلې کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د خپل لوړ شخصیت، ښو اخلاقو او د امانت ساتنې خصوصیات ثابت کړي. دا کار به تاسې سره ستاسو د واده په اړه دومره مرسته وکړي چې باور به ونشئ کړي. پدې توګه به ستاسې قدر او عزت د هغې نجلۍ په کورنۍ کې لا هم زیات شي. له بلې خوا دغه نجلۍ چې ستاسې د ټول عمر شریکبانه جوړیږي تاسې باید د هغې د غرور او عزت په لوړاوي کې هر ډول قربانۍ ته تیار اوسئ او دا په همدې وخت کې دي چې تاسې د هغوي په سترګو کې خپل شخصیت تثبیتوي.

د دغه اعتماد په لاسته راوړلو کې ټولې هغه اقتصادي او اجتماعي ګټې چې تاسې یې تر لاسه کوئ زه نشم کولای چې درته څرګندې کړم. که مو یو ځل د خسرګنۍ دا اعتماد تر لاسه کړ او وموساته، پدې سره به ستاسې نامزادې ته لا زیات وخت او چانس ورکړل شي چې له تاسو سره وګوري، پدې توګه به تاسې ښه او لا زیات وخت ولري چې:

۱- هغه لا ښه وپیژنئ او دواړه سره په ګډه تصمیم ونیسئ چې ایا واده سره کوئ او که نه؟

۲- ممکن په ګډه سره پلان جوړ کړئ چې بیا تاسو هغه غټه ستونزه چې هغه د ذوق او سلیقې مسئله ده حل کوئ، ممکن ډیر شیان په جرآت سره یو د بل په مشوره واخلئ. ممکن هغه تاسې د ډیرو شیانو د اخیستلو نه معاف یا یې په خپله واخلي.

۳- تر دې هم مهمه خبره دا ده چې ممکن ستاسې میرمن ستاسي د یو شمیر خریداریو مخالفت وکړي او د خپلې کورنۍ د ډیرو غوښتنو څخه چې ستاسو د یو شمیر اضافي مصارفو سبب کیږي، تاسې معاف کړي.

۴- له بلې خوا په ګده او مصلحت سره د کور د سامان الاتو اخیستل د دې سبب کیږي چې ستاسې میرمن په راتلونکي کې هغه خوښ کړي او



اکثراً داسې لېدل شوي چې مېره په خپله خوښه کوم شي اخېستي وي ولو که ښه هم وي کله نا کله یې میرمن نه خوښوي چې پدې توګه د دې غلط فهمۍ مخه هم نیول کېدای شي.

**۵**- تر ټولو مهمه خبره دا ده چې تاسې د ناستو ولاړو په اوږدو کې یو د بل په طبیعت او مزاج پوهېدای شئ چې څومره سره توافق کوي. که مو دا وموندله چې ستاسې ترمنځ د خوښې او انتخاب په برخه کې ډېر تفاوت دي، نو بیا هم لا وختي دي او کولای شئ چې اوس هم د واده په اړه له سره سوچ او فکر وکړئ او ترې تېر شئ.

د کوژدن او واده ترمنځ فرق هم همدا دي او د کوژدن او واده تر منځ وخت هم د همدې منظور لپاره ورکړل شوي دي. دا چې زموږ ټولنه وروسته پاتې او ډېر منفي رواجونه لري او صرف د دې لپاره چې (خلک به څه وایي) موږ اکثراً خپلې ګټې او خوښې د نورو د خیالونو قرباني کوو، د دې وضعې د بدلولو لپاره دوو اساسي کارونو ته اړتیا لرو:

اول- یو تعداد خلک باید جرآت وکړي او دغه غلط رواجونه مات کړي. دا صحیح ده چې په اوله کې به لږ څه ستونزمنه وي، تدریجاً به خلکو ته د منلو وړ وګرځي.

دوهم- هغه ځوانان چې اول د دغه ډول ناستو ولاړو امکانات ورته برابریږي، که دوي له دغو شرایطو نه سالمه فایده واخلي او د نجلۍ شخصیت او وقار او عزت او ابرو ته درناوي وکړي، ورو ورو به دغه اعتماد زیات او فایده به یې ډېرو نورو ځوانانو ته ورسېږي. زه یو ځل بیا په ځوانانو غږ کوم چې له دغې حساسې موقع څخه هم د خپل ځان او هم د خپلې ټولنې او کورنۍ په ګټه سالمه ګټه پورته کړي او پرینږدي چې د ځوشېبو جنسي خواهشات ستاسو شخصیت د هغې نجلۍ په سترګو کې او د هغې د کورنۍ په سترګو کې کم راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د واده په اړه تیاري:

ښه ده دا چې اوس تاسي پدې پوه شوو چې واده د انسان په ژوند کې تر ټولو مهم او سرنوشت ټاکونکي عمل دي، بیا دا لازم او ضروري ده چې پدې اړه باید له پوره غور او دقت څخه کار واخستل شي.

د واده په اړه تیارې په درې پړاونو کې مطالعه کیږي:

اول– دواده په اړه تیاري

دویم–واده ته تیاري

دریيم–تر واده وروسته ژوند ته تیاري

*اول– د واده په اړه تیاري:*

لکه چې مو د مخه وویل واده یوه مغلقه پروسه ده چې په پراخه پیمانه چمتووالي او لازمو تدابیرو ته ضرورت لري. د دغو تدابیرو لومړی او مهمه برخه دا ده چې سرې د واده په اړه لازم او ضروري کارونه وپېژني او د ترسره کولو تابیا یې ونیسي چې ځینې یې دا دي:

۱ - *د واده کولو عمر:*

دا باید روښانه او واضح وي چې تاسی کله او په کوم عمر کې واده کول غواړئ.

د عمر مناسب وخت یوه داسې مسله ده چې تر ډېره بریده د هرشخص په ځانګړو شرایطو پورې اړه لري، ممکن یو څوک د خاصو مجبوریتونو له مخې ضرورت ولري چې زر واده وکړي، اما ځینې نور بیا ممکن دغه ډول مجبوریتونه ونه لري، په عمومي توګه د واده مناسب عمر او وخت په اړوند لارښوونې او تفصیلات وروسته ورکول شوي، که په لنډ ډول یې ووایو: **۲۵** نه تر **۳۵** کلنۍ پورې عمر عموماً د



واده لپاره ښه او مناسب وخت دي. د وخت په لحاظ دا هم باید ووایو چې ښه خبره به دا وي چې لوړې زده کړې یې بشپړې کړې او تر **۲** یا **۳** کالو یې کار هم کړې وي.

۲ - *د واده لپاره د مناسبو مالي امکاناتو برابرول:*

بل مهم فکتور چې د واده په اړه باید پرې فکر وشي هغه د واده لپاره د مناسبو مالي امکاناتو پیدا کول دي. سره لدې چې پدې اړه هم وروسته تفصیلي خبرې شوي، په عمومي توګه باید دا ووایو چې دا به ښه خبره وي چې هلک خاصتاً د خپل واده یوه غټه برخه پیسې پخپله پیدا او هغه په واده کې او تر واده وروسته مصرف کړي. که څه هم اکثره پلرونه د زامنو د ودونو مصارف په غاړه اخلي، ښه طریقه یې دا ده چې تر واده وروسته باید هلک په خپلو پخو ولاړ او یو څه مادي امکانات یې د واده د مصارفو لپاره او یو څه نور یې تر واده وروسته د مصارفو لپاره ګټلي او خوندي کړي وي.

۳ – *د شریکباڼ د انتخاب د مسوولیت او صلاحیت معلومول:*

دا چې د هلک او نجلۍ لپاره د شریکباڼ انتخاب د چا مسوولیت او صلاحیت دي، د دې معلومول ضروري دي. سره لدې چې په افغاني ټولنه کې اکثره د دې انتخاب صلاحیت مور او پلار او خاصتاً پلار ته وي ولې دا به زموږ جدي توصیه وي چې د شریکباڼ په انتخاب کې ځوان او د هغې پلار او مور او د ضرورت په صورت کې ځینې نور نږدې خپلوان لکه ورونه او خوېندې، کاکاګان او ماماګان هم ګډون ولري، دا به ښه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې تجربې له مخې چې ليکوال ترې استفاده کړې وه او پايله يې ګټوره موندلې ده، دا به ډېره غوره او ګټوره طريقه وي چې د شريکبانو د کورنۍ انتخاب د ځوانانو د کورنۍ (مور او پلار) په خوښه تر سره شي، اما د هلک يا نجلۍ غوره کول د دوي د اولاد په خوښه تر سره شي. دا کار په دوو لارو تر سره کيداي شي:

الف- دا چې هلک او يا نجلۍ څوک د ځان لپاره د شريکبانو په توګه خوښوي او خپله خوښه بيا له خپل مور او پلار سره شريکوي او ټول بيا په ګډه سره پدې اړه تصميم نيسي.

ب- يا هم برعکس مور و پلار يوه يا څو کورنۍ خوښوي او بيا خپل اولاد (لور يا زوي) ته د هلک يا نجلۍ د خوښولو لپاره د هغې د ليدو او خوښولو چانس ورکوي. پدې توګه دا يو ګډ او شريک انتخاب راځي.

د دې طريقې ګټه په دې کې ده چې د هلک او يا نجلۍ انتخاب لپاره هم د دې ځوان نظر ته درناوي کېږي او هم يې د کورنۍ په غوره کولو کې د دوي د مور او پلار نظر ته درناوي شوي وي.



## د شريکبانو خصوصيات:

دا ډېره لازمي او ضروري ده چې هرڅوک بايد پدې پوه وي چې دي له کوم ډول شخص سره واده کول غواړي، يعنې د ده د شريکبانو خصوصيات بايد معلوم وي.

د شريکبانو په خصوصياتو کې ډير مسايل شامل دي، ځينې مهم يې دا دي:

*الف– د شريکبانو د عمر حدودات:*

بايد هلک او نجلۍ د خپل خاصو شرايطو په نظر کې نيولو سره دا تصميم نيولي وي چې دي د څومره عمر لرونکي هلک يا نجلۍ سره واده کول غواړي، چې دا عموما يوه اندازه وي نه يو خاص کال، مثلآ د ۲۰ نه تر ۲۵ کلونو پورې عمر بايد ولري، البته پدې اړه به د هر چا ځانګړې شرايط وي، په عمومي توګه ستاسې عمر نه تر پنځه کاله لاندې باندې يو عمومي ښه فارمول دي، مګر تر دې د زيات تفاوت په اړه ژور فکر پکار دي. مثلآ که ستاسې عمر ۲۳ کاله وي نو د ۱۸ – ۲۸ کلن سره واده کول يو ښه مناسب عمر دي. البته پدې اړه يو بله توصيه دا ده چې د هلک عمر بايد تر نجلۍ اقلآ ۲ کاله زيات وي. د دې مختلف عوامل دي خو يو دليل دا هم دي چې نارينه فزيکي وده د ښځو په نسبت دوه کاله وروسته وي، يعنې که نجلۍ په ۱۳ کلنۍ کې د پيغلتوب احساس کوي (اولين ځل لپاره يې حيض يا جامې راځي) نو هلک بيا په ۱۵ کلنۍ کې بلوغ ته رسيږي. د بلې خوا د نارينه منځنې عمر په افغانستان کې ۴۷ کاله او د ښځې ۴۵ کاله دي. د دې مانا به دا هم وي چې د دغو دوو کالو تفاوت په نظر کې نيولو سره ممکن د ښځې او نارينه د مرګ په موده کې وقفه ۴ کاله وي نو د دغه تناسب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر کې نیولو سره به د ښځې او یا میړه د مرګ په صورت کې د پاتې شوي شخص د کونډ توب د مودې د لنډیدو سبب هم وګرځي، چې په اجتماعي لحاظ دا یو ښه او محفوظ کار دی.

*ب– د شریکباڼ د تعلیم او تحصیل اندازه:*

هر ځوان باید پدې مشخصاتو پوه وي چې د ده د شریکباڼ څو کاله زده کړې دي او حد اقل دا زده کړې ده ته د معیار په توګه د منلو وړ دي او که څنګه. او یا دا چې زده کړې هیڅ د دې له شرایطو څخه نه دي. بیا د هماغه معیار له مخې د مناسب شخص په پیدا کولو پسې هلې ځلې کوي.

*ج– د شریکباڼ د کورنۍ اقتصادي حالت:*

د ا باید هر ځوان ته معلومه وي چې په اقتصادي لحاظ له کوم ډول یوې کورنۍ سره خپلوي کول غواړي؟ د دې لپاره لومړي باید دي په ټولنه کې د خپل ځان په مالي موقف پوه او بیا دا تصمیم ونیسي چې ایا د ځان په خیر د یو شانته کورنۍ سره خپلوي کول غواړي، که له ځان نه پورته او یا ټیټې کورنۍ سره او ترکومه حده تفاوت د دې لپاره د منلو وړ دي؟

سره لدې چې د کورنۍ ترمنځ اقتصادي ورته والي دومره زیات ټاکونکي نقش نه لري، تریو بریده موثر او په ځینو شرایطو کې په راتلونکي کې د ناراحتیو سبب کېدای شي چې دا موضوع بیا خصوصاً په هغو حالاتو کې چې د نجلۍ کورنۍ په اقتصادي لحاظ د هلک د کورنۍ په نسبت شتمنه او مالداره وي کله نا کله د ځینو ستونزو سبب ګرځي.



*د – د شریکباڼ د کورنۍ ټولنیز او سیاسي موقف:*

دا هم یو مهم فکتور دی چې باید ځوانان پدې پوه وي چې د کوم ډول ټولنیز او سیاسي موقف لرونکو خلکو سره خپلوي د ده لپاره د منلو وړ ده؟ کله کله د دغه ډول زیاتو ټولنیزو او سیاسي توپیرونو درلودل بیا د ځانګړو ستونزو سبب ګرځي.

*ه - د شریکباڼ ظاهري قد، قواره او قیافه:*

دا لازم او ضروري ده چې هر ځوان باید د خپل شریکباڼ په اړه یو شمیر خصوصیات لکه قد، قواره، قیافه، ویښتان، سترګې، د پوستکي رنګ، او نورو په هکله یو ټاکلي نظر ولري او پدې پوه وي چې له کوم ډول شخص سره واده کول غواړي؟ دا خصوصیات باید دومره واضح او روښانه وي چې یو بل چاته یې تشریح کړای شي.

و - یو شمیر نور عمومي فکتورونه لکه قوم، ژبه، منطقه، دین او نور هم د دغو مشخصاتو یوه برخه ده چې هر یو یې په تفصیل سره څېړل مشکل او غیرضروري ښکاري.

سره لدې چې دا مشکله خبره ده چې د یو ایډیل (له زړه سره برابر) کس ټول مشخصات سړي ذکر کړي، تر کوم حده چې دغه شرایط واضح او روښانه وي او په تطبیق کې یې کوښښ وشي، دا به ډیر ګټور کار وي.

د کتاب لیکوال چې لومړي واده یې له ستونزو ډک او له اړې ورځ یې هغه مات کړ او بیا یې دوهم واده وکړ، د لومړي واده لپاره یې پنځه روښانه شرایط په نظر کې درلودل. ( ۲۳مخ وګوری ) ، بیا هم پدې وتوانید چې دوه یې ترې عملي او پاتې درې نور یې پوره نشو کړای. چې ممکن د هماغو نه تر سره کیدل دده د واده د ناکامۍ سبب هم شوي وي، ځکه خو یې په خپل دوهم واده کولو کې پدې شرط ډیر ټینګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده چې: لومړي باید داسې ښځه وکړم چې عمر یې اقلاً تر ۲۸ کالو لوړ وي.

دوهم دا چې زه باید نجلۍ سره پخپله وګورم او نجلۍ له ما سره پخپله موافقه وکړي. سره لدې چې د دغه شرط پوره کول ډېر ګران کار وو او دا هم ممکن د دې سبب شوي وي چې د ځینو ښو کورنیو له نجونو سره د واده کولو نه به محروم شوي هم یم، دا زما لپاره ځکه مهمه وه چې ما نه غوښتل د نه لیدو په صورت کې وروسته زما ښځه په خپل انتخاب پښېمانه او په ژوند کې ستومانه وي. زه او ښځه مې چې اوس له خوښۍ ډک او ښه ملګري ژوند لرو ممکن غټ دلیل یې همدا وي چې هغې زه تر واده او کوژدې وړاندې لیدلی وم او ما هغه لیدلې وه او دواړو د یو بل په غوښتنو قناعت کړی و.

د ځوانانو لخوا د دغو شرایطو معلومول او هغه له مور او پلار او نورو خپلوانو او ملګرو سره شریک کول دوه ګټې لري، لومړي دا چې دا کار تاسې او ستاسې د کورنۍ نورو غړو ته چې ستاسو لپاره د ښځې پیدا کولو پسې تلاش کوي ښه لارښود ورکوي او پدې ډول به هغوی بې ځایه د دغه چوکاټ نه بهر د چا پسې خواري او تلاش نه کوي. د بلې خوا دا له تاسې سره هم مرسته کوي چې د یو چا د قبلولو او یا ردولو په اړه په اسانۍ سره تصمیم ونیولی شئ، دا ځکه چې که د هر چا له خوا کوم پیشنهاد راشي تاسې هغه د احساساتو له مخې نه بلکې د یو فارمول له مخې یې تحلیلوئ، که یې ستاسو له مقراراتو سره سمون وخوړ قبلوئ یې او کنه نو ردوئ یې. خو دا خبره ډېره مهمه ده چې دغه خصوصیات باید تاسې مخکې تر مخکې په ارامه فضاء او ښه سوچ او فکر سره جوړ کړئ او یوه ځای کې مو چې همیش درسره محفوظ وي لیکلي وي.



سره لدې چې سل په سلو کې به ستاسې له غوښتنو سره برابر ځوک پیدا کېدل ګران کار وي، د دغه چوکاټ لرل بیا هم تاسې سره ښه کومک کولای شي. هو، دا هم مهمه ده چې په هرې برخه کې باید تر یوه حده انعطاف پذیرۍ ته حاضر واوسئ. مثلاً: که یو ځوک ستاسې د شرایطو په سلو کې سل نه، اما ۷۰-۸۰ سلنه شرایط ولري، دا به د ردولو وړ نه وي او یا هم یو ځوک په یوه برخه کې ستاسو له شرایطو څخه لږ کم اما په نورو برخو کې برابر وي، تاسې باید په هغې برخه کې یو څه نرمښت ولرئ.

**۵**- *د شریکبانو د واده نه مخکې تعهدات.*

کله چې تاسې په خپلو کې دغې موافقې ته ورسیدئ چې یو شخص هلک یا نجلۍ سره تاسې د واده کولو لپاره اماده یاست او ور سره مو لیدنه کتنه وشوه او تاسې دواړه یو و بل ته په فزیکي لحاظ د منلو وړ یاست؛ نو بله مرحله دا ده چې تاسې باید یو د بل څخه خپلې اساسي غوښتنې او هیلې په واضح او مشخصه توګه حتې د امکان په صورت کې په لیکلي توګه سره شریکې کړئ چې دواړه خواوې د مقابل لوري په غوښتنو پوره غور وکړي او د هرې یوې په وړاندې خپل دریځ او موقف په تعهدي ډول یا په لیکلي توګه څرګند کړي.

د دغو ټولو مسایلو لپاره اول کار به دا وي چې تاسې ته خپل ارزښتونه روښانه او معلوم وي. یعنې تاسې هریو دوه لستونه، یو هغه ۱-**۵** غوښتنې چې تاسې یې له خپل شریکبان څخه غواړئ او هغه به یې همیش نه کوي مثلاً (ما ته به ښکنځل نه کوي، ما به د خلکو په وړاندې نه تهدیدوي، زما مور او پلار ته به بد رد نه وایې، ما به له کار کولو څخه نه منع کوي، ما ته به په میلمنو نه غوربېږي) او همدا راز ۱-**۵** هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور شیان چې تاسې یې له خپل شریکباڼ نه غواړئ چې هغه به یې همیش کوئ مثلاً: (زما د مور او پلار احترام به ساتئ) او داسې نور. نو دا لست به هم ترتیب او یو له بل سره به تبادله کړئ.

دا ستا سو لپاره همدا اوس ښه چانس دي چې خپل شریکباڼ په یو لړ داسې اصولو سره وتړئ چې بیا به هغه ستاسې تر واده وروسته ژوند کې ډیرې اسانتیاوې راولي؛ ځکه ستاسې شریکباڼ به په یو لړ قیوداتو او ژمنو چې تاسې ته ارزښت لري تړل شوي وي او بیا به ترې ورته تجاوز کول ګران کار وي. د دغو تعهداتو په اړه باید ډیر تاکید وکړئ چې مقابل لوري یې په پوره غور او دقت ولولي او یوازې د هغو غوښتنو سره یې موافقه وکړئ چې تاسې یې سل په سلو کې منلو ته تیار او په ځان کې یې چمتووالي ګورئ. هیڅکله هم هغه شرطونه و نه منئ چې تاسې یې د عملي کولو چمتووالي نه لرئ.

کوښښ وکړئ چې د دغو تعهداتو تبادله لمړي په لیکلي توګه ترسره کړئ او که دا ممکنه نه وه؛ نو بیا یې اقلاً په لفظي توګه په واضحو جملو کې سره تکرار کړئ. مثلاً: تاسې مقابل لوري ته ووایئ، ایا تاسې زما هیلې او غوښتنې ولوستې؟ پرې پوه شوئ؟ که یې وویل: هوو ما ولوستې او پرې پوې شوم او زه یې منم؛ نو بیا ورته د خپل لست له مخې هغه یوه په یوه په واضح ډول ووایئ او که ضرورت و ورته یې تشریح کړئ او ځواب یې له ځان سره په یو کاغذ کې یا داشت کړئ او که ممکن وه دغه خبرې ټایپ هم کړئ او بیا یې په کور کې د یاداشت په کتابچه کې وساتئ.



## دویم مقابل لوري سره فزیکي کتنه:

موږ او تاسو پدې پوهیږو چې افغانستان یو اسلامي او عنعنوي ټولنه ده چې ځانته ځانګړې شرایط لري، پدې کې ځینې داسې غلط شرایط هم شته چې هغه نه اسلامي دي او نه انساني، مګر هغه ناقص افغاني شرایط دي، دا ضروري نده چې تاسې ځوانان دې د هغو ناوړه کلتوري او غیرې اسلامي رواجونو قرباني شئ.

د بېلګې په ډول: د واده نه تر مخه د هلک او نجلۍ د لیدو موضوع، هغه موضوع ده چې د اسلام د مقدس دین کې هم پرې په کلکه تاکید شوي چې هلک او نجلۍ باید له نامزدۍ نه د مخه له یو بل سره وګوري او په کلتوري لحاظ هم دا ایو ښه کار دي؛ مګر د نامعقول کلتور په وجه یو نا منل شوي عمل ګڼل شویدي. موږ پدې وسیله له ټولو مېندو او پلرونو نه هیله، کوو چې د اسلام د مقدس دین د احکامو مطابق او له انساني سالم کلتور سره سم په افغاني دغه ناوړه دود کې د یوه مثبت بدلون په غرض د خپلو اولادونو په مقابل کې خپل اسلامي او انساني وظایف په درسته تشخیص او ادا کړي- د خپلو اولادنو تر کوژده کولو وړاندې د هلک او نجلۍ ترمنځ د یوې موزونې ناستې او لیدنې کتنې شرایط برابر کړي- دغه راز مو له ځوانانو هیله دا ده چې پدې کتو راکتو کې د والدینو هغه اعتماد چې یې په تاسې کوي په پوره توګه وساتئ او د نورو جنسي غرایضو په عوض یو د بل په فزیکي کشش او علاقمندي توجه وکړئ او د هغه شخص رویه رویش او سلوک وارزوي. باید پدې کتنه کې پوره دقت وکړئ چې د مقابل لوري درنښت، ربښتینولي او ستاسو د پوښتنو په وړاندې د صادقانه او ښو ځوابونو ورکولو ته متوجه و اوسي نه دا چې نورو جنسي غوښتنو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څومره چې تاسې پدې مرحله کې خپل اخلاقي معيارات او لوړ وساتئ په هماغه اندازه به تاسې لا زيات د مقابل لوري د احترام، درناوي او د خپلې کورنۍ او د مقابل لوري د کورنۍ د لازيات باور وړ وګرځئ. دا کار به نه يوازې دا چې تاسې ته په راتلونکې کې د لاښو او اوږدو ليدو کتو زمينه برابره کړئ، بلکې ستاسې او نورو والدينو په زړونو کې چې کومه ويره او هيبت د دوو ځوانانو د کتو په اړه شته هغه به ورو ورو کم او د لا زيات باور رامنځته کولو فضا جوړه کړي چې ځوانان په مينه يو بل سره وګوري.

دريم- تر واده وروسته د مهمو موضاعاتو په اړه د نظرياتو تبادله

يو لړ موضوعات داسې وي چې اکثراً تر واده وروسته که څه هم کوچني وي، د دې کبله له چې په کور او کورنۍ کې هره ورځ تکراريږي کولای شي د خاوند او مېرمن ترمنځ د دوامداره لفظي مشاجرو سبب شي او بالاخره دا وړې مشاجرې د مينې د کموالي او بيا د مايوسۍ، نا اميدۍ او بې علاقګۍ سبب شي او دغه موضوعات بيا يو خوا يا دواړه خواوې يو لړ نورو مسايلو ته وهڅوي چې هغه بيا لا نور هم د ښځې او مېړه ترمنځ مناسبات خراب او په پاي کې د ودونو له ناکامۍ او جنجالونو څخه د ډک ژوند سبب کېږي. د مثال په ډول: يوه ښځه ځانګړې علاقه لري چې زيړ رنګ جامې پرتن کړي يا تېز بويه عطر استعمال کړي، پداسې حال کې چې مېړه يې ژېړ رنګ يا تېز بويه عطر نه دا چې نه خوښوي، بلکې ورڅخه نفرت هم لري. دې کې خو د يوه ګناه هم نده لېکن دا د دوي هر يو طبعي خصلت او خوښه ده، که دوي سره واده وکړي پکار ده چې بيا ښځه هغه خپل دوه په زړه پورې شيان (ژېړ رنګ جامې او تېزعطر) بالکل پرېږدي او يا خو يې خاوند بايد هره ورځ دغه مصيبت وزغمي او په خپل ځان فشار راوړي. پدغو دواړو



صورتونو کې يو له دې وګړو به ځان تر فشار لاندې محسوسوي او دا کينه به زړه کې اړوي راړوي او بالاخره به دا د دوي ترمنځ د مينې د کموالي سبب ګرځي. مينه د هر انسان ضرورت دي او ښځه او خاوند دواړه د يو بل مينې ته ضرورت لري چې دا مينه بايد په مختلفو شکلونو ورته ور وښودل شي. کله چې د يو لوري مينه کمه شوه هغه بيا دا مينه له بل ځاي نه تر لاسه کول غواړي چې دا بيا د لازياتو خرابو چارو او جنجالونو زمينه برابروي. دا به ډېره ګټوره وي چې يو لړ داسې موضوعات له واده څخه پخوا لا بحث شوي وي او په اړه يې سره موافقه شوې وي او يا هم دا موضوعات چې اختلاف پيدا کوونکې دي بايد دومره زيات نه وي چې ستاسې راتلونکې ژوند پريشانه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یوې سالمې کورنۍ د جوړښت لپاره مشورې او نظریات:

۱. کوښښ وکړئ چې یو څه مناسب مالي امکانات د یوې مودې (۲-۳ میاشتو) لپاره د ځان او یا هم د عاجلو پیښو لپاره خوندي وساتئ.

۲- په واده کې له قرض کولو خصوصاً له لنډ مهالي قرضدارۍ ځان وژغورئ.

۳- د کور د ضرورت وړ شیان لست کړئ او هغه د لومړیتوب له مخې په درې برخو (ډېر ضروري، ضروري، او غیر ضروري) وویشئ او هغه په همدې ترتیب په تدریجي توګه واخلئ.

۵- خپل شریکباڼ سره خپله اقتصادي وضعه په ربښتیني توګه شریکه کړئ او د ضرورت په صورت کې ترې پدې برخه کې د ګذارې کولو غوښتنه وکړئ.

۶- د خپل راتلونکي ژوند لپاره د کور او موټر اخستلو په شمول د ټولو شیانو لپاره یو واضح پلان جوړ او هغه له خپلې مېرمنې سره شریک کړئ او پرې ټینګ عمل وکړئ.

۷- د خپل شریکباڼ، ماشومانو او نورو خپلوانو هر یوه سره په احترام او ادب خبرې او برخورد وکړئ.

۸. خپلې کورنۍ سره د ډوډۍ خوړلو، تفریح، د خپلوانو د لیدلو او نورو کارونو لپاره یو منظم تقسیم اوقات او روښانه رول او اصول ولرئ چې د کورنۍ هرغړی پرې خبر او پوه وي.

۹. کار، خپلوانو او ملګرو سره د ارتباطاتو د لیدنو کتنو نه علاوه د خپلې کورنۍ لپاره ځانګړی وخت ولرئ.

۱۰-- هر مازیګر له دندې یا کار وروسته خپلې میرمنې او ماشومانو سره د ساعت تېرۍ یا تفریح لپاره یو څه وخت او ټاکلې مهالویش ولرئ.



۱۱-- د کور له غړو سره ټوکې، ټکالې او شریکې لوبې وکړئ. اکثراً هغو ته د لوبو د ګټلو چانس ورکړئ.

۱۲. حد اقل د ورځې یو وخت ډوډۍ باید سره ټول په ګډه وخورئ. د ډوډۍ خوراک په دعا پیل او په دعا ختم کړئ.

۱۳. په خپله ښځه هر اړخیزه یاوور وکړی او هغه و هڅوی چی ته له ما ښه کولای شی چی د کور مالی او اداری چاري اداره کړې.

۱۴- د هرو ښو مالي او اداري چارو په ترسره کولو سره هغه وستایئ، کوښښ وکړئ چې هغه د کورنۍ د نورو غړو په وړاندې په ځانګړې ډول د هغې د خپلوانو په وړاندې ډېره وستایئ.

۱۵. که کومه تېروتنه ترې وشوه هغه ور ته په ډېر احتیاط متوجه کړئ په ځانګړې ډول د دې متل کارول به ګټور وي چې لوښي هغه څوک ماتوي چې یې پرېمینځي. هر عمل د اشتباه سره مل وي چې څوک هېڅ عمل نه کوي نو اشتباه به له کومه ځایه وکړي. خو راځه چې اوس پدې خبرې وکړو چې څرنګه کولای شوو د داسې تېروتنو مخه په راتلونکي کې ونیسو او دا باید د دې سبب نه شي چې ته د دې کار د غزولو څخه لاس واخلې.

۱۶- د کور په کار کې له خپلې میرمنې سره برخه واخلئ.

۱۷. نوي واده شوي ځوانان باید دې ته پرې نږدو چې مادي ستونزې د دوی ترمنځ د جګړو زمینه برابره کړي، بلکې دوی باید خپلې مادي ستونزې یو له بل سره په روښانه توګه شریکې کړي او پرې بحث وکړي او د حل په برخه کې دواړه خپله ونډه روښانه کړي. د بېلګې په بڼه: که د یوې خوا هلک کولی شي چې د کار ساعتونه زیات کړي له بلې خوا ښځه هم کولای شي چې یا د یو کار په کولو او یا هم د کور په مصارفاتو کې د کمښت په راوړلو دغه فشار په کورنۍ باندې کم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸. اکثراً میړونه نه غواړي چې ناوې دې د ده له اقتصادي مشکل نه خبره شي؛ ځکه دوی فکر کوي چې دا به بیا د هغوی په سترګو کې د دوي قدر او ارزښت کم کړي. متاسفانه دا ښه خبره نه ده، ځکه که میرمن د خاوند په ستونزو پوهه نه وي هغه نشي کولای چې په ګټوره توګه ورسره د ستونزو په حل کې برخه واخیستي شي او برعکس ممکن د ستونزو د لازیاتوالي سبب وګرځي. د بېلګې په توګه که ښځه د میړه له اقتصادي مشکل نه پوره خبره نه وي، بیا هغه ممکن د کور د ښکلا لپاره غیر ضروري شیان واخلي چې هغه بیا د میړه لپاره د خوښۍ پرځای د لا پرېشانۍ زمینه برابروي. ښځې چې هغه د خپل کور د ښایست او د خپل میړه د خوښۍ لپاره اخیستي وي او ګوري چې میړه یې نه دا چې د هغې د دغه ابتکار قدر نه کوي، بلکې برعکس د هغه د خفګان سبب کیږي، د میړه د عدم علاقې د اصلي علت د نه پوهیدو له کبله هغه فکر کوي چې ممکن میړه یې ورسره د بې مینې توب په وجه د دې د دغه ابتکار قدرداني نه کوي او پدې توګه دا بیا د دوي ترمنځ د سوء تفاهماتو، شکونو، تردیدونو او اختلافاتو د لا زیاتوالي سبب کیږي. د بېلګې په ډول: که ښځه د میړه له اقتصادي ستونزو خبره نه وي، ممکن هغه په بازار کې د کور د ښکلا لپاره یو شمېر داسې قیمتي شیان واخلي چې د دوي له اقتصادي توان سره برابر نه وي او کله چې یې کورته راوړي، په خاوند یې د اقتصادي فشار له امله داسې وضعه حاکمیږي چې هغه د دغه څیز هرکلي په هغه شان نشي کولای لکه څنګه چې یې د ښځې ارزو وي. د میړه له خوا د دغه څیز ناچیزه ګڼل بیا ښځې ته د دې شک ور پیدا کوي چې دا د هغې په لاس د څیزونو د اخستلو او په نهایت کې له میرمن سره د خاوند د نه



مینې لرلو شک پیدا کوي او د نورو ډېرو ناسمو تعبیراتو لمن لا هم پراخیږي.

۱۹. -تر واده وروسته تدریجاً د ښځې او خاوند عمر زیاتیږي، طبیعي ښکلا او انرژي یې کمیږي، د دوي اولادونه زیږي او پدې توګه د دوي مینه چې پخوا یوازې د دوي ترمنځ وه یوه برخه یې د اولادونو خواته منعکس کیږي چې دا بیا په طبیعي توګه د ښځې او خاوند په منځ کې د مینې د کموالي احساس منځته راوړي. دوي باید دا خبره یو بل ته واضح کړي چې اوس یې په مینه کې بدلون راغلي نه دا چې کمه شوې ده.

۲۰- اوس ممکن مېرمن د بچیانو د مسوولیتونو له کبله زیات وخت ونلري چې خپل ځان او خپل نظافت او ښکلا ته هغسې توجه وکړي لکه چې پخوا به یې کوله، دا بیا حتماً د هغې په ښکلا، جذابیت او مینه کولو کې اثر اچوي او پدې توګه یې د خپل خاوند په وړاندې جذابیت او کشش کې کموالي راځي چې دا حالت په غیر مستقیمه توګه د دوي ترمنځ د مینې د کموالي سبب هم کیدای شي. دا مهمه خبره ده چې د یوې خوا ښځې باید ورته متوجه شي او له بل اړخه میړونه د موضوع په اصلي علت پوه کړای شي چې د ناسمو تعبیراتو مخه ونیول شي.

۲۱- د وخت تېرېدل، د بچیانو زیږول او روزل یوه طبیعي پیښه ده چې هغه باید میړونه د یو واقعیت په توګه په نظر کې ولري او پرې نږدي چې دا د ده او د ښځې ترمنځ د مینې د کموالي سبب وګرځي. یو متل دي چې وایي داسې نشي کیدای چې(زامن مې دې څلور او ښځه مې دې نجلۍ وي.) نو دا ضروري ده چې د بچو راوړل د ځوانۍ له ښکلا سره تبادله کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲- ښځو ته توصیه کیږي چې باید د اولادونو په راوړلو سره دوی له خپل پاکوالي او ښکلا نه ناخبره پاتې نشي؛ بلکې د خپلې ښکلا هغه ځلاوالی چې د وخت په تیریدو سره له منځه ځي هغه د ځنې نورو مثبتو تغییراتو په راوړلو سره لکه نوې او ښایسته جامې اغوستل، ښایسته او ژر ژر مک آپ کول، د ویښتانو جوړول او د بدن د ښایست د نورو وسایلو نه په استفادې د خوب په کوټه او بستره کې د زړه راښکونکو او دلچسپو بدلونونو په راوړلو او خپل خاوند سره د مینې او محبت په نویو طریقو سره د خپل خاوند مینه او توجه د خپل ځان په برخه کې ګرمه وساتي.

۲۳. د (ته اوس زما مال یې) روش او سلوک یو بل ناوړه عمل دی چې ممکن د ښځې او خاوند په منځ کې د مینې په کموالي اثر واچوي. له واده څخه ترمخه هلک او نجلۍ یو له بل سره کتنه د مینې په خاطر کوي، تر واده وروسته هر یو د خپل ملګري په هکله داسې فکر کوي چې (دا دي ته نو اوس زما مال یې) ته خو اوس چیرته را څخه تللی هم نه شې او چې اوس زه څه وایم ته باید هغه ومنې. دا هغه فکرونه دي چې د مقابل لوري مینه او علاقه راکموي. نو اړینه ده چې دواړه (ښځه او خاوند) باید له دغه ډول برخورد او سلوک څخه د یو او بل په مقابل کې په کلکه ډډه وکړي. دغه راز باید خپل روش او سلوک همیش داسې څرګند کړي چې زه تا غواړم، زه تا ته ضرورت لرم او ته ما ته خاص ارزښت لرې. نو نه یوازې دا چې د سړي او ښځې په خیال کې باید دا ډول کلمات وي، بلکې په خوله او ښکاره ویل یې هم خورا ګټور او د مینې په زیاتوالي کې خورا مرسته کوي.

۲۴. بې ځایه حیا کول: کله کله خصوصاً نارینه داسې فکر کوي چې له خپلې میرمنې سره مینه کول، د هغې ښکلول او یا هغې ته د یوې تحفې



راوړل بد سترګي او بې حیایي ده. نه، هېڅکله هم نه، دا یوه فوق العاده ناسمه مفکوره او منفي نظر دی. دا ډېره ګټوره ده چې خاوند خپله ښځه همیشه وستایي، هغه د خپل مور او پلار او نورو خپلوانو په وړاندې تقدیر کړي، ورسره مینه وکړي او هغې ته وخت په وخت تحفې راوړي. یوه تحفه ولو که ډېره وړه هم وي چې په اخلاص میرمنې او یا خاوند ته ورکړل شي، هغه د یوه او بل په وړاندې مینه او محبت کې زیاتوالي راولي. خو ښځې یا خاوند ته د تحفې په راوړلو کې باید له احتیاط څخه کار واخستل شي؛ ځکه دا تحفې معمولاً قیمتي وي او دوام ورکول یې بیا کله مشکل وي او بیرته قطع کول یې هم ښه کار نه دي او هم شکونه را پیدا کوي. نو پدې اړه به ښه مشوره دا وي چې د تحفو ورکول، کله نا کله، ناڅاپي او د حیرانتیا وړ او توقع خلاف وي او له بل اړخه یې قیمت باید مناسب وي چې سړي یې د بیا بیا اخیستلو توان ولري. د ماشومانو په وړاندې د خپلې ښځې ښکلول او له هغې سره مناسبه مینه کول حتي د ماشومانو د ډېرې خوښۍ سبب ګرځي.

۲۵. شریکبانو سره واضحې او ښکاره خبرې کول او د غیر مستقیم عکس العمل نه ډډه کول:

یو له هغه عواملو څخه چې د دوو شریکبانو ترمنځ د اختلافاتو عمده سبب کیږي هغه یو بل سره د موضوعاتو او مسایلو په باره کې په واضحه او روښانه توګه خبرې نه کول دي. د بېلګې په ډول: که ښځه له خاوند څخه پدې وجه خفه شي چې خاوند یې ورته د اختر لپاره جامې ندي کړي، بیا ښځه دغه موضوع له خاوند سره نه شریکوي او د دې په عوض سبا ماښام د ډوډۍ په وخت کې هغه وید ېږي. دې ته غیرمستقیم عکس العمل یا مرورتیا وایي او یا هم د دې لپاره چې خپل خاوند پرې خفه کړي، خپل ماشوم ناحقه او بغیر له کوم موجبه په څپیړه وهي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ته ناموزون یا غیر مستقیم عکس العمل ویل کیږي. دغه ډول حادثات په کورنیو کې زیات پیښیږي او یو بل شکل یې هم خپل زور له داسې یو څیز څه ویستل دي چې هغه ضعیفه وي. مثلاً د قهر په صورت کې د ماشومانو وهل، رټل یا د دروازې په زوره او درب سره بندول دا ټول ناموزون او د غیر مستقیم عکس العمل شکلونه دي.

دغه ډول عکس العملونه نه یوازې دا چې اصلي مشکل نشي حلولای، بلکې پر اصلي مشکل نه سربېره د مقابل لوري د لاغوسه کیدو، قهر او خفګان او د نور جدي عکس العملونو زمیني برابروي. پدې برخه کې سپارښتنه دا ده چې د یوه نه منونکي عمل د توقف او اصلاح لپاره باید عکس العمل اصولي، نیغ په نیغه او د ښه سلوک له لارې مطرح شي. او په رښتینې توګه په هماغه اصلی عامل باندی بحث وشی، نه دا چې په نورو فرعی او غیر لازمی مسایلو باندی.

*د خراب عمل په مقابل کې خراب عکس العمل هیڅکله هم خراب عمل نشي اصلاح کولای، بلکې شدت او تکرار یې لا نور هم زیاتوي.*



## د واده مناسب شرطونه:

اول- د واده مناسب وخت یا عمر:

په مختلفو ټولنو کې ځوانان د عمر په مختلفو مرحلو کې ودونه کوي، د واده لپاره د یو مناسب وخت انتخاب د واده په موفقیت کې زیات اغیزمن دی. د هغې څېړنې په پایله کې چې پدې برخه کې ترسره شوی د واده لپاره مناسب وخت هغه دی چې هلک او نجلۍ خپل تحصیلات تکمیل کړي وي، خصوصاً هغه ځوانان چې د لوړو زده کړو توان او علاقه لري باید له پوهنتون څخه تر فراغت پورې خپل واده وځنډوي او که د پوهنتون د شاملیدو هیله نه لري نو کله چې له (۱۲) ټولګي څخه فارغ شي، ځان ته یو کار او مصروفیت پیدا کړي او د یو څه مادي امکاناتو خاوند شي نو بیا به د واده کول ګټور وي.

*له تحصیل څخه تر فراغت وړاندې او په اقتصادي لحاظ په خپلو پښو د ودرېدلو نه مخکې ودونه که څه هم چې مور او پلار یې زیات پیسه دار هم وي، ښه نتیجه نه لري.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تعلیم په دوره کې د واده کول درې عمده ستونزې را منځته کوي:

۱- ممکن شخص د خپل واده د مسوولیتونو په وجه د خپل تعلیم په برخه کې توجه لږه کړي او پدې توګه يې تعليم نيمګړی پاتې شي.
۲- د دې له کبله چې دې زيات وخت په تعليم مصروف پاتې کيږي ممکن د خپل ژوند ملګري ته هغسې توجه ورنکړای شي ، چې د دوی د نوي واده له کبله دوی يو بل ته مکلفيت لري. همدا راز له پوهنتون څخه د فراغت عمر عموماً د (۲۲) کلنۍ څخه پورته وي پدې عمر ځوانان هم په جسمي لحاظ او هم په ذهني لحاظ له واده څخه ښه لذت پورته کولای شي. دغه راز پدې عمر کې دوي يو څه پر خپل ځان اتکا او تحمل پيدا کوي چې د واده او شريکانو په وړاندې د حوصلې او زغم لپاره زياته مرسته کوي.
ولې د واده لپاره ښه عمر به دا وي چې له (۳۵) کلونو څخه زيات نشي، ځکه پدې صورت کې د يوې خوا بدني نيمګړتياوې د واده لذت کموي او له بلې خوا خصوصاً په نجونو کې تر (۳۵) کلنۍ وروسته د ماشومانو زيږول له يو لړ صحي ستونزو سره ملګري وي، پدې توګه سپارښتنه کيږي چې د واده په وخت کې د (۲۲-۲۵) کلونو پورې عمر به ښه عمر وي.
۳:- د تحصيل تکميل د مالي بنياد د پياوړتيا سبب کيږي. د واده کولو په وخت کې بايد واده کوونکي په اقتصادي لحاظ په خپل ځان متکي وي. کله چې ځوانان خپل تحصيلات تکميل کړي او د يو کار او مصروفيت خاوندان شي، ممکن خپل مستقل اقتصادي امکانات ولري.



## دويم- مالي استقلاليت:

د عمر ترڅنګ اقتصادي حالت هم خورا زيات ارزښت لري. مستقل اقتصادي امکانات د ده او د ده د ژوند د شريکانو پوره ازادۍ ته ښه زمينه برابرولای شي. که نوې واده شوې جوړه ښه اقتصادي امکانات ولري، دوي به مجبور نه وي چې د اقتصادي مجبوريتونو په لحاظ د يو او بل د کورنۍ ځينې بې ځايه قيودات په ځان ومني. که څه هم اکثراً د هلک پلار او مور د خپل زوی د واده زيات مصارف تهيه کوي ليکن دا د توجه وړ خبره ده چې بايد هلک د خپلې شخصي مالي ځواک په اساس او تکيه خپل واده او د خپلې ميرمنې ورځني ضروريات او اړتياوې پوره کړای شي. دا په کلکه توصيه کيږي چې هر ځوان بايد له واده څخه د بر مخکې په خپلو اقتصادي چارو کې په خپل ځان متکي شوی وي او ښه به دا وي چې حتی د خپل واده ټول مصارف او که نه نو يوه زياته برخه يې له خپلو عايداتو څخه ترسره کړي او تر واده وروسته هم د يو څه اقتصادي امکاناتو لرونکی وي، چې له واده سره سم له اقتصادي فشارونو سره مخ نشي. ښه به دا وي چې تر واده وروسته د يوې تفريحي رخصتۍ لپاره مصارف او د ځينو عاجلو ضرورتونو لپاره يې يو څه مادي امکانات جدا ذخيره ساتلي وي. تر واده وروسته تفريحي رخصتي خورا ضروري او د واده په ټينګښت کې مثبت اثر اچولی شي، ځکه پدې توګه له خپل شريکانو سره يو ځای او له نورې کورنۍ څخه جدا د وخت يوه برخه ګډه تېرول دواړو ته د دې چانس ورکوي چې يو د بل په خوي او عادتونو پوه شي او په خپلو کې نظريات او توقعات په روښانه توګه تبادله کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د واده په انتخاب کې مهم ټکي:

د واده په انتخاب کې عمده فکتورونه چې باید په نظر کې ونیول شي په لاندې برخو کې یې مطالعه کوو:

## الف- شریکباڼ پورې اړوند فکتورونه:

دا هغه فکتورونه دي چې هر ځوان یې باید د خپل شریکباڼ په باره کې په روښانه توګه وڅېړي.

۱.د شریکباڼ شکل:

باید دواړه لوبغاړي د یو او بل لپاره ښکلا تمثیل کړای شي. (ښکلا ) یوه داسې کلمه ده چې ځانګړې تعبیر، تفسیر او تعریف نلري. ښکلا د هر چا له نظره فرق کوي. دا په کلکه توصیه کیږي چې له واده څخه تر مخه باید هلک او نجلۍ سره وګوري او یو او بل ته د هغه د فزیکي جوړښت له کبله متمایل او مینه وال وي؛ ځکه هغه ودونه چې د ښکلا او مینې په اساس شوي وي اکثراً ښه دوام کوي او مؤفق وي.

۲. د شریکباڼ ذهني تمایل:

پر ښکلا سربېره باید دواړه لوبغاړي د یو او بل په باره کې یو څه معلومات ولري چې د هغوی کړه وړه، ناسته او ولاړه او ورځني سلوک یو بل ته روښانه شي او یو بل ته د قبلیدو وړ وي. په دې اړه زموږ د ذهني او سلوکي مشابهتونو ازموینه اخیستل د دوي په ذهني توافق پیژندنه کې ډېره مرسته کولای شي.

۳.د شریکباڼ تعلیمي او اقتصادي ورته والی:

باید کوښښ وشي چې په نسبي توګه د دواړو لوبغاړو ترمنځ د تحصیل، مسلک او اقتصادي حالت له مخې یو څه ورته والی وجود



ولري. ډېر زیات اختلافات پیدې اړوند ممکن وروسته د اختلافاتو د پیدا کیدو او مشکلاتو زمینه برابره کړي.

۴.د مزاج او دلچسپیو ورته والی:

ښه به دا وي چې دواړه شریکباڼ د ځینو ټولنیزو او ورځنیو کړو وړو او روشونو په باره کې هم ورته والی ولري. د بېلګې په ډول، یا به دوي دواړه مېلمه پال وي، که یو تن زیات میلمه پال او بل تن لږ یا هیڅ میلمه پال نه وي ممکن دا د دوی ترمنځ په راتلونکی کې د اختلاف پیدا کیدو زمینه برابره کړي. یا برعکس که یو تن خصیص او کنجوس وي او نه غواړي چې یوه روپۍ هم مصرف کړي او بل تن بیا پراخ لاسی او زیات مصرف کوونکی وي دا رنګ حالت هم هم کولای شي د دوي ترمنځ د اختلاف زمینه برابره کړي.

۵.د عمر نږدې والی:

دا ډېره ضروري خبره ده چې د هلک او نجلۍ عمر باید سره نږدې وي. که هلک له نجلۍ څخه تر څلورو کلونو پورې مشر وي ښه خبره ده، ځکه چې یو خوا د هلک بالغېدل وروسته صورت نیسي او له بل اړخه د ښځې عمر هم د نارینه په نسبت زیات وي، دا به بیا د نارینه د مړینې په صورت کې د ښځې د کونډیتوب موده لنډه کړي. ولې په هر صورت د (۱۰) کلونو څخه زیات توپیر باید په جدي توګه ارزیابي کړای شي.

۶.سیاسي نظریاتي ورته والي:

سیاست زموږ د ژوند یوه مهمه برخه ده او هره ورځ موږ له داسې مختلفو مسایلو سره مخ کیږو چې باید پرې سیاسي نظر ورکړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتې د یو مشخص نظر پلوي وکړو. دا چې موږ د سیاسي پېښو د پېښېدو په اړوند کوم کنترول نه لرو، اخبار، راډیو، تلویزون او نور مطبوعات هره شیبه داسې سیاسي موضوعات راسپړي او پرې بحث کوي چې موږ ممکن پرې مخالف نظریات ولرو؛ نو که ښځه او خاوند یې دوه جلا حتې متضادې نظریې ولري، دا اکثراً د ښځې او خاوند ترمنځ د مشاجرو او مخالفتونو سبب کیږي.

## دوهم- کورنیو پورې اړوند فکتورونه:

څرنګه چې واده، نه یوازې چې د ښځې او خاوند شریک ژوند وي، بلکې دا د دوو کورنیو ترمنځ د خپلوۍ، ناستې او ګډ ژوند زمینه برابروي، دا ډېره مهمه ده چې د ښځې او خاوند په انتخاب کې د دواړو کورنیو ترمنځ ځینې مشابهتونه وجود ولري او که نه نو بیا دا به په راتلونکي کې د دواړو کورنیو د مناسباتو او بالاخره د ښځې او خاوند په مناسباتو باندې مستقیمې اغیزې کوي. کورنۍ پورې اړوند فکتورونه په لاندې ډول دي:

۱. اقتصادي ورته والی:

ښه به دا وي چې دواړه کورنۍ په اقتصادي لحاظ له یو بل سره نږدېوالی ولري، که یوه کورنۍ له اقتصادي پلوه په بلې خوا برتري ولري دا د دې سبب کیږي، چې معتبره کورنۍ هغې بلې کورنۍ ته هغه شان قدر نه ورکوي لکه چې یې ایجاب کوي او دا رنګ غیر متوازن حالت بیا د هلک او نجلۍ پر روابطو هم اغیزه اچوي. اقتصادي ورته والې او یا حد اقل نږدېوالی مهم دی خو د دې اهمیت خصوصاً زموږ په ټولنه کې هغه وخت جدي مطرح کیږي، چې د نجلۍ کورنۍ په



اقتصادي لحاظ د هلک تر کورنۍ لوړه وي. په دې صورت کې هلک اکثراً د خپل غرور د ماتوالي شرایط ګوري، چې دا ورته سخت وي او دا بیا د دوي تر منځ جنجالونه او ستونزې را منځته کوي.

۲.اجتماعي ورته والی:

دا به ډېره ګټوره وي چې دواړه کورنۍ د اجتماعي حالت، خویونو او خواصو له مخې یو له بل سره ورته والی او نږدېوالی ولري. د زیات تفاوت په صورت کې ممکن دغه اختلافات د هلک او نجلۍ د ورځنیو کړو وړو په برخه کې مختلف اثرات پیدا کړي او پدې توګه د دوی کړه وړه کېدای شي د دوی ترمنځ د اختلافاتو زمینه برابره کړي، چې همدې اصل ته په اسلام کې د (کف) خطاب شوي او کف یې د واده په انتخاب کې خورا جدي توصیه کړې ده.

۳.د دواړو کورنیو نږدې استوګنه:

سره له دې چې د دواړو کورنیو نږدې استوګنه کوم جدي ټاکونکی نقش نلري خو بیا هم د نږدې او سیدونکو کورنیو ترمنځ د خپلوۍ کول کېدای شي د دې سبب شي، چې دغه کورنۍ یو- بل ته د لا تقویې او ښه شخصیت او کومکونو د ورکولو زمیني برابري کړي. اما ځیني نور بیا د نږدې کورنیو اثرات منفي بولي او داسې فکر کوي چې که له کورنۍ سره ډېرې نږدې وي، کېدای شي یوه خوا هغې بلې کورنۍ ته زیات اجتماعي پلوي او قوت ورکړي، خو له بل پلوه د خسر خیلو نږدېوالي کېدای شي د هلک او نجلۍ ترمنځ د تحریک ورکولو او منفي رول زمینې برابرې کړي چې دا به بیا د دواړو د واده په برخه کې منفي اثرات ولري. که دواړه لوبغاړي په جدي توګه د دوی د کورنیو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مداخلو مخنیوی وکړای شي، بیا د نږدې کورنیو ترمنځ د واده کول به ډیر ګټور وي.



## د ښځې او میړه حقوق پر یو بل باندې:

حقوق او مسوولیتونه د یوې سکې دوه مخونه دي. حقوق بیله مسوولیته اصلاً وجود نشي پیدا کولای، مثلاً یو ښځه هلته په یوه نارینه حقوق پیدا کوي چې د دوي ترمنځ واده وشي او د واده په وجه اول نارینه د میړه توب مسوولیت ومني ، بیا د ښځې او نارینه د حقوقو مسئله مطرح کیدای شي او مسولیتونه بې له حقوقو تر سره کیدای نشي. د انسانانو ترمنځ ژوند هلته ښه او خوندور تیریدای شي، چې هر یو د بل حقوق وپیژني، درناوي یې وکړي او هغه په سمه ښه ادا کړي. په یوه ټولنه او نظام کې هم که ملت په دولت حقوق لري نو خلک هم د دولت په مقابل کې مسوولیتونه لري. بل خوا د دولت صلاحیتونه هلته د منلو وړ وي چې هغه دولت د خلکو حقوق ومني او هغه ورته ادا کړي. واده هم یو اجتماعي پروسه ده چې د هغې په اساس ښځه په خاوند او خاوند په ښځه یو لړ حقوق حاصلوي.

یو هلک او نجلۍ ته دا ډېره ضروري خبره ده چې له کوژدن او تعهد ورکولو نه مخکې له خپل مقابل لوري نه د خپلو حقوقو په اړه د هغه په خبرتیا او پوهاوي ځان مطمئن او خپل مقابل لوري سره په تفصیلي ښه خپل حقونه روښانه کړي، چې ډاډه شي مقابل لوري یې د ده په حقوقو پوه او د سرته رسولو کلکه ژمنه یې کوي. د دې لپاره دا اول ضروري ده چې ښځه او نارینه دواړه هر یو په خپلو حقوقو او د مقابل لوري په حقوقو پوه وي. د ښځې او میړه ترمنځ د حقوقو په اړه الله تعالي په سورت البقر کې فرمایلي دي: (ولهن مثل الذي علیهن بالمعروف و لرجال علیهن درجه.) ژباړه: (د ښځو په میړونو حقوق دي، لکه څرنګه چې د میړونو په ښځو حقوق دي، اما میړه یوه درجه لري چې هغه د کور مشري ده). که زیر شو دلته د ښځو حقوق اول ذکر شوي او بیا د نارینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوق خو نارینه ته د مشرۍ حق ورکړل شوی دی. په زړه پورې خو دا ده چې یوه ښځه پر میړه **۲۲ حقونه** لري، مګر میړه بیا پر ښځه **۸ حقونه** لري. د دې لپاره چې په دې اړوند مو ځانونه لا ښه پوه کړي وي، دا حقوق په تفصیل سره ذکر کوو:

## الف- د ښځې حقوق په خاوند باندې:

۱- د مهر حق: مهر یو مقدار پیسې، طلا یا نور ارزښتمن شیز دي چې د نکاح په وخت کې ټاکل کیږي، چې باید میړه یې ښځې ته ورکړي. سره لدې چې دا مهر هر وخت ورکول کیدای شي خو غوره طریقه یې دا ده چې د نکاح په وخت کې ورکړل شي. ښځه کولای شي چې خپل مهر خاوند ته وبخښي. د مهر کوم خاص اندازه معلومه نه ده. سره لدې چې د مهر زیاتوالي په شریعت کې کوم ممانعت نه لري، کمه اندازه یې غوره بلل شوې او مستحب ده. پدې اړه حضرت محمد (صل الله علیه و سلم) فرمایي: (این اعظم النکاح برکته ایسره موئنته )

ژباړه: ( هغه نکاح ډیر برکت لري چې د مهر تکلیف یې کم وي. ) په شریعت کې د مهر کمه اندازه حتی د قرانکریم د څو ایاتونو ورزده کوونه، یا دوه موټې خرما هم قبوله شوې ده. د حضرت محمد (ص) د هیڅ ښځې یا لور مهر له ۴۸۰ درهمو څخه چې اوس تقریباً (۷۰۰۰) افغانۍ کیږي زیات نه وه.

**۲ـ** د نفقې حق: د اسلام مقدس دین د ښځې نفقه په خاوند فرض کړېده. پدې اړه حضرت محمد (ص) فرمایلي دي: ( و حقهن علیکم ان تحسنوا الیهن في کسوتهن و طعامهن. ) ژباړه: )ستاسو د ښځو پر تاسو دا حق دي چې هغوي ته ښه لباس او خواړه تهیه کړئ. )



**۳-** د اوسیدو د ځای حق: ښځه په میړه دا حق لري چې د هغې لپاره له توان سره برابر اما مصئون کور اماده کړي. پدې اړه الله تعالي فرمایلي دي: ( اسکنوهن من حیث سکنتم من وجدکم. ) ژباړه: (تاسې خپلې ښځې پداسې ځایونو کې ساتئ کوم ځای چې تاسې اوسیږئ او ستاسې په توان برابر وي )

**۴-** د لباس حق: میړه باید د رواج او شریعت په مطابق د خپلې ښځې لپاره ښایسته او ښکلي لباسونه اماده کړي. په دې اړه د دوهمې مادې حدیث په وضاحت ویلي دي. د لباس تعداد ندي معلوم خو په کال کې اقلاً دوه جوړه لباس لازمي ګڼل شوي دي.

**۵-** د کوروالي حق: ښځه حق لري چې میړه باید ورسره په ښه او نیک سلوک کوروالي وکړي. پدې اړه رب العلمین فرمایلي دي: ( فاتوهن من حیث امرکم الله. ) ژباړه: )تاسې باید له خپلو ښځو سره کوروالي وکړئ، له هغې لارې څخه چې مباح دي یعني د معقد لار منع کړل شوې ده. (د کوس له لارې، نه دا چې د کوني له لارې ) ).

**۶-** د احترام او قدرورکولو حق: ښځه په میړه حق لري چې عزت او احترام یې وکړي او هغې ته هیڅ ډول داسې بدې خبرې یا سنغ الفاظ استعمال نه کړي چې هغه پرې خفه کیږي او نه باید هغه په فزیکي لحاظ وځوروي. په دې اړه په یو حدیث شریف کې راغلي دي: (اذ ما اکرمهن الا کریم ولا اهانهن ملا ندیم ) روایت دي د ابن ماجه څخه. ژباړه: )عزتمند نارینه د ښځو درناوي کوي او رذیلان نارینه د ښځو سپکاوي کوي ) ).

**۷ـ** د تعلیم حق: په میړه د ښځې تعلیم لازمي دي. دا تعلیم کیدای شي چې دیني، فرهنګي، مدني او یا اخلاقي او ټولنیزوي، چې معاصر

(c) ketabton.com: The Digital Library



علوم ټول پکې راتللای شي. په دې اړه حضرت عایشې (رض) فرمایلي دي:

(نعم النسا؟ نسا؟ الانصار لم یمنعهن الحیا؟ ان یتفقهن في الدین) بخاري.

ژباړه: (د انصارو ښځې نیکې دي او حیا د دې سبب نشي کیدای چې هغوي دې د دین د زده کړې نه محرومې کړي.) همدا راز حضرت عروه بن الزبیر (رض) فرمایلي دي: (ما رایت احد اعلم بفقهو لا طب ولا شعر من عایشه) بخاري. ژباړه: (ما داسې څوک نه دي لیدلي چې په فقه، طب او شعر ویلو کې تر عایشې بي بي اوچت وي).

**۸.** د ښه سلوک حق: نارینه باید له ښځو سره درووند او ښه سلوک وکړي. الله پاک فرمایلي دي:

(و عاشروهن بالمعروف) سورت النسآ.

ژباړه (ښځو سره په غوره او ښه توګه سلوک وکړئ).

**۹.** د کور او کوروالي د رازونو د پټ ساتلو حق: باید نارینه او ښځه دواړه د کور او کوروالي رازونه پټ او خوندي وساتي.

**۱۰.** د ارایش او ښکلا حق: لکه څرنګه چې نارینه د ښځې ارایش او ښکلا خوښوي، همدا راز ښځې هم د نارینه پاکوال او ښکلا خوښوي. نو ښځه دا حق لري چې خاوند یې باید هغې ته ارایش وکړي، یعنې خپل نظافت او پاکوالي وساتي. په ښکلا کې دا لاندې شیان شامل دي:

- د ویښتانو اصلاح کول، مینځل او ږمنځول.
- وخت په وخت د بغلونو او تناسلي الې د شاوخوا ویښتانو کلول (پاکول)
- ښکلې او پاکې جامې اغوستل.
- د عطر یا نورو خوشبویو وهل.



- د خولې او غاښونو برسول او یا مسواک وهل.

او د نوکانو لنډول او له سګرټو او نصوارو څخه پرهېز کول.

۱۱- د کور په کارونو کې له ښځې سره د مرستې کولو حق: میړه باید خپلې ښځې سره د کور په کارونو کې مرسته وکړئ.

۱۲- د مشورې حق: میړه باید له خپلې ښځې سره د کور په کارونو کې همیشه مشوره وکړي.

۱۳- د ښځې د خپلوانو او ملګرو د درناوي حق: میړه باید د خپلې ښځې له خپلوانو او ملګرو سره درووند سلوک وکړي.

۱۴- د خپلوانو کره د تللو او د هغوي د راتللو حق: ښځه دا حق لري چې په مناسبو وختونو کې د نیږدې خپلوانو کره د میړه په اجازه او د ضرورت په صورت کې د هغه په ملتیا د خپل پلار، مور، ورور، خور او نورو نیږدې خپلوانو کورونو ته د مړي او ژوندي او یا هم د هغوي د لیدو په غرض ولاړه شي او یا هم د هغوي د راتللو په صورت کې د ښځې د خاوند لخوا په پراخه تنده هرکلي وویل شي. البته په داسې حالاتو کې ښځې ته د دې زمینه برابرول چې هغه له خپلو خپلوانو سره ازادانه خبرې اترې وکړي ښه کار دي.

**۱۵-** د ښځې د ابرو ساتنې حق: باید میړه د خپلې ښځې او د هغې د خپلوانو ابرو او عزت وساتي، خاصتآ د ښځې د ابرو ساتل فرض دي. په دې اړه حضرت محمد (ص) فرمایلي دي: (ثلاثته قد حرم الله علیهم الجنتهمد من الخمرو العاق والدیوث الذي بقر في اهله الخبث) مشکوت. ژباړه: (درې تنه جنت ته داخلیدای نشي، د شرابو معتاد، د پلار او مور ازاروونکي او دووس (هغه څوک چې خپله ښځه له پردیو نارینو سره د نامشروعو اړیکو لپاره پرېږدي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶- د کار او ملکیت حق: ښځه حق لري چې کار وکړي او پدې وسیله ځانته ګټه ترلاسه کړي، پدې شرط چې د ښځې کاري بوختیا د خاوند د حقوقو او غوښتنو خنډ نشي. همدا راز ښځه حق لري چې ملکیت او جایداد ولري.

۱۷. د میراث حق: ښځه حق لري چې د میړه د وفات کیدو په صورت کې د هغه له پاتې شوي مال نه میراث تر لاسه کړي.

۱۸. د سلام ورکولو حق: ښځه په میړه دا حق لري چې هغه باید ورته سلام ورکړي او احترام یې وکړي.

۱۹ـ د نیوکو حق: ښځه دا حق لري چې د میړه په تېروتنو او ناروا کارونو نیوکې وکړي.

۲۰. د ناروغتیا د علاج او پرستارۍ حق: که ښځه ناروغه او یا معیوبه وي، په میړه د ممکنه علاج او پرستارۍ حق لري چې هغه باید د خپلې مېرمن اړوند حاجتونه ور پوره کړي.

۲۱. د عدالت حق: که یو میړه دوه یا زیاتې ښځې ولري، پدې صورت کې هره ښځه له نورو سره د برابر سلوک، کوروالي او نورو امتیازاتو حق لري.

۲۲. د ښه سلوک حق: ښځه په میړه دا حق لري چې ورسره ښه سلوک وکړي.

۲۳- د خلع (جدایی) حق: لکه څرنګه چې میړه د طلاق حق لري، همدا راز ښځه د خلع حق لري چې په خلع کې باید ښځه یو څه مال متاع خاوند ته ورکړي چې هغه خوښې کړي. خلع بیدون له موجب نه هم امکان لري ولې دا بیا یو تقبیحي عمل دي.



**ب: د میړه حقوق پر ښځه:**

۱- د فرمانبردارۍ حق: لکه د مخه مو چې وویل، میړه د کور مشر وي او باید د کور نظم، دسپلین او پلانونه جوړ او عملي کړي، ښځه باید د هغه روا امرونه ومني، اما په ناروا کارونو کې بیا دا اصل لازمي نه دي.

۲- د سړي د شتمنۍ، ملکیت او حرمت ساتنه: ښځه باید د میړه د کور، اسبابو پوره ساتنه وکړي او د کورني حرمت او پاکۍ بشپړ درناوي یې وکړي.

۳- د کور د کار حق: ښځه مسوولیت لري چې د میړه د کور کارونه (لکه د ډوډۍ پخول، د کالیو مینځل، د لوښو مینځل، د کور جارو کول او د ماشومانو پاکول) په ښه توګه او د میړه له توقع سره سم تر سره کوي او کور به پاک ستره ساتي.

۴ـ نظافت او د سینګار کول: میړه په ښځه حق لري چې د هغه لپاره بهترینه ښکلا تمثیل کړي، خپل نظافت پاک وساتي، ښکلې جامې واغوندي، خپل ویښتان سم جوړ، پاک او غوړ کړي، ښه عطر استعمال کړي، خوله او غاښونه پاک برس او یا مسواک کړي.

۵- د میړه په کور کې اوسېدل: دا د میړه حق دي چې د هغه میرمن باید د ده په کور کې و اوسي او بې میړه له اجازې هیچېرته حتی خپلو خپلوانو کره هم لاړه نشي. له خپلوانو کره تګ د میړه په اجازه جواز لري خو ژر باید بیرته خپل کورته را ستنه شي. دغه راز چېرته چې د خاوند خوښه وي هملته باید ښځه استوګنه وکړي نه دا سې چې خاوند کوم ځای استوګنه خوښوي، مېرمن دې ورسره مخالفت وکړي نه، هېڅکله هم نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶. د ناروغۍ په وخت کې د میړه نه پرستارې: دا د میړه په ښځه حق دی چې د ناروغۍ په وخت کې له هغه نه په ممکنه اندازه په ښه توګه پرستاري وکړي، مګر دا چې د ښځې په وس پوره نه وي.

۷- د کوروالي (جماع) حق: د حیض - د ښځې هغه میاشتینۍ ناروغي چې ترې وینه راځي او نفاس هغه موده چې د ماشوم د پیدا کیدو نه پس له ښځې نه وینه او نور افرازات راځي - نه بغیر ښځه باید هر وقت د نارینه د کوروالي غوښتنه ومنې او هغه سره په مینه کوروالي وکړي.

۸- د طلاق حق: میړه کولای شي چې د لزوم په صورت کې ښځې ته طلاق ورکړي، مګر دا طلاق ورکول باید بېځایه د ښځې د ازار سبب نه شي.



## د واده د بریا لپاره څو با ارزښته وړاندیزونه:

که مو پام کړې وي حتا هغه ودونه چې که څه هم د دوو مشابهو کسانو ترمنځ صورت یې نیولی وي، هغه رنګ دوام نه کوي لکه څرنګه چې شروع شوي وي. خصوصاً په غربي نړۍ کې، چې د ودونو کول په خپله خوښه وي اکثراً هلکان او نجونې چې ودونه کوي لومړي یو له بل سره ډېره زیاته مینه لري، مګر ډېر ژر دا مینه سړه او بالاخره یې د ژوند لار سره بېلېږي. برعکس په وروسته پاتې او کلتوري ټولنو کې ګڼ ودونه په شخړو او نااندریو پیل خو تدریجاً وخت په تېرېدو د سولې او ګزارې کولو خواته ځي.

تر واده وروسته په ودونو کې د ستونزو د زیاتوالي دري عامله وي:

۱- تر واده وروسته اکثراً کورنۍ تشکیل شي، ښځه او خاوند دواړه یو لړ هغه ازادۍ د لاسه ورکوي چې تر واده پخوا یې لرلې. د بېلګې په ډول، دوی چې به هر وخت کور ته راغلل پروا به یې نه کوله، که به یې له هر چا سره ناسته ولاړه وه، کوم خاص قیودات پرې نه وو، مګر تر واده وروسته هم په اخلاقي او هم د مکلفیتونو په لحاظ دواړه ښځه او خاوند ځان مجبور احساسوي چې په خپل ژوند کې یو لړ تغییرات راولي، چې یو له بل سره د خوښۍ او همکارۍ ګډ ژوند ولري، له بده مرغه ځینې ځوانان بیا دا توانمندي نلري چې دغه ضرورت محسوس کړي او بیا تر واده وروسته هم غواړي چې هماغه شان بې قید و شرطه (آزاد) ژوند ولري، چې دا بیا د هغه د ژوند شریکبان ته د بې اعتنایۍ، بې مینیتوب، شک او تردید سوالونه پیدا کوي او دغه تردیدونه او شکونه بیا د مینې د کمښت، اختلافاتو، مشاجرو او جنګونو او بالاخره د جدایۍ سبب کیږي، پدې توګه ځوانانو ته جدي توصیه کیږي چې تر واده وروسته دواړه په خپلو ځانونو کې یو لړ بدلونونو راوستو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ځانونه اماده کړي. هو ، کله که کوم ځوان بیا د یو معقول معذرت له کبله په ټاکلي وخت کور ته نشي راتللای، هغه دې په روښانه او تفصیلي بڼه خپل شریکباڼ ته ووایي او له راتللو سره سم دې ترې معذرت غوښتلو ترخوا باید د هغه وخت مکمل ګزارش ورکړي.

۲- تر واده وروسته یو لړ اقتصادي مکلفیتونه او کورني مسوولیتونه د نوي واده شویو ځوانانو لپاره د خستګۍ، بې حوصله ګۍ، قهر او غوسې زمیني برابروي او د دغه قهر او غصو غیر موزون کنترول بیا ښځه او خاوند په خپل منځي جنګ جګړو اخته کوي.

واضح خبره ده چې تر تازه واده وروسته ګڼ ځوانان د کور یو شمېر سامان الاتو او وسایلو ته ضرورت لري، خو په دې سربېره اکثراً ځوانان په ودونو کې د غېر معقولو اضافي مصارفو له کبله قرضداري شوي هم وي. دغه راز د واده د مشغولیتونو له کبله د څه مودې لپاره له کار او وظیفې څخه هم بې کاره شوي وي، پدې توګه دا ټول مسوولیتونه او اقتصادي ناتوانی. دوی یو لړ فشارونو او ستونزو سره مخ کوي. له بل اړخه دوی له هغو مرستو څخه چې پخوا به یې له مور، پلار او نورو څخه ترلاسه کولې هم محرومېږي، ځکه خپلوان فکر کوي چې دوی اوس د واده خاوندان دي، باید په خپلو پښو ولاړ وي او هغوی نه غواړي چې دوی تر دې زیات په نورو متکي پاتې شي خو له بده مرغه چې د خپلوانو لخوا له دغسې ځوانو جوړو سر دفعتاً د مرستو بندول ډېره دردوونکې وي او پدې توګه دوی یو لړ ضروري شیانو ته ضرورت او له بل لوري د همکاریو او عایداتو کمبدل پر ځوانانو یو لړ فشارونه او ستونزې ورتحمیلوي چې دا فشارونه بیا د دې په عوض چې په یوه مناسبه او سنجیده زغم او حل کړي، برعکس د ناموزون اثر تر تاثیر لاندې د فشار، پریشانۍ، قهر او غوسې خواته



ماتېږي او د خپل منځي شخړو او ناندریو زمینه وربرابرېږي. له دې له کبله ځوانانو ته پدې برخه کې لاندې توصیې ضروري بولو.

۱- تر واده له مخه د دغو واقیعیتونو په نظر کې نیولو سره پخیله یا د یو پوه خپلوان او یا یو باوري ملګري په مرسته یو درست، ممکن او عملي پلان جوړ کړئ چې هغه ستاسو له شرایطو سره برابر وي.

۲- کوښښ وکړئ چې تر واده له مخه یو څه مناسب مالي امکانات د یوې مودې لپاره- حد اقل د ۳-۲ میاشتو لګښت- جدا وساتئ.

۳- په واده کې د قرض کولو څخه خصوصاً له لنډې مودې قرض څخه جداً ډډه وکړئ.

۴- مور پلار او نور خپل خپلوان باید خپلې مرستې او همکارۍ له نوو واده شوو اولادونو سره ژر قطع نکړي.

۵- د خپل مالي حالت په اړه له خپل شریکباڼ سره ریښتیني او واضح خبرې وکړئ، چې هغوی هم ستاسو په مشکل پوه او له تاسو سره پدې برخه کې مناسبه همکاري وکړي.

۶- د کور اړتیا وړ ټول توکي لست کړئ او د خپل توان په اندازه یې په ترتیب سره په مناسب وخت کې واخلئ. په یو ځل د ډېرو شیانو د اخیستو او یا هم له خپل توان نه د پورته قیمتي شیانو له پېرلو څخه ډډه وکړئ.

۷- د کورنیو اسبابو د اخیستو صلاحیتونه له مناسب کنترول سره خپلې میرمنې ته وسپارئ.

۸- که ضرورت و یوه دوهمه دنده هم پیدا کړئ، چې د خپلو اړتیاوو چاره وکړای شئ.

۹- د کور په مصارفو له سره غور وکړئ او ځینې غیر ضروري مصارف بند کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰.** که اړتیا مو زیاته وي او ستاسو میرمن د ځینو چارو ترسره کولو توان ولري، هغه هم باید کار شروع کړي. مېرمنې کولي شي ځینې واړه کارونه حتي له خپل کوره هم پرمخ بیولای شي.



## د واده مراسم او وروستي اثرات یې:

واده د انسان په ژوند کې یو ځانګړې بدلون دی، هر څوک غواړي چې د واده مراسم یې ښکلي، ډېر تاوده او باشکوه وي، ځینې وخت دغه غوښتنې د احساساتو تر اغېز لاندې راځي او واده والا پدې احساساتو کې خپل تعقل او کنترول له لاسه ورکوي. ځینې یې بیا دومره زیات مصارف کوي چې ګالل یې تر واده وروسته نورې ستونزې را منځته کوي او حتا د دوی دغه خوږ واده له ستونزو او پریشانیو سره مخ کوي. د واده ښه پلان کول یوه مهمه او ضروري خبره ده، پدې برخه کې به دغه لاندې مشورې مؤثرې وي:

۱- ښه به دا وي چې د واده لپاره له کافي مودې راهیسې تیاري ونیسئ. پدې اړوند هغه جدول نه کتنه واخلئ چې په ۲ جدول کې د ضمیمو په برخه کې لیکل شوي دي.

۲- البته ښه واده به هغه وي چې هلک او نجلۍ دواړه او که نه حد اقل یو تن یې له یوې زیاتې مودې راهیسې په خپل عاید او امکاناتو متکي وي.

۳- کوښښ وکړئ چې د واده د ورځو لپاره د هیڅ دوست او خپلوان څخه قرض وانخلئ او که حتماً له دغه ناوړه انتخاب سره مخ شوئ، تر ممکنه حده لږې پیسې قرض کړئ او د بیرته ورکولو لپاره یې کافي موده وخت وغواړئ. دا به ښه خبره وي چې که تاسې د هغې تاکلې مودې نه رومبی خپل پور ور پرې کړئ، مګر دا به د ډېرې پریشانۍ ځای شي چې بیا تاسې تر واده وروسته په ټاکلې موده کې هغه پور ور ونه شئ رسولای.

۴- واده ته د میلمنو په راغوښتلو کې هم له پوره دقت څخه کار واخلئ، ضرور نده چې تاسې زیات خلک راوغواړئ، ځکه ممکن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مناسبه مېلمه پالنه يې ونشي. ښه به دا وي چې لږ خلک راوغواړئ او ښه قدر يې وکړئ، ګټه او نيک نامي به يې زياته وي. د مېلمنو په اړوند د خپل شريکبانۍ له کورنۍ سره هم خبرې وکړئ، د مېلمنو راغښتلو لپاره يو ځل عمومي لست جوړ کړئ او بيا يې له جملې څخه يوازې هغه کسان راوغواړئ چې ستاسو د اړتيا په وخت مو په درد دوا کېږي او يا مو نېږدې خپلوان وي.

**۵**- واده ته سامان الات او اسباب اخيستل د احساساتو له مخې ونکړئ، ښه به دا وي چې صرف عاجل او ضروري شيان واخلئ او پاتې زيات شيان پرېږدئ. دا به ښه خبره وي تاسې بايد له خپل شريکبانۍ سره د سامان الاتو په اخيستلو کې صلاح وکړئ، که دا امکانات نلرئ نو کوښښ وکړئ چې د ځينو غير ضروري شيانو اخيستنه تر واده وروسته موده ته پرېږدئ؛ خو دا خبره خپل شريکبان ته په واضح توګه وواياست چې د هغې د مصلحت او نظر يې لپاره مو د ځينو اسبابو اخيستل ځنډولي دي. دا چاره به نه يوازې دا چې ستاسې د اړينو توکو په اخيستلو کې مرسته وکړي، بلکې ستاسې په واده کې به مينه او محبت لا هم زيات کړي، ځکه ستاسې د ژوند ملګري به پدې پوه شي چې تاسې يې نظر او مشورې ته اهميت ورکوئ.

بله مهمه خبره دا ده چې اکثراً خلک تر واده وروسته د استوګنې ځای بدلوي او يا له مور او پلار نه جلا کيږي، مګر د ځاي بدلول ډېر کله د اسباب د خرابئ، ماتېدو او زيان سبب ګرځي او هم يې په کور کې بيا پر کارولو اغېز پرې ووځي او عمر يې کمېږي.

**۶**- دا په کلکه مشوره ده چې له واده څخه رومبی د خپل ځانګړي کور خاوندان و اوسئ او په خپل کور کې ولو که وړکی هم وي واده وکړئ،



که د ځينو خاصو ملحوظاتو له کبله دا نه شئ کولای نو بيا د سامان الاتو اخيستنه ترممکن حده محدوده کړئ.

**۷**- د ځانګړي کور اخيستل د واده نه مخکې د کورنۍ استقلال، عدم مداخلې او د ښه ژوند او مينې د زياتوالي سبب کيږي، د ځانته اوسيدلو په صورت کې بايد د خپلې ښځې او کور امنيتي تدابير په کلکه په نظر کې ونيسئ.

**۸**- کوښښ وکړئ چې له ځان ښوونکو، درواغجنو او نمايشي کړنو څخه (چې ځان وښيئ چې ته ډېر پيسه دار يې، يا داسې نور)، تر ممکن بريده ډډه وکړئ، ځکه دا بيا ستاسې نورو پلانونو باندې منفي اغېز پرېباسي.

**۹**- د واده مراسم يوه ستړې کوونکې او فشار راوړونکې مرحله ده اکثراً د واده د کورنۍ خلک د ستومانۍ په وجه خپله حوصله مندي او استقامت له لاسه ورکوي او په ودونو کې جنګونه او خفګانونه منځته راوړي.

**۱۰**- د يو مشکل د پيداکيدو په صورت کې تر ممکن حده تاسو پخپله مداخله مه کوئ او په عوض مو خپل يو معاون ته وظيفه ورکړي چې هغه مشکل وارزوي او د حل لپاره يې لازم اقدام وکړي. خپل معاون ته دا ووایاست چې د موضوع د حل او يا نه حل په اړه بايد ډېر ژر تاسو ته اطمينان او خبر در کړي. او که ضرورت وی فوراً ورسره مشوره وکړئ.

د دې لپاره چې واده مو ښه، ارام او په بريا سره تر سره شي نو:

- د واده د مراسمو په وخت کې ډېر متحمل اوسئ او له هر ډول جدي برخورد څخه ډډه وکړئ.
- د خپل واده په مراسمو کې کوښښ وکړئ چې ځان زيات ستومانه نکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کافي خوب او استراحت وکړئ.
- کارونه او وظایف د یو ټاکلي مهالویش له مخې د کورنۍ مناسبو او مؤثرو غړو ته وسپارئ. په خپل ځان زیات فشار مه راولئ. د کارونو د تقسیم په اړه د ضمیمې له اول جدول څخه استفاده کولای شئ.
- دا په یاد ولرئ چې په ودونو او دغه ډول نورو لویو او درندو مسایلو کې خامخا ځینې شیان د معمول په خلاف واقع کیږي او د داسې حادثو د پیښېدو په صورت کې خپل استقامت او حوصله د لاسه مه ورکوئ.
- خپله وظیفه بل چاته وسپارئ او ورته ووایئ چې زه تر فشار لاندې یم، غواړم لږ خپل فکر بدل کړم او زما کارونو ته توجه وکړئ. پداسې حالاتو کې ارام پاتې کېدل، حوصله او له نورو نه کومک غوښتل او حتی له مخې څخه لرې کیدل فوق العاده ګټور تمامیږي.
- که تر ډېر فشار لاندې راغلې د څو دقیقو لپاره ځان ساحې څخه جدا کړئ او هلته ګوښه ځای کې چې ازاد وي څو ژورې ساه وې (تنفس) وباسئ او بیا څو قدمه چکر ووهې او خپل مخ په یخو اوبو سره پریمینځې، پر دې سربېره یو ګیلاس یخې اوبه هم وڅښئ. تجربو دا ثابته کړې چې د یخو اوبو څښل او یا هم پرې مخ مینځل قهر، غوسه او بې حوصله ګي کنترولوي.
- په ودونو کې خپلوان، ملګري او حتی پردي د احساساتو له مخې مداخلې کوي، حتی نا معقول پیشنهادونه وړاندې کوي او ستاسې پام بلې خوا ته اړوي چې ځیني وخت دا کارونه قصدي او د یوې بلې زړې کینې له وجه هم کیداي شي. باید دا دواړه صورتونه سره



تفکیک کړاي شئ. پداسې حال کې چې هغوی سره مؤدبانه برخورد وساتئ، لاکن له خپل پلان سره سم پرمخ ولاړ شئ.

- یو یا دوه تنه تکړه ملګري فارغ او د ناځاپي او غیر متراقبه پیښو لپاره ودروئ او پر چارو پر کنترول سربېره یې پوه کړئ چې د اړتیا پرمهال مو مرسته وکړاي شي. د بېلګې په ډول: ممکن د پلان په خلاف ناځاپه میلمانه زیات شي، یا د پروګرام په اوږدو کې څوک خفه او یا کوم جنګ جګړه پیښه شي او یا کوم ټاکلې مسئله په خپل وخت او خپل ترتیب ترسره نه شي چې خپله هم له همد غسې یو حالت سره مخ شوي وم. زما د واده په شپه ناځاپه په نل کې اوبه بندې شوې، دا یوه غیر متراقبه حادثه وه چې موږ یې ناځاپه نا سنجول شوې او له غټې ستونزې سره مخ کړو، د ښه تدبیر، ښو او پوهو کسانو د منظمې همکارۍ په وجه پدې ستونزې بریالي شو. مګر دا بیا سبا معلومه شوه چې دا مشکل د اوبو د نل مؤظف سړي قصدآ کړي و چې له موږ نه څه پیسې تر لاسه کړي. په هغې ورځ موږ پدې پوه نشو او هغه هم جرت ونشو کړای، چې د پیسو غوښتنه وکړي. کیداي شي داسې کارونه برقیان او یا نور اړوند کسان هم وکړي، د پیښې په صورت کې اول خپل استقامت په ځای کړي او پدې خوښ شئ چې تر دې لا زیاته ګرانه پیښه نه ده شوې.
- د پلان نیولو په وخت او د وظایفو د تقسیم په وخت کې ټولو ټاکل شوو کسانو ته واضح او په کلکه سپارښتنه وکړئ چې د چارو په اوږدو کې د بې ځایه جنګ زمینه برابره نکړي. لکه د واده د غرمې د ډوډۍ په وخت کې زما یوه ښه دوست راته یو غلط خبر راکړ چې د خبرېدو په وجه یې زه په قهر او غصه شوم او خپل څو تنه خواره ملګري او همکاران مې چې ما یو شمېر دندې ورسپارلې وې، مګر دوي هر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه نا څه غفلت کړي و ، مسله دومره سخته نه وه لکه ما چې پرې هغوي خفه کړل. دا د دې باعث شو چې هغوي خپل وظايف پرېږدي او زموږ ستونزه لاهم زياته شوه. که زما د غه دوست له تعقل څخه کار اخيستی و ، ده کولای شو چې هغه مشکل يې په خپله په ډېره اسانۍ سره حل کړای وای، د دې په ځای چې مشکل حل کړي ما ته يې هم خبر په افراطي ډول راورساوه چې ما هم د فوق العاده ستومانتيا په وجه ونشو کولای ستونزه په درسته توګه درک او حل کړم او بالاخره کار پسې لا خراب شو.

نو پدې توګه جدي سپارښتنه کېږي چې د ښه نظم په خاطر وظايف مؤثرو او حوصله مندو خلکو ته چې د ښه کار او مشکل د حل توان ولري وسپارئ. دوی ته په ښکاره ووايئ چې دا حالت ډېر حساس دی کوښښ وکړئ چې د موضوعاتو په حل کې ممکنه ونډه واخلئ او د بيځايه مداخلو او جنجالونو مخه ونيسئ.

- بله مهمه خبره دا ده چې کله خلکو ته وظايف ور سپارئ نو کوښښ وکړئ چې هغوي ته اړوند مناسب صلاحيتونه هم ورکړئ او پدې اړوند نورو مؤظفو خلکو ته هم دا ووایاست چې پدې برخو کې د هغوي اطاعت مندي وکړي.
- د پرابلمونو او مشکلاتو د حل لپاره له ځان نه جدا يو ټاکلې (دوه يا درې کسيزه) اما توانمنده او هوښياره او حوصله منده کميټه وټاکئ او نور خلک پدې پوه کړئ چې د مشکل په صورت کې هغوی ته مراجعه وکړي او ټول مسايل ستاسې په غاړه وا نه چوي.
- کوښښ وکړئ چې د هرې ساحې لپاره د ټاکوونکي تصميم نيوونکي سړي ترخوا د هغه لپاره يو يا دوه تنه معاونين هم غوره کړئ



چې د ضرورت په صورت کې هغه ته مشوره ورکړي او يا هم د هغه د عدم موجوديت په صورت کې د هغه وظايف ترسره کړي.

- کوښښ وکړئ چې وظايف خلکو ته د هغوي د موافقې او توانمندۍ په اساس وسپارئ ځکه اکثراً د عدم علاقې او يا عدم مؤثريت له وجې خلک خپل وظايف بې له دې چې چا ته خبر ورکړي پرېږدي چې پدې توګه د کار په ادامه او نظم کې فوق العاده ستونزې منځته راځي. د بېلګې په ډول: زما د لور واده و او په دروازه کې د راتلونکو ميلمنو د روغبړ او د کارتونو د "چک" کولو کار مې يو دا سې ملګري ته سپارلی و چې هغه له موسيقۍ سره ډېره زياته مينه درلوده، د ساز له پيل سره سم هغه مخکې له دې چې وظيفه يې ختمه شي صالون ته راغلی و او د موسيقۍ په اوريدو مصروف شو. دا د دې باعث شو چې څو تنه نابلل شوي کسان د واده صالون ته داخل شي او د يو ډول تشنج او تشويش پيدا کولو سبب وګرځي. سره له دې چې د مؤثر او ښه اقدام له لارې موږ د غه تشنج مخنيوی وکړ ولې که لږ نوره بې غوري شوي واي ممکن د يوې غټې حادثې او ستونزې زمينه يې برابره کړې وی.

تر ټولو ښه خبره دا شوه چې هغه مؤظف ملګري سره مو پدې مشخصه مقطع کې کوم برخورد ونکړ کنه نو ممکن هغه هم خفه شوی وای چې دې به د لا زياتې پريشانۍ زمينه برابره کړې وای، د واده په درېيمه ورځ مې هغه راوغوښت او تېر شوي ټول جريان مې ورته تېر کړ. هغه هم ه په خپلې بې غورۍ اعتراف وکړ او دا يې وعده وکړه چې بيا به هيڅکله هم دا سې تېروتنه نه کوي چې پدې ډول ما له هغې منفي تجربې څخه هم د هغه ځوان په اصلاح کولو کې مثبته ګټه واخسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څو واده لرونکو تجربه کارو لارښوونې:

۱- سره لدې چې د کتاب لیکوال د یو ناکام واده ډېرې ترخې تجربې لري او هغه یې په مختلفو ډولونو د یو شمیر نورو دوستانو له تجربو سره یو ځای د دغه کتاب په مختلفو برخو کې له تاسو سره شریکې کړې، په ځای به وي چې پدې برخه کې هم ترې یو څو سپارښتنې په لنډه توګه ذکر کړو.

د لیکوال له نظره:

- واده په مینه وکړئ، واده کې مینه وکړئ او له خپل شریکباڼ نه هم همیشه مینه تر لاسه کړئ.
- تر واده پس خپل شریکباڼ تر بل هر چا ځان ته ډېر نېږدې او مهم وګڼئ. لکه چې زما پلار مرحوم به ویل: د واده نه پس پلار او مور او د کورنۍ نور غړي داسې حیثیت لري لکه واسکټ چې یو غیر لازمي شي دی- او ښځه داسې حیثیت لري لکه پرتوګ چې یو لازمي او حتمي شي دی.
- تر واده وروسته د خپل ځان او خپل شریکباڼ د هیلو پوره کول خپل لومړیتوب وګڼئ او هیچا ته هم اجازه مه ورکوئ چې پدې لاره کې ستاسو خنډ وګرځي.
- تر واده مخکې باید حتماً خپل شریکباڼ وګورئ او له هغې سره منظمې او په تفصیل خبرې وکړئ.
- ستاسو د شریکباڼ ښکلا باید تاسو ته دومره زړه راښکونکې وي چې هغې سره مو واده کولو ته وهڅوي.
- د واده یو شمیر اړونده مهم موضوعات باید حتماً د خپل شریکباڼ او د هغې له کورنۍ سره په تفصیل مطرح کړئ او پدې اړوند خپل پوره اطمینان حاصل کړئ.



- واده په مناسب وخت کې وکړئ، دا ضرور ده چې د واده په وخت تاسو خپل تحصیلات تکمیل کړي وي او په اقتصادي لحاظ په خپل ځان متکي اوسئ.
- په واده کې له زیاتو او بې ځایه مصارفو نه په کلکه ډډه وکړئ.
- د خپل شریکباڼ سره ژوند په ملګرتوب او ښه تفاهم پر مخ یوسئ.
- د واده په اړه تر موافقې مخکې خپل ټول هغه شرایط چې د خپل شریکباڼ نه یې په راتلونکي ژوند کې هیله لرې، هغه ته په واضح او مفصل ډول وایئ او د منلو اطمینان یې ترې حاصل کړئ. دغه راز یې په مقابل کې د هغې غوښتنې هم په غور واورئ او یوازې هغه غوښتنې یې ومنئ چې تاسو په سلو کې اقلاً اتیا یې منلو ته تیار اوسی.
- خپل شریکباڼ سره په کوروالي کې له پوره مینې، رواداری، اخلاص او ابتکارونو څخه کار واخلئ. کوښښ وکړئ چې د مقابل لوري رضا، ارضا او اقناع هم حاصله کړئ.
- په خپلو کورنیو چارو کې د خسرخیلو او زیږنوالو لاس وهنې درک او په کلکه یې مخنیوی وکړئ.

۲. یو ۲۴ کلن سړي چې بې سواده او اطرافي و او د یوې باسواده او د ده له نظره له (خپلواکې) ښاري نجلۍ سره یې واده کړی و او بیا یې واده له ستونزو سره مخ شوی و، ځوانانو ته داسې توصیه کوي:

۳- له خپلې کچې سره برابر کس سره باید واده وکړئ او پدې برخه کې هر ډول اختلافات که هغه اقتصادي وي، اجتماعي او یا کلتوري، ولو که ډېر واړه هم وي، په جدي توګه مراعات کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- کوروالی د ښځې یو حق او ارزو ده، خو په کوروالي کې باید ځینې بنسټیز ټکي په پام کې و نیول شي.

- کوروالي نه دمخه باید نارینه او ښځه که امکان ولري ولامبي او که نه نو اقلاً د اوداسه کول دواړو ته جدآ لازمي او د کوروالي نه په خوند او د بل ځل کوروالي ته د اشتها په زیاتېدو کې ډېره مرسته کوي. ښځه باید خپلې سینې او د سینو لاندې ځایونه هم پرېمینځي.
- کوروالی باید د یوه ښه ډېر ساعت لوبېدو او ښکلولو، لاس وهلو او په هغه نهو ځانګړو ځایونو چې د ښځې د پارونې او په شوق راوستلو سبب کېږي نارینه لاسونه ووهي.
- په ژبه دې په ډېره نرمه توګه د ښځې د سینو څوکې و څټل شي، دا د ډېرو ښځو لپاره د مجامعت کولو اشتها را پاروي او د ښځې د مهبل (خاص غړي) افرازات زیاتوا و ترشح کوي.
- مجامعت باید په بسم الله پیل او په ډېره ارامه اول د قضیب (د نارینه خاص غړي) څوکه دې په ورو ورو د مهبل په زړي ( Clitorise ) او همدا راز د ښځې د خاص غړي په شوندو و سولول شي چې ښځه په تمامه معنی کوروالي ته چمتو شي، نو بیا ژر، ژر قضیب لږ لږ ور دننه او بیرته یې رابیرون کوئ لکن چې ټول قضیب را و نه ووزي.
- نو چې کله ښځه په تمامه معنا چمتو شي هغه به تاسو ته پخپله د ژر ژر د قضیب د ننویستلو او د ښه وړاندې ورتللو بلنه درکوي چې په دې وخت کې معمولاً ښځه هم انزال ته اماده کېدو په حال کې وي. نو که په دې وخت کې دواړه یو ځای انزال شئ، نو دا دومره ډېر خوند او مزه لري چې تاسې به تل د خپلې ښځې سره جماع ته تیار اوسئ او د خپلې ښځې نه بغیر به مو د بل چا سره جماع ته هېڅ لېوالتیا هم پیدا نه شي.



۴- پنځه ویشت کلنه سکینه چې میړه یې په واده کې د زیاتو مصارفو له کبله ډېر قرضداره شوي و او په ډیره تنکۍ ځوانۍ کې یې درې ماشومان وزېږول او بیا یې میړه د غریبۍ په وجه د قرضدارانو د لاسه پیسو پیدا کولو په امید ایران ته وتښتید ه. متاسفانه درې کاله وروسته تش لاس او د هیروینو له ناولې روږدتیا سره بیرته کور ته راغي. هغه اوس ځوانانو ته داسې سپارښتنې لري:

- په ودونو کې له قرض کولو او زیات مصرف کولو نه په کلکه ډډه وکړئ.
- تر واده پس کوښښ وکړئ چې د خپل خاوند له اقتصادي وضعې سره ځان برابر کړئ او که ضرورت وي ورسره کومک وکړئ. مه پرېږدئ چې پیسې ستاسې او ستاسي د خاوند ترمنځ د جنجالونو او یا هم د هغه د مسافرۍ سبب شي.

۴- بله ۲۳ کلنه ښځه چې د خپلې خواښې د شیطانت، د خاوند د ناپوهۍ او خپلې ښځې ته په غوږ نه نیولو نه په چغو او فریاد ده، خپله کیسه ځوانانو ته د پېغام په بڼه داسې بیانوي:

- خواښې مې غوښتل چې خپل زوي (زما میړه) ته خپله ورېره وکړي او خسر مې غوښتل چې خپله خورزه (ما) ورته را واده کړي. بالاخره خسر مې چې زما ماما دي په ما مرکه وکړه او زما واده د ده له زوي سره وشو. خواښې مي کینه واخسته او له ما سره یې بدې ورځې شروع کړې، هره ورځ زما میړه ته شیطانې کوې او هغه زما په ضد لمسوي. د خسر په وړاندې یې زما اړوند څه داسې تهمتونه پر ما راپورې کړل چې هغه یې هم رانه خفه کړ، خاوند مې هم لا تر اوسه د ماشوم په څېر د مور په لاس او خوله دي، زه چې هر څه ورته وایم خاوند مې هیڅ د هغې په اړه خبرو اوریدو هېڅ پام نه کوي. د مور له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه يې د زوي او زما ژوند په دوزخ بدل شوي دي. ځوانانو ته زما سپارښتنه دا ده چې:

- تر خپل واده پس په خپل کور کې د هيچا لاسوهنو ته اجازه مه ورکوئ، حتى د خپل پلار او مور، خواښې او خسر ناسمو خبرو ته وخت مه ورکوئ. اقلاً د هغې موضوع سپيناوي کول در ته ضروري دي. مقابل لوري يعني خپلې ښځې ته هم غوږ کيږدئ، چې په واقيعيتونو ځان پوه کړئ. د شيطانتونو ترشا د هغه انسان ولو که ستاسو مور هم وي په اهدافو او علتونو يې ځان پوه کړئ.

**۵**- يوه بله ښځه چې **۴۰** کلنه ده او د واده يې **۱۹** کاله کيږي، واده يې هم په سلو کې سل د دې او خاوند په خوښه شوي دي، ځوانانو ته داسې سپارښتنې کوي:

- اول بايد شيرين خوري وکړئ او زيرنوال بايد اولادونو ته د نامزدۍ په وخت کې د دې اجازه ورکړي چې يو له بل سره ناسته ولاړه ولري چې يو بل سره ښه وپيژنئ.
- د هلک او نجلۍ کورنۍ بايد هيڅ يو هم د دوي په کورنيو چارو کې لاس وهنه و نه کړي.
- هلک او نجلۍ بايد د ګډ ژوند له پيله بل ته ګران وي.

**۶**- يوه بله **۲۸** کلنه ښځه چې **۹** کاله يې د واده کيږي او د **۱۲** ټولګي فارغ التحصيله ده ځوانانو ته سپارښتنه کوي چې:

- لومړي خپلې زده کړې بشپړې کړئ.
- په خپل انتخاب کې جدي پاملرنه وکړئ
- د واده مصارف مو بايد ډير کم وي.
- د دواړو کورنۍ بايد د دغو ځوانانو په کورني ژوند کې مداخله ونه کړي.



**۷**. يو بل سړي چې **۲۹** کلن دي او **۸** کاله يې د واده کيږي، وايي چې د واده کولو په وخت کې يې د واده په اړوند ډير کم معلومات لرل، داسې سپارښتنې لري:

- ښځه مو بايد ښايسته او لوستې وي.
- د نامزادۍ دوره مو بايد اقلاً (۲) مياشتې وي، چې يو بل سره ښه وپيژنئ.
- بايد د هلک او نجلۍ کورنۍ د دوي په ژوند کې مداخله و نه کړي.

که پورته سپارښتنو ته زير شو، نو ليدل کيږي چې ټول د ښې پيژندګلوۍ، په خپل ځان د اتکا، د خسرخيلو د لاسوهنو د مخنيوي، د واده د مصارفو د کموالي او مينې کولو سپارښتنې کوي. څرنګه چې دا سپارښتنې د هغوي له عملي ژوند نه سرچينه اخلي نو ډيرې رښتونې او مهمې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په واده کې د شریکباڼو د خویونو او فکرونو د مشابهت ضرورت او معلومول:

واده د دوو متفاوتو جنسونو او د دوو متفاوتو انسانانو ترمنځ د یو شمیر کړو وړو شریکول دي چې په دې اړه ممکن هر لوبغاړي جلا او متفاوت نظر ولري. سره له دې چې دا به ناممکنه وي چې د ټولو ټکو په باره کې مخکې تر واده مصلحتونه او نظریات معلوم کړای شئ ولې ځینې ټکي داسې اساسي بریښي چې باید په مختلفو مرحلو کې د هغوي په اړه د دواړو لوبغاړو ترمنځ نظریات تبادله او حد اقل له ۲۰٪ څخه زیات ورته والی پکې وجود ولري.

اوس دا سوال پیدا کیږي چې ایا موږ کولای شو د مختلفو روحي او سلوکي موضوعاتو په اړه د هلک او نجلۍ ترمنځ د نظر حد اقل توافق او اختلاف پیش بیني کړو؟ او بیا د دغه اختلاف او د اختلاف اندازه وټاکو؟ او یا هم د هغه د بدلولو په اړوند نظریات ورکړو؟ خاصتآ زموږ د هیواد په څیر په کلتوري لحاظ په یوه محدوده ټولنه کې چې حتی د هلک او نجلۍ ترمنځ د خبرو کولو چانس دې هم ډیر کم او حتی ناممکن وي؟ د دې پوښتنې ځواب دا دی چې:

هو، د دغه اثر لیکوال د ځوانانو (هلکانو او نجونو ترمنځ د واده د تطابق پیش بیني کوونکي امتحان) اختراع کړي دي چې په ازمایلو سره چې هلک او نجلۍ یې باید سوالونو ته جلا جلا ځوابونه ووایي، بیا دغه ځوابونو ته د کمپیوتر په وسیله نمرې ورکول کیږي او د دې نمرو له لارې د دواړو نظریاتي تطابق فیصدي ټاکل کیږي. کمپیوتر دغه سوالونه او ځوابونه سره مقایسه کوي او تحلیلوي یې او موږ ته د دې په اړه دغه لاندې معلومات راکوي:

۱- د دغو دواړ کسانو ترمنځ توافق څومره او اختلاف څومره دی؟



۲- د دوي ترمنځ دا اختلاف د ژوند په کومو اړخونو کې ډیر زیات دی؟

۳- او بیا د دوي نه په پوښتنه موږ دا معلومولای شو چې د دوي ترمنځ د جوړ جاړي امکان څنګه دی؟

ځوانان کولای شي تر نامزدۍ له مخه او یا هم د نامزدۍ په دوره کې دا ازموینه واخلي او په دې توګه له خپل راتلونکي شریکباڼ سره د ګډ ژوند په اړه د خپل روحي تطابق اندازه معلومه کړي او بیا پدې اړه زموږ سلا مشورې هم تر لاسه کړي.

موږ د دغه کار لپاره داسې یوه ساده او ځانګړې ازموینه جوړه کړې چې حتی هلک او نجلۍ کولای شي هغه جدا جدا په خپل کور کې ځواب کړي او بیا یې موږ ته په خوندي بڼه راواستوي. موږ په کلکه د دې سپارښتنه کوو چې هلک او نجلۍ باید د یو بل ځوابونه و نه لولي دا ځکه چې بیا د دې ازموینې هغه اصلي مفهوم ته صدمه رسیږي او ممکن دوي د دې ځوابونو په پوهیدو سره یو له بل نه خفه شي. ځکه دا مهمه ده چې جوابونه باید محفوظ وي.

خو د لاندې موضوعاتو په باره کې توافق النظر جدي او ضروري ګڼل کیږي:

۱- څوک به د کورنۍ نهایي تصمیم نیونکی مشروي؟ سره له دې چې د شرعیت له مخې نارینه (میړه) د کور مسوول او مشر دی، خو په ځینو استثنایي حالاتو کې چې ښځه تر نارینه هوښیاره او توانمنده وي کولای شي د کور مسوولیت او مشري په لاس کې واخلي.

دا ضروري ده چې په کورنۍ کې یو نهایي تصمیم نیونکی معلوم وي، چې د ځینو ورځنیو موضوعاتو په اړوند د عدم موافقې په صورت کې، باید د هغه نفر فیصله نهایي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- څوک به پیسې تنظیموي او د پیسو د مصرف انفرادي تصمیم حدود به څه وي؟

۳- څه وخت او څو ماشومان به زیږوي؟

۴- کله او څه ډول کور به اخلي؟

۵- د ښځې او خاوند له خپلوانو سره به څه نوع روابط او تر کومو حدودو پورې ساتي؟

خصوصاً پدې ټکو توافق هلته جدي ضرورت وي چې هلک او نجلۍ د دوو مختلفو کورنیو او مختلفو کلتورونو لکه ښاري او اطرافي، بډاي او غریب، تعلیم یافته او بې سواده، تاریخچو لرونکي وي.

مونږ له ټولو پلرونو میندو او ځوانانو نه غوښتنه کوو چې خپل اولادونه تر واده کولو مخکې او هم ځوانان باید تر واده مخکې دغه امتحان واخلئ دا به له دوي سره لاندې مرستې وکړي.

لومړي- امتحان به د دغو دوو کسانو ( ځوانان تر واده مخکې ) او یا هم د ښځې او خاوند ترمنځ د اختلافاتو فیصدي ورپه ګوته کړي چې د دې فیصدۍ د اندزې په نظر کې نیولو سره بیا دوي ته ځانګړې مشورې ورکول کیږي.

دوهم- دا پوښتنپاڼه کولای شي چې د دغو دوو کسانو ترمنځ د اختلافاتو عمده ټکي واضح او روښانه کړي. اکثره خلک پدې پوهیږي چې له خپل شریکباڼ سره روحي توافق نه لري لکن دا ورته مشکله او ګرانه وي چې د اختلاف اصلي موضوعات ورته معلوم شي، دا امتحان پدې اړه له تاسو سره مرسته کولای شي چې د خپل منځي اختلاف اصلي ټکي روښانه او بیا یې تاسې د حل لپاره یو له بل سره واضح او روښانه خبرې وکړئ.



دریم- د دغه امتحان په نتیجه کې تاسې کولای شئ چې زموږ له طبي مسلکي مشورو څخه هم ګټه واخلئ او د دغو اختلافاتو په اړه د تصمیم او حل لارې په برخه کې زموږ لارښووني له تاسو سره جدي مرسته وکړي.

په هر حال دا ضروري خبره ده چې یو شمیر دغه موضوعات مخکې له مخکې سره بحث شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دواده د يو لړ اړخونو، پروګرامونو او د مصارفو په اړه تفاهم:

د هلک او نجلۍ ترمنځ تر تفاهم وړاندې دا ضرور ده چې له دوي هر يو په خپلو حقوقو او د مقابل لوري په حقوقو پوه وي (۱۰۱مخ وګورئ) او بيا دوي هر يو له مقابل لوري څخه د خپلو حقوقو په اړه پوښتنې وکړي او پدې اړه د هغه پوهه او منلو اندازه ځان ته معلومه کړي. يو له هغو مسايلو چې بايد د واده په اړه د هوکړې کولو نه تر مخه بايد دغه يو شمير موضوعات سره بحث او پرې تفاهم او موافقه حاصل شي، چې تر تعهد وروسته د اختلافاتو مخنيوي وشي. د ښځې او ميړه ترمنځ پر تفاهم د اسلام له نظره ډېر تاکيد شوي دی. پدې اړه الله پاک فرمايلي دي: (وشاورهم في الامر) ترجمه (اي د الله پيغمبره! ته د خپلو کارونو په اړه له ښځو سره مشوره کوه) دغه مسائل په عمومي توګه زيات خو لاندې موضوعات يې اساسي دي.

(۱) د مهر اندازه. (۲) د ولور موضوع او اندازه. (۳) خوړه (طويانه) يا د واده د مصارفو اندازه. (۴) جهيز. (۵) د واده د مراسمو لپاره مناسب طريقه ځای. (۲) په واده کې د ميلمنو د شمېر ټاکنه.

۱-د ولور موضوع او اندازه: لومړی بايد د ولور او مهر پر فرق خبرې وکړو، مهر يو شرعي منل شوي اصل دي چې د نکاح د شرعي کيدو لپاره يو شرط دی. مهر هغه پيسې دي چې هغه بايد ميړه ښځې ته د نفس د تصرف په مقابل کې ورکړي. دا پيسې د ښځې مال دي او بل هيڅوک لکه د نجلۍ پلار، مور، ورور يا بل څوک نشي اخيستلای. د مهر حداقل اندازه په شريعت کې معلومه نده، حتی قران شريف د څو اياتونو ورزده کول هم پيغمبر(ص) په مهر کې د قبول وړ بللي وو. خو ميړه کولای شي چې له دې څخه زيات مهر چې که وغواړي خپلې ښځې



ته ورکړي باک نه کوي لکن کمه اندازه يې ترجيح شوې ده. ښځه کولای شي چې خپل مهر بيرته خپل خاوند ته ورکړي. که څه هم چې د مهر حداقل اندازه په شريعت کې معلومه نده، خو يو څه شي بايد وټاکل شي، چې د نکاح شرطونه پوره شي.

### مهر په دوه ډوله دي:

الف- معجل (فوري) مهر: هغه مهر دي چې بايد فوراً او د نکاح په وخت کې ښځې او يا يې د وکيل له لارې هغې ته ورکړل شي.

ب- مؤجل (ځنډني) مهر: هغه مهر دي چې خاوند يې کولای شي تر واده هم وروسته ښځې ته ورکړي. د دغه مهر اندازه اختياري او د ښځې او خاوند په موافقې پورې اړه لري. خو کله چې وټاکل شو دا د نارينه مسووليت ګرځي چې هرڅومره ژر چې امکان ولري بايد ښځې ته يې ورکړي. دواړه مهرونه کله چې ښځې ته ورسېدل په ښځه باندې فوراً دهغه ذکات لازمېږي نو ځيني خلک بيا د همدې له وجهې موجل مهر ځنډوي.

دا ضروري خبره ده چې د دواړو مهرونو په اړه د هلک او نجلۍ ترمنځ دغه مخکې له مخکې خبرې شوې او د دواړو موافقه پرې حاصله شوې وي. دغه راز هريو بايد ټاکل شوي شرايط له خپلو کورنيو سره شريک او هغوي هم پدې فيصله مخکې له مخکې قانع کړي، کنه نو دا موضوع اکثراً بيا د واده د مراسمو په وخت کې د يو شمير جنجالونو، بدرنګينو او سپکاوي سبب کېږي.

۲-د ولور موضوع: ولور هغه پيسې دي چې اکثراً د نجلۍ کورنۍ يې په هلک ږدي- د يو اندازه معينو پيسو يا جايداد په مقابل کې خپله لور دغه هلک ته ورکوي- ولور په شريعت کې جواز نه لري او د کلتور

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لحاظه هم یو منفي او بد عمل دی. د دغه بد عمل اثرات دوه اړخیزه او دا دي:

الف- ډېرکلهٔ هلک نشي کولای چې دغه ډول لوړ ولور پوره کړي او بیا چې کله د فعتاً د یوه لوي مجلس په مخکې له داسې یوې غوښتنې سره مخ شي ، پایله یې بیا د شرم او مجبوریت په لحاظ زغمونکې نه وي او نه یې زوم ردولی شي. پدې توګه د داسې یو پیټې منل ورباندې ور وتپل شي چې هغه یې له توانه نه نشي وتلای او بالاخره یې د پوره کولو لپاره یا قرضدار شي او ځیني ځوانان خو بیا کلونه کلونه له کور او کلي نه مسافر او په نورو هیوادونو کې په غریبۍ پسې د عمر یو مهه او زیاته موده د همدغه غلط رواج قرباني شي. حتي ځیني ځوانان بیا د همدي سوچونو په اوږدو کې چرسیان، پوډریان او ټول ژوند یې تباه شي. نو مخکې له دې چې تاسې د دغسې یوې لوبې ښکار شئ او داسې یوه مرحله کې پدې اړه خبرې کوئ چې حتي تاسې ته د خبرو شرایط هم نه وي. په دې تړاو اړینه ده چې دغه موضوعات مخکې له مخکې لومړي د هلک او نجلۍ ترمنځ فیصله شوې وي او بیا د دوی له لارې او یا هم په مستقیمه توګه د کورنیو د مشرانو له لارې معلوم او په ارامه وجه او باصلاحیته محیط کې له پوره سوچ او فکرسره بحث شوي او د قناعت وړ ګرځیدلي وي، چې د نکاح او عامه مجلسونو په منځ کې له غیرلازمي فشارونو او تحمیلي منلو څخه مخنیوی وشي.

ب - د ولور په اړه باید تاسې داسې فکر وکړئ چې لومړي هغه باید هیڅ ونه منئ او په مقابل کې تاسې د نجلۍ کورنۍ له جهیز څخه معاف کړئ او که په خپلو کې مجبور شوي نو ښه اصل دا دی چې له مناسب حد نه زیات نه وي.



## ۳. خوړه (طویانه):

طویانه هغه پیسې دي چې ډېرکله یې د نجلۍ کورنۍ د هلک له کورنۍ څخه د واده د مختلفو مجلسونو او مراسمو لپاره نقدې او یا هم د خوراکي موادو په شکل اخلي. کله کله دغه مصارف دومره غیر عادلانه وي چې د هلک د کورنۍ لپاره د یو بې ځایه سردردي سبب جوړېږي. په داسې حال کې بهتره وي چې د طویانې په اړه مخکې له مخکې خبرې وشي او د امکان په صورت کې هغه له منځه یوړل شي او یا اقلاً داسې یوې اندازې ته را ټیټه کړای شي چې د منلو وړ وي.

## ۴. جهیز:

جهیز هغو اسبابو ته ویل کېږي چې ښځه یې له ځان سره د خاوند کورته وړي. سره لدې چې دا موضوع په افغانستان کې په ډېره پراخه کچه دود نه ده، اما په ځینو نورو هیوادونو لکه پاکستان، بنګله دیش او هندوستان کې دا د نجلۍ په کورنۍ یو غیرضروري، لازمي بوج وي چې په هغو ملکونو کې دغې موضوع دومره مشکلات رامنځته کړي چې زیاتره نجونې یې له دې وجې واده نشي کولای.

د جهیز موضوع درې ستونزې لري: لومړي دا چې دا د نجلۍ د کورنۍ لپاره یو اضافي سر دردي وي او د تکلیف سبب یې کېږي. دوهم دا چې ځیني ښځې بیا تر واده وروسته له دې شیانو نه استفاده کول صرف خپل صلاحیت بولي چې دا بیا د میړونو په صلاحیتونو کې یو ډول مداخله ده چې د اضافي ستونزو سبب جوړېږي.

درېیم کله کله ممکن د جهیز سامان د نوو واده شوو کسانو له شرایطو سره برابر نه وي چې پدې توګه ترې ښه فایده نشئ پورته کېدای. د بېلګې په ډول: کله چې زما لومړي واده کیده، نو زما خسرګنۍ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیښوریان وو د یوزیات اندازه جهیز په تیارولو مصروف وو ، زه له دې ډول چارې سره په کلکه مخالف وم (د تفصیل لپاره ۲۲مخ وګورئ) نو لدې کبله په کلکه سپارښتنه کوم چې دا به ښه خبره وي چې نجلۍ د جهیز په عوض هر هغه څه چې یې پلار ګڼي هغې ته ورکوي د نقدو پیسو په څیر له ځان سره د خاوند کورته یوسي او بیا پرې هلته د مېړه په مشوره د اړتیا وړ هغه اسباب واخلي چې د دوي له استوګنځي سره مناسب وي. دې چارې به له یو اړخه د وړلو راوړلو ستونزه کمه کړې وي او له بلې خوا هغه به یې د زیانمنېدو یا ماتېدو مخنیوي او له پیسو مناسبه ګټه اخستلې وي.

## ۵. د واده د ځای او مصارفو تعینول:

د واده د مصارفو په جمله کې یو عمده او لوي مصرف د واده د محفل ځای، د غذا نوعیت، سندرغاړي او د میلمنو شمیر دی. څرنګه چې دا هم د مصارفو یو مهم او غټ اړخ تشکیلوي، نو دا به ښه وي چې پدې اړه هم مخکې له مخکې خبرې شوې وي او متقابله موافقه پرې حاصل شوې وي. که چیرې پدې اړه د دواړو لوریو دریځ سره ډېر فرق ولري او یا د یو اړخ وړاندیز بل خوا ته د قناعت وړ نه وي، دا باید همدا اوس فیصله او که فیصله کول یې غیرعملي وي نو د واده له لفظ ورکولو نه دې ډډه وشي.

د واده مجموعي مصرف باید ستاسې د وداه لپاره د ټاکلې بودیجې له ۵۰٪ څخه زیات نشي. دا به ښه وي چې تاسې د خپلې کورنۍ اقتصاد او امکاناتو ته په نظر کې نیولو سره د خپل واده د ټولو مصارفو اندازه وټاکئ او د دې بودیجې معینه فیصدي هر پروګرام یا هرې برخې ته تعین کړئ او تراخره دې کوښښ وشي چې د یوې برخې مصارف هم له



ټاکلې بودیجې څخه زیات نشئ. خو دا ضروري خبره ده چې تاسې باید د سنجول شوو مصارفو دوه چنده او که نه اقلاً یو نیم چند پیسې له ځان سره چمتو ولرئ، ځکه په واده کې ځینې داسې مصارف هم پیښیږي چې هغه ته به ستاسې هیڅ پام نه وي شوي او یا هم هغه ټاکلې اندازه ور ته ممکن بسنه ونه کړي. د واده لپاره د عمده مصارفو جدول د همدې فصل په اخر کې وګورئ.

## د واده لپاره مالي منابع:

د واده مصارف د هرسړي د واده له مخې فرق لري چې په عمومي توګه دا مصارف په دوه ډوله دي:

۱. په کلي ، کورونو او حجرو کې واده
۲. په هوټلونو کې واده

د کورني ودونو مصارف که څه هم نسبتاً کم وي خو تکلیف او ستوماني یې زیاته وي. د هوټلونو د ودونو مصارف زیات اما تکلیف یې کم وي.

ښه دا ده چې د واده لپاره یا خپلې نقدي پیسې ولرئ او یا هم هغه له داسې کسانو څخه په پور واخلئ چې اول یې هغه تاسو ته درکړي او بل دا چې د بیرته غوښتلو په اړه یې ډیره بیړه و نه کړي. دغه راز تاسې باید دا پیسې کافي موده تر مخه ښې پخې کړې وي چې بیا د واده په وخت کې د پیسو له اړخه پاتې را نشئ. د پیسو د پور کولو په برخه کې دا مهمه ده چې د بیرته ورکولو په اړه یې هم تاسې باید ټاکلې موده او یو معلوم مدرک په نظر کې نیولې وي. اکثره خلک په واده کې داسې ګرم شي چې خپل ځان ته نه پوهیږي او دومره مصارف وکړي چې بیا یې پرېکول ورته یو لوي مصیبت وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له يو شمېر هغه مرکو چې مو له ځو واده شوو کسانو سره کړي دا جوته شوې ده چې د هغوي يو زيات شمېر د خپلو ودونو په بېځايه مصارفو پښېمانه وو. واده يو ډېر پرمصرفه او اوږده پروسه ده چې له مرکې شروع او آن تر واده وروسته يې هم ځيني مراسم غزېدونکي وي.

د نامزادۍ په مرحله کې بايد د هلک کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته يو څه پيسې په دستمال او پتنوس کې کېږدي او بيا د کوژدې مراسم هم اکثراً ډېر زيات شوي، ځکه اوس خو اکثره کوژدې هم په هوټلونو کې نيول کېږي نو دا له ډېرو مصارفو سره ملګري وي.

څومره چې د کوژدې او واده ترمنځ وخت زياتيږي، هومره ورسره نورې خوښۍ او مصارف لګه اختري، د برات برخه او داسې نورې کيسې پام کې ونيول شي چې پدې برخو کې هلک بيا يو څه جامې او خوراکي مواد د نجلۍ کورته وروړي. خو ترټولو غټه برخه په ودونو کې د واده مصارف دي چې هغه د ضميمې په ۴ جدول کې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم څپرکی
## د واده پر وخت ځینې موضوعات او مکلفیتونه

## وا ده ته تیاری

### یو با پلانه واده یعنې څه؟

یو با پلانه واده هغه دې چې تر کافي وړاندې مودې ورته په منظمه توګه کارشوي وي. مثلاً: اقلاً د یو یا د دوو کاله ورته کار شوي وي. د واده لپاره کافي مالي تدابیر نیول شوي وي او د ضرورت وړ پیسې ورته اماده شوې وي. خو اقلاً د درې میاشتو له مخه تر یو منظم پروګرام او مهال وېش لاندې باید کارونه ترسره کړای شي.

دا ډېره مهمه خبره ده چې د هلک او نجلۍ ترمنځ هم لیدنه کتنه، د امکان په صورت کې په ځینو مهمو خبرو خبرې شوې وي او د ضرورت وړ توافقات ترسره شوي وي، دا به ښه خبره وي. که شرایط اجازه ورکړي دا به ښه وي چې د واده د یو شمیر غټو مصارفو او مهمو مسائلو په اړه سره هلک او نجلۍ په خپلو کې موافقې ته رسیدلي وي. او بیا دې دوي په دغه موافقه د خپلو کورنیو موافقه هم تر لاسه کړئ.

د کور د ضرورت وړ ځینو اسبابو اخیستل او خاصتاً د ناوې لپاره د لباسونو او طلا په اخیستلو کې د نجلۍ ونډه به ګټوره وي.

که نجلۍ نشي کولای چې له هلک سره یو ځای د سودا اخستلو لپاره لاړه شي، بیا کېدای شي چې د هلک د کورنۍ له ځینو ښځو سره یو



ځای ولاړه شي او د کور د ضرورت وړ توکي خپل لباسونه او حتی د میره لپاره هم لباسونه د هغه له ذوق سره برابر واخلي. د درې میاشتو په دننه کې د واده اړوند کارونه تدریجاً زیاتیږي. که تاسې د دغو اړونده کارونو لپاره یو منظم تقسیم اوقات په ضمایمو کې ۲ جدول وګورئ) جوړ کړئ، وبه کولای شئ چې کارونه ښه پلان او په پوره حوصله مندۍ، بې له دې چې تاسې وار پار خطا شي او یا مو ځینې چارې پاتې شي؛ و به کړای شئ چې له دغه جدول څخه کاپي واخلئ او هغه د خپل پلان او پروګرام له مخې ډک او له مخې یې پرمخ ولاړ شئ. دا ډېره مهمه ده چې تر ممکن حده هر کار په هماغه ټاکلي وخت ترسره شي.

که تاسې د یو کار لپاره کوم شخص موظف کړي وي او هغه خپل کارونه بې له کوم معقول عذر څخه ترسره نکړي، کوښښ وکړئ چې نور کارونه هغه ته و نه سپارئ.

د مهال وېش جوړول او له مخې یې د هر کار لپاره اړوند مالي امکانات برابرول، دغه راز د هر کار د تکمیل لپاره ټاکلې نیټه او معلوم شخص ټاکل ډېر ضروري او اساسي کارونه دي. د ځینو کارونو لپاره تاسې ممکن ضرورت ولرئ چې دوه یا زیات کسان وټاکئ خو په دې صورت کې دا حتمي ده چې اول مسوول شخص او د هغه معاون او همکار په توګه ټاکل شوي شخص معلوم وي. د موظفو اشخاصو په ټاکلو کې هم ډېر دقت پکار دي او هر کار باید هغه چاته وسپارل شي چې د کولو توان او علاقه یې ولري.

هر کار ټاکل شوي مسوول شخص ته دا باید واضح شي چې په مهمو کارونو کې د وروستۍ پرېکړې نه مخکې هغه له تاسو سره مفاهمه وکړي. که د کومې برخې پیسې تاسې ته زیاتې او بې تناسبه معلومې شوې، د هغې لپاره یو بل ټیم هم مؤظف کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلې کوژدې، د نکریزو د شپې او واده د مراسمو لپاره یو ښه تکړه او با مسوولیته عکاس او فلمبردار استخدام کړئ، چې دغه ټول پروګرامونه په ښه او منظمه توګه ریکارد کړي. البته پدې اړه دغه لاندې ټکي خاص ارزښت لري.

۱- دغه کمپنۍ، یا شخص باید د ښې تجربې خاوند وي ولو که قیمت یې یو څه زیات هم وي، دا ستاسو د ژوند یو ځانګړي وخت دي باید خاطرات یې په ډېر ښه شکل راټول او ریکارډ کړل شي.

۲- که امکان ولري داسې یو څوک استخدام کړئ چې هغه په مطمئنه توګه ستاسو د عکسونو او فلم خامو موادو اصل یا چپس (وړوکې کمپیوټري ریکارډ کوونکې پرزه) هم تاسو ته در وسپاري. دا دوه ګټې لري: یو ستاسو د عکسونو یا فلم د خرابوالي په صورت کې تاسو ترې بیا استفاده کولاي شئ. دوهم ستاسې د واده عکسونه او فلم د خپریدو او بل چاته له لاس ته ورتللو خوندي پاتې کېدلي شي. خو دا "کنده" مواد باید تاسو په یوه محفوظ پلاستیکي پاکټ کې خوندي او د پاسه پرې واضح ولیکئ او هغه په یوه خوندي ځاي کې له نورو مهمو اسنادو سره یو ځاي وساتئ. البته د عکسونو او نهاي فلم اقلاً دوه کاپۍ له ځان سره د نهايي موادو اوریجنل (اصلي) موادو سربېره ترې واخلئ او هغو نورو موادو سره یې یو ځاي خوندي وساتئ، باید لیبل یې هم کړئ.

**۳.** له عکاس او فلمبردار څخه دا تعهد واخلئ چې د هر کار لپاره جلا جلا اشخاص مؤظف کړي؛ ځکه یو سړي په یو وخت کې هم عکاسي او هم فلم برداري نشي کولي.

**۴.** له عکاس او فلمبردارانو نه دا تظمین واخلئ چې ستاسو د واده دغه مواد(فلمونه او عکسونه) ترې ګل او یا ورک نه شي. که احیاناً داسې



پیښه وشي نو هغوي به څومره تاوان تاسو ته درکوي؟ دغه تاوان باید اقلاً د هغه د اجورې (مزدورۍ) پنځه چنده وي. دا موضوع ورنه په لیکلې توګه سند واخلئ.

**۵.** همدا راز پدې اړوند چې ستاسو د واده مواد په هیڅ صورت هم بازار کې د عرضې لپاره او یا هم چاته یې د ښوولو لپاره ستاسو له اجازې پرته حق نه لري. (مګر دا چې د افغانستان قوانینو یې حکم کړي وي) هغه له بل چا سره شریک کړي او یا یې بل چا ته وښیي، پدې اړه هم ترې لیکلي سند او د تخطۍ په صورت کې یوه لوړه جرمانه واخلئ. دا سند باید د دواړو خواو امضآ او دوه تنه بیطرفه ولی پیدا کیدونکی شاهدان هم امضا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یوه ښه واده د مراسمو لپاره تیاری:

دا چې اوس نور ټول مراحل تکمیل شوي او تاسې دې ته تیار یاست چې واده وکړئ، دا دې موږ هم په دې اړوند ځینې سلا مشورې درسره شریکوو، هیله ده چې تاسې دا برخه څو، څو ځل تر واده له مخه لوستې وي، که مو نه وي لوستې جداً مشوره درکوو چې له واده نه یو میاشت له مخه ا وبیا ترې وروسته هره اونۍ کې یو ځل دا برخه ولولئ او ځینې خاصې لارښوونې د ځان لپاره یادداشت کړئ. واده یوه مغلقه، فشار راوړونکې او ستومانه کوونکې پروسه ده چې ورته لازم او مناسب تیاري اقلاً درې میاشتې له مخه که نه وي نو اقلاً یو میاشت له مخه خو باید ونیول شي. موږ به پدې اړه ځینې عمده لارښوونې د میاشتو او اونیو په حساب تاسې ته په ۲ جدول کې لیکلې دي، هیله ده تاسې به یې بیا خپلو خاصو شرایطو سره برابر کړئ.

الف- هغه کارونه چې تر واده درې میاشتې د مخه باید ترسره شي:

۱- خپلو خپلوانو سره د واده د میلمنو، د محفل د ځاي او د واده د بلنلیک په اړه خبرې وکړئ.

۲- د خپلې کورنۍ له مشرانو سره کینئ او د واده ممکن مصارف تخمین کړئ.

۳ - د واده د کارنو لپاره یوه منظمه کتابچه واچوئ او په کې ټول موضوعات او وظایف درج کړئ.

۴- د سنجول شوو مصارفو اقلاً دوه چنده که نه نو لږ تر لږه (۵۰٪) اضافي پیسو د پیدا کولو لپاره قاطع او ټاکلي پلان ونیسئ. که له چا څخه پیسې قرضول غواړئ، حداقل ۱-۳ هفتې وخت ورکړئ لېکن د قاطع ځواب غوښتنه ترې په یو هفته کې وکړئ او ورته ووایئ چې دا



موضوع جدي ده که تاسې کومک کولای شئ ښه او که نه نو ما په طمع کې مه پریږدئ.

۵ - که تاسې هر څومره پیسې قرض ته ضرورت لرئ باید هغه معلومې او په یو مناسب تناسب سره یې په هغه دوستانو و ویشئ چې تاسې پدې یقین لرئ چې اول هغه دا اضافي پیسې لري. دوهم دا چې هغوی په تاسې اعتماد وکړي چې پیسې به درکړي. هر شخص ته په واضح توګه ووایاست چې تاسو په خپله وعده کې جدي یاست او دا هم ورته په واضحه توګه و وایاست چې تاسې به کله د دوي پیسې بیرته ورته سپارئ. دا مو په یاد وي چې ممکن ۷۰٪ خلک چې تاسې پرې حساب کوئ تاسو ته پیسې درنکړي، باید د هغوي په عوض نور کسان په نظر کې ولرئ او ورته ووایاست. دا پروا نه کوي که پیسې درته زیاتې راغلې هغه اضافه پیسې مه مصرفوئ، خوندي یې کړئ او له واده نه یې یوه یا دوه جمعې وروسته یا هماغه شخص ته ورکړئ او یا که نور خلک چې عاجل درنه پیسې غواړي د هغوي د پیسو یوه برخه ترې ورکړئ. دا به په دواړو صورتونو کې ستاسې لپاره ګټه وکړي او اعتماد او باور به مو لا ښه کړي.

۶ - د واده لپاره د مناسب او ضروري لباسونو او سامان الاتو اخیستل:

لومړي خو کوښښ وکړئ چې د خپل شریکباڼ په مرسته ترممکن حده د واده په وخت کې له غیر ضروري او اضافي خریداریٔ نه ډډه وکړئ، کوم لباسونه او سامان الات چې ډیر ضرور وي کوښښ وکړئ چې په اخیستلو کې یې د خپل شریکباڼ ونډه او مصحلت تر لاسه کړئ. که امکان ولري هغه هم له ځان سره خریداریٔ ته یوسئ. خو دې ته مو پام وي چې ممکن تاسې د خریداریٔ په وخت کې تر احساساتو لاندې راشئ او خپل شریکباڼ ته د خپل ځان د کم نه راوستلو لپاره ډیر قیمتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیان واخلئ. په دې برخه کې به دا ډېره ګټوره وي چې د همغه لومړي شي په اخیستلو کې هغه ته خپل اقتصادي حدود روښانه کړئ.

۷.په واده کې د میلمنو د شمیر ټاکنه: واده معمولاً داسې وخت وي چې خلک کوښښ کوي خپل زیات ملګري او دوستان دعوت کړي چې ځینې وخت بیا د میلمنو شمیر دومره زیات شي چې مناسب لمانځل یې مشکل او حتي کله کله ځینې میلمانه خفه هم شي، پدې اړه غواړم چې څو ټکو ته ستاسې توجه راواړوم.

۱- تاسې باید پدې پوه شئ چې د میلمنو راغوښتل اسانه او پالل یې خورا ګران کار دي. کوښښ وکړئ چې د میلمنو شمیر مو کم وي. د میلمه راغوښتلو ښه فارمول دا دي چې لست مو جوړ کړئ او په کې ټول خلک چې ستاسې زړه یې غواړي، نومونه یې ولیکلئ او بیا دغه میلمانه د اولیت په حساب د D-A پورې کته ګوري کړئ.

A ډله هغه میلمنو ته ورکړئ چې راغوښتل یې لازمي او هم ضروري دي، لکه نږدې خپلوان او دوستان.

B ډله هغوي ته ورکړئ چې راغوښتل یې ضروري نه بلکې لازمي دي.

C ډله هغه ملګرو او دوستانو ته وټاکئ چې راغوښتل یې ګټور دي

او D ډله هغوي ته ورکړئ چې راغوښتل یې ښه کار دي.

د مهم لازمي او ګټور میلمه معلومول صرف پدې کولای شئ چې فکر وکړئ، که ستا اوس پدې واده کې څو زرو ډالرو ته ضرورت شي او دا سړي یې ولري تا ته به یې درکړي که نه؟ که پوهیږئ چې دا پیسې به درنه کړي، راغوښتل یې هم په کار نه دي. بله دا خبره هم په نظر کې ونیسئ چې د هرچا راتګ واده ته هغه ته هم کافي تکلیف د وخت او پیسو ضایعه ده. ایا دا پدې ارزي چې هغه ته دې دومره تکلیف ورسیږي؟ د مثال په ډول، زما یو ملګري په مزارشریف کې دي او زما



د زوي واده په کابل کې وي، که زه هغه را وغواړم شاید چې تقریباً دغه واده ته زما د خفګان د مخنیوي لپاره راشئ، مګر له هغه ځای نه د ده راتګ د دې وړ دي او که نه؟ نو دا بل یو معیار دي چې تاسې کولای شئ په واسطه یې میلمانه کم کړئ.

نو چې کله مو لست پوره شو، بیا د خپل توان له مخې چې د څومره میلمنو لپاره یې لرئ، په ترتیب سره اول درجه، بیا دوهم، دریم او څلورمه درجه میلمانه راوغواړئ.

همداسې باید فکر وکړئ چې ستاسې مقابل لوري هم میلمانه رابولي، پدې حساب ستاسې د میلمنو تعداد دوچنده کیږي، باید د دې فکتور په نظر کې نیولو سره د خپلو میلمنو شمیره تعین کړئ.

د دې لپاره چې د مېلمنو ټولیزه شمېره کمه شي، نو ښه دا ده چې اول هلک خپل مېلمانه را کم کړي او بیا دی د همغه په تناسب د نجلۍ د کورنۍ نه هم د مېلمنو په را کمولو کې غوښتنه وشي. دا چې هغوی خپل مېلمانه کولای شي چې را کم کړي یا نه، دا د نجلۍ په کورنۍ پورې اړه لري، خو هلک باید د مېلمنو په راکمولو کې هر ډول انعطاف او بدلون ته

فکر مو اوسي چې تاسې هلته په مقابل لوري میلمانه کمولې شئ چې لومړي خپل میلمانه محدود کړئ، د میلمنو د تفکیک همدغه تصمیم د خپل شریکبانو سره شریک کړئ، چې هغوي هم له همدې میتود نه په ګټه اخیستنه خپل میلمانه کم کړئ.

د مېلمنو په اړه یو عمومي فارمول دا دي چې معمولاً له راغوښتل شوو میلمنو څخه **۱۵**٪ میلمانه نه راځي، مګر پر ځای یې ۲۰٪ نور اضافي نا رابلل شوي راځي. پدې توګه تاسې باید د رابلل شوو میلمنو تعداد ته حتماً په مکمل ډول تیاري ونیسي. یو بل فکتور چې د میلمنو په تعداد

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشـته موثر وي هغه د واده وخت، موقیعت او د هنرمندانو نوعیت دي. که واده په جمعه او رخصتۍ کې وي یا په یو لکس هوټل کې وي او یا هم ورته خاص سندر غاړي راځي، دا بیا ستاسې د میلمنو تعداد تر دیرش فیصده نور هم زیاتوي. لومړي ټول رابلل شوي خلک ورته راځي. دوهم یو شمیر نور اضافیي خلک (لکه ډریور، ګارد، ملګري) هم له ځان سره راولي چې دا فکتور مو همیشه په نظر کې وي.



## په د واده کې د غیر متراقبه حالاتو پیش بیني او د هغو سمه مهارونه:

په ودونو کې رنګارنګ او د مختلفو خویو او عادتونو لرونکي خلک سره یو ځای کیږي. دغه راز د هلک او د نجلۍ کورنۍ هم چې د واده د تیاري نیولو په وجه کافي ستړي شوي وي او ځیني خو یې بیا د اقتصادي ستونزو په وجه هم تر فشار لاندې وي یا ډېرکله په ودونو کې داسې ناګهاني خبرې او مصارف هم را پیدا شي، چې د واده والا ته حیرانوونکي وي، ددغه رنګارنګ مسایلو له امله ځیني داسې پیښې منځته راځي چې هغه واده او د واده پلان ګډوډ کړي. او کله کله د بې حوصله ګۍ، جنګ او جنجال سبب هم وګرځي، دا هغه موضوعات دي چې باید مخکې له مخکې پیش بیني او په اړوند یې لازم تدابیر نیول شوي وي. د مثال په ډول: ما دخپلې کوژدې لپاره (۲۰۰۰) کلداري خپل ملګري لودین صیب ته ورکړې، هغه راته سبا وویل چې له هغه نه دا پیسې ورکې شوي، موږ دفعتاً له دوو بدو پیښو سره مخ شوو. لومړي دا چې عاجل باید د کوژدې د مراسمو د بندېدو د مخنیوي لپاره نورې پیسې پیدا کړو او بل دا چې دا پیسې اوس باید څوک لنډې کړي؟ ایا دا چې لودین صیب زما لپاره ملګرتوب کاوه، باید دا تاوان زه وګالم، پدې کې زما څه ګناه وه؟ او که دا چې دا پیسې هغه ورکې کړي دي، باید هغه یې تاوان وګالي، دا خو بیا هغه زما په کوژدن کې بیځایه تاواني کېږي، ځکه دې کې د هغه څه ګناه وه. بالاخره مو فیصله دا وکړه چې تاوان به نیم کړو، دفعتاً به هغه پیسې له چا نه را واخلي. داسې پیښېږي چې تاسې د واده او کوژدې په مراسمو کې له یو شمېر ناڅاپي پیښو سره مخ شئ نو باید هغه ته فکر وکړئ او اماده ګي ورته ونیسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله نمونه يې دا وه چې ما مې خوابښې سره تر کوژدې مخکې شپږ تولې طلا (سره) وعده وکړه، زما دا وعده د هغو خبرو په اساس وه چې ماته به مور ويل: ماستا ښځې ته ګاڼه ساتلې ده، دا کله هم نه هغې و ويل چې هغه ګاڼه څه وه او نه ما ترې چيري پوښتنه کړې وه. بالاخره معلومه شوه چې هغه يو څه سپين زر وو چې قيمت يې ډير نا څيزه وو. زما هغه اټکل چې يو څه ګاڼه خو کور کې لرم او يو څه به ورسره واخلم پرځاي يې يوه بله ناڅاپي ستونزه هم راپيدا شوه، چې د دې کار تر سره کول يې ستونزمن کړ. کله چې ما مرکې کولې او کوژدن مې لا نه وه کړې، زه پدې وخت کې د يوې نړيوالې ادارې سره په ډېره ښه دنده بوخت وم، شپږ زره کلدارې تنخواه مې لرله چې دا په هغه وخت کې په پاکستان کې ډېره لوړه تنخوا وه. د کوژدې او واده ترمنځ زما د يوې اشتباه له وجهې چې هغه هم زما په يوه بې ځايه غيرت ولاړه وه، زه د وظيفې نه برطرف شوم او له يو لړ اقتصادي ستونزو سره مخ شوم. کله چې د واده شپه رانږدې کيده د يوې خوا رانه پلار او مور مرور وو او له بلې خوا مې وظيفه له لاسه ورکړې وه، دا ښه و چې مسلک مې ډاکتري وه او د ډاکترۍ مسلک ښه والي پدې کې و چې سرکاري وظيفې پورې يې ډېر تړاو نه درلود. هغه زما د يو ملګري خبره مې رايادا شوه چې کله کونړ څلور کليوال د لومړي ځل لپاره د طب پوهنځي ته کامياب شوو، زه او زما دوتنه نور کليوال درې واړه په خوشحالۍ کورته روان وو، د غوث الدين نورزي په نوم زما يو کليوال ملګري مو مخې ته راغي، ما ورته حال وويلې چې موږ درې واړه طب پوهنځي ته کامياب شوي يوو، ده لومړي شوخي وکړه، يوه ګولۍ يې له جيب څخه راوويسته او وې ويل چې ډاکترصاحبانو دا د څه لپاره ده؟ موږ هم وخندل. هغه وويل: ملګرو ډير ښه شوو داسې مسلک مو انتخاب کړي چې ډوډۍ مو هر وخت



ګرمه، او به مو يخې او عزت به مو هر چيرې وي. ما غونډې به د سر کار لاس ته نه يې ناست. ماته هم ډاکترۍ د معاينه خانې له لارې دومره پيسې راوړې چې پرې ژوند وکړم؛ لېکن د واده د پيسو درک نه و. د بلې خوا په وطن کې هم د جنګ جګړو له کبله د ځمکې او پټې عايدات ټول له منځه تللي وو، پلار مې دي خداي وبخښي چې کله يې را سره "جوړه" وکړه او پيښور ته راغي، راته يې وويل چې که تا دا غلطۍ نه وې کړې او زه دې اول کې راغوښتي وم ما به دا شرايط (د خسرګنۍ له خوا شپږ تولې طلا) نه وو منلې. خو اوس چې نه موږ سره پيسې شته او نه هم له تاسره نو ګېر يوو، خير وبه ګورو چې زه څه وکړم.

زما پلار يو کليوال سړي و، مکتب يې نه و لوستي لېکن ډېر ښه ليک او لوست يې زده و. په تجارتي معاملو هم ډير ښه پوهيده. ولسي روغې جوړې به يې کولې. بالاخره دا د هغه هماغه ولسي حکمت او پوهه وه چې واده مو زموږ د شرايطو سره برابر وشو. خير په واده کې مې يو څه روپۍ له يوه دوست نه هم قرض کړې، ښه وه چې زر مې بيرته ورلنډې کړې.

د دې کيسې د شريکولو نه اصلي هدف دا دې چې لومړي په واده کولو کې ډېر احتياط وکړئ، سره لدې چې زه له خپل واده نه راضي وم، دا د قضا او قدر خبره وه چې زما د ټولو هغه تصميمونو برخلاف ما له يوې پاکستانۍ نجلۍ سره واده وکړ، زده کړې يې تر اتم ټولګي وې، ما د واده تر شپې هم هغه نه وه ليدلې او هر څه د نورو په سترګو ترسره شوي وو. خو زما د ناپوهې په وجه خپلې خسرګنۍ سره د هغه څه وعده کړې وه چې پوره کول يې مشکل او غير عملي وو. اصلاً ما دا نه وه سنجولې چې ممکن زه دنده له لاسه ورکړم، ما ناسم اټکل کړي و چې پلار به مې واده کې راسره کومک وکړي، زه پوه نه وم چې وچکالۍ او جنګونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نه مالي توانمندي اخيستې وه او يا هم ممکن هغه پدې وجه چې ما په مرکه او کوژده کې نه و خبر کړي، د قهر او غسې له امله يې زړه نه وي غوښتي را سره مرسته وکړي. يا خو هغه غوښتل دا ماته وښيي چې ما دا دومره کلونه ډاکترې وکړه نو له پيسو سره مې بد چلن کړي و او کومه ذخيره مې ترې نه وه بېله کړې. نو ده غوښته چې ما ته يو عملي درس راکړي. دغه مسايل د دې سبب شوو چې زه بل چاته سوال وکړم چې راته د پيسو قدر معلوم شي. دا هر يو دليل د ستاينې وړ وو، مګر زه پرې نه پوهيدم. غواړم تاسې ځوانانو ته دا ووايم چې وګورئ زه پدې وخت کې (۳۱) کلن وم، سره لدې چې زه د ښوونځي په درسونو کې ډېر پوه، هميشه اول او يا دوهم نمره وم، هومره چې بايد هوښيار وم نه وم، نه مې د پيسو ارزښت ته پام و او نه مې ترې څه له ځان سره سپما کړې وه. دلته دې چې تاسې د پوهې او هوښيارۍ په فرق پوهيداى شئ. پوهه يو ځانګړي استعداد دي او هوښياري بل ځانګړي استعداد چې يو له بل څخه بېل دي.

د پوهې په وجه خو زه په ښوونځي کې تل اول يا دوهم نمره وم، مګر د هوښيارۍ د کموالي ثبوت دا و چې د پيسو د ساتلو چل يا زما زده نه وه، يا مې عملي کولاى نشو. رښتيا هم چې د پيسو ساتل يو ځانګړې مهارت غواړي.

اصل خبره مو د دې کوله چې په کوژده او واده کې داسې غيرمتوقع او نابېره پيښې پيدا کېږي چې تاسې ممکن هغه هيڅ تصور هم نکړئ، داضروري ده چې د غسې نابېره پيښو ته پيشبين اوسئ.

په ژوندانه کې د فکر او نظرونو او يا د دستورونو او کلتورونو اختلافات دا شان لانجې او جنجالونه زيږوي. زه غواړم چې تاسې



ځوانان دې ته متوجه اوسئ او کوښښ وکړئ چې د دغسې پېښېدونکو مسايلو مخه مخکې له مخکې ونيسئ.

تر واده يوه شپه له مخه مې د خسر کورنۍ راغله او زموږ کور ته يې نکريزې را وړې وې، موږ خو کليوال خلک وو، پدې دود او دستور هم دومره نه پوهېدو چې د نکريزو په پروګرام کې څه څه شامل وي او نه دوي له ما سره مخکې له مخکې پدې اړه خبره کړې وه، کله چې دوي رانه غوښتنه وکړه چې زه بايد په يو سينګار شوي پالنګ کېښنم او دا پيښورۍ نجونې به رانه شاوخوا ګډېږي او ما ته به نکريزي کوي، زه خو سياسي سړي وم، دا راته څه بل شان بې عزتي او چټي کار ښکاريده، سمدواره مې ترې انکار وکړ. زما دا انکار هغوي ته يو ډول سپکاوي و. دې موضوع جنجال پېدا کړ، بالاخره مو سره حل کړ، څه زه ښه شوم او څه هغوي تغييرات ومنل. خو د موضوع اصلي مشکل دا وه چې مونږ بايد مخکې له مخکې يو د بل سره پدې اړه واضح او په تفصيل سره خبري کړي واى، او يوې موافقې ته رسيدلاى واى نو نه به زه سپکيدم، او نه به دوي بې عزته کيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر واده وړاندې دوستانو ته د ډالیو د لست تیارول:

په خارجی هیوادونو کی دا عادت دی چې کله یو هلک او جلی واده کوی، نو دوی د خپل ضرورت وړ شیان په یوه لست کی ثبت کړی، او د یوی مغازی سره خبره وکړی چې د دوی د تحفو اخستونکو ته یوه ټاکلی فیصدی ارزانوالی ومنی. بیا دوی (هلک او نجلی) خپلو دوستانو ته وایی چې د دوی د ضرورت لست په ـــ مغازه کی دی. نو پدی ډول د دوستانو او خپلوانو نه هر څوک ورځی، او د هغه لست له مخی هر هغه شی چی د دوی په وس پوره وی اخلی. پیسی یی ورکوي، لاکن جنس هملته پریږدی، خو مغازه خریدار ته یو رسید ورکوی، او په یوه جدا لست کی دا رسوی چی کوم سامان چا اخستی دی. اما په عمومي لست کی د چا نوم نه وی، صرف هغه جنس باندی خط راکش کول کیږی چې معنی یی داده چې دا جنس اخستل شوی دی. او پدی توګه بیا هغه مغازی والا هغه جنس د لست نه لری کوی، او د ټولو خریداریو په اخر کی بیا دغه ټول سامان د هغه هلک کور ته وروړی. دا یو ډیر ښه کار دی چه لاندی فایدی لري:

۱- خریدار ته هغه جنس څو فیصده ارزانه پریوزی او د وړلو نه یی هم بیغمه وی.

۲ـ د واده والا ته ټول د ضرورت وړ شیان اخستل کیږی، اما داسی نه کیږی لکه څمونږ په شان چی یو شی دوه دری کسانو اخستلی وی او نور د ضرورت وړ شیان پاتی وي.

سره لدی چې دا کار تر اوسه څمونږ په ملک کی رواج نه لری خو رواجول به یی ډیر ښه او ګټور کار وی. او تر هغو چې مونږ دی مرحلی ته رسیږو نو ښه خبره به دا وی چی د واده والاو نه یوه پوښتنه وشی، او د څو قلمونو اجناسو چی دوی ور ته ضرورت لری لست واخستل شی



او د تحفو اخستونکي دی بیا د هغه لست نه یو جنس خوښوي، او په لست کی دی پری قلم راکشوي، چې بل څوک یی وانخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د واده (ناوې او شاه) د کوټې جوړول:

ترټولو مهمه داده چې تاسو باید د خپل واده کوټه مخکې له مخکې سینګار کړې وي.

۱- په کوټه کې مو باید له روښانه څراغونو سره، ډیم او رنګه څراغونه هم فعال وي.

۲- د خوب په کوټه کې د تلویزون ایښودل مناسبه نه ده، دا ځکه چې د تلویزون کتل ستاسو تؤجه له میرمنې او د هغې توجه له تاسو څخه بلې خوا ته اړوي. خو که تلویزون هم لرئ، باید د واده په اولو شپو کې یې و نه ګورئ، ځکه چې هغه ستاسو توجه بلې خوا ته اړوي. یا یې صرف مشخص د څو لحظو لپاره لکه خبرونه وګورئ او نور یې بند کړئ.

۳- د تلویزون په عوض د موزیک وسایل خاصتاً سې ډې پلیر، رادیو ټیپ او د نرمو او ښاسته سندرو سې ډې ګانې او کسیتونه باید اماده او لاس رسي ته نږدې وي.

۴- (۲-۸) د کتان واړه دستمالونه مخکې له مخکې تیار کړئ. دا دستمالونه که په ترمو اوبو کې تاوده ایښودل شوي وي، تر کوروالي وروسته به ستاسې دواړو د تناسلي الو د پاکولو لپاره ډېر مزه دار وي. او یا هم دا دستمالونه د ضرورت لپاره د خپل بستری په خوا کی دومره نږدې اماده کیږدئ چې د کوروالي په وخت کې ستاسو لاس ورته په اسانۍ ورورسیږي.

۵- د واده د بسترې او روجایۍ دپاسه هم یوه بله پسته روجایي د دې لپاره تیاره غړولې واچوئ چې د کوروالي په وخت کې مو بیا د بسترې روجایي ناولې یا لمده نشي.

۶- له کوروالي نه د پوره خوند اخستلو په خاطر خصوصاً د اولې شپې لپاره یو څه واسلین یا د زیتون تیل د کټ سرته کیږدئ او د اول ځل



مجامعت (کوروالي) په وخت کې لږ څه د میرمنې په مهبل کې او د خپلې تناسلي الې دپاسه استعمال کړئ. دا چاره د ښځې د مهبل د پردې د سوري کېدو په وخت کې له درد څخه مخنیوي کوي او د ښځې د تناسلي هارمونونو او افرازاتو د تحریک سبب کیږي. دغه راز د ښځې مهبل نرموي او د مجامعت لپاره یې ښه اماده کوي چې د کوروالي په وخت کې د درد د احساس په عوض د خوښۍ او خوند احساس کوي. دغه کار ته همیش دوام ورکړئ خو ډېر لږ یې استعمالوئ. د دی تیلو استعمال د هر ځل مجامعت په صورت کی ډیر ګټور او خوندور وی.

۷- په خپله کوټه کې مو باید یوه لویه قد نما شیشه هم لګولې وي.

۸- که مو په وس پوره و کوشش وکړئ چې د واده تخت دا سې جوړ کړئ چې د تخت لپاسه یې یوه غټه رونمایي شیشه لګیدلې وي چې په هغه شیشه کې خپلې میرمنې سره د کیف او لذت ټولې صحنې وکتلای شئ.

۹- پر کټ سربېره په ځمکه هم دوه توشکې او بالښتونه اوار کړئ چې د ډوډۍ خوړلو او نورو ناستو لپاره ترې کار واخلئ.

۱۰- که د خونې یو خوا د خپل ځان لپاره او بله خوا یې د خپلې میرمې د بکسونو او سامان الاتو لپاره وټاکئ، دا به ښه خبره وي او د کور شیان به په ښه توګه تنظیم شي.

۱۱- دا حتمي ده چې په خپله کوټه کې د ننه تشناب او د ګرمو اوبو انتظام ولرئ. که دا اسانتیا ونه لری، دا یوه غټه خلا ده. خو بیا هم کولای شئ چې خپلې خور یا د کورنۍ بلې کومې زنانه ته وظیفه ورکړئ چې په تشناب کې تاسو او ستاسو میرمن دواړو ته د غسل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو لپاره تودې اوبه، ځانوچې او نور د ضرورت وړ شیان لکه صابون او شامپو تهیه کړي وي.

۱۲- د واده پر جامو سربېره ځان او میرمنې ته څو جوړې ساده، پستې او اسانه د شپې جامې جوړې کړئ
چې ویستل او اغوستل يې اسانه وي.

۱۳ـ د واده په شپه ستاسې د ناوې د ناستې او خبرو د اولې برخې عکاسي او فلمبرداري ډېره مهمه ده. د دې کار لپاره دوه لارې دي. اول که امکان ولري، د عکاسۍ او فلم بردارۍ داسې وسایل مخکې له مخکې په کوټه کې ولګوئ چې د ریموټ کنټرول له لارې کار وکړي، دا به ډېره غوره وي. که دا ممکنه نه وي بیا د خپلې کورنۍ یو مطمئن شخص (غوره به دا وي چې هغه ستاسو کومه خینه یا د ښځې بله خپلوانه وي او که نه نو ستاسو د خپل کورنۍ یوه تکړه نجلۍ چې هغه مو مخکې له مخکې پدې اړه روزلې وي) غوره کړئ او وظیفه ورکړئ چې ستاسو عکاسي او فلمبراري وکړي. د امکان په صورت کې په وقفوي توګه دا عکاسي او فلمبرداري چک هم کړئ چې په درسته توګه کار کوي که نه. که د ریموټ کنټرول وسایل ولرئ نو تاسو کولای شئ چې د خپل واده د شپې نوري وروستۍ محرمي او په زړه پورې برخې هم پخپله ریکارد کړئ.

دغه راز د خپل واده دوه البومونه تیار کړئ، یو هغه البوم چې تاسو کولای شئ هغه د خپلوانو او دوستانو سره شریک کړئ او بل یه یې هغه البوم وی چې ستاسو خصوصي وي او هغه له ځان سره محفوظ وساتئ. دا دواړه باید بیل او په واضح ډول په نښه شوي وي.



## د واده شپه او تیاري يې:

اوس نو تر نورو ټولو سترې او وروسته ستاسو د ارمانونو شپه ورو، ورو راخوریږي. که مو شرایط مساعد وي چې د ماښام ډوډۍ مو میرمن سره یو ځای وخورئ، دا به ډېره ښه خبره وي. ودونه اوس اکثرا د شپې لخو په هوټلونو کې وي خو زما مشوره به دا وي چې د امکان په صورت کې واده د ورځې له خوا ونیسئ دا به ښه وي چې د غرمې ډوډۍ میلمنو ته ورکړئ او ماسپښین ناوې کور ته راولئ.

ښه به دا وي چې د دې لپاره مو مناسب تدابیر نیولي وي چې اکثراً خپل خپلوان د وخته رخصت کړئ. د دې ښه لاره دا ده چې مخکې له مخکې دوه درې تنه مشران او ښځې پدې پوه کړئ چې نورو مېلمنو ته و وایي چې ښه شوه د دوي واده مکمل شو راځئ چې موږ او تاسې ترې ولاړ شو. اکثراً خو نکاح له پخوا تړل شوې وي، خو که ستاسې نکاح نه وي تړل شوي کوښښ وکړئ چې نکاح هم وختي خلاصه کړي.

تر دې غوره او سنت طریقه د "ولیمې" ده چې د واده تر خوړې وړاندې یعنې د واده په شپه ناوې او خاوند سره شپه تېره کړې وي او سبا د ورځې په سړه سینه مېلمنو ته ډوډۍ ورکړي. د دې خیر په دې کې دی چې یو خو به ورا (ناوې) په کور شوې وي او د راوستو پېټې به یې د واده والا له اوږې لرې شوي وي. بل دا چې کله یو نعمت انسان وخوري بیا پرې شکر ویستل پکار دي، دلته هم بایډ ښځې او خاوند شپه تېره کړې وي او دوستان یې په سبا بیا د ګډ ژوند مبارکۍ ورکړي. خو که ستاسو واده په هوټل کی او د شپې له خوا وي، نو ښه خبره به دا وي، چې په هوټل کی مو ځان ته یوه کوټه د شپې د پاتی کیدو لپاره ریزرف کړی وي، او خپل لازم او ضروری مواد مو له ځان سره دی کوټی ته راوړي وي. نو د مراسمو د خلاصیدو سره سم میلمانه رخصت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل واده شپه هملته په هوټل کی په ارامه او مسترحه توګه تیره کړئ. په یاد مو وی چی د ریکاردولو تدابیر او کس مو له یاده و نه وځي. ښه به دا وی چی یو موټو او موتروان هم مؤظف په هوټل کی درسره وی، چې د ضرورت په وخت کی تری کار واخلی او سبا سهار د [ایو نه مخکی یا وروسته مو خپل کور ته بوځئ.

د شپې ډوډي له خپلې میرمنې سره یوځای وخورئ. د ډوډۍ دسترخوان ته د کښیناستلو په وخت کې د هغې ښي لاس ته کینئ چې ستاسو ښي لاس د هغې خولې ته برابر وي. هغه د ډوډې په خوړولو کې و نازوئ، ورته یو او بل خواړه ورته وستوئ ، او دا به لا ښه وي چې یوه نیمه مړۍ ورته تیاره ورکړئ، تر ډوډۍ پس په میوه او چاي څکلو کې هم همدا راز مهرباني او لطف جاري وساتئ.

ښځه د خداي یو لوي نعمت دي او داسې فکر وکړئ چې هغې اوس خپل مور پلار او ټوله کورنۍ پریښې او تاسې ته یې پناه راوړې ده. ستاسې دغه وړې وړې مهربانۍ هغې ته ډاډ ورکوي چې دلته یې هم قدر او عزت شته او اوس دا له داسې یو انسان سره ملګرې ده چې هغه د یو نفیس جنس په قدر او عزت پوهېږي.

د خوراکونو په وخت کې کوښښ وکړئ چې ډېر نرم او خوږ موزیک او ښکلې سندرې په نرم او خوږ اواز کې چالان وي. البته دا کار مخکې له مخکې اهتمامات غواړي چې تاسې تایپ ریکارد یا سې ډي پلیر او مناسب کسیتونه ټول ځای په ځای کړي وي.

دا به ښه خبره وي چې د واده په ماښام ولامبئ، ږیره او نور وېښتان مو اصلاح او د سر وېښتان مو شامپو کړي وي. خپلې میرمن ته هم د دې زمینه برابره کړئ او د خپلې مور یا خور له لارې هغه و پوهوي چې که ولامبي دا به ډېره ښه خبره وي، که هغه نه غواړي نو اقلاً باید اودس



وکړي چې ستاسو اول کوروالي د ثوابونو نه ډک وي او هم په صحي لحاظ پاک او ستاسو لپاره زړه راښکونکي وي. ښځه باید خپلې سیني او د تجرګونو لاندی ځایونه هم په اوبو او صابون پاک پریمینځئ.

باید د واده جامې "ته" او میرمن دې دواړه بدلې کړئ او په عوض یې سپکې پستې او اسانه ویستونکي جامې واغوندئ چې د کوروالي لپاره مو اسانه او بې تکلیفه وي.

فکر وکړئ په دغه وخت کې د تلویزون پر ځاي یوازې اواز لرونکي موزیک ګټور دي دا ځکه چې تلویزون او تصویر لرونکي موزیک ممکن ستاسې او یا ستاسې د میرمنې مخ او توجه یو له بل نه واړوي؛ مګر یوازې صوتي موزیک دا اثر نه لري.

بیا په داسې حال کې چې خپلې میرمن ته د هغې د ښکلا ، ښه خوي او ښو اخلاقو په اړه خوږې خبرې کوئ، ورو ورو یې لاس په خپل لاس کې واخلئ، کېکاږئ او بیا یې خوشي کړئ.د سترګو په کونجونو کې په ناز او تسکین ور وګورئ، بل ځل یې لاس په خپل لاس کې ونیسئ او ورو ورو یې د ښکلولو لپاره ځانته را پورته کړئ، په ډېر ناز خیاله توګه یې په خپلو شونډو ښکل او په ډېره مینه او ښکلو الفاظو د خپلې نامزدۍ د دورې ښه خاطرات ورسره شریک کړئ. ځینې جملې لکه دا لاندې به ګټور وي:

ګرانې زه ډېر خوشبخت یم چې له تاسو سره مې واده وشو. د ژوند نوي کور ته دې هرکلي کوم، دزړه په مینه دې پالم. ، ګرانې زه ستا په نیکو اخلاقو او ښه خوي فخر کوم.

په داسې حال کې چې تاسې یې ښي خوا ته ناست او سئ ښي لاس یې په چپ لاس کې ونیسئ او د خپل ښي لاس په ګوتو یې د اوربل وېښتان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږمنځ کړئ، دغه راز.کله نا کله په مړاو سترګو د سترګو په کونجونو کې ورو- ورو په مسکو شونډو ور وګورئ.
لږ شیبه پس د میوزیک په بهانه پاڅیږئ، خپل ځان او هغې ته لږه موقع ورکړئ چې تازه هوا او ازاده ساه واخلي، ترې و پوښتئ چې د چا په اواز سندرې خوښوي، دا کار باید تاسې پخوا لا معلوم کړي وي او د هغه سندر غاړي ځو کستونه مو اخیستي او تیار لیبل کړي هم وي، دا هیڅکله مه وایه چې تاسې د هغې د ذوق سندر غاړي پېژنئ او یا کومه سندره خوښوي. هماغه سندره باید تاسې په یوه معلومداره کست کې اماده کړې وي. ښه به دا وي چې ورته و وایئ ! ګرانې خوښه دې نده چې (د هماغه سندرغاړي نوم ) سندره واورو ؛ نو هغه به پدې خبره لا زیاته خوښه شي، دا ځکه چې هغه فکر کوي چې ستاسو ذوق او د هغې ذوق یو شان دي او یا هم دا چې تاسو د هغې د ذوق خیال ساتئ.
بیا یې دوباره ورو ورو خواته ورنږدې شئ، لاسونه یې ښکل کړئ، په ویښتانو کې یې لاس و وهئ او د ورمېږ تر ویښتانو لاندې برخه یې په مزه مزه مالش کړئ او ور سره یې د غوږو پوځکونه ښکل او خپله ژبه یې ورو ورو د غوږونو د کرپندوکي په شاوخوا کې په نرمه توګه ووهئ، بیا یې سترګو ته ورو شان وګورئ او ورته مسکي شئ. لږ څه میوه را واخلي او په ډېر ناز یې خولې ته ور وراندې کړئ. په لومړي ځل نه خو په دوهم یا دریم ځل یې شونډه په ورو د ګوتو منځ کې را ونیسئ او ورو پرې د ګوتي زړه (د ګوتو د څوکو دننه پسته خوا ) د نوک مقابله خوا ، پرې را کش کړئ.
یو ځل بیا یې له غاړې خپل چپ لاس تاو او ورو ورو یې ویښتان ور ږومنځ کړئ، د ورمېږ شا او بیا یې غوږونه ورو ورو د ګوتو په زړونو مالش کړئ، د سترګو په کونج کې ورته متوجه اوسئ، تاسې به وګورئ



چې د هغې شونډې لکه د اوبو په سر چې د ونې نه را ځوړنده د "ولې" پاڼه نرۍ نرۍ رپېږي، داسې به د هغې شونډې هم بې اختیاره او بې کنتروله رپیږي. اوس نو د دې وخت دي چې په مخ یې په کراره کراره د ګوتو په پستو څوکو په خوند خوند مساژ جاري وساتئ او په ورو ورو یې لومړي په تندي او بیا د سترګو په ښو ښکل کړئ. یوه لنډه دمه واخلئ، د یوې خوږې تبصرې په ویلو ورو ورو ترې لرې او د موزیک او یا میوې په بهانه لږ لرې شئ، خو د سترګو په کونج کې یې تر نظر لاندې څارئ، که متوجه شئ نو به وګورئ چې هغه لکه د ولې پاڼه ریږدي او ستاسو د بیرته ورتللو نا صبره انتظار کوي. د موزیک تر بدلولو وروسته یې تر خوا کیښنئ او ورو ورو یې ځانته را نږدې کړئ.. په خپل لاس او شوندو ورسره دومره ولوبیږئ چې هغه ستاسو له خوا پوره د منل تیا او کوروالي لیوالتیا احساس کړي. بیا یې ورو د لاسه ونیسئ او پالنګ ته یې دعوت کړئ.
په کوروالي کې باید له ښځې سره له ډېر احتیاط څخه کار واخیستل شي او له زور او فشار څخه باید په کلکه ډډه وشي. د کوروالي په اړه حضرت محمد (ص) فرمایلي دي:
( اذا جامع احدکم اهله فلیصدقها فاذا قضي خاجته قبل ان تقضي حاجتها فلا یعجلها حتي تقضي حاجتها. )
ژباړه: (کله چې تاسو له خپلو ښځو سره کوروالي کوئ، باید له صداقت نه کار واخلئ. که تاسو خپل حاجت پوره کړ(خلاص شوئ)، باید کوروالي بس نه کړئ او تر هغو ور ته ادامه ورکړئ ترڅو چې د هغې حاجت هم پوره شئ ( خلاصه شي ) او د کوروالي نه خوند واخلي. )

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شریعت له نظره خپلې ښځې سره کوروالي کول په هر ډول چې ترې زیات خوند اخیستې شئ روا دي؛ مگر د شا (مقعد) له لارې ناروا دي.
پدې اړه حضرت محمد(ص) فرمایلي دي:
(هنت حرثک الي شلت و اطعمها اذا طعمت واکسا اذا اکتسیت) ابوداود.
ژباړه: (اجازه ده چې په هر کیفیت با همسد خپلې میرمنې سره کوروالي وکړئ او هغې ته خوراک ورکړه، هر وخت چې ته څه خورې او هغې ته جامه ورکړه لکه څنگه چې ته یې اغوندې.) د کوروالي په اړه شرعي حکم دا دي چې باید دواړه میړه او ښځه ترې پوره لذت واخلي. د میړه او ښځې ترمنځ ستر(پرده) وجود نه لري دا نه یوازې دا چې جواز لري؛ بلکې توصیه ده چې دوي سره بالکل لوڅ وي او په رڼا کې کوروالي تر سره کړي، چې یو د بل د کتلو او لاس وهلو نه خوندونه واخلي. په دې اړه حضرت عایشې (رض) فرمایلي دي: (کنت اغتسل انا و النبي (ص) من انا' واحد) بخاري. ژباړه: (ما او رسول اکرم به یو ځای لمبل او له یو لوښي به مو اوبه اخستې). خو باید د خلکو په محضر کې حتې د وړو ماشومانو په وړاندې (چې وینې وي) کوروالي ونشي.
بله خبره داده چې کوروالي باید په ډېره ارامۍ شروع او له یو بل سره په ساعت تیرۍ کولو (لکه مچول، دیوه بل په بدن او تناسلي اعضاو لاس وهل) شروع او تدریجاً پر مخ ولاړ شي. دې ته په عربي کې ملاعبت یا چمتوالي وایې، چې دواړه خاصتاً ښځه د کوروالي لپاره ښه اماده کړای شي. د کوروالي په وخت کې خاصتا د الي تناسلي د ننویستلو(دخول) په وخت کې باید کلمه (بسم الرحمن الرحیم) وویل شي. په دې اړه حضرت محمد (ص) فرمایلي دي:



(اذ اراده ان یاتي اهله قال بسم اللهم جنیناً الشیطان و جنب الشیطانما رزقننا ) صحیح مسلم.
ژباړه: (کله چې خپلې ښځې سره کوروالي کوئ نو ووایئ، شروع کوم د خدای په نوم، ای خدایه موږ ته له شیطان نه امان راکړه، او شیطان د دغې ځیز څخه چې تاسو موږ ته راکړي لرې ولره.) د کوروالي نه وروسته لمبل لازمي دي.
(نور نو تاسو پوه شه او خوړه شپه مو)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر واده وروسته ژوندانه لپاره تر واده مخکې تیاری:

لکهچې دمخه مو وویل چې د واده اصلي مفهوم د کورنۍ تشکیلول او د سوچه نسل ادامه ده. هره ښځه او خاوند باید د واده له پیله دې ته متوجه وي، چې دوي به اولادونه راوړي، د اولادونو مناسبه نفقه، لباس، سالمه تربیه، تعلیم او تحصیل، د اسلامي او مدني علومو زده کړې او د نیکو اخلاقو لرل، د مور او پلار ترټولو درنده او وړده دنده او مسوولیت دي.

د دې لپاره چې مور او پلار د خپل ژوند د غه مهم اصل په ښه توګه تر سره کړي وي باید تر واده مخکې تر واده وروسته ژوند ټولو اړخونو لپاره یو منظم او قبول شوي پلان ولري او له مخې یې باید عمل او اجرات وکړي.

اول- د دې لپاره چې واده والا لومړي د یو بل له ځوانۍ او توانمندۍ نه ښې مزې واخلي دا په جدي توګه توصیه ده چې دوي باید اول خپل صحت او سلامتیا ته زیاته توجه وکړي او پدې غرض باید هر وخت یو مناسب او غني غذایي رژیم خصوصاً میوه جات، سبزیجات او د شیدو له محصولاتو څخه کافي ګټه واخلي چې په صحت سالم او تندرست اوسي چې دا خبره بیا د خاوند په نسبت د ښځې لپاره کې ډېره جدي ده..

دویم- دوي باید د خپلو ځانونو لپاره یو څه ګډ وخت وټاکي او هم د ځان لپاره مناسب تفریحي پروګرامونه، د موزیک او نورو خوښوونکو سرګرمیو یو پروګرام ولري. سپورت او خاصتاً په تازه هوا کې قدم وهلو ته که (اجتماعي او محیطي شرایط یې اجازه ورکوي) مناسب وخت ورکړي. که د دوي په نږدې محیط کې د واده لرونکو خلکو ګډ سپورتي کلب وي، هلته باید لږ سپورت تر سره کړي او که دا شرایط



ممکن نه وي، د سپورت ځینې سامان الات دې واخلي او په کور کې دې ترې ګډه استفاده وکړي.

په تلویزونونو کې سالم او ښه تفریحي پروګرامونه خصوصاً هغه پروګرامونه چې خندوونکي او علمي او زده کوونکې بڼه ولري په ګډه وګوري.

دریم- دوي باید د خپلې کورنۍ د جوړښت په اړه تر واده مخکې یو منظم پلان ولري. زما توصیه به دا وي چې د مناسبو وقایوي پروګرامونو د استعمال له لارې دې اقلاً تر درې کالو لپاره د بچو له راوړولو څخه ډډه وکړئ او دغه موده دې یو د بل له ځوانۍ نه خوندونه او مزې واخلئ، د اولادونو د شمېر په اړه یوه ګډه پرېکړه اړینه ده، سره لدې چې اولادونه د لوی خدای (ج) یو غټه تحفه ده، مګر سالمه پالنه او تربیه یې هم مهم او ضروري کار او یو غټ مسوولیت دي. په عمومي توګه توصیه داده چې د ۲-۴ ماشومان یو مناسب تعداد دي، باید د هرو دوو ماشومانو ترمنځ اقلاً ۲-۳ کاله فاصله پکار ده، چې مور وشي کولای هر ماشوم ته مناسې شیدې او توجه ورکړې چې هرماشوم ورته جدي ضرورت لري. د مور شیدې په نړۍ کې تر هر څه بهتره غذا ده، خاصتاً د اولو څو ورځو شیدې چې ټینګې وي او کنډ (فله) ورته ویل کېږي د ماشوم د ښې سلامتیا او د ناروغیو په مقابل کې د مقاومت پیاوړي ځواک ګڼل کېږي.

څلورم- مېړه او ښځه باید په ګډه د خپل ژوند لپاره یو مناسب اقتصادي پلان جوړ کړي وي چې د دوي شرایطو سره برابر وي، په دغه اقتصادي پلان کې اقلاً د یوه مناسب اندازه نقدو پیسو پس انداز، په څو کلنو کې، د یو کور او بیا د یو موټر اخستل، شامل وي. پر دې سربېره که د هلک او یا نجلۍ پلرنۍ کورنۍ د دوي مرستې ته ضرورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولري، باید چې هغوي ته هم مناسبه مرسته وکړي. د مناسب اقتصادي پلان تشریح په(۳۶ )مخ کې شویده.

پنځم- د کور لپاره د ضرورت وړ غټو سامان الاتو (لکه تلویزون، کمپیوټر، قالینې، تخت، د جامو مینځلو ماشین، یخچال او داسې نورو ) د اخستلو لپاره هم باید یو مناسب پلان موجود وي او دغه سامان الات باید د هغه د ضرورت د جدیت له مخې په ترتیب سره واخیستل شي.

شپږم- د ماشومانو د تعلیم او تحصیل لپاره ځانګړي پلان، پروګرام او مناسبې پیسې باید مخکې له مخکې پلان او یوې خوا ته کیښودل شي.

اوم- داخبره ترټولو مهمه ده چې د واده په لومړیو څو کلنو کې چې یوازې ښځه او خاوند وي، دوي کولای شي چې په یو وخت دواړه کار وکړي ځکه هم په فزیکي لحاظ توانمند وي او هم نور زیات کورني مسوولیتونه نه لري. په دغه وخت کې دوي ښه کولای شي چې د خپل راتلونکي عمر لپاره یو ښه اقتصادي بنیاد جوړ کړي په کلکه توصیه کېږي چې ښځه او خاوند باید پدغه وخت کې:

۱. خپل عایدات زیات کړي، دواړه کار وکړي او اضافه ساعتونه کار وکړي.

۲. خپل مصارفات کم کړي او له بیځایه مصارفو مخنیوي وکړي.

۳. د خپلو پیسو په خوندي ساتلو او ګټه اچولو کې هوښیارۍ نه کار واخلي.

***



*[زه چې مجرد وم ټول خلک ګونګیان ول، اوس چې واده شوم ټول خلک کاڼه دي]*

***

*[ښځه د موسیقۍ د یوې الې مثال لري، چې د ښکلا او مینې نه یې د مزو او خوند اندازه د غږوونکي په مهارت پورې اړه لري]*. (م م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلورم څپرکي
## تر واده وروسته مسایل او مسوولیتونه

### د ښځې خوشحاله ساتنه:

واده د الله تعالي يو داسې نعمت دي چې له کبله يې نارينه او ښځه دواړه کولاي شي په قانون او په ټولنه کې په منل شوي توګه د الله پاک له هغه ځانګړي نعمت څخه پوره خوند واخلي، چې هغه په خپل خاص حکمت د نر او ښځې په بدنونو کې خلق کړي دي. لکه چې رب العلمين فرمايي:

(و عاشروهن بالمعروف) سورت النسا ۱۹ ايات.

ژباړه: خپلو مېرمنو سره عيش او عشرت(جنسي مزې او خوندونه) ولرئ، په ښې طريقې سره) ښه ده چې اوس ستاسې واده وشو، محفل، د خوښيو ميلمستاوې او سرګرمۍ ټولې تکميل شوې، بالاخره تاسې او ستاسې د ژوند شريکباڼ د ژوند د يوه نوي اوږده سفر په بېړۍ کې سپاره ياست. دا سفر ډېر اوږد، ستومانه کوونکي او له ستونزو سره ملګري سفر دي. تره هر بريده چې تاسې دې سفر ته ښه تياري نيولي وي، همغومره به دا سفر لذت بخش او له سيل او سياحت څخه ډک وي. خو که تاسې دغه سفر ته ښه اماده ونه اوسئ نو هماغومره به دا سفر



ستاسې لپاره ستړي کوونکي او مشکل وي. د دې لپاره چې دا سفر خوږ او له خوند نه ډک شروع شي ځينې عمومي او ځيني خصوصي پرنسپونه دي، چې پر هغو باندې بايد پوه او هغه په جدي توګه مراعات کړئ.

ښځه د (الله جل جلا له) له يوې ډېر نازک خياله او ژر باور کوونکي او ژر خفه کيدونکي قشر څخه ده. دوي اکثره په ورو خبرو خفه او په لږو خوږو خبرو ډېرې خوشحالېږي. دا هغه اصل دي چې تاسې يې بايد د واده له شروع څخه نيولې آن تر ټول پاتې عمر لپاره په نظر کې ولرئ.

له دې شپې نه او د خپل واده له هرې شپې نه اعظمي خوند اخستل نه دا چې کوم بد کار نه دې، بلکې ډېر ثواب هم لري او د واده په خوږوالي کې هم خورا زيات تاثير لري. دا د کوروالي هغه مهارت دي چې ډېر کم خلک پرې پوهيږي او يا هم ترې په خوندوره ښه استفاده کولي شي. البته د دې ترخوا د کوروالي ځينې نور خاص مهارتونه هم شته چې هغه د دغه کتاب او د دې ځاي بحث نه دي، پدې اړه د يو بل راتلونې اثر انتظار وکړئ او که مو تنده ډېره زياته وي نو بيا له ليکوال سره د مخامخ کتنې په لټه کې شئ.

> *هيڅکله هم خپلې ميرمنې سره د کوروالي په وخت کې د بيړې او امريت نه کار وانخلئ بلکې تر ډېره حده کوښښ وکړئ چې ور سره دومره ولوبيږئ چې هغه کوروالي ته دومره اماده کړئ چې حتی هغه په خپله د کوروالي غوښتنه وکړي.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښ وکړئ چې کله ناکله خپلې میرمنې ته د هغې له ذوق سره برابر تحفه واخلئ او یا هم کله نا کله ورته ځینې خوږې خبرې چې په دې برخه کې دهغې صفت شوی وي، ورته وکړئ.

کو ښښ وکړئ چې د کور په اکثره کارونو کې یې مشوره هم واخلئ، په یوې کورنۍ کې د مشکلاتو او ستونزو اساسي علت د ښځې او میړه ترمنځ د خبرو او تفاهم نه کول وي. کوښښ وکړئ چې د هرې موضوع په اړه په مشخصه توګه خبرې وکړئ. ښځې ته اجازه ورکړئ چې بې له کوم ډاره د خپل زړه خبرې او موضوعات تاسې ته وویلای شي. خپله ښځه کله نا کله په نا ګهانه توګه د ځینو خپلوانو کره بوځئ، کوښښ وکړئ چې هغه خپلوان خبر، مګر ستاسو میرمن نا خبره وي.

الف- عمومي پرنسیپونه: دا هغه پرنسیپونه دي چې هلک او نجلۍ دواړه باید پدې پوه او هغه په نظر کې ولري چې ځینې یې دا دي:

اول – د واده سفر اسانه شروع کړئ او ورنه کومه ډارمه او له واده نه کومه معما مه جوړوئ. د علماوو نظر دی چې ژوند همغسې تیریږي چې کوم ډول مو شروع کړی وي. یعنې که مو ژوند اسانه ونیوه نو اسانیدای شي او که مو سخت ونیوه، مشکلېدای شي. کوښښ وکړئ چې خپل او د خپل شریکباڼ واقعي او ریښتني حالت درک کړئ او خپل توقعات ور سره برابر کړئ. د بېلګې په ډول: که ستاسې شریکباڼ یو کلیوال هلک یا نجلۍ وي، د یوې ښاري نجلۍ یا هلک توقعات ترې مه لرئ، بلکې د هغې ښکلا او ښه والي پدې کې ولټوئ چې هغه به همغومره ساده او ژوند کول به ورسره هماغومره اسان وي. نو دهغې دغه کلیوالتوب ته د یو مثبت ټکي په سترګه وګورئ نسبت دې ته چې هغه اوس منفي وارزوئ. که ستاسې شریکباڼ پوره تعلیم نه لري، فکر وکړئ چې دا یو کمبود دی ده، دا هغه کمي ده چې تاسې منلې ده اوس



وګورئ چې څه کولای شئ چې د یوې خوا هغې ته له لازیات تعلیم زمینه برابره کړئ او له بلې خو دا فکر هم وکړئ چې دا ممکن یو لړ هغه ستونزې ونلري، چې یو شمیر لوړو تعلیم لرونکو کسانو سره مل وي.

دویم– واده لکه د یو نیالګي مثال او خپل شریکباڼ ته مینه ورکول لکه د اوبو مثال لري. هره ورځ ځانګړې او نوې ډول مینه ورکول واده تر او تازه ساتئ، هغه لویوئ او میوې ته یې رسوئ. که تاسې هره ورځ یو کوچني کار هم داسې وکړئ چې هغه ستاسې د شریکباڼ لپاره خاص ځانګړي او نوي وي دا ستاسې د واده د لازیاتو خوښیو سبب کېږي، مثلاً که یوه ورځ د توقع خلاف هغه ته د ورځې په نیمایي کې تیلیفون وکړئ او ورته ووایاست چې ګرانه یا ګرانې ډېر مې یاده شوې یې او په زړه مې را و وربدې، ځکه مې درته تلیفون وکړ. د دې ښه اثر به ترډېره دوام وکړي.

دریم- کوښښ وکړئ چې خپل شریکباڼ مطالعه کړئ، د هغې په خوي او خواصو ځان بلد کړئ او ترډېره حده خپل ځان د هغې له خواصو سره برابرکړئ. په ودونو کې یو لوی مشکل همدا دی چې هر اړخ غواړي چې هغه بل لوري دې د ده په لور تغییر وکړي، مګر په خپل ځان کې یو هم هیڅ ډول تغییر ته اماده ګي نه ښیي، چې دا ترټولو غټه او مهمه نقیصه او د زیاتو جنجالونو مور بلل کېږي. یعنې تاسې باید پدې پوه شئ چې واده راکړه او ورکړه ده، څه به له لاسه ورکوې او څه به اخلې، د دې اصل په نظر کې نیولو سره کوښښ وکړئ چې د مقابل لوري ځینې معقولې غوښتنې او ارزوګانو ته پوره احترام او درناوي وکړئ.

څلورم- له خپلې میرمنې او خاوند سره ملګرتوب شروع کړئ، سره ټوقې او ټکالې وکړئ، یو بل سره مناسبې لوبې لکه د "قطعو" لوبه یا نورې داسې لوبې چې د خندا او ساعت تیرۍ وسیله وي ترسره کړئ. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوي دغه لوبه زده نه وي ورزده يې کړئ کوښښ وکړئ چې هغوي لوبې وکټي چې مايوسه نشئ او له لوبو کولو نه لاس وانخلي. د کورنيو له نورو غړو سره يو ځاي لوبې وکړي. کله ناکله خپل شريکبانو يو ځانګړې ګډ کار ته لکه قدم وهل يا د يوه خپلوان يا ملګري کورته ورتلل يا هم د ګډې سودا اخستلو لپاره وهڅوئ.

پنځم: کله کله ځينې ښه، ګټور او خندوونکي راډيوي او تلويزوني پروګرامونه او سريالونه سره په ګډه وګورئ، پرې تبصرې وکړئ او هلته په رښتيني توګه ملامت ته ملامت و وايئ او دا چې دغه کس بايد په دغه حالت کې څه کړي واى، ښه به وايې، هم پرې په تبصره کې شامل کړئ.

شپږم: يو شمېر محدود مګر حسابي، اعتباري او با مسووليته ملګرو سره د خپلې مېرمنې په مصلحت د هغوی سره د راشې درشې پروګرامونه جوړ کړئ؛ خو کوښښ وکړئ چې دا مجلسونه او ناستې ولاړې ساده او بلا تکليفه او د ځينو ساعت تېريو او لوبو سره لکه قطعه بازي، پارکونو او مېله ځايونو ته تلل، يا نور داسې سرګرميو سره چې د ټولو لپاره دلچسپه او اسانه وي مل وي، تر څو يې ادامه اسانه او خوندوره وي. همدا راز که يې توان او زغم لرئ، نو خپل ماشومان هم سره د عمر او جنس په لحاظ په مناسبو ډلو جدا او هرې ډلې ته ځانګړې سرګرمۍ پيدا او هغوی سره ګډو لوبو ته وهڅوئ. کوښښ وکړئ چې په نوبت يو له غټانو کسانو څخه د ماشومانو د لوبو څارنه وکړي، تر څو هغوی محفوظ او د اصولو مطابق لوبې وکړي؛ خو په دې اړه ځانګړی احتياط وکړئ، که پدې ماشومانو کې کوم يو داسې بې اصوله او يا د ناسم سلوک خاوند ماشوم وي، نو هغه فوراً د



نورو ماشومانو د ډلې نه بيل کړئ، تر څو د نورو ماشومانو په اخلاقو منفي اثر و نه غورځوي.

همدا راز په مېلمستيا ګانو کې هم د نورو غټانو او وړو سلوک او حرکات تر جدي نظر لاندې وساتئ او که مو لږه بې نزاکتي هم مشاهده کړه، فوراً د خپلې کورنى سره مصلحت وکړئ، او کوربه کورنى پدى بى نزاکتي وپوهوئ، تر څو هغوى هغه ناسمه کورنۍ رخصت کړي. هره کورنۍ ځانته ځانګړي اصول او د راشه درشې ځانګړې مقررات او بريدونه لري، که مو د کومې کورنۍ اصول خوښ شول هغه وستايئ او هغه ښه سلوک ترې را خپل کړئ، خو که منفي سلوک ولرئ، په تمکين سره هغوى و پوهوئ چې دا کړنې په فاميلي ملګرتياوو کې ښې نه دي او بايد نور دا تکرار نه شي، خو که د اصلاح وړ نه وه نو بيا يې د خپلو ناستو او ولاړو له دايرې څخه هغه رخصت کړئ.

اوم: د واده نه وروسته ځينې د کور نه بهر خوښوونکې بوختياوې لکه سينما، کنسرت، ځينو سپورتي لوبو يا پارکونو ته تګ که ممکن او خوندي وي ډېر ګټور دي. کوښښ وکړئ چې تر ممکن بريده د دغسې سرګرميو نه استفاده وکړئ. همدا راز د ځينو تاريخي ځايونو ليدل، لکه ژوبڼ، ميوزيم، ملي ارشيف، او داسې نور تاريخي او مذهبي ابداتو ليدنه ډېره ګټوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر واده وروسته د کورنۍ ټولو امورو او ژوند ته يو ساده او عملي پلان:

ژوند داسې يو پديده ده چې هغه هم اسانه کېداي شئ او هم مغلقه او ستونزمنه، زمونږ توصيه به داوي چې تر واده وروسته له خپلې ښځې سره د افهام و تفهيم لارې خلاصې کړئ، د دې جرئت او احساس ورکړئ چې د خپل زړه هر راز خبرې له تاسې سره شريکې کړاي شي او دا هغه وخت کېږي چې لومړي تاسې د خپل زړه حالات او رازونه له هغې سره شريک کړئ.

هغوي پدي وپوهوئ چې ژوند اسانه او ساده ونيسئ، له ډېرو مغلقو او غير ضروري کارونو څخه ډډه وکړئ، خصوصاً د يولړ رسم او رواجونو ترسره کول هغه شيان دي چې د اکثره کورنيو ژوند تريخوي. کوښښ وکړئ چې اول له غيرضروري او غير لازمي اړيکو ، ناستو ، ولاړو څخه صرف نظر وکړئ او خپل اړيکي د څومحدودو ولې حسابي کورنيو ، دوستانو او خپلوانو سره وساتئ. نورو خلکو سره په ښادۍ او خوشحالۍ کې له سيالۍ او منفي رقابت څخه ځان وساتئ.

له لومړي سره چاته د دې اجازه او جرآت مه ورکوئ چې تاسې ته دغير ضروري شيانو په اړه خبرې او پردي غيبت وکړئ او يا ستاسو د شخصي او کورني ژوند په اړه درنه پوښتنې شروع کړئ. البته يو زيات شمير خلک دغه ډول مداخلې په ډېر ماهرانه ډول داسې کوي چې حتا پرې پوهيدل هم ګران وي. خو بايد ستاسې ميرمن او تاسې دواړه په ډيره هوښيارتيا سره دې ته متوجه اوسئ. او د داسې بې ځايه پوښتنو ځواب ور ته يو ځل او داسې په پښو الفاظو ورکړئ چې بيا د بلې پوښتنې جرآت هم ونکړي. مثلاً ور ته و وايې، ( دا زمونږ کورنۍ خبره ده او تاسې ته لازم نه دی چې د چا په کورنۍ خبرو کې مداخله وکړئ. )



له ملګرو او خپلوانو سره مړي او ژوندي هم ډېر ساده او اسان ونيسئ. له چانه ګيلې ګذارې مه کوئ، که څوک درکره راغلل مناسب اندازه يې عزت او درناوي وکړئ، کوښښ وکړئ چې ميلمنو ته د خوراکونو په تيارولو کې هم د سالم او مناسب روش نه کار واخلئ، هر وخت هاغه څه وکړئ چې تاسې يې د زيات وخت لپاره کولاي شئ، دي ته متوجه اوسئ چې ځينې خلک له دی کبله چې کوم علمي او شخصيتي ارزښت نه لري نو بيا د خپلو پيسو له لارې ځينې داسې بيځايه سيالۍ کوي چې هغه ډېرې بيځايه او تکليف ورکوونکي دي. له داسې خلکو سره ځانونه له سيالۍ کولو وژغورئ او که تاسې ته يې يا داسې قيمتي تحفه واخيسته او يا يې ډېره لوکسه ډوډۍ تياره کړه، په ډېر اطاعت مندۍ ورته ووايئ چې تاسې د داسې غير ضروري کارونو خلاف ياست او هغوي بايد له تاسو د دارنګه کارونو توقع ونکړئ، که لازمه وه د هغوي تحفه ورته مسترد کړئ او ورته و وايئ چې دا زمونږ له حالت سره يو برابره تحفه نده. مونږ ته يو وازې ستاسې راتګ په هرڅه منظور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یوه ښه او مناسب مالي پلان جوړول او عملي کول:

د نوي واده شویو کسانو ترمنځ اکثره جنجالونه د پیسو په صلاحیت او د مصارفو په برخه کې منځته راځي، البته پدې برخه کې درې ډوله روابط وجود لري:

۱- هغه کورنۍ چې ښځه او میړه دواړه کار کوي او نقد (نغد) عاید لري.

۲- هغه کورنۍ چې یوازې میړه یې کار کوي او نقد عاید لري.

۳- هغه کورنۍ چې یوازې یوتن (ښځه) یې کار کوي او یو عاید ولري.

ښه خبره به دا وي چې د خپل شریکبان سره د پیسو د مصرف او پس انداز په باره کې روښانه خبرې وکړئ او د روښانه پالیسۍ په نظر کې نیولو سره پیسې د ښځې په اختیار کې ورکړې؛ ځکه ښځې ته یو شمیر صلاحیتونه ورکول او په هغې اعتماد کول ممکن د کورني روابطو په ښه والي کې مرسته وکړي، دا اعتماد باید له یو کم مقدار څخه شروع او د ښه سنبالښت په صورت کې هغه تدریجاً پورته یوسئ.

هغه ټکي چې د پیسو په پالیسۍ کې باید شامل وي او مهم دي دا دي:

۱- د میاشتیني ثابت عاید او غیر ثابت عاید تثبیتول.

۲- د میاشتیني ثابتو، غیر ثابتو او غیر متراقبه مصارفو تعینول.

۳- د عایداتو او مصارفو د بیلانس په نظر کې نیولو سره د میاشتني پس اندازه تعینول.

۴- د کورني مصارفو په برخه کې په ځانګړې توګه د یو نفر (سرې سر) د مصارفو د صلاحیت د اندازې تعینول چې له هغې څخه د زیاتو پیسو د مصرف په صورت کې باید دا مصارف د یوې مشترکې فیصلې له لارې صورت ونیسي.



۵- شریک بانکي حساب لرل ګټور دی، مګر د ناموزون استعمال په صورت کې یا له طرحه شوو اصولو څخه د خلاف ورزۍ په صورت کې باید ځیني دسیپلیني مقررات مطرح وي.

۶- د هرې میاشت په ټاکلې نیټه او ممکن هر درې میاشتې وروسته د پس انداز او د سردست پیسو په باره کې هغه بل شخص ته واضح معلومات ورکړل شي.

۷- د کور لپاره د ضرورت وړ شیانو د اخیستلو لپاره یو لازم پلان لرل، د مثال په ډول، هره میاشت کې یو معینه اندازه د وړو سامان الاتو لپاره بیلول او یوه معلومه اندازه د لویو سامان الاتو لپاره لکه، تلویزیون، صوفه سیت، موټر، کور د اخیستلو لپاره په تدریجي توګه ذخیره کول باید په پلان کې شامل وي.

په عمومي ډول یو ښه اقتصادي پلان داسې وي: که د یو انسان عمر اتیا(۸۰) کاله وي، په لومړي شل کلنۍ کې عموماً د ده عایدات شروع کیږي، اول شل کاله خو له حسابه وتي دي. تر ۲۱ کلنۍ وروسته باید د هر (۱۵) کلونو لپاره لاندې پلانونه ولرئ.

اول پنځلس کاله (۲۰-۳۵) کلنۍ، د خپل ټول عاید ۴۰٪ دورځنیو مصارفو لپاره او ۳۰٪ یې د کور غټو او قیمته سامان الاتو د اخستلو لپاره او پاتې ۳۰ یې د ذخیره کولو لپاره بیلې شي.

په دوهمه دوره (۳۶-۵۰ کلنۍ) د خپل ټول عاید نیمایي (۵۰٪) دورځنیو مصارفو لپاره او (۳۰٪) یې د اولادونو د ودونو او نورو لپاره او پاتې (۲۰٪) برخه یې د مړي ژوندي لپاره بیلې کړئ.

په دریمه دوره (د۵۱-۶۵ کلنۍ پورې) د خپل ټول عاید نیمایي (۵۰٪) د ورځنیو مصارفو او ځلورمه برخه یې (۲۵٪) د کوچنیانو لپاره او پاتې ځلورمه برخه برخه (۲۵٪) یې د مړي ژوندي لپاره بیلې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته په **۲۵** کلنۍ کې سړي ضعیفه او عایدات یې هم له منځه ځي، باید دي چې اولادونه یې ورسره کومک وکړي. تاسي باید د یوه پرنسیپ له مخې هر کارکوونکی اولاد مکلف کړئ چې د خپل عاید یوه برخه ( **۵**- ۲۰ ٪ ) له تاسو سره په هره میاشت کې کومک وکړئ.

هغه کورنۍ چې دواړه نر او ښځه یې کار کوي باید خپل عایدات سره شریک او د همدغه پورته فارمول له لارې یې استعمال کړي.

خپلو او خپلوانو سره د کومک کولو او یا د خپلوانو او دوستانو د خوښې او نورو مصارفو لپاره یوه برخه پیسې د دواړو د خپلوانو لپاره یوشان او معادل مصرف شي. دا برخه باید د کسانو د تعداد په وجه تاثیر ونکړي. د مثال په ډول: که د هلک د پلار په کلیزه کې (۱۰۰) افغانۍ تحفه اخلئ همداشان باید د نجلۍ د پلار په کلیزه کې هم تحفه د (۱۰۰) افغانیو معادل وي. که د نجلۍ د ورور یا خور لپاره (**۵۰**) افغانۍ تحفه اخیستل کیږي دغه عین مقدار باید د هر یو ورور او خور لپاره برابر او همداشان د هلک د خپلو ورونو او خویندو لپاره هم همدا شان یوه اندازه غوره کړي. ښه خبره دا ده چې پدې اړوند مخکې تر مخکې یو توافق شوي وي او هغه په لیکلي ډول موجود وي چې هر ځل په دې شیانو د بحث ضرورت نه وي. دا به ښه خبره وي چې د هلک خپلوانو ته تحفه او مرسته د ښځې له خوا او برعکس د ښځې خپلوانو ته تحفه او مرسته د هلک له خوا ورکړل شي. دغه ډول تعادل ساتل فوق العاده ګټور او ډېرې ستونزې کموي. د واده په اړه تر واده نه وروسته د هیلو او کارونو جدول ته په **۳** جدول کې وګورئ.



## له خپلې ښځې سره د خپلې کورنۍ اصول مطرح کول:

د دې لپاره چې ستاسو ښځه یا ستاسو نږور یا د زوي ښځه ستاسې د کورنۍ اصول ومني، ښه او لازمي خبره داده چې لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

۱–باید ستاسې کورنۍ ځیني اصول ولري چې متاسفانه اکثراً کورنۍ یا اصول بالکل نه لري او یا هم هغه د معما په توګه صرف مور و پلار سره وي او دوي داسې اټکلوي چې ګوندې د دوي اولادونه او حتی د دوي دغه نوې را واده شویې نږور په هغوي ټولو باید پوه وي او آن دغه نوې را واده شوې نجلۍ هم په هماغه ډله کې حسابوي، دا بالکل نا سم اټکل دي. ښه به داوي چې دغه نوې را واده شوې نجلۍ ته دیوې خوا وخت ورکړل شي چې ځیني شیان تدریجاً زده کړي او له بل اړخه ستاسې د کور ښځې او نارینه باید د هغې لپاره نمونه (مادل) اوسي. د بېلګې په ډول: که تاسې غواړئ چې دا ښځه باید خپل میړه، د میړه پلار (خسر)، خواښې او څو نورو مشرانیو ته ودریږي او سلام ورکړي، باید چې ستاسې خپله ښځه، لوڼې او زامن دا کار په منظمه او عملي توګه پخپله وکړي چې هغه پدې پوي شي چې دا د دې کورنۍ یو منل شوي اصل دي.

تاسو باید د دغې نوې ناوې په اړه داسې فکر وکړئ چې یوه پردۍ نجلۍ ده چې خپل ټول بلد محیط، پلار، مور، ورور، خور، نور خپلوان او هرڅه ترې پاتې دي، دا اوس ستاسې کورته راغلې ده او ستاسې کور یې د خپل راتلونکي ژوند اثره ګرځولې ده، هغه به څومره وارخطا، حیرانه او ډاریږي؟!. تاسې باید دا ټول شیان په نظر کې ونیسئ ،تاسې هریو باید هغې ته د مینې غیږ خلاصه کړئ، له عاطفې ډک او مشفق چلند ورسره وکړئ او ورته لږه لږه لارښوونه هم وکړئ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارښوونې ښه سیستم به دا وي چې شفقت او مهرباني سره یو ځای وي. په کور کې ټاکلې مشران په ټاکلو وختونو کې له هغې سره څو څو دقیقې ځانته خبرې وکړئ. لومړي د هغې احوال پوښتنه وکړئ او وې پوښتئ چې څه خاص مشکل او یا نارضایت خو به ورته نه وي؟ او که وي نو هغه باید په تفصیل ترې واورېدل شي او د حل په برخه کې یې لاس په کار شئ. د مثال په ډول: که خسر د هغې سره د څو لحظو لپاره بلا کیني او ورته و وایي: "لور جانې زه غواړم نن له تا سره څو شېبې خبرې وکړم او ستا د احوال پوښتنه وکړم. زه پدې پوهېږم چې دا د یوې ځوانې نجلۍ لپاره څومره مشکل کار دی چې د خپل کور، پلار، مور، ورور خور او نورو خپلوانو نه دفعتاً رابیلیږې او په یو نوي کور او کورنۍ کې استوګنه غوره کوې، زه غواړم چې پوه شم چې ته خپل ځان دلته څنګه محسوسوې؟ کوم کشکل خو در ته نشته؟ که هر مشکل وي نو لطفاً یې ما ته ووایه چې زه یې حل او یا اصلاح کړم.

لور جانې! ته اوس زموږ اولاد یې، ستا خوشحالي زموږ د ټولو ارزو ده. له ما نه نیولې د کور تر هر لوي او واړه به ستاسې په خدمت کې وي. که تا ته هر څه تکلیف یا ناراحتي وي ته هغه بالکل ما ته یا دې خواښې ته ووایه؛ ممکن ځینې شیان داسې وي چې زموږ به ورته پام نه وي لاکن هغه به تا ځوروي، لطفاً ځان مه پریشانه کوه چې هره خبره وي هغه موږ ته ووایه، موږ ټول دلته ستا د خوښۍ لپاره ستا په خدمت کې یوو. بچې! زه چې تا ته ګورم، خپلې لوڼې را ته سترګو ته کېږي چې که زما لور واده شي د هغې خواښې او خسر به ور سره څه ډول رفتار او خوي کوي؛ نو دا ځکه ما ته مهمه ده چې زه باید تا سره دا خبرې وکړم او تا ته د دې ډاډ او اطمنان درکړم چې موږ هومره چې د خپل زوي خوښي او خوشحالۍ غواړو هومره ستاسې خوښي او خوشحالي هم غواړو.



بچې! زموږ کور او کورنۍ ځینې خاص اصول او مقررات لري چې خواښې به دې هغه در سره شریک کړي او تا به پرې پوه کړي، زموږ هیله به له تا نه دا وي چې د دغو اصولو او مقراراتو احترام او درناوي وکړې او هغه عملي کړې، ستا د هر مشکل د حل لومړنۍ مرجع ستا خاوند او بیا زه او ستا خواښې یو، موږ نه غواړو چې ته خپل مشکل له دې ځای نه خپل پلار و مور ته یو سې؛ دا ځکه چې موږ نه غواړو هغوی ستا په اړه پریشانه وي، هغوی نشي کولای چې ستا مشکل حل کړي، موږ یې حلولې شو، دې ته ښه متوجه اوسه چې موږ ټول ستا په خدمت کې یو او ستاسې دواړو خوشحالي زموږ ارزو ده".

وروسته یا یوه بله ورځ باید خواښې او کله نا کله ور سره خپله بیا بیا خبرې وکړئ او احوال یې واخلئ. که ساسې زوي په هغې په کومه خبره په قهر او یا په غوسه وي، باید ترې د قهر او غوسې دلیل و پوښتئ او د سهوې په صورت کې خپل زوي ته نصیحت وکړئ. خسر، خواښې، لیور او ندرورګانې(د میره خویندې) باید هغې ته ناز او مینه ورکړي، کله نا کله ورته تحفه ورکړي او یا خاص خواړه ورته تیار کړي.

په مناسبو وختونو کې باید خپل زوي ته لارښوونه وکړئ چې هغه د څه وخت یا څو شپو لپاره د پلار کور ته ورولي. د هغې د خپلوانو د راتللو په صورت کې د هغوي ښه قدر وکړئ او هغه خپلوان چې له دې سره د کینا ستلو حق لري لکه مور، پلار، وروڼه، خویندې او نورو سره باید ور ته ځانته ناستو زمینې برابري کړای شئ.، د هغوي تر ملاقات وروسته مشران ترې پوښتنه وکړي چې د هغوي نظر څنګه دی؟ څه خاص مشکل خو به نه وي او هغوي ته د بیا بیا راتللو وړاندیز وکړي، که کوم مشکل یې مطرح کړ، ښه به دا وې چې ورته وویل شي چې ښه ده موږ ته وخت راکړې چې دا مشکل وڅېړو او حل یې کړو، خو تاسې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل لور ته سپارښتنه وکړئ چې خپل مشکل مستقیماً مور سره شریک کړئ او پرې نه ږدئ چې هغه له تاسو سره تر لیدو پورې وځوریږي او یا تاسې د داسې وړو ستونزو په اړه وځوروي؛ مور دلته د هغې د پاره یوو.



## په کورنیو اصولو پابندي او ثبات:

هره کورنۍ باید ځانته ځانګړي اصول او قوانین ولري، کله کله دا کېدای شي چې د هلک د کورنۍ اصول د نجلۍ د کورنۍ له اصولو څخه فرق ولري، دا تر ټولو ډېره مهمه ده چې هلک او نجلۍ باید هر یو جلاجلا کیني او د خپلو کورنۍ ځیني غټ او مهم اصول چې مراعاتول یې د هغې کورنۍ ته ارزښت لري په نښه کړئ او حتي هغه باید په لیکلې بڼه تهیه کړئ. د دې شیانو لست کېدای شی دا برخې ولري:

۱. هغه شیان چې باید ستاسې شریکباڼ یې ستاسې په کورنۍ کې او یا هم ستاسې د کورنۍ د مشرانو په موجودیت کې ونه کړي.

۲. هغه شیان چې باید وې کړي.

خو دا ډېره مهمه ده چې دا اصول عیني او عملي وي. مثلاً: که ستاسې کورنۍ کې د سګرټ څکول منع وي، دا باید تاسې خپل شریکباڼ ته په وضاحت او جرآت سره و وایاست چې ستاسې د کورنۍ د مشرانو په وړاندې سګرټ، چلم یا نصوار استعمال نکړي.

دا اصول باید د دواړو خوا او له خوا واضح او مقابل لوري سره حتی له کوژدې او توافق نه تر مخه شریک شوي وي، که احیاناً نه وي شریک شوي وي، اوس بیا هم لا ښه وخت دي چې هغه له خپل شریکباڼ سره واضح کړئ او ترې غوښتنه وکړئ چې دغو اصولو ته پاملرنه وکړئ، تاسي هریو مجبور او مکلف یاست چې تر ممکن حده د هغه بل لوري اصولو ته احترام او درناوي وکړئ، که ستاسې شریکباڼ د دغو اصولو د منلو په اړه کوم قانوني معذرت او یا مشکل درلود ور سره پرې خبرې وکړئ او د حل یوه مناسبه لار ورته پیدا کړئ مګر دا ډېره مهمه ده چې د کورنۍ په ټولو اصولو بحث صورت نیولي وي او په هغې سره قناعت شوې وي. خو که له دې سره سره بیا هم ستاسې شریکباڼ یادو اصولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړه نه ایښوده، باید جدي بحث ورسره وشي، ځکه د دغو اصولو عملي کول د مقابل لوري احترام او درناوي او د هغې ماتول د بې احترامۍ او کم توجهۍ مانا لري. د یادو اصولو ځینې یې دا دي:

۱. د کوم ډول لباس اغوستل جواز لري.

۲. کوم ډول عادتونه او خویونه د قبول وړ او کوم یې د قبول وړ نه دي؟

۳. ستاسو د کورنۍ د غړو ترمنځ اړیکي او حتی د خبرو کولو اصول ځنګه دي؟

۴. له چا ځخه باید د کومو کارونو په اړه اجازه وغوښتل شي؟

۵. په کورنۍ کې د غړو ترمنځ اړیکي څومره ازادانه دي؟



## د شریکباڼ خېړنه، پېژندنه او ورسره خپل ځان برابرول:

لکه څنګه چې انسانان د رنګ او رویت له مخې بېلابېل دي همداسې انسانان د رویې، سلوک، خوښې او ناخوښۍ او نورو کړو وړو په اړه یو د بل سره ډېر فرق لري. مثلاً: ځینې انسان ټوکې خوښوي او هر وخت غواړي چې په یوه موضوع ټوکې او مسخره برابره کړي چې پرې وخاندي پداسې حال کې چې ځینې نور بیا ټوکې یوه مسخره او توهین امیزه عمل بولي.

ځینې خلک علاقه لري چې په سیاست او نورو موضوعاتو ډېرې خبرې اترې وکړي، ځینې بیا ګوښې او خاموش پاتې کېدل خوښوي.

ځینې خلک نظم او ترتیب ته ترجیح ورکوي او غواړي چې د کور ټول شیان دې په خاص ترتیب کېښودل شي، ځینې نور بیا د نظم او ترتیب دومره پروا نه کوي او شیانو ته اسانه لاسرسي یې خوښېږي، د یو چا تېز رنګونه او د بل چا تت رنګونه خوښېږي.

نو د واده له کولو سره سم ښځه او نارینه دواړه د دې مسوولیت لري چې د خپل مقابل لوري خوښۍ او ناخوښۍ ته په دقت توجه وکړي چې دا زده کړئ چې د ده د شریکباڼ خوی او مزاج څه ډول دی او بیا دې کوښښ وکړي چې ترممکن حده په خپلو کړو وړو کې د هغه مقابل لوري خیال هم په نظر کې ولري. مثلاً که میړه یې غواړي چې خبرونه او سیاسي تبصرې وګوري، ښځه یې د ډرامو لیدلو سره مینه لري، پکار دا دي چې دغه وخت په مناسبه توګه تقسیم کړئ چې هم د هغه خبرونه او هم د دې ډرامه پکې په نظر کې نیول شوې وي. یو کس باید په بل کس خپل فکر او نظر ور و نه تپي او هغه د خپل نظر په منلو مجبور نکړي. یا دې هم د امکان په صورت کې جلا جلا تلویزونه په جلا خونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کېږدي چې دا بیا یوه غوره او اقتصادي لاره نه؛ بلکې د ښځې او میړه ترمنځ د بېلتون لاره ده.



## میرمنې سره با دسپلینه منظمې ناستې او د روانو کورني حالاتو منظمه جاج اخیستنه:

ښځه ستاسې په کور کې د یو شاګرد حیثیت لري، تاسې کولای شئ چې هغه له همدغه لومړي سره پداسې یو چوکاټ کې تنظیم کړئ چې ستاسې د شخصیت او د کورنۍ له حیثیت سره برابروي. د واده اولې شپې ورځې او څو اونۍ د ښځې په خوي او روشونو باندې ډېر کلک او جدي اثرات لري، د دې لپاره چې پدې اړوند په منظمه توګه په سمه لاره برابر شئ لاندې مسایل په پام کې ونیسئ:

۱. هر دوه، درې ورځې وروسته خپلې میرمنې سره ځانګړې مجلس ولرئ او هغې نه د ټول وضعیت او حالت په اړه و پوښتئ چې هغې څه کړي، د د کور له غړو سره یې څه ډول چلند کړي او د هر چا په اړه څه فکر کوي؟. هغې ته خپلې هیلې او غوښتنې واضح تشریح کړئ، په ټولو هغو شیانو یې واضحه پوهه کړئ چې تاسې یې ترې کول یا نه کول غواړئ. کله کله ورته بیا دا خبرې تکرار کړئ. هغې نه هم پوښتنه وکړئ چې ستاسې او ستاسې د کړو وړو په اړه او یا ستاسې د کورنۍ د غړو د کړو وړو په اړه څه ډول احساس او برداشت لري. پدې برخه کې هغې ته پوره اجازه ورکړئ چې خپل احساس تاسې ته څرګند کړای شي.

که د هغې ځینې خبرې غلطې یا سؤ تفاهم وي ورته یې واضح کړئ او که ځینې خبرې یې درستې وي هغه قبولې کړئ او اطمنان ورکړئ چې تاسې به د هغې دغه شکایت وڅېړئ او بیا په با مسوولیته او بیطرفه ډول هغه ستونزه وڅېړئ، که مقابل لوري ستاسې په شمول مسوولیت درلود، هغه ته مناسبه توصیه وکړئ او خپلې میرمن ته بیرته اطمنان ورکړئ. د خبرو دغه سلسله باید په دوامداره توګه پرمخ یوسئ، کوښښ وکړئ چې نه له خپلې ښځې څه پټ کړئ او نه هغې ته د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجازه ورکړئ چې له تاسې څه مسایل پټ کړي. د خپلې میرمنې د سلوک په اړه له خپلو خپلوانو څخه هم پوښتنې وکړئ، و دې ته متوجه اوسئ چې کله ناکله د کورنۍ د غړو غوښتنې او هیلې تر اندازې لوړې وي. که له هغوي یې د هیلو په اړه وپوښتئ او ترې مکمل تفصیل وغواړئ چې څه شوي او څنګه شوي؟ د کورنۍ غړو ته په جدي توګه دا وواییئ چې تاسې ته ټوله خبره وکړي، نه دا چې نیمایي معلومات درکړي، ځکه تاسې ته باید هر څه په ریښتیا وواییي، هغوي پدې پوه کړئ چې په درواغو او غلطو دلائلو ستاسې په قهریدلو به په کورنۍ باندې ډیر بد اثر پرېووځي. له هغوي څخه د حل لارې پوښتنه وکړئ چې د دوي توقع ستاسې له میرمن نه څه ده او ولې به ستا میرمن د دوي توقع نه وي ترسره کړې.



## د خواښو او خسر خیلو د خوا خوږې او مداخلو توپیر او د هغو مهارول:

د پلار او مور رول د خواښې او خسر په نسبت فرق کوي، د هر ځوان پلار او مور تر واده وروسته د هغه د شریکباڼ خواښې او خسر جوړیږي، یعني د هلک مور او پلار د نجلۍ خواښې او خسر شي او د نجلۍ مور او پلار د هلک خواښې او خسر شي.

اکثره تر ودونو وروسته د مور او پلار او خواښې او خسر ترمنځ هم یو ډول سالم رقابتونه رامنځته کیږي. د هلک مور او پلار (د ښځې خسر خېل) له نجلۍ څخه یو لړ داسې توقعات کوي چې هغه اکثراً نامعقول او غیر عملي وي او پدې توګه غواړي چې د زوي میرمن یا نږور یې باید د دوي د یو نوکرې په توګه همیشه لاس په نامه او چوپړې وي.

همدا راز د نجلۍ مور او پلار (د هلک خواښې او خسر) بیا برعکس له هلک څخه یو لړ بیځایه هیلې او تمې کوي چې دا بیا اکثراً د هلک او ښځې ترمنځ د اختلافاتو او جنجالونو سبب کیږي.

د خواښو او خسرګانو لاسوهنې مستقیماً د هلک او نجلۍ په توانمندۍ او په خپل ځان باور پورې اړه لري، هر څومره چې هلک یا نجلۍ په علمي لحاظ باجرآته، په رواني لحاظ یې په خپل ځان اعتماد زیات وي، په اقتصادي لحاظ هم په خپل ځان متکي وي، د خپل خسر او خواښې د لازمو لارښونو اندازه او معیار ښه وپیژندلای شي؛ مګر تر دې زیاتې او غیر لازمې غوښتنې یې په ډېر جرآت سره رد کړای شي، په هماغه اندازه به دغه لاس وهنې کمې او غیر موثرې وي.

برکس که هلک یا نجلۍ په علمیت او د جرآت له لحاظه ضعیفه وي، په اول کې دغه لاس وهنې یا درک نشي کړای او یا یې په مقابل کې سالمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او موثره موضعیګري ونشي نیولای، بیا دا لاس وهنې په هماغه اندازه وسعت او زیاتوالي مومي او د دغو ځوانانو ژوند ورخرابوي.

تر واده وروسته ځوانان هر یو د خواښې او خسر یو شمیر لارښوونو ته اړتیا لري، دا ښه خبره هم ده چې د دوي ترمنځ اړیکې ښې وي او هغوي وکولای شي چې دوي ته لازمي او ضروري مشورې ورکړای شي.

خو متاسفانه ډېرې خواښې او خسران بیا یا د دې کار په اړه خپل حدود او صلاحیتونه ښه نه پیژني یا خو هم د غیر ضروري او غیر لازمي فشارونو له لارې دوي تر خپل اثر او نفوذ لاندې ساتل غواړي.

د دې لپاره چې د خواښې او خسر لازمي او غیر لازمي لاسوهنې سره ببلې کړي شي دا زیاتره د هلک او نجلۍ په علمي توانمندۍ، جرآت او رواني حالت پورې اړه لري.

د دې بې ځایه لاسوهنو د مخنوي لپاره دوه شیان ډېر مهم او ضروري دي:

اول- باید ښځه او خاوند په خپلو کې سره پوره تفاهم او نیغ په نیغه خبرې وکړي، هر یو دې هغه بل ته د خپل مور او پلار د صلاحیتونو او لارښوونو او همدا راز د ممکنه مداخلو په اړه په واضح ډول ووایي چې ته زما د مور او پلار دغه غوښتنې ومنه او تر دې زیات بیا به د هغې په منلو مجبور نه یې. دا موضوع ستاسې مقابل لوري ته دا جرآت وربخښي چې لازمي غوښتنې یې په پوره اخلاص ومني او غیر لازمي غوښتنې یې په جرآت سره له لومړي سره رد کړي.

دویم- یوه مهمه موضوع چې پدې اړه ډېر اهمیت لري هغه د خواښې او خسر خبرو ته په دقت غوږ نیول او درست تحلیلول یې دي چې اکثراً ځوانان د دغه تحلیل توانمندي نه لري او د دغه ناتواني بیا د دې سبب کېږي چې هغوي بیا په دوي ځینې غیر لازمي غوښتنې ورتحمیلوي.



نو هر څومره چې تاسې خپلې خسرګنۍ ته له لومړیو شېبو دا ثابته کړئ چې تاسې په خبره پوهیږئ او د هغوي په ارزښت او مینه هم پوهیږئ، دا توان هم لرئ چې د دوي بې ځایه مداخلې درک کړئ دا په هماغه اندازه تاسې سره کومک کوي.

د دې موضوع ښه شکل دا دی چې اول د خپل خواښې او خسر مناسب عزت او احترام وکړئ.

دوهم- د هغوي د کور په یولړ اصولو او مقرراتو ځان پوه کړئ او تر ممکن حده یې سالم اصول او مقررات په ځان عملي کړئ، مثلاً که یوه کورنۍ کې ټول خلک ( ستاسې خواښې خسر، لیور او ندرورګانې ) ټول منظم لمونځ کوي دا بیا په تاسې هم لازمي ده چې ځان ورسره عادت کړئ.

دریم- د هغوي ښې لارښوونې ومنئ، ولې تر منلو مخکې هغوي ته اطمنان ورکړئ چې زه له تاسو نه مننه کوم چې دا مو راته رایاد کړل، لاکن زه پخپله هم پدې شیانو پوهیږم او هغه ترسره کوم، تاسې پدې اړه زیات تشویش مه کوئ، که احیاناً ما نه پدې اړه کوم څه بې پروایي کېده نو راته یې ویلې شئ.

څلورم- که ستاسې له مناسبو اجراتو سره سره بیا هم ستاسې د خواښې او یا خسر لاسوهنو او غیر لازمي غوښتنو ادامه پیدا کړه، هغه په زړه کې مه اچوئ او فوراً یې له خپل شریکبانۍ سره شریکې کړئ او په دې اړه ترې نظر وغواړئ. د ګډ نظر په نتیجه کې هیله ده چې ستاسې شریکبانۍ به بیا د دې مسئلې حل په خپله غاړه واخلي او له خپل مور او پلار سره پدې اړه غوڅې خبرې وکړي.

پدې اړه یوه مهمه موضوع دا ده چې اکثراً خواښې او خسر دغه موضوعات د کنایې په توګه وایي او یا خپل زوي او لور ته لمسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي چې د خپل شریکباڼ په مقابل کې منفي حرکات شروع کړي چې دا د لاسوهنو هغه خطرناک شکل دي چې درک کول یې ګران او اصلاح یې هم مشکله ده، هیڅا ته هم ترې فایده نه رسیږي.

د داسې لاسوهنو په اړه دوه شیان مهم دي:

۱- د خپل مور او پلار هغه خبرې چې تاسې ته یې د یوډول تحریک لپاره په ډېرو خوږو الفاظو کې کوي، مثلاً تاسې ته وایي چې دا موضوع کنترول کړه کنه هغه به بیا ستا په سر وخیژي یا خپل زور ورته سر له اوسه وښیه او داسې نور. یا تاسې ته وایي چې کله تاسې نه وئ، نو ستاسې ښځې / خاوند دا کار وکړ، یا هغه کار. چې پدې ډول دوي تاسې ته ځان ډېر نېږدې معرفي کوي او داسې درته ښیي چې دوي تا ستا د شریکباڼ په وړاندې حمایه کوي. د دوي دغه خبرې په دقت واورئ او وې ارزوئ، همدا چې پوه شوئ چې دا خبرې غیر لازمي او ستاسې ترمنځ د سوءتفاهماتو د پیدا کولو سبب کېږي، فوراً په ډېر معقولیت او د پوره جدیت په ښودلو یې مخنیوي وکړئ، مثلاً تاسې ورته داسې ځواب ورکړئ:

پلار یا مورې! زه مننه کوم چې تاسې زما په اړه دومره تشویش لرئ، ولې زه هم اوس یو لوي او پوه سړي یم، زه پخپله د ښو او بدو فرق کولاي شم. زه فکر کوم چې ستاسې دا موضوع پدې رقم ویل ماته درسته نه ده، زه جدي یم هیله کوم چې مورږ په خپل منځ کې تفاهم ته پریږدئ، هغه پدې کور کې نوې او یو وخت ته ضرورت لري. لطفاً یې زړه مه ور توروئ، زه به ورسره هم خبرې وکړم، تاسې پسې ډېر سر مه خوږوئ.

که له دې سره سره بیا هم د دوي خبرو او مداخلو ادامه پیدا کړه یو بل وخت دوي کښېنوئ او ورسره په جدیت خبرې وکړئ چې مورږ دواړه په



خبره پوه او غټې خلک یوو، لطفاً مورږ ته د آزاد ژوند او پخپلو کې د تطابق د کولو چانس راکړئ تاسې نورې مداخلې مه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ماشومانو د روزنې اساسات:

۱. د ماشومانو د پیدا کیدو په اړه له خپلې میرمنې سره توافق ته ورسیږئ. ښه تعداد به یې ۲-۴ پورې وي.

۲. اول ۳-۵ کلونو کې د ماشوو د نه پیدا کیدلو لپاره لازمو وقایوي تدابیرو باندې ځان د خپلې میرمنې د کورني ډاکتر په لارښوونه ښه پوه کړئ او هغه تدابیر په کلکه او جدي توګه مراعات کړئ.

۳. د ماشومانو د تولد ترمنځ مصافه اقلاً دري کاله وساتئ.

۴. په ماشوم نیک نوم کیږدئ.

۵. خپل ماشومان را واخلئ، ښکل یې کړئ؛ مګر د ماشوم په خوله ښکولول اجازه نه لري او همیشه یې په مخ یا تندي ښکل کړئ. میلمنو او نورو خپلوانو ته هم دا ووایئ چې ماشوم په خوله ښکل نکړي، خصوصاً هر هغه څوک چې د تبې بخار(تب خال، یا هغه وړوکي د بخار په څیر تناکي چې معمولاً د تبې د تېرولو نه پس پیدا کیږي) ولري، هغه ته هیڅ اجازه نشته چې حامله ښځه یا ماشوم ښکل کړي، ځکه دا کار حتي د هغې حاملې ښځې په ګیډه کې ماشوم ته ضرر رسوي او حتا ممکن د ماشوم د سقط سبب وګرځي.

۶. ماشومانو ته د لوبو شیان واخلئ، خو دا شیان باید پاک و ساتل شي، ځکه اکثره واړه ماشومان د لوبو شیان په خوله کې وهي.

۷. ماشومانو ته د لوبو د شیانو په اخیستو کې ډېر دقت وکړئ چې وړې پارچې و نه لري، هسې نه هغه ماشوم وخوري او په ستوني کې یې بند شي.

۸. هر مور او پلار باید د ماشومانو CPR (دا یو ډول اولیه طبي مرستې دي) زده کړي، چې د ضرورت په وخت کې د ماشوم د نجات په برخه کې ترې د ماشوم ژغورلو لپاره کار واخلئ. کله چې د ماشوم په



مرۍ کې څه شی بند شو، که مو نو هیڅ هم زده نه وي ماشوم په چپه واړوي، سر یې ټیټ کړئ او په شا ور ته یو څو دبه ورکړي، شاید چې هغه شې را ولویږي، او که را و نه لویده، خوله یې خلصه کړي، او که ممکن وه په ګوته هغه شی ترې را وباسئ.

۹. ماشومانو ته د اور، تېره شیانو، برق د کمرغاړه او نور خطرناک شیان او ځایونه وښیې او ورته د هغوي د سن سره سم د (نه، نه) (بو) (ترې لرې) په کلمو هغه پوه کړئ چې ډډه ترې وکړئ.

۱۰. په کور کې ډوډۍ خوړل په دعا ویلو شروع او بس کړئ. او یو، یو تن کوچني ته په نوبت سره وظیفه ورکړئ چې وعا ووایي.

۱۱. د کور کارونه په ماشومانو وویشئ او د دوی ترمنځ د کارونو دوره مراعت کړئ.

۱۲- ماشومانو سره د کارونو په کولو کې مرسته وکړئ، او دوي ته د هر کار د کولو دلیل تشریح کړئ، چې دا کار مو ولې داسې وکړ. او هغوي ته ښه روښانه لارښوونه وکړئ، دغه راز یې له چارو څخه څارنه وکړئ.

۱۳. خپلو ماشومانو سره د مکتب درسونه تکرار او د کورني کار لپاره ټاکلې وخت ولرئ. ښه وخت یې د مکتب د راتللو نه پس او د ډوډۍ د خوراک نه رومبی دی.

۱۴. په کور کې د قران کریم تلاوت او د مذهبي مسائلو تشریح د تقسیم اوقات له مخې پر مخ بوځئ.

۱۵. خپل ماشومان په منظمه توګه جومات ته د لمانځه او دیني تدریس لپاره یو سئ. د دوی د دیني علومو د زده کړې په باره کې دوی سره وخت په وخت بحث وکړئ، دې ته متوجه اوسئ چې ستاسې ماشومان د افراطیت خواته و نه هڅول شي، ځکه خو خپل ماشومان دغو سرو لیکو ته متوجه کړئ او وخت په وخت هغوي سره د دې موضوعاتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه خبرې وکړئ. پدې وروستیو کې زیات ماشومان د اسلام په مینه او لټه کې جومات ته ځي، خو متاًسفانه هلته بیا د افراط ګرو په لومو کې پریوزي، او د ځان نه ناخبره په ځوانمرګو بدل شوي وي.

۱۶. ماشومانو ته د شاوخوا، کورنۍ، ټولنیز، ملي او بین المللي مسائلو د تحلیل او ارزیابۍ په باره کې خبرې اترې وکړئ او دوی ته لازم معلومات، د نقشو او حوادثو له مخې تشریح کړئ. د تلویزون خبرونه ورته په ساده شکل او که ممکن وي د نقشې له مخې واضح کړئ. ماشومانو ته د ځینو ډرامو چې موزونې نه وي د لیدو اجازه مه ورکوئ او په عوض یې ورته د یو ښه بدیل لکه د کارتون لیدل، یا هم د یو تفریحي پروګرام د لیدو شرایط برابر کړئ او د ځینو ډرامو د لیدو په صورت کې ورته د هغې ښه او بد اثرات تشریح کړئ.

۱۷. د خپلې کورنۍ لپاره په مناسبو اخبارونو، مجلو او نورو موزونو نشراتو کې ګډون وکړئ او هغه په منظمه توګه ولولئ، حتی ماشومان د هغې په لوستلو روږدي کړئ. د ماشومانو لپاره د ماشومانو ځانګړي کتابونه او مجلې واخلئ، خاصتاً هغه مجلې چې په کې د ماشومانو د ذهني رشد لپاره ګټور مواد او سوالونه موجود وي واخلئ، او خپل ماشومان د هغی په لوستلو او زده کړو بلد کړئ.

۱۸. خپل ماشومان د خپل کتابتون او نندارتون جوړولو ته وهڅوئ. دوي د کتابونو اخیستو، ښې ساتنې او د کتابتون د جوړولو سستم ته چې زما په هغه بل اثر (ځوانان او شخصیت جوړیدنه) کې ډیر ښه تشریح شوي دي) تشویق کړئ.

۱۹. خپلو ماشومانو او کورنۍ ته د غه کتاب (ځوانان او شخصیت جوړیدنه) حتمي واخلئ تاسې یې هم ولولئ او په هغوي یې هم ولولئ، امیدواریم چې د دغه کتاب لوستل به تاسو سره ستاسو د بچو په



سالمه تربیه کې ډېره مرسته وکړي. زه په خپل د غه اثر دومره ډاډه یم چې تاسو ته د دی ظمانت کوم چی تاسو به دا کتاب ډیر ګټور و ارزوي، او که پشیمانه وي، کتاب دی ستاسو وي، راشئ چې زه یې قیمت هم بیرته درکړم.

۲۰. د خپلې میرمنې په مصلحت او تاید د خپلو ماشومانو لپاره یو سالم او مناسب د تلویزون کتو، درس ویلو، او نورو لوبو یو ټوکلي پروګرام جوړ او تر ممکن حده یې پرې عملي کړئ. د دې کار لپاره خپله میرمن مؤظفه کړئ چې هغه پروګرام پرې منظم عملي کړي او د سرغړونې په صورت کې له ماشوم نه د هغې د خوښې تفریحي پروګرامونه، لکه د تلویزون کتل یا بیرون ته بیول او یا داسې نور امتیازات واخستل شي. ماشومان دا نسبتاً په اسانه منې چې ورته وویل شي اوس مو په تلویزون کې د مور د خوښې پروګرام دي راځئ موږ او تاسو به په یوه بله برنامه مصروف شو او تلویزیون به اوس هغې ته پریږدو. یعني خپل ځان هم د دوي په جمله کې شامل کړئ.

۲۱- د میلمنو د راتللو په صورت کې ماشومان د میلمنو سره په ستړې مشې، ناستې ولاړې او خبرو کولو روږدي کړئ. همدارنګه کوښښ وکړئ چې خپل ماشومان د نورو کورونو په میلمستیاو کې له ځان سره بوځئ، خو د تللو نه مخکې ورته د هغې کورنۍ د جوړښت او د هغوي د کورنې اُصولو په باره کې پوره معلومات ترلاسه او دوی ته یې روښانه کړئ چې څه کولای شي او څه نشي کولای؟ که دوي ستاسو لارښوونې و نه منې نو سزا به یې څه وي؟

۲۲. پلار او مور باید پدې پوه وي چې ماشومان نشي کولای چې د زیات وخت لپاره په یو ځای کې غلي او ارام کښیني، بلکې هغوی د خپل عمر په تناسب لوبو او ملګرو ته ضرورت لري. پدې برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ته باید له عمر سره مناسب سرګرمي برابرې کړي او ورته مناسب او موزون ملګري پیدا او غوره کړئ. ماشومانو ته تشریح شي چې د ښو ملګرو لرل ولې مهم دي او دوي ته دا اجازه ورکړئ چې له ښو ملګرو سره یو ځای وخت تیر کړي. اولادونه پدې وپوهوي چې خپل ټول ملګري تاسو ته در معرفي کړي.

۲۳- له ماشومانو څخه توقعات د دوي د امکاناتو او د دوی د توان له حدودو څخه باید لرې نه وي.

۲۴. د خپل ماشوم ښه او اوچت شخصیت هغوی سره د مؤدبانه خبرو په کولو او دوی سره د مینې په څرګندولو او د دوی د ملګرو په وړاندې د دوی په صفت کولو او تقدیرولو سره وستایئ.

۲۵- خپل ماشومان په درانه نامه سره یاد کړئ. مثلاً د هغوي له نومونو سره خان یا جان استعمال کړئ.

۲۶. د خپلو ماشومانو تقدیر پانې او ستاینلیکونه چې یې له ښوونځي څخه لاسته راوړي وي په ډېر ښه شکل کې قالب او هغه په میلمستون کې داسې ښکاره وځړوئ چې میلمانه یې ولولئ او چې کله ستاسو ماشوم موجود وه نو دا تصدیق پاڼه د هغه ماشوم له صفت سره میلمه ته ور معرفي کړئ.

۲۷- خپل ماشومان همیشه د شاباسي په ورکولو او د نورو په وړاندې د دوی په صفت کولو سره تشویق او ترغیب کړئ.

۲۸. له خپلو ماشومانو سره هیڅکله درواغ مه وایئ او یا هم د دوی په وړاندې منفي او غلط کارونه مه ترسره کوئ. ځینې خلک فکر کوي چې ګوندې د دوی ماشومان واړه دي او دوی نه پوهیږي چې د دوی غټان څه کوي، پداسې حال کې چې دا درسته خبره نه ده او اکثراً ماشومان خپل مشران په ژوره توګه څاري او د دوي کړه وړه تکراروي.



۲۹. که له مور او پلار څخه یو تن په ماشوم باندې د کوم غلط کار په وجه قهر او غوسه کوي هغه بل تن (مور او یا پلار) ته پکار ندي چې د هغه ړومبي تن مخالفت وکړي، بلکې برعکس باید د هغه اول کس د خبرې په اړوند ورته مناسب دلایل ووایي.

۳۰. خپل هر ماشوم ته د هغه د استعداد او علاقې له مخې ځانګړې د زده کړو، د مسلک د انتخاب او د ژوند یو پلان جوړ او ولیکئ او هغه وخت په وخت له هغه ماشوم سره تکرار کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر واده وروسته طبعي تغيرات او اثرات يې:

تر واده وروسته تدريجاً د ښځې او خاوند عمر زياتيږي، طبيعي ښکلا او انرژي يې کميږي، د دوی ماشومان پيدا کيږي او پدې توګه د دوی مينه چې پخوا يوازې د دوی ترمنځ وه يوه برخه يې د دوی او د اولادونو خوا ته منعکس کيږي چې دا بيا په طبيعي توګه د ښځې او خاوند په منځ کې د مينې د کموالي سبب کيږي.

همداراز د بچيانو د مسوولیتونو له کبله ممکن ميرمن زيات وخت ونلري چې خپل ځان او خپل نظافت او ښکلا ته هغسې توجه وکړي لکه چې پخوا به يې کوله، نو دا بيا حتماً د هغې په ښکلا، جذابيت او مينه کولو کې اثر اچوي او پدې توګه د خپل خاوند په وړاندې د هغې جذابيت او کشش راکموي چې دا حالت په غير مستقيمه توګه د دوی ترمنځ د مينې د کموالي سبب کيدای شي.

نو د وخت تېرېدل، د بچيانو زيږول او روزل يوه طبيعي پيښه ده چې هغه بايد ميرمنه د يو واقعيت په توګه په نظر کې ولري او پرينږدي چې دا د ده او د ښځې ترمنځ د مينې د کموالي سبب وګرځي. له بلې خوا ښځو ته توصيه کيږي چې بايد د اولادونو پر زيږولو سربيره خپل پاکوالي او ښکلا نه ناخبره پاتې نشي، بلکې په ځينو نورو طريقو سره د خپلې ښکلا هغه ځلاوالی چې د وخت په تيريدو سره کميږي د ځينې نورو مثبتو تغيراتو په راوړلو سره لکه نوي او ښايسته جامې اغوستل، د ويښتانو ښه ساتل او د بدن د ښايست د نورو وسايلو نه په استفادې د خوب په کوټه او بستره کې د زړه راښکوونکو او دلچسپ تغيراتو په راوړلو او د خپل خاوند سره د مينې او محبت په نوو طريقو سره د خپل خاوند مينه او توجه د خپل ځان په برخه کې ګرمه وساتي.



د (ته اوس زما مال يې) روش او سلوک يو بل ناوړه عمل دی چې ممکن د ښځې او خاوند په منځ کې د مينې په کموالي کې اثر واچوي. تر واده له مخه هلک او نجلۍ يو له بل سره کتنه د مينې په خاطر کوي، له واده نه وروسته هر يو د خپل ملګري په هکله داسې فکر کوي چې (ته نو اوس زما مال يې) ته خو چيرته راڅخه تللی نه شې او چې اوس زه څه وايم ته بايد هغه ومنې. دا هغه منفي فکرونه دي چې د مقابل لوري مينه او علاقه راکموي. دا ضروري خبره ده چې دواړه ښځه او خاوند بايد د دغه نوعه منفي برخورد او له روش څخه د يوه او بل په مقابل کې په کلکه مخنيوی وکړي، بلکې بايد خپل روش او سلوک هميش داسې څرګند کړي چې زه تا غواړم، زه تا ته ضرورت لرم، ته ما ته خاص ارزښت لرې، نه يوازې چې د سړي او ښځې په خيال کې بايد دا ډول کلمات وي، بلکې په خوله او ښکاره ويل يې هم خورا ګټور او د مينې په زياتوالي کې خورا مرسته کوي.

بې ځايه حيا کول: کله کله خصوصاً نارينه داسې فکر کوي چې له خپلې ميرمنې سره مينه کول، د هغې ښکلول او يا هغې ته د يوې تحفې راوړل بد سترګي او بې حيايي ده چې دا يوه فوق العاده غلطه مفکوره او نظر دی، دا ډيره ګټوره ده چې خاوند خپله ښځه هميشه وستايي، هغه د خپل مور او پلار او نورو خپلوانو په وړاندې تقدير کړي، ورسره مينه وکړي او هغې ته وخت په وخت تحفې راوړي. يوه تحفه ولو که ډېره وړه هم وي چې په اخلاص ميرمنې او يا خاوند ته ورکړل شي هغه د يو او بل په وړاندې مينه او محبت ډير زياتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر واده وروسته د کورنیو ستونزو مهارول:

ودونه همیش بریالي نه وي. لکه چې مو ورته اشاره وکړه ودونه د دوه
متفاوتو کسانو چې د متفاوتو خویونو ، خصلتونو او ارزوګانو او
امیدونو لرونکي وي سره یوځای کیږي چې دغه جدا جدا خصلتونه
وخت په وخت د ښځې او میړه ترمنځ په مختلفو موضوعاتو کې
اختلافات رابرسیره کوي. دغه اختلافات خصوصاً هغه وخت زیات او
جدي کیږي چې د میړه او یا ښځې خپلوان او یا هم د دواړو خپلوان بیا
خپلې غوښتنې د دوی په منځ کې ځای په ځای کوي او له دوی څخه
رنګ رنګ غوښتنې او ارزوګانې لري. د دې په عوض چې د نوې واده
شوي ښځې او خاوند مشکلات حل کړي، دوی د یو ډول تحریکي
موضوعاتو او غلطو مشورو په ورکولو سره لا نور هم د دوی په
زخمونو مالګې دوړوي او د دوی اختلافاتو ته لا زیاته لمنه وهي. حتی
دا بیځایه مداخلې کله کله دغه تازه جوړې نوې کورنۍ ژوند له نوو
بدبختیو سره مخ کوي. خو پدې وجه د دې فصل لوستل او پدې توګه د
ځینې تخنیکونو زده کول ممکن تاسې سره دا مرسته وکړي چې د واده
په اوږدو کې د څه ډول ستونزو منتظر واوسئ او څرنګه یې د مجادلې
لپاره ځانونه اماده کړئ.

۱- د خپل شریکباڼ په باره کې په غور او دقت ارزیابي وکړئ چې پوه
شئ چې د هغې مثبت او منفي ټکي څه دي؟ د هغې څه شی خوښ او څه
شی یې نه خوښیږي؟ څه شی ورته خاص ارزښت لري؟ د هغه د برخورد
طریقه د مختلفو مسایلو په باره کې څه ده؟ کوښښ وکړئ چې پدې
برخه کې قضاوت کوونکي نه بلکې مشاهده کوونکي اوسئ، چې د
خپل شریکباڼ خصوصیات په پراخه پیمانه او واقعي توګه درک کړئ،
بیا کوښښ وکړئ چې خپل ځان او خپل کړه وړه له هغې سره برابر کړئ.



لومړي د کومو شیانو په برخه کې چې تاسې موافق النظر یاست هغه په
اوله مرحله کې سره شریک او پرې بحث او مذاکره وکړئ.

بیا هغه شیان چې ورسره نسبي اختلافات لرئ تر ډیر ارام بحث لاندې
په غیر مستقیمه توګه پر هغو بحث وکړئ. له ځان سره تصمیم ونیسئ
چې پدې شیانو کې څه ومنئ او له کومو شیانو څخه هغوی ته د صرف
النظر کولو ته ځان باید اماده کړئ.

په اخر کې د هغه شیانو په اړه چې سره اختلاف لرئ، پخوا لدې چې
هغه په مستقیمه توګه بحث کړئ غیر مستقیم هغه تر بحث او ارزیابۍ
لاندې ونیسئ او کوښښ وکړئ چې په غیرمستقیم ډول په هغه برخه
کې خپل دریځ خپل شریکباڼ ته ور څرګند کړئ. همیشه پدې پافشاري
وکړئ چې د دارنګه موضوعاتو په باره کې باید دواړه بحث او ګذشت
کولو ته تیار اوسئ.

۲- له خپل شریکباڼ سره د خپل مور، پلار او نورو خپلوانو عکس
العملونه او برخوردونه هم تر غور لاندې ولرئ، ځکه چې کله نا کله د یو
اړخ نه خپل خپلوان بیدون له دې چې د خپل کړو وړو په منفي اثراتو ته
توجه وکړي ځینې واقعیتونه په غلطه توګه خپل خپلوانو ته وایئ او په
دې توګه د هغه د شریکباڼ په باره کې کینه، کرکه او غلط فهمي
ایجادوي او حتا کله کله دغه خپل خپلوان د خپل تسلط د تثبیتولو په
غرض هم منفي مداخلې کوي.

د منلو وړ نه بریښي چې حتی کله کله ممکن ستاسې نږدې خپلوان د
ځینو مغرضانه اهدافو او یا کینې له کبله ستاسې او ستاسې د
شریکباڼ ترمنځ د غلطو خبرو او درواغو د لارې غلط فهمي منځته
راوړي. پدې برخه کې زما د خپل ژوند یو ریښتینې مثال ذکر کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېر وخت لپاره به زما او زما د (میرمنې او خواښې) ترمنځ جنجالونه پیدا کیدل. دا جنجالونه به دوه درې ورځې وروسته زما د یوه خپلوان (کاکا) له راتللو نه پس را زیږېدل او د هغه تر تللو وروسته به بیا به دوی (زما خواښې او میرمنې ځینې کنایي خبرې کولې چې زه به حق حیران وم چې دوی ته دغه ډول غلط او منفي معلومات له کومه ځایه پیدا کیږي. بالاخره پس د څو میاشتو ژورغور، تحقیق او پلټنې وروسته راته معلومه شوه چې زما دغه خپلوان به زما خواښې او زما میرمن زما په غیاب کې په منفي توګه تحریکول. دا خبره هلته بیا راته زیاته جوته شوه چې ما دغه مشکل د خپل یوه بل تره له زوی سره شریک کړ هغه راته عین مشکل د خپل فامیل په باره کې ووایه چې د همدغه خپلوان پذریعه هغه ته هم راز راز مشکلات زیږېدل. نو بیا زه او دي دواړه په دې پوه شوو چې دا همدغه زموږ کاکا و چې زموږ د دواړو په کورونو کې به یې ستونزې پیدا کولې، چې تر هغې وروسته مو په ډېر احتیاط هغه له خپلو کورو څخه بند کړ، نور جنګونه هم ورو ورو ساړه شول. بالاخره د دې خپلوان د روابطو محدودول او زما له خپلوانو سره د هغې دلیدو په صورت کې هغه ورسره یوازې نه پرېښودل د دې باعث شو چې دغه ډول جنجالونه کم او له منځه ولاړ شي.

۳- خپل شریکبان سره د جنجالي موضوعاتو په باره کې مخامخ، جدي او قاطع خبرې وکړئ او په خپلو خبرو کې قاطع روښانه، مستدلل او جدي اوسئ. مخکې له دې چې یوې موضوع باندې بحث وکړئ، لومړي یې په اړه کافي او مستدلل معلومات ترلاسه کړئ او د خبرو کولو په وخت کې خپل شریکبان ته دا واضحه کړئ چې تاسې پدې برخه کې کافي معلومات را جمع کړي او پدې اړه جدي یاست. د پرېکړې په برخه کې خپل جدیت او قاطعیت وښیئ. کوښښ وکړئ چې



د مهمو موضوعاتو په برخه کې یې په نامناسبه توګه او بې وخته او بې ځایه بحث کولو څخه ډده وکړئ. ځکه نیمګړي او بې ځایه بحث د موضوع ارزښت کموي او فیصلې ته رسیدل ناممکن او یا د فیصلې جدیت کموي. کله کله د دې پرځای چې نیمګړي او ناقصه بحث وشي دا غوره ده چې بحث معطل او تر مناسب وخت پورې انتظار وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کورنیو ستونزو د حل لپاره مناسبې طریقې:

کله چې د ښځې او خاوند ترمنځ د کورنۍ د ځینو معلومو عواملو له کبله خفګان، قهر، غوسه او جګړه منځته راشي د هغې د حل لپاره ځینې لاندې طریقې په ترتیب سره پکارا چول ګټور بریښي:

۱- د اصل مشکل په اړه باید له اړوند شخص سره مخامخ په ځانګړې ډول، په اطاعت مندانه توګه په ارامه فضا کې بحث وشي او د همدغې مشخصې موضوع په اړه خپله نا رضایتي په ډاګه کړئ.

۲- د مشکل په برخه کې خپل نظر او دا چې تاسې هغه څرنګه ارزیابي کوئ خپل مقابل جانب ته روښانه کړئ.

۳- د دغه مشکل د تحریک کوونکو عواملو او د دې د اثراتو په باره کې له مقابل اړخ نه وضاحت وغواړئ او د هغې د معلوماتو د ورکولو په صورت کې کوښښ وکړئ چې ارام او ښهٔ غوږ ورته ونیسي.

۴- د همدې عمل پروړاندې ستاسې توقعات باید روښانه او قاطع وي.

۵- یو مشکل باندې د بحث په وخت کې اصول هیڅکله تر پښو لاندې نکړئ او تر هغې تېر نشئ.

۶- د مقابل لوري تر وضاحت ورکولو وروسته خپل دریځ لنډ، غوڅ او په جدي توګه مطرح کړئ.

۷- هیڅکله د یوه مشکل د بحث په صورت کې نور مشکلات او ستونزې ورسره مه ګډوئ. هر مشکل په ځانګړې توګه تر بحث لاندې ونیسئ.

۸- د مشکل د حل لپاره روښانه پیشنهادونه او ځو وړاندیزونه ولرئ.

۹- د مشکل د حل په باره کې قاطع معیارات غوره کړئ چې کله، څوک، څرنګه او څه به کوي.



۱۰- د مشکل د هر اړخیز بحث او د هغې په باره کې تر تصمیم وروسته بیا هغه د خپل ذهن او سلوک نه لرې وساتئ.

۱۱- د یو مشکل د تکرار په صورت کې د هغه په باره کې په خپلو خبرو کې خپل جدیت او قاطعیت د خپلو خبرو په تون (لهجه)، جدیت او قاطع موضیګریو تاکلو سره جدي او روښانه کړئ.

۱۲- که د مستقیمې مفاهمې له لارې مشکل حل نشو او موافقې ته ونه رسیدي، نو کوښښ وکړئ چې خپل شریکبانۍ ته وړاندیز وکړئ چې دا چې اوس زه او ته پدې اړوند سره پریکړې ته و نه رسیدو، ستا څه خوښه ده چې له یو بل چا څخه کمک وغواړو. د هغې ځواب و اورې که د قناعت وړ وه ښه که نه ښه بدیل به دا وي چې بیا د دې مشکل د حل لپاره یا یو نږدې ملګري یا یو نږدې خپلوان (خصوصاً د شریکبان ملګري یا خپلوان) چې ستاسو په خفګان واقعاً خفه کیږي او د عدالت او بیطرفۍ خاوند وي دا موضوعات یې په محضر کې توضیح، خپل توقعات او عکس العملونه روښانه کړئ.

۱۳- خپل شریکبانۍ هیڅکله هم د بل چا په وړاندې مه توهینوئ. حتي که هغه دا کار هم وکړي، تاسو تحمل وکړئ او خپله ګیله ورته بیا وروسته چې یو ازې وي وواياست.

۱۴- کوښښ وکړئ چې تر ممکن حده پورې خپل ماشومان له خپل شریکبانۍ سره د مشکل په باره کې دخیل نکړئ. مګر که مشکل دوام پیدا کوي او د ماشومانو عمر هم له (۱۵) کلونو څخه زیات وي کولای شئ چې هغوي د مشکل د بحث کولو په وخت کې د ناظر په توګه ولرئ. خو هیڅکله هم مه له هغوي نه قضاوت کول وغواړئ او باید هغوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې مجبور نکړئ چې یا ستاسو پلوي وکړي او یا ستاسو په طرفدارۍ شاهدي ورکړي، باید بې طرفه پاتې شي.

***

*[دا چې واده د یوه انسان د ژوند د نیمايي نه زیات اړخ په برکې نیسي؛ نو په دې اړه مخکې تر مخکې لازمي او د ضرورت وړ معلومات لاس ته راوړل او په دې اړوند مخکې تر مخکې خپله کورنۍ دنده سرته رسول یو حتمي سوال دی. هیله مند یو چې دا کتاب به په دې لاره کې ستاسو یو لړ سوالونو ته د لازمو ځوابونو وسیله شي.]*

***[ملت مل]***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکي
# ستونزمن ودونه او چارې یې

## د یو بې پلانه او ناکام واده نښې او اثرات

لکه چې د مخه مو وویل تر واده وروسته انسانان له دې لاندې درې حالاتو څخه له یو سره مخ کېږي:
اوله ډله هغه ده چې د ښځې او خاوند ترمنځ توافق او د یو بل په مقابل کې پراخه تیري او ګذشت ته اماده کېږي. هریو د بل د خوښۍ لپاره قربانۍ ته اماده کېږي، دې ته کامیاب ودونه وايي او د دوي ترمنځ د مفاهمې او خبرو دروازې خلاصې وي، یو له بل سره ښه په خبرو پوه او ژوند یې په ډېره خوښۍ او خوشحالۍ تیرېږي.
دوهمه ډله هغه دي چې په نسبي توګه یو د بل سره توافق کوي په خپلو کې اختلافات هم لري، لاکن تریوه حده یو بل ته تیرېږي کله خوشحال او کله خفه، خپل ژوند تیروي او خپل رازونه خوندي ساتي.
دریيمه ډله هغه ده چې یو د بل په مقابل تحمل نه لري، د یو خوښه د بل بدې راځي، د یو او بل په وړاندې هیڅ ډول ګذشت ته تیار نه وي. د دوي ترمنځ هره ورځ او په هره خبره غالمغال وي، د دوي د غالمغال له امله حتي همسایه ګان هم په عذاب وي او که اولادونه ولري بیا د



هغوي خوي او خصلتونه هم خراب او د ډېرو غلطو کارونو سبب کېږي.
دغه ډول ودونه عموماً هغه ودونه دي چې دوي په اول وخت کې د یو او بل په اړه هیڅ ډول مسوولیت نه وي ترسره کړي او اکثراً یې جبري ودونه وي. د دغو ودونو یو شمیر تدریجاً د وخت په تیریدو سره ورو ورو د قبولیت خواته ځي او ستونزې یې هم را کمیږي. اما یو شمیر یې مجبوراً له اختلافاتو او جنجالونو سره سره بیا هم ژوند او واده ته دوام ورکوي چې د دغو خلکو د کور او زندان چندان فرق نه وي. دغه راز بالاخره یو شمېر یې د طلاق مرحلې ته هم رسیږي، نور نشي کولای چې یو بل تحمل کړي او د دې عدم تحمل په نتیجه کې ځیني یې کور پریږدي چې اکثراً ښځې پدې ډله کې راځي او د خپل پلار یا ورور کور ته پناه وړي.
یو بله ډله یې بیا د هغې مینې په خاطر چې یې باید د خپل میړه نه تر لاسه کړې وه اما نه یې تر لاسه کوي، نو کور پریږدي او معمولاً له بل چا سره تښتي، واده کوي او میړونه یې هم بله ښځه کوي او او لنۍ ښځه په بدو ورځو کې د ده په کور کې شپې تیروي او یا هغې ته مخه ورکوي چې د خپل پلار او ورور کورته ولاړه شي. اما یو شمیر میرمنې بیا په دغسې حالاتو کې اکثراً په ځان وژنه لاس پورې کوي. نو کله چې د یوې کورنۍ حالت ورځنیو جنګونو او دوستانو او خپلوانو ته شکایت کولو ته ورسید، معمولاً دا ودونه له جدا کیدو او ناکامیدو سره مخ کېدونکي دي هغه څه چې دا کورنۍ یې بیا هم کولای شي دا دي:
۱. په صادقانه ډول له خپلو خپلوانو نه مرسته وغواړئ او د هغوي نصیحت او فیصلې ومنئ.
۲. د کورنۍ مشوره ورکولو یو مرکز ته مراجعه وکړئ، پدې اړه مناسب کومک وغواړئ او د هغه ډاکتر مشورې په درسته توګه عملي کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. که له دوې نه یو ته هم نوئ حاضر؛ نو ښه خبره به دا وي چې محکمې ته مراجعه وکړئ او خپله نکاه ماته کړئ، تر څو هر یو ازادانه دا حق ولري چې د خپلې خوښې یو بل چا سره شرعي واده وکړي.



## په ماشومانو او نوره کورنۍ د یو ناکام واده اثرات:

افغانستان یو عنعنوي ټولنه ده، دلته لا اوس هم خلک خپلمنځي اړیکو ته ډیر اهمیت ورکوي. دلته د هر چا کړه نه یوازې دا چې د هغه په شخصیت اثر اچوي؛ بلکې د هغه په کورنۍ او اولادونو باندې هم د راتلونکي عمر لپاره اثر غورځوي. پدې ټولنه کې خلک دورونو، پلرونو او نیکونو د شخصیت په اساس تلل کیږي او د هغه له مخې ورسره کیږي.

دا چې طلاق ښه کار دي یا بد، د هر چا په ځانګړي حالت پورې اړه لري. پدې ټولنه کې سره لدې چې د واده په اړوند پربمانه ناکاره رواجونه وجود لري چې اکثراً همدا رواجونه د ودونو د ناکامیدو سبب کیږي، مګر خلک همدا ناوړه رواجونه مني او په مقابل کې یې مجادله نه کوي. اما بیا که د همدغو خرابو رواجونو له امله یو واده ناکامیږي او څوک خپله ښځه طلاقوي، همدا خلک بیا هغه ته بد وایي او د (طلاقي) په نوم یې یادوي. دا نوم بیا نه یوازې ده پورې اړوند پاتې کیږي، بلکې د ده د بچیانو او لمسیانو ته بیا خلک (د طلاقي زامن یا لمسي) وایي.

دا داسې یوه ټولنه ده چې پدې کې خلک د نورو په کارونو کې مداخلې کوي. دا چې د یو چا په واده کې څه ستونزې وي په هغې څه پروا نه لري او د هغې په اړه ورپسې منفي تبلیغات کوي. د روغې جوړې کوم مسوولیت او احساس خو د سره وجود نه لري، که واده مو مات کړ، دا بیا د هر چا کسب او د مداخلې میدان ګرځي. در ته به طلاقي او بد سړي وایي. تر ټولو بده خو لا دا ده چې دا خبرې یوازې ستا په غیاب کې کوي او ستا مخامخ به هیڅ هم نه وایي. نو د دې له کبله چې پدې ټولنه کې د خلکو ژوند داسې څه عجیب او غریب دي، نور خلک ستا په کارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کار لري او ستا په ډیرو شخصي مسایلو کې مداخله کوي، سړي ته دوه لارې پاتې کیږي: یو دا چې د خلکو د دې منفي خبرو له ویرې باید خپل له جنجالونو ډک واده ته دوام ورکړې او خپل ژوند او د شریکباڼ ژوند او هیلې ټولې د (خلک به څه وایي) بدبختې کلمې قرباني کړې چې متاسفانه همدا اوس په زرګونو ودونه د همدې ویرې له کبله له ستونزو سره سره هم خپل ژوند ته دوام ورکوي.

دوهمه لاره دا ده چې (دا خلک به څه وایي) دا د هغوي کار دی زه غواړم د خپل ځان او خپل شریکباڼ لپاره د یوه خوشحاله ژوند لپاره له دې خراب واده نه تېر شم او خپله ښځه طلاقه کړم ترڅو زه او هغه دواړه د پوره ازادۍ خاوندان شو او بیا له سره نوي ژوند پیل کړو.

ناکام او خراب ودونه د ماشومانو په ژوند او صحت باندې ډېرې منفي اغیزې لري. سره لدې چې طلاق ورکول هم د یو شمیر منفي اغیزو نه خالي نه دي مګر ځیني وختونه بیا د طلاق منفي اغیزې ممکن موقتي او د یوې لنډې مودې لپاره وي نسبت خرابو او ناکامو ودونو ته که د طلاق دوره او تر طلاق وروسته د دې ښځې او میړه ترمنځ اړیکي او د اولادونو پالنه او ساتنه په ښه توګه تنظیم شي او ماشومان د دواړو لخوا په درسته توګه وساتل شي نو بیا په هغه صورت کې ممکن د طلاقو منفي اغیزې پدغو ماشومانو کې کمې وي.

تر ټولو یو اړین اصل دا دی چې هیڅ یو هم (نه ښځه او نه خاوند) باید د هغه بل مقابل لوري سپکه و وایي او نه خپل رازونه خلکو ته و وایي چې ولې او په څه دلیل یې طلاق اخیستی دی.

سره له دې چې د سیکالوژۍ له نظره دا درسته ده چې څوک یو غم یا خفګان د ننه په زړه کې ولري، نو کله چې یې په اړوند د نورو سره خبرې وکړي، نو د هغه زړه یو څه سپک او غم یې کم شي؛ خو له بده مرغه دا



بیا همدا خلک دي چې ستاسو دغه رازونه نورو ته وایي او بیا تاسې به وروسته له دې درکه ډېر په تکلیف شئ؛ نو ښه خبره دا ده چې خپل رازونه له ځان سره وساتئ او یوازې د هغه چا سره یې شریک کړئ چې ستاسو د مشکل په حل کې ملګري دي لکه ستاسو ډېر محدود نږدې خپلوان او بس. که د دوی نه غېر نور څوک در نه پوښتنه کوي، اول خو دا د هیچا حق نه دی، خو که هغه سپین سترګي کوي او بیځایه خپله پوزه ستاسې په کار کی ننباسي، نو باید په ډېر قاطعیت ور ته داسې ځواب ورکړل شي لکه: (ایا تاسو په ربښتیا دې ته کومه ځانګړې اړتیا لرئ چې په دې مسئله پوه شئ؟ نو لطفاً ما هم پرې پوه کړه چې هغه اړتیا مو څه ده؟ او که نه نو دا زموږ شخصي او کورنی کار دی، چې په تاسو پورې هېڅ اړه نه لري). یا دا چې کله پوه شوئ، چې خلک ستاسو نه خبرې اخیستل غواړي، نو د خپل مقابل لوري ډېر صفت وکړئ، او و وایې چې هغه ډېر ښه سړی یا ښه ښځه ده، لاکن زموږ د دواړو ترمنځ اروایي تطابق نه و، نو ځکه جدا شو او په دې توګه په جدي توګه د ګوتو نیولو نه ډډه وکړئ. دا به ستاسو ستونزه ډېره کمه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلاق د اسلام له نظره:

که ښځه د میړه نافرماني کوي او یا په نورو ناروا کارونو لاس پورې کوي، د مشکل د حل لپاره دا مرحلې تعقیب کړئ:

۱. ښځې ته باید په ډېر حوصله مندۍ او ارامه فضا کې لازمي توصیې وشي.

۲- که له لومړي صورت سره اصلاح نه شوه، بیا دې ورسره کوروالی بند کړل شي؛ اما دا موده باید له ۴ میاشتو څخه زیات دوام و نکړي.

۳. فزیکي تنبه(یا په ورو وهل): که دوهم صورت سره هم ښځه اصلاح نه شوه هغه باید په ورو ورو ووهل شي، خو دا وهل باید دومره شدید نه وي چې هغه په لښته، لغته یا ډیر زور سره وي.

۴- که مشکل زیات شو له خپلوانو او ملګرو سره صلاح مشوره وشي.

۵- که له دې سره هم اصلاح نه شي، د کورنیو مشورو مرکز یې ته واستوئ.

۶- که له دې ټولو سره سره هم اصلاح نه شي، طلاق ورکول لازمي کیږي.

## د طلاق اداب:

۱- یوازې په هغه حالاتو کې طلاق ته اقدام وشي چې یا ښځه د شریعت خلاف کار کوي او یا د میړه د روا او جایز اوامرو اطاعت نه کوي.

۲- باید په طلاق ورکولو کې د نارینه هدف ښځې ته عذاب ورکول نه وي.

۳- میړه باید په یو وار ښځې ته درې طلاقه (باین طلاق) ور نه کړي، ځکه دا په شریعت کې نا روا دي.



۴. طلاق باید د قهر او غوسې په وخت کې ورنکړل شي. په سخته غوسه کې طلاق نه واقع کیږي.

۵. طلاق باید په سنت طریقې سره برابر وي، چې دا جدا شرایط لري.

۶- طلاق باید په نرمو او ښو الفاضو سره ورکړل شي نه په بدو او سختو الفاضو سره.

د طلاق ډولونه:

۱- مکروه طلاق: هغه طلاق دي چې بې له کوم مؤجه دلیل نه ورکړل شي.

۲- واجب طلاق: طلاق هغه وخت واجبږي چې د اصلاح ټولې هلې ځلې ناکام شي او ښځه په هماغه ناوړه حالت کې قرار ولري.

۳- مستحب طلاق: طلاق هغه وخت واجبیږي چې ښځه خپل دیني وجایب نه تر سره کوي.

۴- مباح طلاق: طلاق هغه وخت مباح کیږي چې میړه له ښځې نه ناراضه وي او ضرورتونه یې نه ورپوره کوي.

۵- رجعي طلاق: هغه طلاق ته وایي چې سړی خپلې ښځې ته یو ځل طلاق ورکوي، بیا بیرته خپلې ښځې ته مراجعه کوي او ورسره جوړیږي، بیا دا طلاق له منځه ځي.

۶. ثلاثه طلاق: هغه دي چې یو نفر خپلې ښځې ته درې ځله طلاق په یو وار ورکړي چې دې ته زموږ په رواج کې په درې کاڼو طلاقول هم وایي. د دې په اړه نظرونه دا دي:

الف- په دې سره ښځه طلاقېږي.

ب- دا طلاق نه کیږي ځکه چې د شریعت خلاف دي.

ج- دلته هم یوازې رجعي طلاق واقع کیږي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره لدې چې طلاق په شریعت کې روا حتی کله واجب او مستحب که وي هم؛ خو د خداي په نظر هم طلاق یو نا غوره عمل دی. لکه چې حضرت رسول (ص) فرمایلي دي: (ابغض تاحلال الي الله الطلاق) ابو داود. ژباړه (په حلالو کې د خداي د غضب وړ شي طلاق دی).

د طلاق مثبتې او منفي اغېزې:

طلاق هغه عمل دی چې په قانوني توګه یوه ښځه او میړه د محکمې له لارې د خپل واده تعهد ماتوي او یو د بل نه جلا کېږي.

طلاق سره لدې چې زموږ په ټولنه کې یو منفي عمل ګڼل کېږي او خلک ورته په بده سترګه ګوري، اما د شریعت له لحاظه دا یو روا او جایز عمل دی، لاکن د خدای په نزد یو نا غوره عمل دی. کله چې د یوې کورنۍ ترمنځ اختلافات دومره جدي او شدید شي چې حل لاره یې یوه ته هم د منلو وړنه وي او یا اکثراً خلک د همدومره غټو اختلافاتو او هره ورځې له جنجالونو سره سره بیا هم نه غواړي چې طلاق واخلي دا یو نا سالم او نادرست عمل دی چې د هغوی په شخصیت او د دوی د ماشومانو په خوي او خصلت ډېر منفي اثر اچوي.

اول باید میړه او ښځه په خپل ځانونو کې مثبت تغییرات راولي د بلې خوا دوی باید دې ته متوجه شي چې که دوی خپل دغه مشکل پخپله حل نکړي او یا یې د حل په طریقه نه پوهیږي نو لومړي خو باید دا ومني چې د دوی په واده کې مشکل موجود او ژوند یې له خطرناکو ستونزو سره مخ دی؛ نو باید یا دا مشکل پخپله حل یا یې د خپلو خپلوانو او دوستانو له لارې حل کړي.

موږ نه وایو او نه غواړو چې خلک د طلاق اخیستو ته تشویق کړو، بلکې په کلکه یې سپارښتنه کوو چې د یوې کورنۍ په منځ کې دې د



اختلافاتو د حل نورې ټولې ښې لارې چارې چې هغه مخکې بیان شوې اول په کار واچول شي، که بیا هم ونشو، نو بیا خو طلاق یو ښه او منطقي اقدام دی.

د طلاق منفي اغیزې:

طلاق یو منفي عمل دی چې هغه نه یوازې په دغه ښځه او خاوند، بلکې د دوی په اولادونو او کورنیو باندې هم منفي اغېز پرېباسي، همدا وجه ده چې موږ په کلکه د دې سپارښتنه کوو چې په هر ممکن توګه چې وي باید له طلاق څخه مخنیوی وشي.

خصوصاً که د دې ښځې او خاوند ماشومان وي نو د دوی ورځني جنګ او جنجال او یو بل ته بد الفاظ استعمالول د دوی د ماشومانو په روزنه ډېر بد اثر پرې باسي.

دوهم- د دوی د جنګ و جنجال په نتیجه کې کیدای شي چې یو تن زخمي او حتی مړ شي چې دا بیا نورې قانوني ستونزې رامنځته کوي.

د مثال په ډول؛ محمد انور یو افغان و چې په امریکا کې اوسیده. ده خپلې ښځې سره بدې ورځې لرلې، هر وخت به یې جنګ و غالمغال و، د دوی درې ماشومان د دوی د اختلافاتو د لرلو په وجه په عصبي ناروغۍ اخته شوو. بله ورځ یې میړه د غوسې په وخت کې خپله ښځه په سر ووهله او مړه شوه. انور ۱۲ کاله بندي شو او ماشومان یې د محکمې له خوا یوې عسیوي یتیم خانې ته وسپارل شوو، او په دې توګه هغه ټوله کورنۍ تباه شوه.

له بلې خوا د دې امله چې طلاق زموږ په ټولنه کې نا منل شوي عمل دی، که پلار یې طلاق ورکړي نو دا پیغور یې بیا اولادونو حتی لمسیانو ته هم پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربیم- دا چې د طلاق په وجه ماشومان یا مور ته یا پلار ته او یا هم یوی یتیم خانې ته ورکول کېږي چې په درې واړو صورتونو کې د غه ماشومان له هغې مینې ځخه چې د پلار او مور ګډه عاطفه ده محروم او په عصبي لحاظ په ناروغیو اخته کېږي.

د طلاق ګټې:

سره لدې چې موږ طلاق نه تشویقوو ، خو په ځانګړیو حالاتو کې چې په یوه کورنۍ کې کورني جنجالونه هره ورځ دوام کوي او د دې ښځې او خاوند ژوند او که ماشومان ولرې نو د هغوي ژوند هم له دوزخ سره برابروي، د حل د لارو چارو په کار اچول یې هم یا ناممکن وي او یا دا چې نتیجه یې نه وي ورکړې، پداسې حالاتو کې موږ د دې توصیه کوو چې د اسې ښځه او خاوند باید په موافقه ژر تر ژره سره طلاق واخلي، پدې صورت کې به یې د طلاق ګټې هم دا وي:

۱. دا په شریعت کې یو منل شوي کار دی نو پیغور باید نه وي.
۲. ښځه او میړه دواړه دا آزادي پیدا کوي چې له بل چا سره واده وکړي.
۳. ښځه خپل پاتې مهر له خاوند نه ترلاسه کولای شي.
۴. د دوي ماشومان کولای شي چې د یو سره پاتې شي مګر هغه بل نفر یې هم په لازم وخت کې ترې لیدنه کتنه کولی شي.
۵. دا به د ا نور د کورنۍ په خیر له هغو خرابو عواقبو نه په ټوله کورنۍ وژغورل شي، په کومه پیښنه کې چې ښځه یې ووژل شوه، انور بندي او اولادونه یې د عیسویانو په یتیم خانو و ویشل شول.

د دې لپاره چې د دې ټولو بد بختیو مخه ونیول شي اول مهمه او ښه خبره دا ده چې و دونه په موافقه او په تفاهم سره ترسره شي.



د هلک او نجلۍ تر منځ دې په ټولو امورو کې سره مفاهمه او خبرې اترې وشي. هر مشکل چې پیدا شي، فوراً او صرف هماغه مشکل باندې دې بحث وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ناکام واده او طلاق له منفي تجربو څخه د اولادونو لپاره د عبرت درس:

دا طبيعي خبره ده چې مور د طلاق خوښوونکي نه يوو خو په هغه صورتونو کې چې د ميړه او ښځې مشکلات جدي او حل کېدونکي نه وي نو بيا طلاق ته د هغو نورو لارو نه چې بې نتيجې وي ترجيح ورکوو. خو که د مجبوريت په لحاظ مو طلاق واخيست، بيا والدينو ته زموږ جدي توصيه ده چې په لاندې ډول له خپلې دغې ترخې تجربې څخه د خپلو او لادونو د سالمې روزنې لپاره د زده کړې د يوه درس په توګه کار واخلي.

۱. خپلو ماشومانو ته په خپل طلاق اعتراف وکړئ او هغوي ته درواغ و نه وايئ.

۲. هغوي ته ووايئ چې طلاق په شريعت کې روا او حتي په هغه صورت کې چې اختلافات نه حلېدونکي وي ښه لار ده.

۳. خپلو اولادونو ته د خپل طلاق د عواملو په اړوند رښتيا ووايئ ولو که هغه ستاسې نيمګړتيا او غلطۍ هم وي.

۴. د خپلو ماشومانو په وړاندې د خپلې طلاقې شوې ښځې يا خاوند سپکه مه وايئ او ورپسې بدې خبرې مه کوئ. صرف همدومره ورته ووايئ چې زموږ ترمنځ نه حل کېدونکي اختلافات و، موږ دا غوره وګڼله چې سره طلاق واخلو.

۵. خپل ماشومان د هغه بل نفر (پلار يا مور) احترام او درناوي ته وهڅوئ

۶. خپل ماشومان پدې پوه کړئ چې که تاسې طلاق نه واي اخيستي نو کېداي شي چې د محمد انور په څير يوه بده حادثه پېښه شوې واي چې



په هغې صورت کې به بيا هر چاته ستاسو (ماشومانو) په شمول ډېر تاوان رسيدلې واي.

۷. ماشومانو ته اطمينان ورکړئ چې تاسې به د دوي روزنه او پالنه په ښه او با مسووليته توګه ترسره کوي.

د هغه بل زيږنوال (پلار يا مور) سره د ماشومانو د ملاقات په وخت کې له هغه سره درونډ سلوک وکړئ.

که تاسې تصميم ونيوه چې بل واده وکړئ، ځان پدې ښه يقيني کړئ چې ستاسې راتلونکي شريکباڼ (ښځه او يا خاوند) به ستاسې له ماشومانو سره ښه او درونډ سلوک کوي. دا ډېر مهم او اساسي شرط دي او له دې نه به هيڅکله هم نه تېرېږئ.

کوښښ وکړئ چې د انتظار تر قانوني مودې (۳ مياشتې) پس ژر؛ اما ښه او د پوره تفاهم او خبرو په رڼا کې بل واده وکړئ. کوښښ وکړئ چې د زاړه واده منفي تجربې تکرار نه کړئ.

د خپل زوړ شريکباڼ په اړه هيڅا ته هم د هغه سپکه او خپل کورني موضوعات مه وايئ. دا تر ټولو ښه خبره ده چې زموږ ترمنځ روحي توافق نه و؛ نو مو تصميم ونيوه چې سره بيل شوو. که چا تردې اضافه معلومات غوښتل شروع کړل، په ډېر جرآت سره ورته ووايئ چې دا په تاسو پورې کوم اړه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ليکوال نور اړوند او ګټور اثار

### ❖ ځوانان او شخصيت جوړېدنه:

دا اثر ځوانانو ته د شخصيت جوړېدنې او اهميت په اړه يې ډېر ګټور او لازمي معلومات وركوي. دا كتاب ډيرو ځوانانو په مينه خوښ كړې او د پوهنې وزارت هم تر يوې ژورې ارزيابۍ وروسته منلې ده چې د افغانستان ټولو مكتبونو ته به يې توذيع كړي (البته دا د افغانستان د معارف په تاريخ كې اولين كتاب دي چې د نصاب تر خوا يې معارف توذيع كول قبلوي). پدغه كتاب كې ځوانانو، زيږنوالو او ښوونكو ته ډيرې ګټورې لارښوونې شوي دي. زه په كلكه ځوانان، پلرونه، ميندې او ښوونكي د دغه كتاب لوستلو ته هڅوم.

### ❖ بشري حقوق (پراخه لومړنۍ ټولګه) :

دا كتاب چې د داكتر ملت مل په ابتكار او د څو توانمندو علمي او مسلكي ليكوالو په مرسته تنظيم شوي دي، د بشر د حقوقو په مختلفو برخو او انواعو ډير په تفصيل بحث كوي. دا كتاب چې د نوي سيد جمال الدين افغان د انستيټيوت لهٔ خوا نشر شوي دي، د ځوانانو او د مدني ټولنو د غړو له خوا ډير ستايل شوي، چې البته د ماشومانو، د ښځو او معلولينو د حقوقو برخې يې د ځانګړې پاملرنې وړ دي. زه د دغه كتاب لوستل هم ځوانانو او د ټولنې ټولو مدني فعالينو ته په كلكه توصيه كوم.



### ❖ د اسلامي هجري شمسي تاريخونو د بدلولو فارمول په عيسوي تاريخونو او برعكس يې.

دا د ډاكتر ملت مل له هغو څلورو علمي اختراعاتو څخه يوه بيلګه ده چې په امريكا او پاكستان كې هم د پوهنتونو د اړونده علمي څانګو له خوا منظور شوي او د امريكا د كانګرېس په كتابخانه كې چې د نړۍ تر ټولو لويه او معتبره كتابخانه ده، د داكتر ملت مل په نامه ثبت او راجستر دي. تاسې كولاي شئ چې د دې فارمول نه په استفاده سره په دقيقه توګه اسلامي تاريخونه (نيټې) په عيسوي او عيسوي نيټې په اسلامي هغو بدلې كړئ.

### ❖ واكسين او واكسينيشن:

دا د ملت مل يو بل اثر دي چې په لومړي ځل د واكسينونو په اړه اړونده معلومات سره راټول او د يو كتاب په څير په پښتو ژبه كې چاپ او نشر شو. يعني دا كتاب نه يوازې دا چې په پښتو ژبه كې پدې اړه اولين كتاب دي، بلكه د واكسينونو په اړه په نړۍ كې لومړي كتاب دي چې په پشتو ژبه نشر شوي چې دا نه يوازې د ملت مل لپاره؛ بلكه د ټولو افغانانو لپاره د افتخار وړ دي.

### ❖ كيمياوي ذهرجن مواد، پيژندنه او ترې ځان ژغورنه:

دا هم د ډاكتر ملت مل يو بل ځانګړي اثر دي چې په ټوله نړۍ كې د لومړي ځل لپاره د كيمياوي ذهرجنو موادو په اړه علمي مواد د يو كتاب په شكل او هغه هم په پښتو ژبه كې نشريږي. دا كتاب ۱۳۲۵ كال كې په پيښور كې د وفا د ټولنې لخوا چاپ او تګثير شو، چې په هغه وخت كې يې د روسانو په مقابل كې د افغانانو د وطن پالنې په جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مجاهدینو ته توذیع شو، ترڅو ورسره د هغوي کیمیاوي زهرجنو موادو په تشخیص او ځان ژغورنه کې مرسته وکړي، چې به د روسانو له خوا استعمالیدل.

### ❖ د پښتو ژبې نوی ګرامر: (ناچاپ)

البته پدې کې هیڅ شک نشته چې د پښتو ژبې د ګرامر پلار (پوهاند صدیق الله رشتین صاحب) د پښتو ژبې د ګرامر په اړه بې مثاله هلې ځلې کړې او ډیر پراخ او هر اړخیزه ګرامرونه یې لیکلی دي؛ خو د ډاکتر ملت مل د فعلونو او (ي) ګانو په اړوند نوي اختراعات او پرمختګونه د پښتو ژبې د ګرامر دغه سختې برخې ډېرې اسانوي. هیله ده چې د پښتو ژبې په ګرامر کې به دغه نوښتونه ډیر ژر د با صلاحیته مقاماتو له خوا و ارزول او منظور شي، چې د پراخه ګټې اخیستنې لپاره ټولنې ته وړاندې شي.

### ❖ د دري ژبې نوی ګرامر: (ناچاپ)

البته پدې کې هیڅ شک نشته چې د دري ژبې په برخه کې بې مثاله هلې ځلې شوي، چې د ستاینې وړ دي؛ خو د ډاکتر ملت مل د دري ژبې د فعلونو په اړوند نوي اختراعات او پرمختګونه د دغې ژبې د ګرامر دغه سختې برخې ډېرې اسانوي. هیله ده چې د دري ژبې په ګرامر کې به دغه نوښتونه ډېر ژر د با صلاحیته مقاماتو له خوا و ارزول او منظور شي، چې د پراخه ګټې اخیستنې لپاره ټولنې ته وړاندې شي.



### ❖ امریکا ته ښه راغلاست: (ناچاپ)

دا د ملت مل هغه اثر دي چې په کې د هیواد نه بهر ته خصوصاً د غربي نړۍ هیوادونو ته د لومړي ځل سفر کولو په برخه کې لارښووني او لازمې مشورې سره راټولې شوي دي. بهر ته لومړي ځل سفر کول ډېر یو نا بلده او حیرانونکي کار دي او سفر کوونکي د ډیرو سوالونو سره مخ کوي. نو د دغه کتاب لوستنه کولاي شي د لوستونکو په سفر کې ډېره مرسته وکړي. د کتاب لوستل ټولو ځوانانو ته کټور دي، خو د لومړي ځل سفر کوونکو ته یې لوستنه د سفر نه مخکې په کلکه توصیه کیږي.

### ❖ شاهکار (تر ټولو خوندور کوروالي): د تر ټولو مزه دار کوروالي په اړه لارښووني: (ناچاپ)

دا یو بل حیرانوونکي اما ډېر په زړه پوري اثر دي چې له خپلې ښځې سره د شرعي احکامو په رڼا کې تر ټولو ښه کوروالي په اړه ټولو میړونو ته، خاصتاً ځوانانو او د دوي ښځو ته پکې لازمې لارښووني شوي دي. د دغه کتاب لوستنه به نه یوازې دا چې ځوانانو، بلکې زړو سړیو او ښځو ته هم د خپل شریکباڼ سره له جماع نه د لا زیاتو خوندونو اخیستو زمینې برابرې کړي. دغه راز به د دې لارښونو د تطبیق په وجه دوي او د دوي ښځې هم خورا خوشحاله، ودونه به یې کامیاب او اولادونه به یې هم نیک صالح وي. ډېر ژر د دغه کتاب د لاسته راوړلو ته سترګې په لار او سئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماخذونه**:

۱. قران الکریم

۲- د افغانستان اساسي قانون

۴. (دفاع از حقوق زن در قران و احادیث)، الحافظ مولوي شایق احمد (همیم)،
په دري ژبه، مرکز تعلیمي نور له نشراتو څخه ، ۱۳۸۴ هـ ش کال

۵. Cambridge Dictionary

۶- (بشري حقوق، پراخه لومړنۍ ټولګه، پښتوژبه، د داکتر تاج الدین ملت مل نوښت اثر)



## ضمایم:

۱ـ جدول:

په واده کې د مختلفو مصارفو اندازه اود تخمین پیش بیني:

| د مصارفو مدرک | تخمینی فیصدی | تخمینې مقدار |
|---|---|---|
| ساسو دواده د بودجې اعظمی مقدار | ۱۰۰٪ | |
| د کوژدن د دستمال نقدی پیسې | ۲٪ | |
| د کوژدن سامان الات | ۱٪ | |
| داخترونو او نوروورځودبرخو پیسې | ۱٪ | |
| د نجلۍ د لباسونو لپاره پیسې | ۵٪ | |
| د واده د ځونۍ د سنبالولو پیسې | ۴٪ | |
| د هلک د لباس لپاره پیسې | ۲٪ | |
| د واده د ۲ ځلي ارایشگاه مصارف | ۲٪ | |
| د واده لپاره د گل پوش موټر مصارف | ۱٪ | |
| د هوټل پیسې یا د غذایي موادو مصارف | ۴۰٪ | |
| د نجلۍ معجل مهر | ۵٪ | |
| د نکاح مصارف | ۱٪ | |
| د نکریزو د شپې مصارف | ۱٪ | |
| د نکریزو د شپې د ارایشگاه پیسی | ۱٪ | |
| د نکریزو د شپې د سازندو مصارف | ۱٪ | |
| یو تعداد نور واړه او غټ مصارف | ۸٪ | |
| د عکسونو او فلم مصارف | ۵٪ | |
| د واده لپاره د موسیقی مصارف | | |

تاسې باید چې دا مصارف و سنجوئ او اقلآ ۵۰٪ پرې علاوه کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-جدول: د واده د مراسمو د تنظیم کمیټې او وظایف یې:

*الف: که ستاسو واده په کور او یا کلي کې وي؛ نو تاسو دې کمیټو ته جدي ضرورت لري:*

*ب: که ستاسو واده په هوټل کې وي؛ نو تاسو له دغو کمیټو څخه لاندې کمیټو ته ضرورت لرئ:*

*د امنیت او نظم عامه کمیټه، د میلمنو د هرکلي او انتظام کمیټه، د موزیک او سندرغاړو د انتظام کمیټه او د ډوډۍ د انتظام کمیټه؛ خو دا کمیټې به وړې او مسوولیتونه به یې هم نسبتاً کم وي.*

| کمیټه | وظایف | مشر او معاونین | اعضا |
|---|---|---|---|
| ۱- د امنیت او نظم عامه کمیټه | ۱ـ د بیرون او داخلي ساحې د امنیت څارنه<br>۲- په حویلۍ کې د ننه د نظم څارنه<br>۳- د پروګرام په خونه کې د نظم او نسق څارنه | ۱.ریس: (باید یو نظامي /استخباراتي سړی وي)<br>۲- معاون:<br>۳.معاون: | ۱-<br>۲-<br>۳-<br>۴- |
| ۲- د ترانسپورت د نظم کمیټه | ۱ـ د میلمنو د موترو د پارک کولو تنظیمونه<br>۲- د میلمنو د موترو امنیتي څارنه<br>۳- د ضرورت وړ موټرو تهیه کوونه<br>۴ـ د ګل پوش موټر تنظیمول او اماده کول | ۱.ریس:<br>۲- معاون: | ۱-<br>۲- |
| ۳-د میلمنو | ۱ـ په دروازه کې د | ۱.ریس: | ۱- |



| | | | |
|---|---|---|---|
| د هرکلي او انتظام کمیټه | میلمنو هرکلي<br>۲- د میلمنو لارښوونه لازمو ځایونو ته<br>۳- په هره کوټه کې د میلمنو سره د دوامداره ناستې مسوول او د هغوی ضرورتونو ته پاملرنه | (باید ټول میلمانه په ښه توګه وپیژني<br>۲- معاون:<br>۳.معاون: | ۲-<br>۳-<br>۴- |
| ۴- د اشپزخانې د انتظام کمیټه | ۱ـ په پخلنځي کې د پخلي کنترول او د اشپزانو د ضرورتونو پوره کول<br>۲- د ډوډۍ اېښودلو د موظفینو ټاکنه<br>۳- د ډوډۍ د توضیع کنترول او د ځانګړو غوښتنو مشر او د اړیکو د کسانو ټاکنه<br>۴- د لاس مینځلو د تدابیرو(د تودو اوبو تهیه، لاس پاکي، صابون، ) پوره کول او د مسولینو ټاکنه | ۱.ریس: (باید ښه کنترول وکړای شي)<br>۲- معاون: (باید ښه کنترول وکړای شي)<br>۳.معاون: | ۱-<br>۲-<br>۳-<br>۴-<br>۵-<br>۶-<br>۷- |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵- د موزیک او سندرغاړو د انتظام کمیټه | ۱. د موزیک تنظیمول<br>۲- د هنرمندانو د ضرورتونو پوره کول<br>۳- د ځانګړو موسیقۍ د فرمایشون انتظام | ۱.ریس:<br>(باید ښه کنترول وکړای شي)<br>۲- معاون<br>(باید ښه کنترول وکړای شي) | ۱-<br>۲- |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲- د خسرګنۍ د کورنۍ سره د اړیکو کمیټه | ۱ـ د خسرګنۍ کور ته د ورتللو سستم ټاکنه<br>۲- د خسرګنۍ کور ته د ورتللو ترانسپورتي سستم انتظام<br>۳- د خسرګنۍ په کور کې د خوراک انتظام<br>۴- د مراسمو په اړوند دخسرګنۍ سره تفاهم<br>۵- د ناوې د را اوچتولو انتظام<br>۲- د میلمنو مودبانه رخصتول | ۱.ریس:<br>(باید یو نږدې خپلوان وي)<br>۲- معاون:<br>(باید ښه کنترول وکړای شي)<br>۳.معاون: | ۱-<br>۲- |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲- د خسرګنۍ د کورنۍ سره د اړیکو کمیټه | ۱ـ د خسرګنۍ کور ته د ورتللو سستم ټاکنه<br>۲- د خسرګنۍ کور ته د ورتللو ترانسپورتي سستم انتظام<br>۳- د خسرګنۍ په کور | ۱.ریس:<br>(باید یو نږدې خپلوان وي)<br>۲- معاون:<br>(باید ښه کنترول وکړای | ۱-<br>۲- |



| | | | |
|---|---|---|---|
| | کې د خوراک انتظام<br>۴- د مراسمو په اړوند دخسرګنۍ سره تفاهم<br>۵- د ناوې د را اوچتولو انتظام<br>۲- د میلمنو مودبانه رخصتول | شي)<br>۳.معاون: | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷- د کراکرۍ او نور سامان الاتو د اهتمام کمیټه | ۱ـ د ضرورت وړ کراکري تعین کړئ<br>۲- د کراکرۍ نرخنامه واخلئ او د مناسب دکان سره فیصله وکړئ.<br>۳- د کراکرۍ سامان په لازم وخت راوړئ، و یې شمارئ او بیرته یې وروسپارئ.<br>۴- د کراکرۍ پیسې ورکړئ. | ۱.ریس:<br>(باید یو نږدې خپلوان وي)<br>۲- معاون:<br>(باید ښه کنترول وکړای شي) | ۱-<br>۲- |

## ۳- جدول: د واده لپاره د کارونو د تنظیم تقسیم اوقات:

| میاشتې | هفتې | مشخص کارونه | ټاکلی شخص | وروستۍ نیټه | ماصارف | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲-۲ میاشتې دمخه | ۵۲-۲۳ هفتې دمخه | ۱-بودجه وټاکل شي<br>۲- د پیسو منابع تثبیت شي<br>۳-<br>۴- | | | | |
| ۵-۴ میاشتې دمخه | ۲۱-۱۳- هفتې دمخه | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| د واده درې میاشتې دمخه | ۱۲هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۱۱هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| | ۱۰هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| | ۹هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| د واده دوه میاشتې دمخه | ۸هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۷هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| | ۶هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| | ۵هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| د واده نه پوره میاشت دمخه | ۴هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۳هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵.<br>۶.<br>۷.<br>۸.<br>۹.<br>۱۰. | | | | |
| | ۲هفته | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵.<br>۶.<br>۷.<br>۸.<br>۹.<br>۱۰. | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۱ هفته | ۱. | | | | |
| | | ۲. | | | | |
| | | ۳. | | | | |
| | | ۴. | | | | |
| | | ۵. | | | | |
| | | ۶. | | | | |
| | | ۷. | | | | |
| | | ۸. | | | | |
| | | ۹. | | | | |
| | | ۱۰. | | | | |
| د واده په هفته کې: | ۳ ورځې: | ۱. | | | | |
| | | ۲. | | | | |
| | | ۳. | | | | |
| | | ۴. | | | | |
| | | ۵. | | | | |
| | | ۶. | | | | |
| | | ۷. | | | | |
| | | ۸. | | | | |
| | | ۹. | | | | |
| | | ۱۰. | | | | |



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۲ ورځې: | ۱. | | | | |
| | | ۲. | | | | |
| | | ۳. | | | | |
| | | ۴. | | | | |
| | | ۵. | | | | |
| | | ۶. | | | | |
| | ۱ ورځ | ۱. | | | | |
| | | ۲. | | | | |
| | | ۳. | | | | |
| | | ۴. | | | | |
| | | ۵. | | | | |
| | | ۶. | | | | |
| | | ۷. | | | | |
| | | ۸. | | | | |
| | | ۹. | | | | |
| | | ۱۰. | | | | |
| د واده په ورځ | | ۱. | | | | |
| | | ۲. | | | | |
| | | ۳. | | | | |
| | | ۴. | | | | |
| | | ۵. | | | | |
| | | ۶. | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د واده نه پس | د واده په شپه | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| | د واده په دوهمه ورځ | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |
| | د واده په اوله هفته کي | ۱.<br>۲.<br>۳.<br>۴.<br>۵. | | | | |



**۴- جدول:**

*ستاسي او ستاسو د شریکباڼ لپاره د ژوند په اړه د اهدافو تاکنه*

| برخي | کلونه | ستاسو اهداف | ستاسو د شریکباڼ اهداف | لاسته راوړنې |
|---|---|---|---|---|
| ۱. د تعلیم او تحصیل په اړه | ۱-۲ کاله | | | |
| | ۳-۵ کاله | | | |
| | ۶-۱۰ کاله | | | |
| | ۱۱-۲۰ کاله | | | |
| ۲. د کار په اړه | ۱-۲ کاله | | | |
| | ۳-۵ کاله | | | |
| | ۶-۱۰ کاله | | | |
| | ۱۱-۲۰ کاله | | | |
| ۳. د مالي موضوعاتو په اړه | ۱-۲ کاله | | | |
| | ۳-۵ کاله | | | |
| | ۶-۱۰ کاله | | | |
| | ۱۱-۲۰ کاله | | | |
| ۴- د کورنۍ | ۱-۲ کاله | | | |
| | ۳-۵ کاله | | | |
| | ۶-۱۰ کاله | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ۱۱-۲۰ کاله | | | |
| ۵- د نورو موضوعاتو په اړه | ۱-۲ کاله | | | |
| | ۳-۵ کاله | | | |
| | ۶-۱۰ کاله | | | |
| | ۱۱-۲۰ کاله | | | |

**۵**- جدول: د کورنۍ په اړه مشخصې موخې او د لاس ته راوړلو ټاکلې موده:

| شمیره | موخه | څو کاله بعد به يې اخلو |
|---|---|---|
| ۱ | د خپل لومړي کور اخستل | |
| ۲- | د خپل لومړي موټر اخستل | |
| ۳- | د مور ضروری مادرن وسایل | |
| ۴ | یو بهر هیواد ته ګډ سفر | |
| ۵ | د خپل ارمان وړ کور اخستل | |

## د کتاب په اړه د لوستونکي وړاندیزونه او نیوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب په اړه د لوستونکي وړاندیزونه او نیوکې

## د کتاب په اړه د لوستونکي وړاندیزونه او نیوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د کتاب په اړه د لوسوتنکیو نظرونه، وړاندیزونه

محترم لیکوال صیب:

ستاسې لیکلی د (واده) په نوم کتاب ما ولوست: ستاسې د دغې علمي خدمت تقدیر کوم، خو په خوا کې یې د دې کتاب په اړوند دغه لاندې وړاندیزونه، نیوکې او د غلطیاؤ د اصلاح لپاره پشنهادونه تاسو سره شریکوم. هیله ده چې په راتلونکي چاپ کې تری ګټه واخلئ..

### الف: نیوکي:

۱:

۲:

۳:

### ب: وړاندیزونه:

۱:

۲:

۳:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## املايي تېروني

| مخ | کرښه | غلط | صحیح |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

## املايي تېروني

| مخ | کرښه | غلط | صحیح |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو تـه یـو پـه زړه پـورې او کامیـاب واده، او یـوه خوشـحاله کـورنۍ غواړم.
د لا خوندور واده لپاره ځما بل ځانګړي کتاب ته سترګی په لاره اوسئ.
د لا زیـاتو مرسـتو لپـاره کـولای شـئ مـوږ سـره پـه لانـدې پتـه خپلـې پوښتنې او نظریات شریک کړئ:

(ملت مل) tajmim@aol.com

# لیکلړ


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| لومړی څپرکی | ۱ |
| عمومیات | ۱ |
| د واده تعریف: | ۶ |
| واده څه شی دی او څه شي نه دي؟ | ۱۳ |
| د واده ارزښت: | ۱۷ |
| د واده په اړه څوک هم رښتیا نه وایي ! | ۲۳ |
| واده یا په ژوند کې تر ټولو مهم تصمیم: | ۲۵ |
| د واده په اړه ناسم توجیحات او هیله مندي | ۲۸ |
| ناسم دودونه او مخنیوي یې: | ۳۹ |
| ۱- ناسم دودونه: | ۳۹ |
| دو هم: دد واده په وخت کې ناسم دودونه: | ۴۲ |
| د اولادونو د ودونو په برخه کې د دوی د مور او پلار | ۴۸ |
| دویم څپرکی | ۵۷ |
| تر واده وړاندې موضوعات او مسؤلیتونه | ۵۷ |
| د کوژدې، واده او نکاح پېژندنه او توپیر: | ۶۹ |
| د واده په اړه تیاري: | ۷۳ |
| د شریکبانو خصوصیات: | ۷۶ |
| دویم مقابل لوري سره فزیکي کتنه: | ۸۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یوې سالمې کورنۍ د جوړښت لپاره مشورې او نظریات ............ ۸۵
د واده مناسب شرطونه ............ ۹۲
د تعلیم په دوره کې د واده کول درې عمده ستونزې را منځته کوي. ۹۳
دویم- مالي استقلالیت ............ ۹۴
د واده په انتخاب کې مهم ټکي ............ ۹۵
الف- شریکبانې پورې اړوند فکتورونه ............ ۹۵
۴.د مزاج او دلچسپیو ورته والی ............ ۹۶
دوهم- کورنیو پورې اړوند فکتورونه ............ ۹۷
۱. اقتصادي ورته والی ............ ۹۷
۲.اجتماعي ورته والی ............ ۹۸
۳.د دواړو کورنیو نږدې استوګنه ............ ۹۸
د ښځې او میړه حقوق پر یو بل باندې ............ ۱۰۰
الف- د ښځې حقوق په خاوند باندې ............ ۱۰۱
ب: د میړه حقوق پر ښځه ............ ۱۰۲
د واده د بریا لپاره څو با ارزښته وړاندیزونه ............ ۱۰۸
د واده مراسم او وروستي اثرات یې ............ ۱۱۲
د څو واده لرونکو تجربه کارو لارښوونې ............ ۱۱۹
په واده کې د شریکبانو د خویونو او فکرونو د مشابهت ............ ۱۲۵
دواده د یو لړ اړخونو، پروګرامونو او د مصارفو په اړه تفاهم ............ ۱۲۹
دریم څپرکی ............ ۱۳۷
د واده پر وخت ځیني موضوعات او مکلفیتونه ............ ۱۳۷
د یوه ښه واده د مراسمو لپاره تیاری ............ ۱۴۱
په د واده کې د غیر متراقبه حالاتو پیش بیني او د هغو ............ ۱۴۶
تر واده وړاندې دوستانو ته د ډالیو د لست تیارول ............ ۱۵۱
د واده (ناوې او شاه ) د کوټې جوړول ............ ۱۵۳
تر واده وروسته ژوند انه لپاره تر واده مخکې تیاری ............ ۱۶۳
څلورم څپرکي ............ ۱۶۷
تر واده وروسته مسایل او مسوولیتونه ............ ۱۶۷
تر واده وروسته د کورنۍ ټولو امورو او ژوند ته یو ساده او عملي پلان.. ۱۷۳
د یوه ښه او مناسب مالي پلان جوړول او عملي کول ............ ۱۷۵
له خپلې ښځې سره د خپلې کورنۍ اصول مطرح کول ............ ۱۷۸
په کورنیو اصولو پابندي او ثبات ............ ۱۸۲
د شریکبانې خیړنه، پیژندنه او ورسره خپل ځان برابرول ............ ۱۸۴
میرمنې سره با دسپلینه منظمې ناستې او د روانو کورنې ............ ۱۸۶
د ماشومانو د روزنې اساسات ............ ۱۹۳
تر واده وروسته طبعي تغیرات او اثرات یې ............ ۱۹۹
د کورنیو ستونزو د حل لپاره مناسبې طریقې ............ ۲۰۵
پنځم څپرکي ............ ۲۰۹
ستونزمن ودونه او چارې یې ............ ۲۰۹
په ماشومانو او نوره کورنۍ د یو ناکام واده اثرات ............ ۲۱۲
طلاق د اسلام له نظره ............ ۲۱۵
د طلاق مثبتې او منفي اغېزې ............ ۲۱۷
د طلاق منفي اغیزې ............ ۲۱۸
د طلاق ګټې ............ ۲۱۹
د ناکام واده او طلاق له منفي تجربو څخه د اولادونو ............ ۲۲۱
د لیکوال نور اړوند او ګټور اثار ............ ۲۲۳
ب: که ستاسو واده په هوټل کې وي؛ نو تاسو له دغو کمیټو ............ ۲۲۹
ستاسې او ستاسو د شریکبانې لپاره د ژوند په اړه د اهدافو ټاکنه ............ ۲۴۰
د کتاب په اړه د لوستونکیو نظرونه، وړاندیزونه ............ ۲۴۶

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**